## سريزه

**د مؤلوي محمد بهرام خان اڅکزی دژوند ملی اوډ موکرا ټيکي مبارزې چی دوه څپرکي لري، ليکنه ئې دوخت يو ضرورت وو.دا ځکه چي وايي:« مړونه مري خونومونه ئې پا تيږي».ددې معنا داده چي موږافغانانوډ موکراسي،دهيواد آزادي،نوم او نښان او پنځه زره کلن تاريخ په مفته نه دی ترلاسه کړې بلکي؛دا داوږدومبارزو، ډيروقربانيو او دافغانستان دګوټ،ګوټ څخه دتاريخ په اوږدوکې دازادئ دلاري دقهرمانانوپه سرښندنه دغه افغاني غيرت نوم اونښان ساتل سوی دی. اوپه شلم قرن کي دنسبي ډموکراسئ ساتل،رواجول په دې هيواد کي دحاکمانواوچارواکوسوغات نه وو.بلکي؛دادتاريخي اوږدومبارزو نتيجه وه.چی په پايله کې دهيوادډيرخوانان ، نجوني اونورعام خلک په همدغه شلم قرن کي دښوونی اوروزني دبهيرڅخه ګټه ترلاسه کړه،اوبيا دهمدغه ويښ زلميانونه ستړي کيدونکي مبارزې وې، چي په هيواد کې اساسي قانون جوړکړ،مطلقه حکومت ته ئې دپای ټکی کښيښود.اومشروطه شاهي رژيم ئې ځای خپل کی.**

**داساسي قانون دلاسته راوړونوپه نتيجه کي دګوندونوقانون هم جوړسو،راست او چپ ګوندونه جوړسوه. اودسيمي په کچه په يوه بې ساري دموکراټيکه فضأ کې آزادانه فعاليت کاوه.په دغه وخت کي دځوانانودتربيې دپاره خوراډير کارونه وه سو،دښځوغورځنګونه دښوونی اوروزني په برخه کي دهيوادپه ګوټ،ګوټ کي دبکلوريا،ليسانس اوماسترئ حتاډاکترئ ترکچي پوري ښځواو نارينوزده کړي وکړې.دځوانانودپوهي سطحه دسياست په ميدان کي،دعلم اوهنر په ميدان کي په نړيواله کچه دنړئ پاملرنه ځانته راواړول.ځوانانودافغانستان دراتلونکي په باب دګوندونواوايډيالوژيکانوپه مرسته سياست را پيل کی اونوي فکرونه ئې په هيواد کي وروزل،داوخت دځوانانوپه منځ کي،په ګوندي حوزو اومحلي کميټوکې اقتصادي،سياسي اوعلمی درسونه دسياسي مدرسي په څير تدريس کيده.چی په نتيجه کې دځوانانوپام ونوي فکري تغيرته راواړوی.او دجمهوري نظام دپاره ئې زمينه برابره کړه.دغه ټولی فرهنګي لاسته را وړني په شلم قرن کي ددغه ويښ زلميانو دمبارزونتيجه وه.چي په دې لاره کي د محمدبهرام خان اڅکزی اودهغه دملګروهڅي چي  په دغه دوڅپرکوکي چي يادونه سوې ده،دقدروړګنم.اوپه دې باب په اوسني وخت کي ددغوهڅواو زحمتونو يادونه دهر ليکوال دنده بولم چي په دې باب نورهم دغه تاريخ ژوندی وساتي.اوراتلونکونسلونه ته هم يادونه کوم چی دافغانستان دسياسي غورځنګونو لړی جاری وساتي. ترڅو دهيوادوګړي نسل پرنسل دخپلو تيرودرسونوڅخه ګټه واخلي.**

**دلته دپام وړتکی داهم بولم چې: په دغه ځانګړې ستونزمنده دوره کي چي بيان ئې په لومړي اودوهم څپرکي کي سوی دی.په لومړی څپرکي کې دهيواد دآزادۍ مسئله ده،چي په لراوبرکي دانګريزي ښکيلاک ګرواودهغه ورستۍ هيلي دسقاوي ددورې ئې دخاوروسره برابري کړې.ځانونه سپرکړه.اودهيواد استقلال ئې دسخت خطرڅخه وساته،خوپه دوهم څپرکي کې بيا ځانګړي قربانۍ ورکړل سوې.چي هغه ډموکراسۍ اوبشري حقوقوته څه ناڅه پاملرنه وه. هيواد دروښنګرۍ پرلورورودانګل اوپه لړوخت کی ډموکراسي اودښځواونارينودزده کړي حق دښارونوپه کچه ترلاسه کړل سو.دادخدای بخښلي قاضي بهرام خان د مبارزومؤخه وه.اوهغه ئې ترسره کړه.داچی څومره ستونزی پرده اودده پر ملګروباندي راغلې،هغه تريوې اندازې ياترهغه کچي چي زمافکراواند کار کاوه؛مايادونه کړې ده،خوموضوع ترديې لاهم ګرمه اوتوده ده.داځکه که موږ دسياچال نوم اخلواوخپله موليدلی نه وي،نوسم ئې نه سوفکرکولای.داچي پر پښووولاړځوانان وزندان ته ورننوزي اود مرګ په حالت کی دزندانه راايستل کيږي،دالويه غميزه ده.نتيجه داده چي دويښ زلميانوستونزي خوراډيري وې. سختی ئې هم وګاللې.خو!ډموکراسي ئې هيوادته راوستل.اودګوندنوقانون دهيواد په رسمی جريدوکې خپورسو،لنډه داچی تريوې اندازې هرڅه وسوه...خو!په وروسته کی چي ددغه ډموکراسۍ څخه دهيوادځوانانوڅه ډول ګټه پورته کړه؟ راست اوچپ ګوندونودهيوادپه اتحاداودخلکوپه پيوستون کي څه ډول رول ادا کی؟دانوبيانوربحث دی،داچي چپ ګوندونوياراست ګوندونوڅه وکړه؟داهم بل بحث دی.داچي وروسته کوم ګوندونه قدرت نيسي؟داهم ټوله سوالونه دي.يوه خبرواضيح ده چي دښکيلاک پرضد،دسقاوۍ پرضدقيام،دډموکراسۍ لاسته راوړنه يوپرځای اوحق عمل وو.چي دا ټوله د قاضي بهرام خان اودده د ملګرو لاسته راوړيني وې. په درناوي. ننګيالی بڅرکی**

## د پيل خبری

تاريخ د قوم د هنداری په توګه تل د پاملرنی وړ ګرځيدلی دی شک نشته چی تيروجريانو او تجربوپه بنسټ د راتلونکو نسلونو لپاره د همدغو د ځکه چی پرمختګ او پياوړتيا لاره اواريږی.

نه غواړم چی د کتاب پرمحتوی وړغيږم ځکه چی ما تراوسه د کتاب متن نه دی لوستی کتاب په مطبعه کی تر چاپ لاندی دی چی زما څخه هيله وسوه چی دی څخه می دا درک کړه د کتاب د فهرست.هکله د کاغذ يو څو پاڼی تور کړ په دغه چی کتاب يوازی د مرحوم مولوی قاضی بهرام خان اڅکزی ساده بيوګرافی نه

، په واقعیت کی د مرحوم د ژوند د دوران اړوند ټول سیاسی ، ټولنیز ده بلکی اقتصادی شرایط او جریانات په کی منعکس سوی اوپه تیره بیا د شلمی پیړی د نیمایی تاریخ د تاریکو او نه ویل سوی مسایلو په هکله څرګندونی په کی لومړیَ سوی دی .

وی پری خوا بې قضاوت او لیکنه باید د یوې لیکونکی چی د تاریخ وایی پوهان ترازو د متنونو د اقتباس کولو په وخت کی د خپل عقل د لیکوال باید پلوه دبله او یعنی د تاریخی متنونو په ټاکلو کی باید تر وسه وسه زیار . واخلی څخه کار وایستل سی چی معقول د نامعقول څخه اوسم د ناسم څخه بیل کړی.

په دا ډول تاریخی لیکونو کی بی پری قضاوت ځکه ډیر مهم دی چی پرته د آزاد قضاوت څخه واقعی تاریخ د انحراف پر خوا لغړی .تاریخ لیکونکی کله کله د چارواکو د ارادی سره سم د امتیاز اخستلو لپاره لیکنی کوی . د بیلګی په توګه د احمدشاه بابا د دوران د پیښو په هکله عمده منبع (تاریخ احمدشاهی ) دی چی ددی کتاب لیکوال (محمودالحسینی المنشی) پخپله احمد شاه بابا ټاکلی دی .

لیکنی یی د احمد شاه بابا د پاچهی په اوم کال کی پیل سوی دی . دغه تاریخی اثر که په رښتیا سره د یوی خوا د ګټورو معلوماتو لرونکی دی خو دبل پلوه موږ ته معلومه ده چی دا یو درباری تاریخ دی چی د غوړمالیو څخه کار په کی اخستل سوی او پر ډیرو واقعیتونو یی توره پرده غوړیدلی ده .

د بیلګی په توګه :« محمودالحسینی لیکی چی احمد شاه بابا ولي وو ، هغه له غیبو خبر وو او کله چی یی خپل ورارہ لقمان خان ته د خان خانان لقب ،جوغه او نور امتیازات ورکول په دی پوهیدی چی هغه به یوه ورځ خیانت کوی .احمدشاه بابا فرصت ته کتل او مخکی له مخکی یی خپل وراره له ناز او نعمت څخه نه محروم کاوه تر څو چی هغه بلاخره نمک حرامی وکړه او د احمد شاه بابا په مقابل کی د غلیمانو او خاینانو سره ملګری سو .»

تاریخ احمد شاهی ص ۸۳ .

د مرحوم قاضی بهرام (۱۸۹۸ ــ ۱۹۷۶) د ژوند او سیاسی مبارزی زمانه په واقعیت کی یو بحرانی اود اختناق څخه ډک دوران ؤ په داسی حالاتو کی چی انګریزی استعماری ځواک حاکم وی ، د خلکو د ژوند اوپوهی سطحه ټیټه، اختناق ترور او وحشت موجود وی ، د ملی دموکراتیکو حقه حقوو لپاره مبارزه

او هلی ځلی اسانه کارنه دی . د بیلګی په توګه د سقاو زوی حبیب الله د امان الله خان شرعی او تقنینی مشاورمولوی عبدلواسع او دکابل والی علی احمد دواړه په توپ کی والوزول، سردار محمد عثمان یی ژوندی ښخ کړ اود قبر پر سر یی شلغم ور وکرل ، سردار عبدالحمید خان او سردارحیات الله خان د حبیب الله خان زامن ، عبدالحمید خان توخی او قاضی محمد اکبر خان یی ووژل خو قاضی عبدالرحمان خان یی په پل خشتی کی بند پر بند پری کړی او سر یی هلته و ځړوی .


د اختناق ، ویری او ترور د شرایطو د حاکمیت سره سره مرحوم قاضی بهرام خان د خپلو نورو ملګرو په مرسته د ظلم او استبداد پر ضد نه یوازی دا چی د امانی نهضت ملاتړی او د سقاوی د تور نظام په ړنګوولو کی یی فعاله ونډه لری ده بلکی د ویښ زلمیانو د عدالت او پرمختک غوښتونکی جنبش د یوه وفاداره مشر په توګه دوخت د ارتجاعی ځواکونو او چارواکو د ګواښونو او بندیکولو سره سره یی ، د حق او عدالت جنډه رپانده وساتل .

ځکه نو د ننګیالی بڅرکی دا زحمت د ستایلو وړ دی چی د خپل هیواد او ولس ویاړلو شخصیتونو او د هغو کارنامو ته یی پاملرنه کړی او د کوم مادی امتیاز څخه پرته یی په اکواریم کي د ښکلو کبانو د ساتلو اود ښکلی رڼغ لرونکی کنری چوغوکو د روزنی تر څنګ یی د پردیسی په دوران کی ،دا ډول پنډو کتابونو لیکلو ته ملا تړلی ده .

لیکوال ته ددی کتاب د چاپولو مبارکی وایم او د کتاب ،علم او پوهی مینوالو ته یی د لوستلو سپارښتنه کوم . پر قلم دی برکت د لازیاتو برياوو په هیله .

**زمری محقق**

***2018 – 4 – 19م کال کوپن هاګن***



**زمری محقق**

## (تقريظ) ارزکـتـنـه :

دمولؤي قاضي بهرام اڅکزي،دژوند ملي اود موکرتيکي مبارزې اثرچي فضيلت مآب دپښتوژبي اوادبياتوماستر«ننګيالي بځرکي» **په خوږه** اوساده پښتو ليکلی دی.دستايني وړئې بولم.اوداهم ورسره اضافه کوم؛چي دبشرپه تاريخ کي ډول،ډول انسانان پيداسوی دي.چاچي په زوراوجبرپاچهياني جوړي کړي دي.په زور ئې انسانان وژلي او ځورولي دي،ددې له پاره چي خلک ئې زور ومني،تابع ئې سي.اودده شيطاني خودخواهي(ځان غو ښتنه) ارضأ سي.اما سربيره پر داټول جبراوزور پر دې نه دی توانيدلی چي دخلکو خولې ور بندی کړي.او خلک دآزادئ ، دمو کراسئ اودخلکو دخدمت څخه منع کړي.اودټولني دتکامل مخه ونيسي.وينو چي تاريخ ددې شاهد دی.چي زه ئې يودوه درې مثاله په لنډه توګه يادولای سم.

لومړی : سليمان پيغمبر چي ديهودوډير ستر پاچااو پيغمبردی.چي ددوی دقوله ټول انس او جنس (پيريانان،ديبان ،حيوانان او ټول مرغان)حتا باد هم دده تابع وو.ده په يوه روايت څلوزره (۴۰۰۰) او په بل روايت اوه سوه (۷۰۰) ماندينې اومينځيانی درلودلې.چي په تخت روان کی به ديوه ځايه وبل ځای ته تللئ سربيره پردغه ټوله طاقت اولوی فوج سورکي ميږيان ئې لا هم تابع نه کړه.يوه ورځ دی دخپل فوج سره يو خواته په جنګ روان وو.اودده آسانودسورکی ميږيانوښورترپښولاندی کړل،ميږيانوانتقاد پروکی اوطعنه ئې ورکړه.وې ويل: ته که په ريښتيا دومره زوروروئې،ځان غښتلی پاچا اوپيغمبربولې،ورسه ملکه سباء يا ديمن ملکه بلقيسه ونيسه ، موږعجزه ميږيان ولي دآسانوترپښولاندی کوې.اوخپل زورموږ ته را ښوې.( قران شريف ۱۹ سپاره سورة نمل)او هم ئې فرعون ته موسا (ع) او نمرودته ئې براهيم (ع) پيدا کړی دي...

دوهم : ډيوزن دلرغوني يونان يو بشردوسته فيلسوف وو.چي ډيرشاګردان او علاقه مندان ئې درلودل.چي دسکندر مقدوني په وخت کی ئې ژوند کاوه.يوه ورځ سکندرمقدونی وارسطوته چي استاداو مشاورئې وو.وويل:چي زه دټول يونان امپرا توريم اونوری ډيري سيمی مي هم فتحه کړی دي.پرخلکو دومره

ګران نه یم لکه دیوژن چی ګران دی.څه وکړو چی تر ده زه پر خلکو ګران سم؟.

ارسطو ورته وویل: چي دی باید دخپلو شاګردانو په مخ کي په یوه پو ښتنه کې بنداوبې جوابه کړو،نو کله چي زموږ سوال ته جواب را نه کړی اوبندسي،نو شاګرادانوته دده دپوهي او هوښیاری په با ب سوال پیدا کیږي.سکندردارسطو دغه خبره ورسره ومنل (چي ښه خبره ده) .

نو ارسطو دتارویوځرخی (دتاروکلوله) راوړل،ددې څرخی سراوپای ئې سره غوټه کړه،دده په خیال دغه څرخی اوس سراو پای نه لري.نوسکندرته ئې وویل : درځه اوس به دویژن ته ورسو.دشاګردانوپه مخ کې به ئې داڅرخی ورکړو.اوورته وبه وایو چی ته ډیرهوښیار سړی ئې ، ددې څرخي سررا پیدا کړه،موږ ئې سر نه سو پیدا کولای.

ډیوژن چی څرخی واخیستی ورته وئې کتل:سرئې په خلاص سو.دستي ئې دجیبه څخه یوکوچنی چاکوراوایستی اوپه څرخی کی ئې کش کی،څرخی ئې بیرته وارسطواوسکندرته ورکی.اوورته وې ویل:واخلئ څوسره موپه کار دي؟.

سکندرچی دا صحنه ولیدل هغه دکندهاریانو خبره ډیر(دوسو) یعني خړسو....

او په ډیرمغرورانه لهجه ئې ډیوژن ته وویل:زه که سکندرنه وای،نوخدای ته به مي دوعا کړې وای، چی خدایه ما ډیوژن کې .

ډیوزن چی دسکندردا خبره واوریده.سمدستي ئې په ځواب کی ورته وویل : زه که ډویژن نه وای مابه خدای ته دوعا کړې وای چي خدایه! ما موږ ک که،خو! سکندرمه را څخه جوړه وه.

داسي مثالونه نورپه تاریخ کی ډیردي خو! زه ئې په دغه دو اکتفا کومه.ریښتیا هم هرڅوک چی (باد وکری نو تو پان به ریبي) .

افغانانوهم همیشه دجبارانواودیکتاتورانومقابل کي دآزادئ ،دموکراسئ اودخلکو دحقوقوڅخه دفاع کړیده،چي دلومړي مشروطه خواهانومبارزې د مطلقه شاهانومقابل کي دیادولووړدي. چي په دوهمه مشروطه خواهئ کې،دوینښ

زلمیانو،دوطن ګونددغلام محمدغبارپه لاربنوونه.او ندای خلق ددکتورمحمودی په لار ښوونه دیادولووړدي.په دې لاره کی دوی جدوجهد او تلاښونه کړي دي . اوهم ئې ډیرکړاونه ګاللي دي.چی زه ئې یوازی ویښ ځلمیان نه بلکي؛ ځلانده زلمیان هم بولم. بله دیادولووړخبره داهم بولم: چی دویښ زلمیانوپه باره کي ډیرولیکني کړی دي، چي هغوی هم سترلیکوالان اوپوهان وه.خوروښان فکري «ننګیالی بڅرکی»په ډیرپراخه علمی نظرددوی ټولومبارزې،دټولنی ټول اړخونه،دوخت دهیوادشرایط ، دنړۍ شرایط (داخلي او خارجي شرایط) په نړۍ کی علمي اوصنعتي انقلاب را تګ او دهغه تاثیرات په یوه فیوډالي وروسته پاته ټولنه کی،ددروګونوخبیثانویعني(فیوډالانو،روحاني عقب ګر،اوظالم حکومتونه) ئې په همدغه اثرکی په ظریف او ښکلی ډول لیکلی دی. چی ماته ئې دزړه له کومي خوندراکی.چي په ریښتیاهم په ظرافت اوښکلا کې د مسائیلوځانګړی استعداد لري.هغه زموږ یو متل دی چی وائي:

( الم تر کیف دهر چاه زده ده ، خو! خوله دتورملا عثمان غواړي.).

بله مهمه خبره خولا داهم ده چی پرنوموړي کتاب باندی دمحترم محمد طاهر اڅکزی یوه په زړه پوري لیکنه سوې ده. چي دمیوند چینه نومیږي.او هغه دسترګوحال دمرحوم قاضی بهرام خان سره د یوه سفر په ترځ کی تیرکړی دی.اودغه قیصه ئې په خوږه پښتوداسي را وړې ده. چی یوه برخه ئې زه دلته دیادونی په څیرسره راوړم.اوتاسولوستونکي ئې په د قت سره وګوری،چی څومره ښکلا په کښي وینی.

محمد طاهراڅکزی لیکي: څه ووایم! «دمیوند دچینې په توضیح کولو ژبه اوقلم عجزه سي.اوزه هم دااوس غواړم ددې چینې په اړه څه ولیکم.دداسي حالت سره مخامخ یم،خوبیا هم جرئت کوم اودومره وایم! که څوک دمیوند چینې ته ځان ورسوي اودزرغونوونولاندي داوبوپرغاړه ورته کښیني نوځان به په بله دنیا کي ووینې.داسی دنیا چي وخت مثبت اومنفي نه پیژني.او په صفردرجه کي ثابت پا ته کیږي.شپه اوورځ ورکیږي،ځکه چی زرغونوونو ئې سرونه را ټیټ کړي اوآسمان ئې پوښلی وي.داوبوشورکی ئې چی په څومره زوراوفشار دچاک سوی غره څخه را وزي.او تل پر خپل حال ثابت پاته وي،چي داوبو

توښ ئې دونو جګوسروته وررسيږي.نو دشينو پاڼودعطرو وږمه ئې به شاوخوا فضآ کي خپره سي.چې دانسان روح ور تازه کوي.اونه پريږدی چی دلمر تودوخي دازرغونې پاڼي وچی او ژړي کړي.او که څوک په دغه چينه کی هر څومره پاته سي.په دې به پوهه نه سي چی څومره وخت ئې تير کړی دی،داده بله دنيا.اودا نوې دنيا دميوند چينه ده».ريښتيا هم چی دميوند دچينې ښکلاوسياسی ارزښت سړی بلي دنيا ته بيا ئي،دويښ ځلميانوياځلانده ځلميانوقربانۍ اومبارزې وانسانانوته دااحساس ور بخښي چي دظلم ،بې علمۍ (جهالت)اووروسته پاته والي په مقابل کي کلکه مبارزه وکړي.اوټولني ته نجات ورکړي.چي د مرحوم قاضي بهرام اوملګرو دويښ ځلميانوټولنه،دمرحوم غلام محمدغبار«دوطن ګوند» اومرحوم محمودي «ندای خلق» ګوندونه ئې ښې بيلګې دي.مړونه مری خونومونه ئې پا تيږي. په درنښت.

غټان، غټان،لويان ، لويان پيدادي

دوی خو داصله جنتيان پيدا دي

راځی! آ خوارو له جنت وګټو

څوک چي داصله دوږخيان پيدادي

«اجمل خټک »

نه ومه خبر پرده می لږ شانتي چي پورته کړه

نه دی دويلوهغه څه چی ماليدلي دي

زه ئې په ويلو او ليدلو ګنهګار سومه

دوی ئې په کولواوعمل سره ښاغلي دي « ګل پا چا الفت»

**«محمد يوسف ختيځ يا ر»**



محمديوسف ختيځ يار

# لومړی څپرکی

## «دقاضي بهرام خان اڅکزی سياسي اوټولنيزژوند»

## دپيل خبري

دافغانستان قاضی القضات يا سترقاضي بهرام خان اڅکزی دافغانستان د معاصرتاريخ يوروښانه اونامتوځيره ده.چي په ۱۲۷۴هـ ش کال چي ۱۸۹۸م کال سره برابريږي د کندهار دسپن بولدک ولسوالۍ ته نژدي د(مؤلد يا موله يد) په کلي کي زيږيدلی دی. اوپه ۱۳۵۴هـ ش کال کي چي د۱۹۷۶م کال سره برا بريږي د کندهاردخوجک باباپه سيمه کې دعقرب دمياشتي پر۳ نيټه چي داکتوبردمياشتي۲۳سره برابريږي دخپل زوی عبدالکريم خان ډګروال په کورکې ددې دنيا څخه ستر ګی پټي کړې.روح دې ښادوي.

مرحوم قاضی صاحب د محمد صادق خان اڅکزی زوی اود مرحوم شهاب الدين خان اڅکزی لمسی،چي نيکه ګان ئې هم دقوم خد متګاران او دخپل وخت نا متوکسان وه.چي د محمد بهرام خان پالنه ئې په کوچنيوالي کی په ډيره ښه توګه ترسره کړه، هغه ئې زده کړی ته متوجه کی اودوړکتوب څخه ئې بيا ترځوانۍ پوري د محمد بهرام خان پالنه په علمي ډول سره څارله.څو په را تلونکي کي يو لوړشخصيت ځيني جوړسو.د مرحوم بهرام خان اڅکزي کورنۍ په دغه وخت کی په مالدارۍ اودآزاداوخودکفايه اقتصاد باندي دژوند چاري

سرته رسولې.اوپه خپله سيمه کې دبشپړه نوم اونښان خاوندان وه.چې دبهرام خان اڅکزي پالنه ئې په ښه توګه تر سره کړه.اودهغه وخت ډيرلوړ ښونيز درسونه ئې دلوړواستادانوترلاربنوونی لاندی په افغانستان اوبياهندوستان کې ولوستل.چی دډيرو سياسی، تولنيزوتجربيو سره بيرته هيواد ته راستون سو.او په هيواد کې ديوه ملي اود موکرا ټيک غورځنګ حرکت دپيروزئ ترسرحده ورساوه.لومړی ئې داستعماررنګ اوځيره وښودل.اوداستعماري هيواد انګريزانو دهغه دپلويانونقاب ئې دمخه څخه ايسته کی.هغه ملايان چې داستعمار په خد مت کی ولاړوه، که په قوم يا سيمه کی وه، دهغوی استعماري منطق ئې په خپلوعلمي منطقو ور رد کړه.اودهيوادخلک ئې دې ته متوجه کړه، چې استعمارزموږدعقيد و څخه نا وړه ګټه پورته کړې ده.




قاضی صاحب دخپلي ځوانئ په عمرکي هم ديوروښانه ملا،سياست پوه،او ديني عالم په توګه مبارزه پرمخ وړل.هغه په سيمه کی دهندوستان څخه بيا تر کندهارپوري په ټولوپښتنوکي ډيرسترنوم اونښان درلود،خلکوئې پوهي ته درناوی کاوه،په ډيروټولنيزوپيښواوپيچلوموضوعګانوکې به د قاضي صاحب سره صلاح اومشوره کيدله،دغه درند شخصيت چې خپلي لوړي زده کړې په هندوستان کی ديوبند په نامتومدرسو کې ترسره کړي وې،ولس اوخلکو ته دخپل وخت ديوه پوهه اوپه علمی چاروکی ديوه باصلاحيته مشرپه څيرددرناوي وړؤ.محترم قاضي بهرام خان اڅکزی نه يوازي داچي؛خپله دلوړوديني زده کړولوړشخصيت ؤ،بلکې؛دنوروځوانانودروزلواودهيوادپالی په روحيه دځوانانو

دروزلولوی مکتب اوښوونځی هم وه.قاضي صاحب خپله ځواني دخلکوپه خدمت کی تیره کړې ده.قاضي صاحب هغه وخت چی انګریزانوپرسیمه برلاسي ترلاسه کړه او دهند څخه بیا ترافغانستانه ترځینوسیموپورې ئې په هندي برطانوي پوري وتړلې،نو قاضی صاحب په دې وخت کی خپل تاریخي رسالت ترسره کړی دی.او دوخت دنامتو ګوند اونامتومباریزینوپه څنګ کې دکانګریسیانوسره یوځای په یوه سنګرکي دآزادئ اوخپلواکی په لاره کې مبارزه کړیده.اوداستقلال بیرغ ئې اوچت ساتلی ؤ.دغه درندسیاست پوهه په کانګریس ګوند کي دګاندي،نهرو،خان عبدالغفارخان، عبدالصمدخان اڅکزی، حاجي محمد انورخان اڅکزی، عبدالعلي اخوندزاده کاکړاونورملي شخصیتونوکلک ملګری ؤ.دوی دانګریزانو په پیرکې داستعمار ضد سختي مبارزې په پټه او ښکار توګه تر سره کړې.

قاضي بهرام خان اڅکزی که څه هم په (موله يد)يا«مؤليد» نومي ځای کي پیداسوی دی، خودبلوچستان دمنوروخلکو سره ئې اړیکي ترهغه حده ټینګی وې چي دوخت په ټولوستونزواومهموپیښوکې یودبله سره خبروه.اوګډ مجلسونه اوغونډي به ئې سره کولې.چي داوخت یعني ۱۹۰۵م کال راوروسته دعبدالعلي اخوندزاده دوکان چی دوخت دطبابت توکی په کښي پلورل کیده دمنورینود مجلسونوډیرښه ځای ؤ.په دې وخت کی چی دسیمي اوافغانستان حالات په بهراني ډول دانګریزي حکومت دسختومداخلوپه سبب ترفشارلاندي وه، دسیمو منورینوته دانګریزانودغه مداخلې دزغم وړنه وې،نوئې ځکه په حلقوي ډول غونډي سره کولې اوخپل په منځوکې دورځي پیښي تعقیبولې. که څه هم دوی په خپل منځ کی منظم تشکیلات نه درلودل خو!یودبله دباورپربنسټ اود کورنیو دشناخت پر بنسټ یواوبل ته ډیرسره ګران وه.اودباوروړوه.په دې وخت کي دانګریزانوضد منورینواوداستعمارضد کسانواړیکي دنورولس سره هم په ډول، ډول سره وه. چی دنوموړو منورینو یا دوخت دهمدغه علمانودخوا څخه ددیني علوموزده کړه،دخلکو په منځ کی تبلیغ اودزده کړې کورسونه ددې سبب سوه چي دمنورینواوخلکوترمنځ دي اړیکی سره ټینګي کړل سی.قاضي بهرام خان اڅکزی په دې وخت کي دخلکوپه منځ کي یولوی اودرنداستاداوپه سیاسي لحاظ

دسياست يومخکښ ضداستعمار مبارزوو. دده دژوند ملګري.اوهغه کسان چي دقاضي صاحب سره ئې اړيکي پاللې هغه ټوله هغه کسان وه،چې په سيمه اوخپل قوم اوولس کې درند ځای درلود.قاضي بهرام خان اڅکزي هغه وخت چې دهند په ديوبند مدرسه کي علمی زده کړي کولې هغه وخت ئې هم دهند د مسلمانانواوهغه کسانوسره چي د کانګريس د ګوند سره ئې اړيکي درلودلې قاضي صاحب هم منظمي مبارزې دانګريزانو پر ضد کولې. اوهم ئې د ډير نامتوهندومبارزينوسره سياسي اړيکي ديوه سترهد ف ملي مبارزې په خاطر پاللې. همدغسي قاضي صاحب هم دانګريزانو ښه نه ايسده.نوڅه وخت چي دلوړوزده کړوڅخه خلاص سو.اوخپلوسيمويا داڅکزو،پښتنووه سيموته راغلی، نوسمدلاسه دپښتنود مرکزيعني عبدالعلي اخونزاده په شناخت ئې دحاجي محمد انورخان اڅکزي سره پيژندلګلوي راپيل سوه. اودانګريزانوپرضد ئې په سيمه کی تبلغ په ګډه راپيل کړ.

لکه څنګه چې وويل سول قاضي صاحب دبشپړه پوهی خاوند ؤ، نو ځکه ئې په ولس کی هم محبوبيت خپل کړی ؤ،تردغه اندازې چی دولس مهمي شخړې، دمحکمې داعوې،اودجرګو فيصلې به ئې په علمی دلايلوورحلوې.چی په همدغه د ليل ئې هم د خلکوپه زړوکې ځای درلود.اودغه ټوله څه قاضي صاحب دخپل ځوانۍ په هغه ټاپه دوره کي ترسره کړی دي،چي موږته ئې دلته يادونه ضروري بريښي،داهغه وخت دی چي بايد ده په هندوستان کې دښواوښاديوڅخه خونداخيستی وای.خو! قاضي صاحب ځان په دې وخت کی خوارکړی ؤ. اوتاريخ ته ئې حماسې ورپه برخه کړې ، ټولنی ته، قوم ته ،هيوادته ئې دغيرت نوم اونښان ورپريښود.که موږ دغه تاريخ نوروته ديادګارپه توګه پرېږدواينده نسلونه به هم دخپلومشرانولکه قاضي صاحب اونورمشران دهغه پرپل قدم کښيږدي.اودخپل تاريخ څخه به زده کړه وکړي. لکه شاعرچی وائي :

هرکه نه اموخت ازګذ شت روزګار

هـيـچ نيا موزد زهيـچ ا موز ګا ر

تاريخ ديوې ټولني هنداره ده چي دهغه ټولني رنګ اوډول په کښي څرګندیدای سي.ددغسي مبارزينواوهيوادپالوپه نوم موږافغانان وياړلرو.اودغرورسرمو هيچاه ته نه ټيټيږي.

قاضي بهرام خان که څه هم په يوه ليري کلي کی دسپن بولدک اوکندهارترمنځ دنياته راغلی ؤ.خو! دهغه روزنه د ملت او نړيوال متفکرپه څيردانسان اوانسانيت په خاطر ډيره ستره وه.هغه بر سيره پردې چی خپل قوم ته ئې دقدروړخد متونه اوکارونه کړي دي،دبشريت دپاره ئې هم ډيري نيکي پيرزويني درلودلې،چي يوه بيلګه ئې هم دغه دانګريزي استعمارپه مقابل کي په سيمه کي دنوروقومونوپه څنګ کی دانسانيت دپاره نه ستړې کيدونکې مبارزه وه.همدغسي دخپل قوم دپاره ئې هم دنوروګاونډ وقومونوڅخه د مرستي غوښتنه درلودله.اودهيواد ده آزادۍ دپاره ئې کچکول رااخيستی.اوکورپه کورګرځيد لی ځودخپلوهيوادوالودشعورردرابيداره کولوپه خاطرئې دآزادۍ ناره اوچته کړه اودانګريزانوداخيرني اميد يا سقا وۍ ترپيريا دورانه ئې خپلومبارزوته دوام ورکړ.اوديوه افغان په څير ئې دشاعردغه ارمان ورتصديق کی.

چي وائي :    کچکول را واخله ارمان دقام يادوه

د نن پښتون د ا فغا ن يـا د يـا د وه

سوالګررا ټول کړه دغيرت په نامه

بـيـا نـو آ زا د ا فـغـانستا ن يـا د وه

**« ننګيالی – بڅرکی »**

مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی نه يوازي داچی داستعماراوخارجي يرغلګرو پرضد دملی وحد ت کچکول ګرځاوه،ملی مبارزه ئې پرمخ بيوله، هغه په ټولنه کی يعنی افغانستان کی دزړواړيکو،فيوډالی زړوميراثونوپرضدهم خپله سياسی اوټولنيزه مبارزه پرمخ بيوله،ورسته ترهغه چی انګريزانوماته وخوړه اودسقاؤ حکومت هم دخپل کمزوره سياست اودپرديودلاس پوځي حکومت په څيرخلکوته وروښودل سؤ.نو پسله دغسي ملي اوداستعمارضد مبارزو،څخه

خدای بخښلي قاضی صاحب دښځوددآزادۍ اودښووني اوروزنی په برخه کی دښځوحقوق اوپه هیوادکی دیوه قانونی حکومت درا منځته کیدو په خاطرئې هم نه ستړی کیدونکی مبارزې وکړې.

دا وخت داسي وخت دی چي ،په سیمه کې دیوه پلوه ملي آزادي بخښونکی نهضتونه راپیداسوي دي،په هرخواکي دانګریزی استعمارپرضدهیوادپاله غور ځنګو نه ښکاره اوپټ فعالیتونه کوي.دهندي برطانوي په پراخه سیمه کې، ګوندونه فعاله دي، دګډوګټوپربنسټ،دهرقوم،ملیت،ژبي اومذ هب خلک یوځای دګډوارمانونودپاره سره په یوه سنګرکی ناست دي،دلته هندوان، مسلمانان، دخاوری دتمامیت په خاطر سره په یوه خیال اونظردي.په دې وخت کي قاضي بهرام خان چي دځوانۍ لومړني پسرلی ئې دی، دکانګریس دګوندسره یوځای دپښتنودحقوقوپه خاطرهم غونډي کوي.همدغسي پردغه بل لوري دډیورنډ دغیري رسمي کرښي یعني دچمن څخه بیاترآموترځنډوآمانی غورځنګ او مشروطه خواهان هم په دوسنګرونوکی مبارزه کوي.

داوخت پرسرحددپښتونخوادخداي خد متکارانوګونددخان عبدالغفارخان په لار ښوونه دپیښورپه شاه وخوا سیمه کي داستعمارپرضددعام ولس د ضد استعماری افکارودراژوندی کولوپه خاطرډیری ستونزناکي قربانۍ زحمتونه ګاللې.دخیبر پښتونخوا مشران دانګریزانواودهغه دپلویانوله خواترسخت فشارلاندي دي.خو! دکوټې پښتانه مشران هم دخپلو مبارزوجاج اخلي،هغوی هم دانجمن وطن ګوند دخان عبدالصمدخان اڅکزي ترلارښووني لاندي دیوه پلوه دانګریزانو ددغه تحمیل سوی کرښي مخالفت کوی اودبله پلوه داخلي هغه دښمنان چی دانګریزانو په خدمت کي دڅو پیسوپه خاطر دخپل قوم په مقابل کی ولاړدي، دهغوی په مخالفت کی دسختو مبارزو قربانیان دي، چی دلته په همدغه وخت کي بیا دوی په ټولیزلحاظ دکانګریس دلوی ګوند چی مهتما ګاندي ئې لارښوونه کوي ، دهغه سره ټینګي اړیکي هم ساتي.اودغه وخت خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان،دمشرانو په توګه او همدغسي ، قاضي بهرام خان ، خان محمد انورخان اڅکزی،عبدالعلي اخوندزاده.اونورمشران هم دپارټۍ سره همکاره دي. ددوی ستونزه دغه وخت یوازي په خپلو سیمو کی نه وه.بلکي؛ دډیورنډ د

کربنې هغه غاړه یعني افغانستان کي هم دامیر آمان الله خان دنوی حکومت ستونزي دانګریزي ملایانواودهغه د ګوډاګي حبیب الله کلکانی سره نوي را پیداسوی وې.

انګریزانوپه سیمه کي دغورځنګونودخاموشه کولوپه خاطردتنخاه خورو ملایانو اوخپلوګوډاګیانوڅخه داسلامي شعارونوپه مرسته ګټه اخیسته.نو ئې ځکه دغه دغلومشردسقاوزوی حبیب الله دخادم دین رسولو الله په نوم د مجددیانواودهغوی دپلویانوپه فتواوسره دهیواد پاچاه کی.ځکه چي هغه سوادهم نه درلود اودانګریزانو هم په هیوادکي دغسي بیسواده ته ضرورت ؤ.نودسیمی هغه غاړه پښتانه ،که دکوټي وه که دپیښوردافغانستان دپښتنو سره یوځای ګډه مبارزه په دوبرخو کي مخته بیوله.

دحبیب الله خادم دین شاهي فرمان متن





فرمان پادشاهی

چون برحمت حضرت الهی و تائیدات دین رسالت پناهی به خلع امان‌الله محرب دین که یگانه آرزوی ما و شما بود موفق شدم از بدو جلوس خود اجراآت نامشروع او را ممنوع نموده‌ام برای آگاهی شما غیرت داران دین حضرت سید الانام ذیلاً مینگارم.

۱ :- سلام که از طریقه مسنونه است و باشاره کلاه رواج داده بود مطابق سنت سنیه امر دادم.

۲ :- دستار که از طریقه و سنت آنحضرت است و ادای نماز بآن کامل میگردد موقوف کرده بود حکم دادم که بالکل دستار رواج باشد.

۳ :- البسه اسلامی که ترک شده بود برحال داشته مشابه کفار را منع کردم.

۴ :- ترک ستر را که حکم کرده بود مسترد کردم.

۵ :- برآمدن زنان و دختران بالغ را بدون اجازه ولی شان و مکتب مستورات را موقوف کردم.

۶ :- قطع ریش و بروت را موقوف کردم.

۷ :- مکاتب انگریزی و فرانسوی و جرمنی را موقوف کردم.

۸ :- فرستادن دخترها را که درخارجه نموده بود چون بدناموسی ملت بود جائز ندانسته و آنها را خواسته دیگر فرستادن را قطعاً ممنوع نمودم.

۹ :- آنچه کوشش برای ترقیات دنیای دو روزه بدون ملاحظات دینی داشت و از آنها ضرر دینی بظهور میرسید ممنوع نمودم.

۱۰ :- استخفاف علم و علما را امر نموده و برخلاف آن احترام شان شرعاً واجب است.

۱۱ :- نفاق اندازی که بواسطهٔ ترک مذهب و خرابی عقیده خود دراسلام انداخته بود برطرف نمودم زیرا تمام رویه را بر طبق مذهب حنفی نمودم.

۱۲ :- حساب هندسه انگریزی را که رواج داده بود موقوف کردم.

۱۳ :- سنه قمری را که به شمسی تحویل داده بود موقوف کردم.

۱۴ :- روز جمعه را که به پنجشنبه تبدیل کرده بود متروک ساختم.

۱۵ :- حقوق بیت المال را بخواهشات نفسانی خود صرف کرده مصارف ملا و مؤذن و مساجد را قطع کرده بود جاری ساختم.

۳۲

۱۶ :- امر معروف و نهی منکر را که مانع شده بود رواج دادم.

۱۷ :- حضرات مجددی را که پیشوای اسلامیان است محبوس ساخته بود رها ساختم که تلقین دینی نمایند.

۱۸ :- شراب خوری را که رواج داده بود بالکل موقوف کردم.

۱۹ :- ملاعبدالله خان مرحوم سست جلوی را که در راه سربازی دین مقتول ساخته بود امر دادم که مرقدش درست و آباد کرده شود.

از زمره فقرات فوق شما را اطلاع دادم که مستحضر باشید و علاوتاً از فقرات فوق الذکر مراحمات اهالی را بفقرات ذیل نیز نمودم :-

۱ :- بخشش باقیات سال های ماضی الی اخیر ۱۳۴۷ که از قسم مالیاتی بر ذمه رعایا و ملکیان باقی مانده باشد.

۲ :- ملازمت نظام خوش برضاء عساکر ماهواره بیست روپیه وچهار سیر غله وسال دودست دریشی و یک جوره بوت.

۳ :- معافی اضافات مالیاتی از قبیل طرق ومحرک پل و باقی وغیره.

این همه تکالیف خلاف شرع شریف را ممنوع کرده مالیه حقه اسلامی را که شارع حکم داده منظور کرده‌ام و در آسوده حالی احوال رعایا چنانچه باید و شاید کوشیده و میکوشم و تمام اجراآت مالکی را بر طبق جواز شرع انور اداره می نمایم و از شما خواهش دارم که بیعت های قومی خود را گرفته بامزه و اشراف و سادات و علماء و خوانین و ملکان بحضور والای ما حاضر شوید که علماء و سادات بمکافات حوبه نایل و خورسندی حضورم ارشادات ... وظیفه ومستمری سادات و خوانین را بطرز بیت سلطنت امیر شهید حکم منظوری ...

فرمان حبیب الله خان مشهور به بچه سقو، که مصوبات دوره امانی را ملغی قرار داده است

HAMBASTAGi.ORG

**داهم هغه غل چي انګريزانو دپاچهۍ تر کچې ورساوه (حبيب الله کلکهانی)**

**لومړی:ملي غورځنګونه:** چې مؤخه ئې په سيمه کي دانګريزانواودهغه دلاس پوڅونفوذدی په سيمه کي،دهغوی په وړاندي سخته مبارزه هم په ګرم سنګرکي اوهم دخپرونودلاري،چي په دې وخت کي سراج الخباراو

يولړنوري خپروني،کتابونه اورسالې خپريدلې انګريزي ضد شعارونه به ئې دځانه سره لرله.نو په همدغه دليل په سيمه کي تر هندوستانه ملي غورځنګونه دګډوهدفونو دپاره دآباسيند څه ترآمو پوري سره يووه.چي په دې باب،دکوټي پښتانه،دپيښورپښتانه اودکابل پښتانه ديوه نظر خاوندان وه.اوغازي آمان الله خان ددوی دپاره منلی اولوړملي او ډموکراټيک شخصيت ګڼل کيده.انګريزانوهم لکه څنګه چي په هندوستان کي پرګاندي اونهروباندي سخت فشارونه را وستلي وه،يعني په ټولنيزه توګه د(کانګريس)پرګوند،همدغسي ئې پرغازي آمان الله خان اودهغه پرملګرواوپه سيمه کی دملي غورځنګ پرپياوړو لاربښونوکو اومشرانو باندي دغسي بنديزونه راوستلي وه.

**دوهم : ډموکراټيک غورځنګونه :** دغه وخت دشلم قرن پيل اودنولسم قرن اخيردی،په نړۍ کي په تخنيکي لحاظ،په فکري لحاظ يولړښيګڼي اوپرمختګونه رامنځته سوي وه.چی دهمدغه پرمختګونوپربنسټ ئې دسيمي مترقي،غورځنګونه سره هم غاړي کړه.چی په دې وخت کي ښوونی اوروزنی ته د مترقي ځوانانوپاملرنه،ښځوته په سياسي اوټولنيز ژوندکی حق ورکول.دخپرونوآزادي داخبارونوخپريدل،دراډيوي خپرو نوړ.غ دنړۍ ترګوټ،ګوټ پوري رسيدل دډموکراټيکوغورځنګونو دپياوړي کيدوسبب سوه.په افغانستان کی مشروطه خواهان ديوه نوي فکره سره را پيداسوه اوپه هندکي دکانګريس ګونداودآزادۍ ناري خپرې سوې.چي لراوبرپښتانه ئې سره يوموټي کړه.په دې وخت کی په پښتنوکي نامداره خلک لکه:خان عبدالغفارخان، خان عبدالصمدخان اڅکزی، عبدالعلي اخوند زاده، قاضي بهرام خان اڅکزی،حاجي محمد انورخان اڅکزی ،محمدايوب خان اڅکزی اوداسي نورمنورين را پيداسوه، چی ملي او ديموکراټيکه مبارزه ئې دهنداوافغانستان ترمنځ په سيمه کی پرمخ بيول.خو!په مقابل کی انګريزي استعمارګر قوتونه هم

كرار نه وه ناست.بلكي؛ په هره لحظه كې دغورځنګونو دمخ نيوي په خاطرئې هلي ځلي كولې، كله به ئې ددين په نوم سيدان، پيران او ملايان را پارول، مترقي غورځنګونه به ئې په ټكول.او په سيمه كي به ئې خپل لاس پوځي رانيول اواستعمالول به ئې،حتادسياسي قدرت ترر سيدوپوري به ئې رسول.انګريزانوته دډيپلوماسۍ دلاري دګوډاګي حكومتونو د جوړيدو اودمترقي غورځنګونو دوهلولاري چاري ښې معلومي وې.لكه څنګه چي دچيرچل دخولې خبره ده چي وائي:يووخت ديوې مركې په ترځ كي دچيرچل څخه چاه پوښتنه وكړه،چي ستاسو مستعمرې په نړۍ كي دومره ډيري دي.لمرنه په كښي ډوبيږي.ددې راز په څه كى دى. چير چل وويل : ( دايوه آسانه طريقه ده،په يوه هيوادكي يوه اندازه وخپل هيواد ته خائين كسان پيداكه ،اودملت نااهله كسانوته دولتي واک يا قدرت وروسپاره،نوستا امرمني او هغه دولت ستا داستعماري ساحې لاندى راغلى) .همدغسي ديوه بيسواده سقاؤ زوى حبيب الله څخه ئې خادم دين جوړكى اودافغانستان تخت ئې په لاس وركى اوپاچهي ته ئې ورساوه.په افغانستان كي برسيره پردې چي دملک منورين ئې دهيواد څخه فرارته مجبوركړه،يولړمنورين ئې په اعدام سره محكوم كړه.داهغه وخت دى چي په سنه ۱۹۲۹م كال ددسمبر په مياشت كي آمان الله خان حكومت سقوط كوي.اوحبيب الله چي دغه وخت په پاړه چيناركې دديورنډ دكرښي هغه لورى ته چي دانګريزي حكومت په لاس كى دى.په يولس مياشتو بند محكوم سوى دى.په عجله توګه دبند څخه راخلاص سو.اوپه افغانستان كې قيام دحكومت پر ضد دانګريزانو په ملا ترسره را پيل كى.په لنډوخت كې دتاريخ ددې جاسوسوملايانوپه مرسته سقاوافغاستان ته راورسيدى. اودقدرت واک ئې په لاس كي واخيستى. څنګه چي حبيب الله كلهكانى يوبيسواده اوغل،بې ارزښته څوک ؤ،په نو مياشتو كې خورا ډيرتاوانونه

افغانستان ته وروړسول.هغه اصلاحي پروګرامونه چي دامير امان الله خان په وخت کی ترسره سوی وه، هغه ئې بيرته خراب اودخاوروسره برابرکړه.لکه دښوونځيو بندول ، دښځو دمخ لڅ کيدوبند ول،وملايانو ته قدرت ورسپارل،تنخواوی مقررکول، په لباس کي تغيرات راوستل .اوداسي نورعلمي اوپرمخ تللي معنوي اومادی شيان ئې دمنځه يووړه.اوپردغه ټولوبرسيره ئې په بې رحمۍ سره دهيوادنامتو شخصيتونه لکه: حبيب الله خان،محمد رسول خان، قاري دوست محمدخان ، عبدالمجيدخان توخی،سردارعبدالمجيد خان، سردارحيات الله خان،سردارمحمدعثمان خان،قاضي محمد،محمد اکبرخان،حبيب الله خان مخکنی معين دوزارت دفاع،قاضي عبدالرحمان خان اومولوي عبدالواسيع ئې په بيرحمۍ سره بندپر بند پريکړه اوټوټې ئې په ميخوپه پل خشتي کی وځړول.

دغه وحشت دسيمي پښتانه را بيداره کړه اودسقاو دزوی حبيب الله پر ضدپه ټول افغانستان کي قيام را پورته سو.چي دافغانستان جنوبي برخي پښتانه لکه دکوټی اوپيښورپښتانه هم ددغه حالاتو څخه نا خوښه وه. نو سمدلاسه دقاضي بهرام خان په فتوا دحاجي محمد انور خان په تحريک او دمرحوم حاجي داروخان اکااوحيات خان په سرلښکرۍ دافغانستان پرلوري ئې د حرکت قومنده ور کړه او په لږوخت کی دسپين بولد ک قومندان مهردل خان دخپلوعسکرواوسلاحوسره دوخت دملي مبارزينوملاوروتړل.اودتخته پول دنورومبارزينوپه ملاتړئې دکندهار ښارمحاصره کی، اوهلته دذاکردسيدانواوبيادکرزدپوپلزوپه مرسته ئې دکندهاردښار دروازې ورخلاصي کړې.او ښارته دکندهاردخلکو دخلاصون په خاطر ورننوتل ، چی په دې ملي مبارزه کي دکندهار خلکوهم دملی مبارزينو ملاتړوکړ،نو سمدلاسه مولوی قاضي بهرام خان دخلکو داطمنان په خاطر دښاروالۍ ومخ ته يوه درنه بيا نيه

ورکړه،چي دخلکودپوره اطمنان سبب سوه.چي دموضوعوتفصيل به ئې په ورسته کی وليکم.خو!دقاضي صاحب دمبارزولاسته راوړنه لکه ځنګه چي دافغانستان نه بهر ډيادولو وړوه،همدغسي دافغانستان په دننه کی هم دسقاوی پرضدملی قيام، دښځودحقوقودفاع اودويښ زلميانودګوندپه بنسټ کی دمرحوم قاضي بهرام خان ونډه ډيادوړبولم .

**دمرحوم قاضي بهرام خان ټولنيز شرايط :**

مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی دکندهارپه سپين بولد ک کی په يوه منوره اومذهبي کورنۍ کي دې دنياته راغلی دی.مؤلده يا ملهيد کلی دکندهاراوسپين بولد ک په منځ کی دښارڅخه ليري يوکلی دی،چي دکلي ډيرخلک ئې اڅکزی دي.داوخت اڅکزي قومونه دکند هارڅخه ترکوټې پوري په تيت اوپرک ډول سره پراته دي.دنوموړي قوم ډيرولږوکسانو مځکي اوجايدادونه درلودله. اوپه مالدارۍ باندې ګذاره کيده، داوخت اڅکزی قوم دزده کړی دعلمي اومذهبي ارزښتونوليری پاته سوي وه.نوپه همدغه دليل هم دمنورينوبرخه په کښي لږوه.ډيراڅکزي دسواده څخه محرومه اوکه به ئې دسواداوزده کړی شوق هم درلود،نودمسجد سبقونه به ئې زده کول.اولږوډيره به دڅاه سيپاره زده وه.ويل کيږي چي نوموړی قوم دهيواد پالني په روحيه تر بيه سوی اودستراحمد شاه باباپه وختوکې هم دډهلي په فتحه کولو،جنګونواودملک په سياسي اوټولنيزو چاروکې برخه درلودله.واڅکزوقوم ته داحمدشاه باباپه وخت کی هم دمځکوپه اصلاحاتوکی داوبومځکي وروه نه رسيدې،خو! دشالمارميلې ئې دلوی احمدشاه باباپه فرمان سره نصيب سوې.اوهمدغسي دمحمد ظاهرشاه تردورانه پوري دشالمارميلې موجودي وې،خو!پسله هغه چې دنړۍ تجارت اووتيزشرايطوتغيروخوړی،نودشالمارميلې هم دوخت د اقتصادي شرايطو سره سم بدلون وموند.اوباغوانانودخپلوميودپلورلو

بازارونه په هنداوپاکستان کی وموندل.اواڅکزی هم نورددغوميلوڅخه په رسمي توګه بندکړل سوه.

داهغه وخت دی چي په نړیَ کي سرمايداري ټولني په موج کي دي، انګريزانو دځانه سره نوی تخنيک دژونديه بيلو،بيلوبرخوکي دپښتنوتر سيموراورسوی،ترانسپورټ اسانه سو، خپرونی اودچاپ ماشينونه رامنځته سوه،دانګريزانوله لوري څخه تجارتي دضرورت وړ سامانونه راورسيدل.دټراين ليکه (ريل ګاډیَ) هم دبولد ک سرحداتوته رانژدې سوه.نو همدغسي دسيمی پرقومونوباندي ئې دتمد ن اونوښتونواغيزي واچولې، دغه وخت زلميان دغفلت دخوبه را بيداره سوه.اوهغه کسان چي دسيمي دتمدن اوخارجي نوی تخنيک يا دکارافزارئې وليدل اوپه کارئې واچول،نوئې سمدلاسه دخپلو ولسونو دبيداریَ اوسياسي ، ټولنيز ژوند کي دنوښت اوتغير هڅي وکړې.چي په دغه وخت کي قاضي بهرام خان اڅکزی دخپل وخت منور، زده کړی اودسياسي غورځنګ مخکښ ځوان بلل کيده.اوهمدغسي ئې هم دخپل قومي دودسياسي اوټولنيزپرمخ تګ دپاره په ملي روحيه ځوانان را بيداره کړه.اوداستعمارپرضدئې يوفعاله غورځنګ تنظيم کی.

په دې کي شک نسته چی په دې لاره کي به خدای بخښلي قاضي بهرام خان اڅکزي ستونزي ګاللي وي،خودهغه دپلارمحمدصادق خان اڅکزي په مرسته، هغه هم خپلي لوړی زده کړی ترسره کړې اوهم ئې په سيمه کي دنورځوانانوسره علمي کارونه ترسره کړه.اوسوادعلم ته ئې د ځوانانوتشويق دخپلواهدافويوه برخه وګرځوله.په مدرسواوخپلو شخصي ځايونواومسجدونوکي به ئې دزده کړي دپاره پروګرامونه درلودله.

دځوانۍ اوهلک توب په دوران کې دسیمي په مختلیفو برخوکي دټولنیزو فعالیتونودپاره شپې اورځي سباکړی دي،ترڅوقومونه اوولسونه دآزادۍ اوتمدن دپاره وهڅوي.که څه هم په دې مؤخه کي تر ډیرځایه یا بریده بریالی هم وو.خودخدای بخښلي قاضي صاحب دشاه وخواخلک او خپله دده قوم اوکورني ځانګړني داسی وې، چی لوستي خلک ډیرلږ.په کښي وه. داهغه وخت دی چي اڅکزي په دې وخت کی ډیره برخه ئې په مالداري اودکوچیانوپه څیرپه کلیواوځرځایونوکې دمالونو(رمو)دمړولو دپاره تګ اورا تګ کوي. هلته چي ښه دځړ مځکي وي هم هلته ئې ژوند کوی.ددوبی ځایونه ئې بیل اودژمی ځایونه ئې بیل وه.نوپه همدغسي شرایطو کی دیوه تعلیم یافته یا زده کړي ځوان دپاره سخته ده چی دغه پاشلي قومونه سره یوموټي کړي.خو بیا هم ترهغه ځایه چی امکانات ئې وه،دکندهارڅخه ترپېښین اونوروااړونده سیموئې دغور ځنګو نوروښنائي وځلول،خپله هم ددغه نیک عمل اودخپلو سیاسی مبارزوپه پایله کې بندونه اودفرارژوند دیوې سیمي څخه بلي سیمی ته پرځان قبول کړي اودوخت د حکومتونوسره ئې بیله بیري اووحمه څخه سیاسي مبارزې پرمخ بیولي دي.


<u>که څه هم خدای بخښلی قاضي بهرام خان دوه وروڼه درلودله ، چي برهان الد ین اوبل ئې هم صلاح الدین نومیده</u> ،هغه ئې هم دبلي مورڅخه وه،هغوی سوادنه درلودی،خوپه ټولنیزوکارونوکی دقاضي صاحب سره مخالفه هم نه وه.مرحوم قاضي بهرام خان دیوې شتمني کورنۍ سره واده وکی، چي وزیره نومیده، وزیره هم دده خانمه اوهم ئې دسیاسی مبارزوملاتړې وه.اودقاضي صاحب سیاسي اوټولنیزو افکاروپر وزیري باندي ډیري اغیزي کړي وې.اوهمدغه علت ؤ، چي دسیاسي مبارزو په جریان کې هغه ستونزي چي وده ته ورپیښې دې دهغو ومخ ته به دده خانمه مرحومه وزیره به لکه سپرهم داسی ولاړه

وه.دوزيري پلاراوکورنۍ هم دمالدارۍ په کسب باندي اختته وه.او دهمدغه لاري ئې دژوندعراده چلوله.هم دغسي بله خورئې دوزيري دوخت يوه بل نامتوخان مرتضا خان ته ورکړې وه ، چي دډگروال صاحب عبدالکريم خان خاله کيده ددوی کورنۍ دوخت دنامتوکورنيو دجملې څخه وه. نوموړې کورنۍ دخپلو سياسی اوټولنيزو شرايطو پر بنسټ، يوه درنه کورنۍ گڼل کيده،چی همدغه د ليل هم ددې سبب کيدای سي،چی دخدای بخښلي قاضي صاحب په ژوندکي دي دسياست او ټولنيزو مبارزې په ميدان کي دې د قاضي صاحب پرهوډ نورهم قوت وربخښلی وي. اودقاضي صاحب دبرياليتوب سبب دي سوی وي.

قاضي بهرام خان اڅکزی نه يوازي داڅکزوپه بادين اوکاکوزوپښه پوري موړتړلای سؤ،بلکي:هغه دافغانستان دآزادۍ اوډموکراسۍ دلاري يووتلی مبارزؤ.او هغه دسيمي په کچه دګاندي ، نهرو، خان عبدالغفار خان اوخان عبدالصمد خان په شان يوولس کاله دآزادې او ډموکراسۍ په لاره کی بندونه وګالل،هغه هم غازي ؤ.اوهم ئې په ملي – دموکراتيکو مبارزوکې خوارۍ ګاللي دي.چي په همدغه لاره کې خوراډيري قربانۍ ورکړي دي.هغه څه وخت چی دسياست وډګرته راداخل سو، نو په سياسي جريان کې دځان په شان نورسياسي دوستان هم پيداکړه،چي يودهغوڅخه دهغه ډيرنژدې اوددزړه درازاو نيازملګرې ؤ،هغه حاجي محمدانورخان اڅکزی ؤ،چي دځينوخلکوپه نظرهغه دوه ورونه غوندی ګڼل کيده.هم دغسي دکندهارپه سياسي تاريخ کي مؤلوي قاضي بهرام خان اومرحوم محمدانورخان اڅکزی دشلم قرن په لومړۍ پنځوس کلن تاريخ کي دقدروړکارونه ترسره کړي دي اودقدروړبرخه ئې په سياسي اوټولنيزومبارزوکی ترسره کړي ده.او ډيري لاسته راوړني هم لري.په ډيره بيادسقاوی په کورني جنګونوکې دقدروړخدمتونه ترسره کړي دي.چي وروسته ئې بيا دهيواد په سياسي

برخه اودښځودحقوقواومبارزې په لاره کې دسياسي غورځنګونو د تحريک اوويښ زلميانوغورځنګ ئې دنورومشرانوپه ګډون جوړاو را منځته کړ. دنوموړي غورځنګ لومړنۍ خښته ئې کښيښودل.

د(ظهورمشروطيت وقربانيان استبداددرافغانستان)دکتاب ليکوال ښاغلی پوهنيارسيدمسعوددکتاب په ۲۰۰مخ کي داسي ليکي : « مرحوم مولوي قاضي بهرام خان اڅکزی دهيواد په سياسي نهضتونوکې دمرحوم محمد انورخان اڅکزي سره دوی دواړواوړه پراوړه دويښ زلميانوپه تحريک کي کارکړی دی.اوکه وويل شي چي دوی دواړه ددې تحريک روح روان وه مبالغه به نه وي».همدغسي دهيواد دستونزوپه هوارولوکې ديوه ښه مشررول لوبولی دی. قاضي بهرام خان اڅکزی دلوی جرګې يوفعاله اووتلی شخصيت ؤ.اودهمدغه فرمان په وسيله دلوی جرګې دپاره راغو ښتل سوی هم ؤ.


تاريخ ( ۱۴ ) برج سنبله ۱۳۰۹
( ۱۲ ) ماه ربیع الثانی ۱۳۴۹
صاحب این ورقه به اوقات معینه الی اختتام لوی جرگه شامل مجلس عالی
لوی جرگه میتواند شود

داخبره ترلمر روښانه ده؛څه وخت کی چي دغه دوه داسي شخصيتونه چي هم ئې په حکومت کي لوړقدراوعزت موجودؤ،هم ئې په علمي او سياسي لحاظ پوره اوبشپړه توانمندي اوتجربه درلودله اوداهغه کسان وه،چي داميرامان الله خان ملاتړئې کاوه اوشهيد محمد نادرخان دپا چهۍ

په نیولوکې پوره ونډه درلوده.دخلکواوحکومت په نظرهم دبشپړه اعتبارخاوندان وه.اودهمدغه خپل وخت لوړرتبه مامورین هم وه. په دې وخت کي قاضي مولوي بهرام خان دزون قاضي القضات ؤ، په کابل کي دمرافعې قاضي ؤ.هغه دخپل ماموریت په وخت کي په صداقت سره دومره شهرته رسیدلی وو.چی دده په باب دغه متل تراوسه هم خلک یادوي:(چی ته خو! قاضي بهرام خان نه ئې ؟چي دومره دصداقت نارې وهې.) معناداچي دهغه صداقت په افغانستان کی نوم درلود،یوه ورځ دهغه دمشرزوی ډگروال صاحب عبدالکریم خان اڅکزي سره مادیوې لنډي مرکې په ترځ کی واوریدل اودمولوی قاضي بهرام خان یا دخپل پلارپه باب ئې داسی وویل:(کله چی قاضي صاحب دکندهاردزون قاضي ؤ،هغه به ټول عمردخلکوستونزی اوریدلې اوبیا به ئې په کورکي په داسي ډول دځانه سره پریکړه کوله چی دهیچاه واسیطه ئې نه منل.او ځان به ئې په کورکي داسي پټ کړی ؤ، چی هیڅوک به ئې هم ځانته نه پریښودل،څوحق وحقدارته ورسیږي.اوواسیطه ئې هم نه قبلول،دډیرونژدودوستانو دواسیطې څخه به ئې هم ډه،ډه کوله. هغه په تولنیزژوند کي دپوره صداقت،ریښتیا اودهیواد دخلکو خدمتگارؤ.چی دغه ټوله ښیگڼي مولوی صاحب په عمل کي ثابتی کړي وې. چي موږ ئې یوه لنډه بیلگه دلته راوړو:مولوي صاحب،ډیره علاقه درلودله چی خلک پوه کړي،ځکه ئې نوپه هروخت کي دې ته ترجیع اوزیاتوب ورکاوه چي دخلکو سره دسوادپه زده کړه کي، دعلمي اودیني علوموپه زده کړه کي هم په کورکي دننه اوپه خپل ځاني مسجد کي اوهم دکارپه ساحه کي ترتقاوت مخکی اووروسته هغه په زرهاوزده کونکی په خپل شخصي لگښت سره تربیه کړل.

یووخت خدای بخښلي مولوي قاضی بهرام خان اڅکزي دبوټودوکان دکندهارپه شاه بازارکي درلود.داهغه وخت دی چي مولوي صاحب

حکومتي دنده پرغاړه نه لري، نويوطالب ورته ناست دی اوديني سبق يا زده کړه کوي،په دې وخت کي يوځوان چي ږيره ئې خريلې وه دسوداخيستلو دپاره ودريدی او سودا ئې وا خيسته يا بوټ ئې را نيوه، وروسته تر هغه چي خريدارولاړی ، نوسمدلا سه طالب ځوان دمؤلوی صاحب څخه داسي پو ښتنه وکړه: مؤلوي صاحب ددغه ځوان په ايمان کي څه وائې ؟ چي ږيره ئې خريلې ده .خو ! په دې وخت کی حاجي محمدانورخان اڅکزی هم ناست دی،مؤلوي صاحب طالب ځوان ته وويل:کنه!سبق دي وايه، داستاکارنه دی،خو!بياهم په تکرارسره طالب پوښتنه ځيني وکړه مؤلوي صاحب زه پوه نه سوم ددغه ځوان په ايمان کي دی څه را ته ونه ويل؛مؤلوي صاحب بيا هم په يوه اندازه خښم سره ورته وويل : کنه سبق دي وايه دغه بيکاره پوښتني زما څخه مه کوه... خو! څه وخت چي دريم پلائې ځيني وه پوښتل:چي ددغه سړی په ايمان کي څه وايې؟؟؟نوقاضي صا حب حاجي محمدانورخان ته مخ راواړاوه اووې ويل:خان ددغه طالب ځواب ته ورکړه.خان چي لکړه ئې په څنګ کي ورته پرته وه،پرطالب ئې يوڅودرانه واروته وکړه اوورته وې ويل :(بيعقله انسانه!! تراوسه دي يوهم مسلمان کړی دی؟؟.که يوازي دکفرټاپې پرمسلمانانووهې) همدغسي خپلو خبروته ئې دوام ورکی،د چاه په ځانګړې سليقه موږڅه کارلرو.طالب دلته ديوه نوي فکرسره مخامخ سو،ځکه دوی خوبه ټول عمرچي يومډرن انسان وليدی،نوبه ئې هغه ملحيد ګاڼه اوملاصاحبانوبه هم ډول، ډول ټاپې پر و هلې،خودحاجي محمدانورخان اومولوي صاحب بهرام خان په ځانګړې سيکولوژي طالب جان نه ؤخبر.خوپسله هغه چي په علمي دلايلووطالب ته توضيح سوه،نوطالب هم پرخپلوغلطيواقراروکی اودعلماوڅخه ئې زده کړه وکړه.ددې خبری معنا داده چي په شخصي دوکان،کوراومسجد

کي خدای بخښلي مولوي قاضي صاحب طالبانوته درسونه ورکول. اودنوی زمانې دروحې سره ئې دافغانستان خلک روزل.

قاضي بهرام خان نه یوازی داچی دمنورینوپه منځ کی یوداستعداد خاوندؤ،مشرپوه اوعالم هم ؤ،بلکي دولسونواوتودوپه منځ کې هم داحترام وړګرځیدلی ؤ.دده دمبارزو،صداقت،ریښتینولۍ پلویان خورا ډیروه،خو؛قاضي صاحب هم دپاکوالي سنمبول ؤ.اودخلکو په منځ کی دغه متل بیاهم تراوسه سته چي وایی:( هر څوک خوقاضي بهرام خان کیدای نه سي) .

دولس په ژبه قاضي صاحب ستایل سوی اودفلکولوریکوشاعرانو دخولې چي شاعرئي معلوم نه دی ، خو! دځینوسپین ږیروپه خولوکي اوس هم دمرحوم قاضي صاحب ستاینه سته. اوهغه وخت چی امیر امان الله خان دافغانستانه څخه ووتی.افغانستان دیولړستونزوسره مخامخ سو.نودوخت منورینولکه قاضي مولوی بهرام خان اومحمدانورخان اڅکزی چی دقاضي صاحب سره ئې دوروروولۍ ترکچي دوستي درلودله، هم دغسي دجنګ دمیدان پیاوړی،دوخت تودې اویا ولسي خلک دوی په خپل یوه شعرکی داسي ستایی :

اول لمبر مي زکوم خان بیا انور خان دی

بیله شکه اڅکزی د پاچاه قام دی

راغله سقاوی جوړ ستم پر هر افغان دی

وروزي اڅکزي تروطن ئې ځان قربان دی

دغلو سوه پاچهي سقاوناست پر تخت او تاج دی

انګریزورله خوشحاله پروطن ناورین نا تاردی

پښتانه ور له بيتا به نوبت بيا دامتحان دی

فتوادبهراخان سوه،اڅک مخ پرکندهاردی

اول نمبر مي زکوم خان بيا انور خان دی

بــيــله شکــه اڅــکزی د پـا چـاه قــام دی

را پــورته اڅکــزي سوه اول برید پر کندهــار دی

لښکر د زکوم خان وه دغيـرت شوکـت اوشان دی

کندهارکي ازانګه سوه،په خوشحاله زوړاوځوان دی

راغــلي اڅکــزي دي په لوړ شان ئې نــوم نښان دی

سقاؤ سو ناآرامه چي لښکر ئې اوس پرډاګ دی

دکــلا دروازې ما تــي سورلښکر ئې انحصاردی

اول نمبرمي زکوم خان بياانورخان دی

بـيـله شکه اڅــکـزی دپا چاه قــام دی

دلته موږ دولس په ژبه، وينوچي قاضي بهرام خان چی دخلکوولسونو په منځ کې بشپړه محبوبيت درلوداودسيمي ټولوخلکودی ديوه ديني عالم اوپوهه په توګه پيژنده،نوپه همدغسي وخت کی دهمدغسي عالم وفتوا ته ضرورت سته څودخلکودعقايدوسره سم خلک دملي مبارزې دپاره چمتو کړي.داوخت چي ملي ږغ موجودؤ، خو! ملی يووالی موجود نه ؤ،يعنی دولسونواو تودو په منځ کي هم ږغي اوسياسي يووالي ته ډير ضرورت ؤ.څودافغانستان دهمدغه وتيزوشرايطوپه عيني دريځ سره چي په سيمه کي دخان خانی سيستم حاکم ؤ،نوبايدملي حرکت دفيوډالانو اوخانانوپرلاس سوی وای.اوهمدغسي ديني علماؤبايدولسونه ملی

مبارزې ته چمتوکړي واى.خو!دوخت دعيني اوذهني شرايطوپربنسټ ولسونه دخانانوپرشاه وخواراتول اوخپله تودوپه دغه وخت کی لاربښوو نه نه سواى کولاى.په همدغه دليل دوخت منورينولکه:مولوى عبدالعلى اخوندزاده کاکړچی دخپل وخت يو پياوړى منورشخصيت وو،دهغه په وسيله دګلیستان خان حاجى محمدانور خان اڅکزى اودوخت دفقي ديني عالم او پوه مولوى بهرام خان سره يوځاى کيږي. چی په لنډ ډول ئې کيسه داسي ده.

څه وخت چي سقاوى پرکندهارحاکم سوه. دکندهاراوشاه وخواقومونو دغه حالت دځان دپاره توحين وګاڼه چي ديوه غله حکومت پردوى باندي برلاسه سي.نوحاجى محمدانورخان دپيښي يا ستونزي دحل دپاره دپخواپه څيرمولوي عبدالعلي اخوندزاده (کاکړ)ته ورغلى،همدغه ستونزه ئې دکندهاردخلکو ورسره شريکه کړه،عبدالعلي اخوندزاده سمدلاسه محمد انور خان اڅکزي ته وويل: چی داکار يوازي دهغه لوړ شخصيت په توان کی دی چی ستا ملا تړ کولاى سي، هغه لوى مولوي قاضي بهرام خان دی. او که هغه ستا ملا تړ وکړنو! ته خامخا بريالى ئې، خولوموړى دهغه نظر بايد ته واخلې ، داهغه وخت دی چي مولوى بهرام خان او حاجي محمد انور خان لا نه سره پيژني ، خو! يوازي يود بله د سيمي دمنورپه حيث مولوي صاحب بهرام خان،محمد انورخان اڅکزى پيژني.يعني دواړوپه غياب کی سره پيژندل،نوځکه محمد انور خان اڅکزي دعبدالعلي اخوند زاده څخه وپوښتل:چی موږ به څنګه سره وپيژنو؟ هغه په ځواب کي وويل:چی مولوي بهرام خان داوخت په پښين کي دی،هغه دلته را ځي او زه به تاسو سره معرفي کړم.چی همدغسي هم وسوه،مولوي بهرام خان دحاجی محمدانورخان اڅکزى سره د مولوي عبدالعلي اخوندزاده په وسيله سره وپيژند ل.همدغسي دمنورينو په يوځاى والي اودبنه تنظيم په کارکي دمولوى عبدالعلي اخوند زاده

ونډه دپوره حساب وړګڼم. نوبې ځايه به نوی چي موږدخپل همدغه اثر په همدغه برخه کي دمولوي عبدالعلي اخوند زاده په باب اوپيژندني په خاطرهمدغه يوځوجملې ورډيري کړو.مولو ي عبدالعلي اخوندزاده ، دجيوپولټيکوشرايطوپه درشل کي ديوه لوی مرکز په حيث دبحث وړ دی. که ځوک غواړي چی دسيمي پردغه تاريخي ستونزمندحالت باند ي ځان پوهه کړی،نوبايدلکه مولوي عبدالعلي اخوندزاده غوندی درانه شخصيتونه هم وپيژني. چي دوی هم دتاريخ په جوړولوکي ډيره درنه ونډه درلودله. همدغسي نورکسان هم موجود وه. خو! زموږموضوع دلته يوازي دهغه کسانوسره ده ګوم چي دمولوي صاحب سره ئې سياسي اوټولنيزي اړيکي درلودلې.

**ارواح ښاد عبدالعلي اخوند زاده :**

علامه عبدالعلي اخوند زاده، په ۱۸۷۲م کال په پښين کي زيږيدلی او په ۱۹۴۴م کال کي وفات سوی دی.په قوم کاکړاود ږوب اوپښين په شاه وخوا کي ژوند کاوه.

دغه نا بغه پوه دسيمی په کچه دخپل وخت يونامتو پوه ګڼل کيده.هغه دنن څخه ۱۰۱کاله مخکي وه افغانستان ته دپښتني اوافغاني ميني په خاطرراغلی ؤ.چي داوخت دانګريزانواوافغانوترمنځ دسياست ميدان هم ډيرګرم ؤ.اوافغانان دنوي پرمختګونوږغونه هم اوچت کړي وه.دازادئ ناري وهل کيدي،دمطلقه حکومتونوپرځای دوخت ځوانانو دمشروطيت ملاتړ کاوه.اوعمومي غورځنګونه دپرمخ تګ په حالات کي وه.مرحوم عبدالعلي اخوندزاده هم خپل تحريک په کند هار کي دځوانانوپه منځ کې دسولي،آزادئ اوملي وحدت په خاطر دځوانانوسره هم غاړي کړی ؤ.هغه دځوانئ ټاپ عمرپه ښکلي ارغنداب په ښکلوشينوباغوکي تير کړې ؤ.او داڅکزودشالماردميلوڅخه ئې بشپړه خوندونه اخيستل. خو بيا

دوخت دبدو شرايطو پر بنسټ بيرته خپل پلارنی ټاټوبي ړوب اوپښين ته ولاړی.هلته ئې دتمد ن نغمه تازه کړه،اوداسی کسان ئې پرشاه وخوا راټول کړی وه،چی هريوئې دوخت نامتوعالم اوپوهه ؤ.دهغه په کورکی به تل سياسي،ادبي غونډي کيدې اود سترخوان به ئې تل هوار،دميلمنو پرمخ پرانيستلی ؤ.دمرحوم عبدالعلي اخوندزاده شتمنی ډيره برخه ده مځکوپرحاصيلاتوولاړه وه،خو! هغه دوخت لوړطبيب هم ؤ.اويوه غټه دوخانه يا دعطاری دوکان ئې هم درلود. دهغه طبابت په سيمه کي نوم درلود.اودډيره ليري ځايونوڅخه به خلک دعلاج دپاره هم ورته را تلل.دغريبانو اعلاج به ئې وړياتوګه کاوه.خو! دخانانو څخه به ئې پيسې اخيستل. دهغه شهرت په ځوبرخوکی مشهوره ؤ. لکه:ادب پوهنه ، سياست اوطبابت کي.په همدغه وخت کی دهغه چاپيرپال يوه علمي اکاډمي وه.اوهروخت چی به دافغانستان څخه درانه پوهان کوټي يا سيمی ته ورتلل، دمرحوم عبدالعلی اخوندزاده په کورکې به اوسيدل او عزت به ئې کيده. همدغسي مرحوم يو نامتو کتابتون هم درلود،چی هم ډيري درنې قلمی نخسې به په کښي ترلاسه کيدې،هم دوخت ښه کتابونه دده په کتابتون کې ترسترګوکيده.څه وخت چی مرحوم علامه عبدالحی حبيبی د يوه لنډ وخت دپاره مهاجرسؤ،نو دمرحوم عبدالعلي اخوندزاده په کورکې شپې وې، چي دهغه د کتابتون څخه ئې ډيره ګټه هم ترلاسه کړې وه.اودهيواديوډيرلوړتاريخي اثرلکه:دپټي خزانې پاڼي ئې هم دلته ترلاسه کړې. اودپټي خزانې په ترلاسه کولو سره دپښتو ژبي تاريخ هم داسلام دپيل سره مستندوليکل سو.دغه پاړکی اوادبي مستنداسنادد پښتو ادبياتوپه تاريخ کي يوه لويه پيښه رامنځته کړه.چي په دې کارسره دپښتوادبيات غني سوه.اودهغه کتابونونومونه چی موږدنوروااثارو اوکتابونو څخه اوريد لي وه، همد لته په مستند ډول ترلاسه سوه.

چي دغه خيرهم داعلامه عبدالعلي اخوندزاده دبرکته څخه ګڼو.او په دې کی هم شک نسته چی اعلامه عبدالحي حبيبي صاحب په ډيرزياراو کوښښ سره پټه خزانه تنظيم کړه.اوهم ئې په بشپړه توګه ديوه کتاب په څيرپه افغانستان کي دوخت دمعارف وزيرصاحب سردارمحمد نعيم خان اومرحوم محمدداود خان په امرسره چاپ اوخپره کړه.چي دپټي خزاني په وسيله موږته ډيري تذکرې په لاس را غلې.لنډه داچي مرحوم عبدالعلي اخوند زاده دسيمي دمترقي غورځنګ يودحساب وړلوړ شخصيت ؤ.دهمدغه لوړشخصيت په وسيله دمترقي غورځنګونولوړو مشرانوسره وپيژندل.څه وخت چی حاجي محمد انورخان اڅکزي غو ښتل چي افغانستان ته ولاړسي.اوپه کندهارکې دسقاوپرنامشروعو حکومت بريدوکي،نوعبدالعلي اخوندزاده لومړی سړی ؤ، چي حاجي محمدانورخان اڅکزي مشوره ورسره وکړه.علامه عبدالعلي اخوندزاده هم بيله کوم ځنډه څخه داسي صلايا مشوره ورکړه اوورته وئ ويل : ته بايد سمدلاسه مولوی بهرام خان ووينې. اودهغه سره بايد خبري وکړې، لکه څنګه چی مخکی هم وويل سوه، حاجي محمدانورخان اکادمولوی سره پيژندلګلوی نه درلودل دعبدالعلي اخوندزاده په وسيله ئې دنژدې سره وپيژندل. چي په نتيجه کی مولوي بهرام خان هم دخپل باوری خان محمدانوراڅکزی فتواد سقاودحکومت پرضدورکړه؛نوپه لږوخت کې سقاوي حکومت نيست اونابودکی.دسيمی خلک ئې دهمدغه ظلم څخه وژغورل.عبدالعلي اخوند زاده په ۱۳۴۹هـ ش کال کی دکلا ت دښوونی اوروزني مشرسو.اودهيوادآزادۍ دلاري سترمبارزاونامداره شخصيت ګڼل کيده،هغه په کوټه کی دطبابت پردوکان برسيره دناروغوعلاج هم کاوه اودکابل څخه بيا ترکلاته اوکندهاره ډيرخلک ورته راتلل.

ویل کیږي چی عبدالعلي اخوند زاده په طبعت کي یوخندان اوخوش خویه انسانوو،همیشه به ئې سپین پاک  کالي اغوستل اودوخت دلباس ډیره ښه سلیقه ئې درلودله.

عبدالعلي اخوندزاده یوپوخ شاعرهم ؤ،دنثرپه برخه کې نامتولیکوال هم وو.چي دلته ئې موږ دشعریوه نمونه هم یادولای سؤ .

مخ ګرځوي په بیرته ستم ګر ولی له ما

جهان په تاروښان پټوې لمر ولي له ما

نعمت دي دوصال که رابدل په اوردهجر

غواړی ولي جزاته دمحشر ولي له ما

معلوم دي ټوله تاته که اخلاص وي که غرض

منز ل دي د ر قیب کــه برا بر و لـــي لــه مـا

خفقان به په سبب سره کیدای دچاه له چاه

مانې په تشه خوا کوی د لبر ولي له ما

نن بیادسپین باړخودنیمي مچي په عوض

نه اخلي ګل اندامه مال اوسر ولي له ما

سرې شونډي جلاکړی ده عبدالعلي د لبو

بې نیازه جام دي ټول کی دکوثرولي له ما

علامه عبدالعلي اخوندزاده دوخت په مروجه علومواوژبوباندي ښه پوهیده.اوهغه برسیره پرپښتو شاعري فارسي شعرونه هم ویل.چي دفارسي د شعرنمونه ئې داسي ده :

زوصال توبشارت كه به شب شنيده باشم

به هواى روى توچوسحردميده باشم

زنظرگهت كه ايد سوى سينه راست

زخيال ابرى توچه كمان خميده باشم

دل عاشقان كه دزد دبه نگاه چشم شوخش

به فراق او است سينه چوكفن دريده باشم

چون شكست رنگ شبنم كه به پرتوجمالت

چونظركنى نگاراز گلسست بريده باشم

داستادعبدالعلی اخوندزاده په باب خورا ډيرڅه دستاينې سته ځکه استاد علامه عبدالعلي اخوندزاده هم سياست پوهه وو، هم اديب ؤ،هم دوخت طبيب اوټولنيزانسان ؤ.مورږدلته د ده يوازې يادونه په دې خاطروکړه چي هغه دوخت دپيښوسره بشپړه اړيکي لري،خوپه دې چي دخپل کتاب اصلي مؤخي ته راسو،نودموضوعوڅخه نورتيريږو.د ده «روح دې ښادوي».

## دمؤلوي بهرام خان اڅكزى دمبارزو دوهم پړاوپه سقاوي پيرکي

پسله لومړۍ نړيوالي جګړې څخه په ټوله نړۍ کي ملي اوډموکراټيک غور ځنګونه دنوښت اوعمومی پرمختګ په لورراويښ اودټولنيزوپرمختګونوپر لور روان سوه.په نړۍ کي عمومي پرمختګونه دخلکواوولسونوپه ګټه داستعمار اونړيوال امپريالزم پرضدسره يوموټي سوه.دخلکواوولسونودآزادۍ چيغي نړيوال ملاتړدلومړي سوسياليستي نظام اتحاد جماهير شوروى په مرسته تر لاسه کی.

د نړیوالوپانګوالۍ زبېښاک اوښکیلاک پرضد په نړۍ کي درې عمده یا اصلي قوتونه سره هم غږي سوه.لکه:په داخل کې دسرمایداري هیوادونوکارګري قوتونه دسرمایدارانو پرضد دخپلووتیزوګټوپر بنسټ سره یو موټي سوه – ملي آزادی غوښتونکي هیوادونه دخپلوآزادیواودښکیلاک پرضدداستقلال په خاطر اودخپلوسرحدونواوملی ګټودخوندی ساتلوپه خاطرراوچت سول.اودآزادۍ ناره ئې اوچته کړه – دریم سوسیالیستی هیوادونه چي په رأس کې اتحادي جماهیري شوروي ولاړؤ،دخپلوسوسیالیستي ګټودخوندی کول اواړونده نړیوالوکارګري غورځنګونوپه خاطرد ملی آزادی بخوښونکوغورځنګونواوکارګری غورځنګو نوسره هم غاړی سوه.دهمدغه دروستونونوپه یوځای کیدوسره په نړۍ کي ستربدلونونه رامنځته سوه.په منځنۍ امریکااوجنوبي امریکا،افریقا آسیا اوختیځه اروپاه کي نوي غورځنګونه،ګوندونه اوهیوادونه په پرله پسې توګه آزادکړل سوه .اودتاریخي تکاملي پرمختګونولاره ئې خپله کړه.

په افغانستان،ترکیه،مصرالجزایرکانګو،اتوپیاکوبا،نیکاراګواهندوراس پانامه او نوروهیوادونوکې ډیرسترآزادی خواهان اوګوندونه رامنځته سوه.اوداستعمار اوامپریالیزم جرلې یاریښې ئې په خپلوهیوادونوکی وروایستلې.خوځرنګه چي زموږدکتاب موضوع نه ده نوموږ یوازي دسیمي پرهیوادواوملي ډموکراتیکو غورځنګونوخپل بیان کوو.

په افغانستان کي مخکي لا مشروطه خواهانو دانګلیسي استعمار پر ضد آزادی بخښونکی غورځنګونه سره راژوندی کړی وه.اودآزادۍ دنارې داوچتولو دپاره ئې چمتوکړي وه،همدغه وخت ؤ،چي شاه آمان الله خان چی دمشروطه خواهانو یاپلویانودجنبش فعاله غړی وو،دخپلوپرمختللومباریزینویادآزادۍ دلاري د مبارزې لاربنود په ۱۳داپریل په ۱۹۱۹م کال کي دآزادۍ اواستقلال ناره او چته کړه،دانګریزانوسفیرچي دافغانستان چارې دنژدوځخه ځارلې نوئې سمدلاسه برطانوي هندومسؤلینواوخپل هیواد ته خبرورساوه. داوخت امیرآمان الله خان خپله بشپړه خپلواکی په سیاسي اووتیزلحاظ اعلان کړه.انګریزانو دهمدغه پیغام په مقابل کی دافغانستان بشپړه خپلواکي په رسمیت ونه پیژندل او په دسیسوئې لاس پوري کړ.اودامیرامان الله خان دپیغام په بدل کې پر ۱۵ سمه

داپريل دبې پرواى يوليک افغانستان ته راوليږه.خو! څه وخت چې افغانان او اميرامان الله خان دانګريزانوددغه بدنيته په رسمى توګه خبرسول، نوئې سمدلاسه په سيمه کې دافغانستانه بيا دهند ترځينوسيموپوري دآزادئ دلارى دټولوقومونوسره اړيکى ټينګي کړې،اعلامي ئې خپرې کړې .او په سرحداتو او شاه وخواسيموکې دانګريزانوپرضدملي آزادي بخښونکي جنبشونه راپورته کړه،سرحداتوته ئې په دروجبهوکى قومندانان اوجنرالان واستول،ملي قيام دسيمي په کچه ورته راپورته سو،مظاهرې په لاهوراوامرتسرکې ورته جوړې سوې او ترڅلورسوه ډيرخلک انګريزانوپه مسالمت اميزه مظاهروکى ووژل، چي داکارنوره هم دملي قيامه سره مرسته وکړه ، دسيمي په هربرخه کې پراته قومونه دعمومى قيام دپاره چمتوسوه،سرحداتوکې دپښتوراوکوټي په پښتنو سيمو کي قيام دانګريزانوپرضد راپورته سواوپه بريالېتوب مخ پروړاندي ولاړ، انګريزان ددې قيام څخه لاس او پښه سوه. پرهمدغه وبيريدل چى هندوستان دلاسه ورنه کي.خوبيا ئې هم دجنګ لاره داينده اميدوارئ په خاطرخوښه کړه اوترهغه وخته چى توان ئې درلود افغانستان آزادى ئې نه سواى تحمل کولاى. ليکن :زور،زوردى، دافغانستان لومړئ جبهې لعل پوره اوډکه چي دکوچنى خيبرپرغاړوپروت دى اوداوخت دډيورنډدکرښي په وسيله دافغانستان سيمه ګڼل کيږي دغه جبهې ته د۱۹۱۹م کال دمى پراتمه ۸دصالح محمدخان په مشري عسکروليږل اوکندهار.خوست اوپکتياته ئې جنرال محمدنادرخان اوعبدالقدوس خان وه ليږل.

هرجنرال دسيمى دخلکو په ملاتړدانګريزانوپه مقابل کي په جنګى محاذ کې غښتلي اود انګريزانودلښکرورحيه ماته سوه، انګريزان په دې وپوهيدل چى د مخامخ جنګ توان نه لري.اودبلي خواڅخه دافغانستان سفيرماسکواوبخاراته داتحاد جماهير شوروي سره ددوستئ اوملاتړاونيکواړيکوپه خاطر ولاړى، چي همدغسي دهغوى ملاتړ ئې هم دځان کى ، نوانګريزان په دې وپوهيدل چي په سياسي لحاظ د ماتي سره مخامخ کيږي مجبورسول چي دافغانستان خپلواکي تسليم کړي.خو!دخپلودښمنانه کارونوڅخه لاس نه اخلى اوپه سيمه کي خپل لاس پوڅي تربيه کوي.اوداسلام په نوم،دشيخ په نوم، دمذهبى مشرپه نوم،دسيد په نوم

په خلکوکي غواړي نفوذوکي اودهمدغه لاري خپل شيطاني عملونو ته ئې دلومړنی توب حق ورکی.خو په مخامخ جنګ کی مات او بګيل سوه.

او دافغانستان سره ئې دځلورومادوپه بنسټ دسولي معاهده يا تړون لاس ليک کړ. دغه وخت دانګريزانوماته اوپه اسلامي نړی کي دانګريزانوبدناميدل او دافغانستان دځوان انقلابي حکومت سره دنړی د مسلمانانواوپه هند کی دسياسی غورځنګونو بې حده مينه پيداسوه.حتا تردغه اندازې چي په نړيواله سطحه اميرامان الله خان ته داسلام ديوه مشراولاربنود حيثيت ورکړل سو.ډيروهندي مبارزينو افغانستان ته پناه راوړه اودلته وساتل سوه، خو! دهغوی څخه دجنګ په ميدان کی ګټه وانه خيستل سوه.اونه هم سياسی ګټه ترې واخيستل سوه ، ممکن علت ئې دوخت شرايط وه.چی موږ دلته دغه بيت چی دهغه وخت ادبي يادونه ده. ګورو

چومسلم علم دين ورزيد امام فخري رازي شد

ولي چون در عمل کوشيد امان الله غازي شد

دلته يوه يادونه بايد وسي چي څه وخت چی دانګريزانوسره داستقلال په با ب تړون لاس ليک کيده،په ۱۹۱۹م کال دسپتمبرپر۱۳دانګريزوجنرال (جان مفی ) اودافغانستان څخه جنرال غلام نبي خان چی په اصل کی دګليستان کاريز دخانانو څخه وو.د مشاهد په توګه دافغانستان نماينده وو.چی همدغسي د ګليستان اوعبدالله خان کاريزنورومشرانوهم دافغانستان دمهموپيښوپه سرکي ځای درلود.لکه : برخودار، عرض بيګی ، عبدالله خان ، ګليستان خان اوجنرال غلام نبی خان،همدغسي په ورسته کی حاجی محمدانورخان چی دغلام نبي خان وراره هم کيده ،اوورسته بيداروخان،زقوم خان، قاضی صاحب بهرام خان، خان عبدالصمدخان اڅکزی،خان محمدايوب خان.اونورتوکمونه يادولای سو. چی دافغانستان په بيلا بيلو تاريخي زمانوکې دسياست اومبارزې په ميدان کی مهم تاريخی کارنامې ترسره کړي دي.خودلته دخپل وخت پربنسټ دقاضي بهرام خان رول دسقاوی په دوران کي دومره جوته دی، لکه څنګه چي دتاريخ په تير پړاونوکي داڅکزودقوم اودسيمي دهغه خوادپښتنورول جوته وو.

مرحوم میرمحمد صدیق فرهنګ په خپل تاریخ (افغانستان در پنج قرن اخیر) دوهم ټوک ۵۸۲مخ کي دپیښو په باب داسي لیکي:څه وخت چي دسقاوزوی حبیب الله پرکندهار باندي برلاسی ترلاسه کی نودکندهاردغه دوه غیرتي کسان لکه:علي احمدخان اومؤلوي عبدالواسیع چي دغلو حکومت ئې نه منی په کابل کي په اعدام محکوم کړه:چی دوی هم مخامخ وسقاوته دهغه دکفراوغله خطاب وکی.

مؤلوی عبدالواسیع ته حبیب الله وویل: چی تاویلي دي چي حبیب الله کافردی؟.

مؤلوي عبدالواسیع وویل : نه! ما نه دي ویلي چي ته کافرئې بلکي:ماوویل:دپا چهی ارزښت اووړتیانه لرې.ځکه هغه څوک چی غل وي،په غلاکي سابقه او تاریخ ولري،هغه شرع شریفه وائي هغه دامامت اوپاچهي وړتیانه سي درلودلای. حبیب الله وویل :چي ستادفقي اوشریعت څه او څه ؟؟؟ نو دلته مولو عبدالواسیع وویل : چي پخواشریعت او فقي ویل چی ته کافرئې خو! اوس زه وایم چي ته کافرئې.نوحبیب الله دسقاوزوی هم دوی په توپ کی والوزول.

دیوه بل روایت له مخي څه وخت چي مؤلوي عبدالواسیع شهید دحبیب الله دسقاوزوی ته دشرع شریف حکم وکی ، نو سمدلاسه دسقاوزوی وشرعي ته هم داسي ښکنځل وکړه: ستا دشرعي څه؟او څّه ؟ ، نو وروسته بیا مؤلوي صاحب وحبیب ا لله ته مخ ورواړاوه اوورته وې ویل: مخکی شرعي حکم کاوه چي ته غل دپاچهی وړنه ئې، خواوس زه حکم کوم چی ته کافرهم ئې اوداسلام پر ملک ستاپاچهي نه کیږي.چی دهمدغه کیسې څخه وروسته په بیرحمۍ سره ئې مؤلوي عبدالواسیع شهید کړل سو .

دظلمونودغه لړۍ دافغانستان پرټولوسیموباندي روانه وه.ټولنه اودټولني اړونده سیمی که لرپښتانه وه اوکه برپښتانه وه دکمیت اوکیفیت دتغیرداصولو پرقانون دتوغیان اوانقلاب پړاوته ورواوښتل.خوځښتونه د هري سیمی څخه دسیلاب په څیردناخوالوپرضدراوپاریدل اوانقلابی کمیتونه په یوه ارزښناکه کیفیت بدل سوه،زاړه مذهبی فکرونه ئې محکوم کړه اودنوی فکرانقلابیان دافغانستان دبیلا بیلوسرحدونوڅخه دتوفان په شان راواوښتل اوزاړه خس اوخاشاک ئې دځانه

سره یووړل،په دې باب بیا هم دبلوچستان دلوري داڅکزود قوم ملی حرکت چي دمولوي قاضي بهرام خان په فتواسره دحاجي محمدانورخان په مدبرانه لاربنوونه،دداروخان او زکوم خان په سرلښکري سره دقومندان مهردل خان په عسکري نظم سره مخ دکندهارپرلوردزمریانوپه څیرراوبهیدل. اودسقاوواک ته ئې دپای ټکی کښیښوده. په دې باب د افغانستان در پنج قرن اخیرپه کتاب دوهم ټوک کی بیاهم میرمحمد صدیق فرهنګ خپل نظراوڅیرنه داسي توضیح کوي: (مولوی عبدالواسیع وعلي احمد خان هردو نفربه اعدام وبه توپ پرانده شدند؛ اما شهرکندهاردراختیاری قوای سقاوي با قي ماند، تا اینکه درماه سنبله یک دسته ازاچکزایی های مقیم بلوچیستان انګلیسي به را هبری ریس قوم شان محمدانورخان اچکزی برای استردادشهربه افغانستان لشکرکشیدندونیروی نظامي پایګاه سرحدي قلعه جدیدبه ایشان ملحق شده به اتفاق هم شهررا در محاصره ګرفتند.تقریبآ درهمان وقتی که محمدنادرخان بر کابل مسلط ګردید،این نیروی مختلط درزیری قیادت یک نفرصاحب منصب بنام مهردل خان برکندهاردست یافت به حکومت عمال حبیب الله درآنجا پایان بخشیدند.) .

**دقاضي بهرام خان اڅکزي ونډه دسقاوی په سقوط کښي:**

لکه چي مخکي هم پر دغه باندی لږاوډیر بحث وسو،چي قاضي بهرام خان چي دلوړوزده کړودپاره هندوستان ته تللی وو،هلته دسیاسي شخصیتونوسره په اړیکوکي،دهغه په ذهن اودماغ کي دتمدن پلوشي نوري هم را تودې سوې، چي دشلم قرن دتمدن پلوشودهغه پرژونداوسیاسی دریځ باندی ډیري اغیزي وښندلې، نوئې ځکه په همدغه شلم قرن کي دافغانستان په غورځنګ کی دقدروړ خدمتونه هم ترسره کړل.اودافغانستان په سیاسي اوټولنیزومسئلوکي همیشه برخه درلودله اودعمومي پرمخ تګ په خاطر ئې خپل مؤقف یا دریځ څرګند اومعلوم وو،هغه دوخت زده کړی.اولومړنۍ زده کړې دمحیط دملایانو څخه اودکورنۍ څخه زده کړي وې.خو! بیا ورسته دهند برطانوي په مختلفو ښارونوکي لکه:ډهلی، لاهوراوکوټه کي دګرامر،فقې،فلسفې اوسیاست په علوموکی زده کړه وکړه. همدغسي دهنددکانګریس دسیاست پوهانوسره داړیکو په ترځ کي یولړډیري تجریبې دآزادۍ اواستقلال هم ترلاسه کړې.چي په نتیجه کې داستماري یا

ښکيلاک ګروحکومتونوسره سخت حساسيت پيداکی.اوترهغه راورسته دهر ډول بې عدالتۍ په مقابل کي ودريدی.نوهغه وخت چی په ۱۳۰۸ش کال کې کندهارته را ستون سو.نود ملی حکومت اودد موکراسۍ دلاري دحکومت دپاره ئې هلي ځلي راپيل کړې،دهغه نظريات دچارواکو دپوره پاملرني وړوګرځيده. سمدلاسه دچارواکو په غوښتنه په ۱۳۰۸ش کال کې په لويه جرګه کې ګډون وکی،چی دهغه دانتقادی ويناپه کولو سره دوخت چارواکي خوابدي کړه،دهمدغه خپل سياسي مؤقف په وجه ئې د وخت دحکومت سره فاصيله پيداسوه.اويولس کاله (۱۱) ئې زندان ته وليږی.که چيري مؤلوي بهرام خان اڅکزی دتوري ارتجاع اوغيري قانونی حکومت ،د مطلقه پاچهۍ سياست نه وای غندلی او دخپل ځاني مؤقف په خاطر ئې دجوال خوله دهغه وخت دچارواکوسره نيولې وای،په دې کي شک نسته چي قاضي بهرام خان به دهيواد دوهم اودريم باوري شخصيت وای.خو! دنيکه مرغه قاضي صاحب پرتاريخ باوردلود، پرخلکوئې باوردرلود،پرډ موکراسۍ اوقانوني حکومتونوئې باوردلود.نوځکه ديوه پاک انسان په څيردازمايښت څخه سالم راوتلی دی.

اوس به راسومخکي ترهغه چي دانګريزانوداخيرني ارمان يعني حبيب الله حکومت ړنګ سي، دقاضي بهرام خان مبارزې دقدروړاودافغانستان په سياسي اوټولنيزتاريخ کي په زرينو کرښودليکووړبولم.داځکه دافغانستان د ماقبل سرمايداري اقتصادي شرايط اودفيوډلۍ دنظام ورسته پاته توليدي شرايط دافغانستان دخلکو عنعنوي اوعقيدوي ذهنونه داوخت ددې نه وه چی عام ولس دي په سياسي او ټولنيزوپېديد و کي فکروکی،داوخت ولسونه هغه چاه ته غوړنيسي چی هم په اتنيکي لحاظ ورته نژې اوهم په عقيدوي اواقتصادي لحاظ ترعاموخلکوغنی وي. په دې وخت کي ملا،خان او قومي مشران په سياسي برخه کي لويه ونډه لري.نوڅه وخت چي خان محمدانورخان دقاضي صاحب ملګرتيا ترلاسه کړه، نودغه وخت ولسونه هم د ملي ازادي بخښونکي غورځنګ شاته دافغانستان د نجات اودسقاودزوی دجاهل نظام په مقابل کي دملي مبارزينوشاه ته ودريدل.که څه هم داوخت ددولت پرضد مبارزه دانګريزانواودسيمو دچارواکوخلاف عمل وو.اوداکارڅه آسانه کارهم نه ؤ.خو!

داميرانه قاضي صاحب بهرام خان په داسي الفاظو دهيواد خلکو ته وروړسول، چي په علمي او دقيقي داصولو په رڼا کې خلک په دې عقيده کړه، چی هيواد دخطر سره مخامخ دی او سقاوي رژيم داسلامی فقي پربنسټ ددې توان نه لری چی پريوه اسلامی هيواددي دانګريزانو په مرسته حکومت وکي.اوزمورړولس دی دبدبختيوسره لاس اوګريوان کړي. په دې باب ماخپله دمرحوم قاضي بهرام خان سره زما دخاله دلورپه کورکې چي دده دژوند ورستئ ورځي وې .يوه لنډه مرکه وکړه.البته زماد مجلس يوه اندازه هغه پوښتني چی په هغه وخت کي زماذهن کی راګرځيدې ما د مرحوم سره په وارو،واروکي ليدنه وکړه، ورسته ترهغه چي ما ددې لوی انسان فکري قوت احساس کړ، نوهره ورځ به بيله دې چي څوک زماپه هدف وپوهيږي زه به دې لوړنابغه شخصيت ته راتلم.چی دنه پوهيدوعلت ئې داوو،چی دغه وخت زه ډيروړوکی وم.اوکه څوک په دې وپوهيږي چي زه ددغه سترانسان سره دسياسي بحث اودهغه دعلمي زده کړودترلاسه کولوپه خاطرراځم، ممکن مشران راباندي وخاندي اوماته کلان کاره ووايي.ولی دبله پلوه زه په دغه وخت کی کلان کاره هم وم،ځکه نوی می دسياست وډګرته د محيطي اوکورنيو اړيکوپربنسټ اوروحيې باندي دسياست ميدان ته راداخل سوی وم.خو!! قاضي صاحب هم زماپه مجلس خوشحاله کيدی.اوزه ئې ومجلس ته تشويق کولم.اوهغه ته زما پوښتني ديوه کشرپه توګه ډيري په زړه پوري وې، داځکه چي هغه ديوه غټ زړه خاوندوو.اوغوښتل ئې چي هرڅاه ته دسياست په باب،چي دقاضي صاحب دژونديوه برخه ګرځيدلې وه بيان وکړي.اوپه تيرواوراتلونکووختونوئې خبرکړي.مرحوم قاضي بهرام خان ده يوه منورسپين ږيري په توګه ماته دزندان هغه طبقاتي شرايط کوم چي دی ئې دفلج ترسرحده رسولی وو، بيان کړه،هغه ديولس کاله زندان اوپه توروخونوکې دبندي خانې بدشرايط اوهغه روحي شکنجې چي دوخت دولت دې منورپوهه اوسياسي مبارزته ورکړي وې،چي ديوه سالم دولت سره نه ښايدل.اونه هم دهمدغه ظلمونوپه سرته رسولوسره دوی دخپل هوډڅخه بيرته را ګرځيدای سوای، دهغوی هوډ فولادي وو، ترهغه وخته چي وهيوادته ډ موکراسي ددوی دشکنجواو بندخانوپه وجه راغلل. محترم قاضي صاحب وويل:موږددولت څخه هغه څه غوښتل کوم چی خپله دولت په خپله خوله هم دهغه دغوښتلوادعاوي

کولې.ماته هم سمدلاسه پوښتنه راپیداسوه نومي وپوښتل:پوښتنه : تاسو څه غوښتل اوپه څه طریقه مووغوښتل؟.

ځواب : قاضي صاحب دخپلي طبعي سره یوه اندازه مسکی سو.اوهغه تکیه کلام چی ده درلودلی هغه ئې ووایه :درواخله کنه ؛ پسله هغه ئې په یوه اوږده داستان کي دغه کیسه را ته را پیل کړه.

اووې ویل:موږدحبیب الله ددولت پرضد ځکه راولاړسو،چی دظلم،بیسوادی، بې عدالتۍ اوپه ټولنه کې دخلکوپه رایه یوقانوني نظام اوقانون ولرو. دښځواو نارینویا نجونواوهلکانو دښوونی اوروزني دزده کړي اوتربیې دپاره لاره هواره کړو.په افغانستان کی ملی پیوستون،دتبعیض د منځه وړل،یوعدلانه نظام را منځته کړو،په اقتصادي لحاظ هیوادپرخپل اقتصادودروو،صنعت مخته بوزواو دزراعت په برخه کی نوی تخنیک اوتیکنالوجي منځته راوړو.کلي اوښارونه دشلم قرن دپرمختګونوسره برابرکړو.دښارونواوکلیوترمنځ وتیز تفاوتونه دمنځه یوسو.ښځوته داسلامي قوانینوپه رڼاکي حق دژوندپه ټولوچاروکی ورکړو. دنړۍ دنوروآزادسووهیوادونوسره ښه راکړه ورکړه اودهمسایه هیوادونوسره ښه همسایه دارۍ دسیاست په رڼاکی ښه ګاونډیتوب پالیسی وساتو.افغانستان دخپل جیوپولتیک موقیعت پربنسټ یوآزاداوبې پرې افغانستان ولرو.

پوښتنه داکارخوزماله نظره دهیوادپه ګټه وو،نوتاسې ولي پردغه نیک کار باندی زندان ته لیږلاست؟.اوته خوا!په دغه وخت کي دټوله زون په کچه یوستر قاضي اودفيقي،ديني علومودلاري استاذوې اوددولت اوحکومت کارمند اورسمي خدمتګارواست ،نوولي دولت دغه غیرقانونی چلند ستاسو سره کاوه؟... اوبل دولت خوهم غوښتل چي عدالت پولي کړي اودسقاوزوړقرون اوسطی دولت ئې په همدغه سبب ړنګ کی.اوتاسي غوندی منورین ئې دهمدغه هدف ته درسیدو په خاطر دځانه سره ملګري کړاست ، نوبیا ستاسوپه مقابل کې ولي ددرواغو سیاست مخته بوتلی ؟؟؟.

ځوا ب: قاضي صاحب په داسي حال کی چي دغه وخت ناروغه هم ؤ.او په کټ کې تکیه هم کړې وه،وخت هم فکرکوم چی ددوبي موسم وو،ځکه دباندي

پربنده دقاضي صاحب کټ پروت وو.اوهغه بياهم يوه اندازه راپورته سو،زما پوښتني ته ئې داسي ځواب را پيل کی.چی خپل تکيه کلام ئې يوځل بيا تکرار کی .

اووې ويل : په دې کي شک نسته چی حکومت به هم په خوله همدغه غوښتل :خو! هروخت چي يوحکومت دبل حکومت پرځای راځي بايددهغه زاړه حکومت پرضد نوی شعار،نوې ستراتيژي اونوی تفکردنوي خلکواوولسونو سره دځان ملګری کړي.نوبيله نوی تفکرااوايډيالوژۍ څخه نوی حکومت دزاړه ځای نه سي نيولای،نوی حکومت بايد دزاړه حکومت کړني ترانتقاد لاندی را ولي،ترڅوولسونه هم په ده پسي راسي.اودنوي شعارونوپه ورکولوسره زوړ نظام چپه کړي.چي په همدغه توګه انقلابونه اونوی حکومتونه دزاړه نظامونو ځای ونيسي.نوزموږ.نادرخان اودهغه کورنۍ هم همدغه ميتودپه کارواچاوه اوزموږ.اودشاهي حکومت ګډتکي هم دغه نوي شعارونه وه.

موږ.غوښتل چی په لومړي سرکي دسقاودزوی حبيب الله زوړارتجاعي حکومت ړنګ کړو اوافغانستان ته مو دشلم قرن دروحې سره سم يوحکومت غوښتی او ددې کاردپاره مودامير آمان الله خان اصلاحي پروګرامونه چی هم دشريعت سره سم وه.اوهم دټولني راتلونکی په ګټي سميدای سوای.اوبايدامير امان الله خان بيرته دسلطنت چاری په خپل لاس کي اخيستی وای.خوددېروتاريخي اودوخت دشرايطو پربنسټ امير امان الله خان بيرته راونه ګرځيدی.ديوه ليکلي فرمان پر بنسټ ئې ومحمد نادرخان ته بيعت ورکړ.موږ.هم د کورني جنګ د مخه نيولو په خاطر،دافغانستان دخلکودراتلونکي ښه ژونداودملت اوحکومت دګډومؤخوپه خاطرهمدغه شاهي رژيم قبول کړ.اودرتلونکلونوپه هيله موخپله مبارزه دسولي،رفا،ټولنيزپرمختګ اوډموکراسۍ دپاره په فردي اوټولنيزسياسي ډول ديوه ګونديپه لارښوونه موفعاليت راپيل کړ.اودولت بيازموږددغه شهرت اونوم اونښانه څخه په بيره کی سو.که څه هم دولت هم دخپلوکړنواورسمي ليکنو او بيانونو د مخي زموږ. مخالف نه ؤ،خو!! خبره داوه چي دولت زموږ. پرلاس دغه څه نه غوښتل،هغه هرڅه په خپله کوله اوبل چاه ته ئې د ګډون اوپه قدرت کی دشرکت ونډه نه منل،نودهمدغه بيري په خاطردنادرخان زوی اعليحضرت

محمدظاهرشاه دخپلونوروصلاح کارانو په مشوره دويش زلميانوگوندغيري قانوني اعلان کی اوټول منورين اوزموږ ملګري ئې بندی خانې ته وليږل.

موږترډيره وخته ځينوزموږهغه ملګری چي دحبيب الله په مقابل کي زموږ سره ملګري وه،هغه په لومړي هدف کی زموږ دکندهارپه نيولوکی په بشپړه توګه مرسته وکړه.خدای بخښلی قاضي صاحب وايي:هغه هدف چی لومړی په هيوادکي داستعماراوداخلي ارتجاعي کړيودمنځه وړل وه. دهغه څخه افغانستان نجات پيداکړ.هغه استعماراودسقاويانوحکومت ؤ؛ خو! افغانستان موآزادکړ. او دغه هدف هم ترسره سو، ولي څه وخت چی افغانستان ته راغلو اودلومړي پړاودترلاسه کولوخوندمودهيواددخلکوپه ملی وحدت اوپيوستون کی ولیدی ، نوکه څه هم زموږ يولړ ملګری ددولت په لوړومقامونوکې دنده هم درلودله اودوخت حکومت ته هم دباورخلک وه،که ئې ددغه وخت دحکومت سره سازش کړی وای نو! په دې کی هم شک نسته چی دولت يا دوخت حکومتونو به هم ښه امتيازات ودوی ته ورکړي وای.خو! هغوی دخپلو راتلونکي دپاره دوهمه مؤخه ياهدف وټاکه،چی هغه دملک دداخلی چارودسمون اوپرښيګڼو فکرکول وه،مرحوم قاضي بهرام خان په نه ستړې کيدونکې توګه، په بشپړه حوصله خپلودقيقوخبروته ادامه ورکړه.اوما هم په بشپړه حوصله اود قيق توګه غوږ ورته نيولی وو،چي تر اوسه ئې خاطرات را په زړه کيږي .

هغه په خپلو خبروکي ددوهم هدف په توګه دافغانستان پردغه اوسني اوهغه شرايطوباندي بياهم رڼاواچول.مرحوم قاضي صاحب وويل:داوخت چی موږپه افغانستان کی دسيمي دمخوروسره په مرکزاوولاياتوکي بلديت اوپيژندلګلوي ترلاسه کړه، برسيره پردې چی يولړهغه انډيوالان موهم درلودله لکه مخکی چی وويل:سوه،(دسقاوي دولت څخه د کندهاردنيولودملی محاذدوستان). خو! اوس موبيادډموکراسی دلاري مخوردوستان هم وپيژندل.اودافغانستان په کچه هغه لوړکسان چي هم دبشپړه تجريبو خاوندان وه،هم په قوم اوسيمه کی دبشپړه ارزښت اوسياسي نوم اونښان خاوندان وه،دهغوی سره بيا نوې پيژندل ګلوي ددې سبب سوه چی موږنورهم ودې ته وهڅول سوچی زموږمقدس هدف يعني په افغانستان کی ديوه قانوني حکومت اومشروطيت شاهی نظام دپاره خپل

وړانديزونه دافغانستان دګوټ،ګوټ خلکواولسونوسره شريک کړو.اوګډهدف دافغانستان دراتلونکي پرمختګ دپاره وټاکو.دغه پړاودپرمختګ يوه اندازه پيچلی اودهغه ساده حالت څخه چي دقوم اوخپلي سيمی په کچه وو، ترهغه متکاملتره پړاوو.داځکه چي دويښ زلميانوايډيالوژي يوه ملي ايډيالوژي وه.او افغان شموله ايډيالوژي وه،نواړيکي اودافغانانوترمنځ دمختليفوسيمواوژبوتريوه اندزې د کلتوردليري والي پيچلي شرايط زموږدسياست کړنلاره ورنوې کړه.هغه وخت چي به مودخپل کلي خلک دآزادۍ دپاره رادعوتول، آسان تره وه،ځکه شناخت په منځ کی اعتباراود کورنيوپيژندلګلوي دګډهدف دمخته بيولو دپاره لاره هوارول.ښا غلي قاضي بهرام خان اڅکزی دوخت دشرايطواو ستونزوپه باب دويښ زلميانودګونددرامنځته کيدووختونه ډيرښه ګڼي اودسيمي د مخورولکه:دکتورمحمودی صاحب،تاريخ پوه غبارصاحب، صديق الله ريښتين صاحب،ګل پاچاه الفت صاحب هم دغسي د کندهارد مشرانوڅخه عبدالرسول خان پښتون،حاجي محمدانورخان اڅکزی که څه هم مخکي هم دسقاوسره دمبارزې اوجنګ په وخت کې شناخت پيداکړی ؤ.حبيبي صاحب،بينوا،غلام جيلانی خان الکوزی،عبدالهادي بحرصاحب(توخی) اونورودوستانوسره ئې دويښ زلميانو په ملي اوډموکراتيکه مبارزه کې پيژندلګلوي سوې وه.هم دغسي په لسهااوسلهاودمبارزې دسنګرملګرې پيداکړه اودهغه قومی مبارزې د کچې څخه په افغان شموله مبارزه باندي بوخت سؤ.

**بيا مي دمرحوم قاضي بهرام خان څخه وپو ښتل: چي ممکنه نه وه چي دسقاو دولت اصلاح سوی وای؟اودسقاودزوی دحبيب الله دولت دچپه کيدو علت يوازی دهغه دتاجيک قوم پوري دتړاوپه خاطرؤ؟اوکه ئې نورعلتونه هم درلودله؟.**

**ځواب :**مخکي می هم وويل چي زموږ راتګ افغانستان ته اود قربانيو ور کول ددې په خاطر نه وه چي موږ ځانونه يوه مقام ته ورسو،يا دي په افغانستان کي دقومونواختلاف رامنځته کړو،موږدلومړی هدف په مؤخه دسقاودزوی حکومت دهغه دکړنلارواوارتجاعي مؤخوپه بنسټ ړنګ کړ.اوهغه زموږ دافغانانو دپاره که تاجيک وه ، که هزاره وه،که ازبک يا هم پښتانه وه هغه ددين ترنامه لاندي

دلته يوتورنظام را منځته کاوه ، هغه مکتبونه دنارينو دپاره لا نه غوښتل دښځو دپاره خو ئې بيخي ښوونه اوروزنه حرامه ګڼل،هغه يوازي دانګريزانودهغه ملايانوحکومت غوښته چي هم اسلام بدنامه کي او هم افغانان ورسته پاته وساتي ،هغه به ويل چی نورپرښوونه اوروزنه پيسې نه لګوي اودحکومت پيسې به تردې ورسته دمسجد ملايانو ته ورکوي.اودغسي ملايان چي هغه دټولني پرمخ تګ نه غواړي.هغه په ټولنه کي د کرک جنګي (مړزجنګي) اوسپي جنګولو ميدانونه،دچرسوميدانونه ئې جوړول.اودا کارپه هوښياری سره دانګريزانوپه مشوره کيده، هم دغسي مرحوم قاضي صاحب بهرام خان ماته دچيرچل يوه مرکه چي د کوم ژورنا ليست سره ئې کړې وه را پياد کړه.ژورناليست دچير چل څخه وپوښتل:(:ستاسوپرمستعمرولمرنه پټيږي،دنړۍ پرډيرو هيوادونوستاسی بيرغ رپيږي ددې علت څه دی؟ ستاسورازدبرياليتوب په څه کی دی؟)

چيرچل په ځواب کی ورته وويل:(ديوه هيوادغلامان کول، دهغه نيول اوپرهغه باندي حکومت کول ډيرآسانه کاردی. داکار ستونزي موږ ته نه لري. ځکه : په يوه هيواد کي چي دي يوتعدادغلامان،خائينان اوځان غوښتونکي ،نااهله کسان پيداکړه اوهغه دي قدرت ته ورسول،نوداهيوادبيا ستا فرمان مني اودهغه خلک بيادعلم څخه موږمحرومه کولای سو.ځکه پربيسوادوخلکوښه حکومت کيدای سي.).

مرحوم قاضي صاحب خپلو خبروته ادامه ور کړه، وې ويل : دهمدغه فورمؤل په حساب دسقاوزوی چي ټوله دنياته معلوم هم ؤ،اوپه غله باندې شهرت درلود،پرغلاباندي بندي سوی هم ؤ،په ناڅاپي اواګاهانه توګه انګريزانو دزندانه څخه راخوشي کړ.اوپه افغانستان کې دخپلوګوډاګيانوملايانواوسياست مدارانو په وسيله اوزورقدرت ته ورساوه.هم دغسي ئې بيا هم نوروخبروته ادامه ورکړه اوې ويل:که چيري حبيب الله دسقاوزوی دين اومذهب سره مينه درلودلای اودانګريزانوغوښتنوته ئې پاملرنه نه کولای نومؤلوي عبدالواسيع غوندي لوړديني عالم بل څوک ؤ، چی دسقاو زوی بيله کوم ګناه څخه هغه په هغه وحشت په توپ کي والوزی اومړئې کی.

نولنډيزدخبرودادی چي موږسقاوي رژيم دخپلوارتجاعي عملون په سبب د منځه يووړی .او دټوله افغانستان ميشتوقومونوته مودآزاد ژوندزمينه برابره کړه.

که څه هم يولړکسانودسقاوڅخه وروسته غوښتل چي خپله دکندهارخلک اوموږ قدرت ته ورسيږو،ممکن که موږغوښتلای قدرت موهم يا په بشپړه توګه اويا هم په نيمی توګه ترلاسه کولای سوای.خو! موږ د اکارکورنی جنګ حساب کی. اوهغه کسانوچي دغه خيال ئې په سرکي درلودی ، هغه ته مودا وخت هم ورنه کړی.چی هيوداددي په کورنيوجنګو کي راښکيل کړي.اويوازی موږدخدای اوخلکوپه خاطرځانونه په خطرکی واچول اونادرخان ته موبيعت ورکی. همدغسي څه وخت چي محمدهاشم خان دکوټی دخوا څخه کندهارته راتلونکی ؤ،هغه ته يوه کودتاجوړه سوې وه،خوموږيعني اڅکزوهغه شنډه او خونساکړه.اوامنيت ټوله داوخت داڅکزوپه لاس کي ؤ.همدغسي مرحوم قاضي صاحب دغه خبره دخپلوخبروپه ترځ کي يادونه وکړه.چي هغه وخت چي دکندهاردروازې خلاصي سوې اوموږ وه کندهار ته راداخل سو،دسقاودزوی حکومت نوردقدرته ولويده،هغه شمالي وال اودنورسيموخلک چي دلته په حکومت کي دولتي دندي درلودلې،يا دسقاودزوی حبيب الله کلهکاني ملګري وه ، ماخپلودوستانواواڅکزوته دستوورکی چي هيڅوک بايد بيله قانوني پړاوه څخه اعدام،شکنجه اوبندي نه سي، نو په همدغه دليل موبنديان درسمي مکتوب په وسيله دکندهارڅخه مقرته دآزاد ژوند دپاره ليږل اومسؤن مووساتل چی په همدغه ډول دډيرومرګونواوغيري قانوني عملونومخه هم په دغه توګه راوګرځيده. داکاردسيمي پرامنيت اواعتباراندي داڅکزونورهم اعتبارونډيرکړ. اوديولړخلکو نورهم پرموږباندی باورډيرسو.

مرحوم قاضي صاحب دخپل ياداښت ډيري خبري وکړې،خومادهغه خبرو لنډيزستاسوسره شريک کی،ځکه چي هغه په ځينووختونوکي دخپلوخبروځيني برخي په ګډوډډول سره بيا نولې.اوهغه ميتوددخبروچي دهغه ؤ،البته په بشپړه توګه مانه دی ليکلی،ځکه دهغه په خبروکي عربي لغاتونه،فارسي حتا اوردو لغاتونه دپښتو پرځای ډيراستعماليده ،دبله پلوه دغه وخت قاضي صاحب ناروغه هم ؤ،خو دلته دخبرومتن مي ترډيره ځايه په خپله اوسنۍ مروجه پښتوسره

ليکلی دی.او همدغسي ځيني خبري لازمااوس دياده هم وتلی دي،خو!کوښښ کوم چي په نورومتنونوکې د کتاب ئې ځای کړم.اوددغه لوړانسان ارمانونه دخلکو ذهنوته وروړسوم،دتاريخ دپاڼوبرخه ئې وګرځوم.اوقاضي بهرام خان لکه څنګه چي په لړاوډيره توګه په ځينو کتابونواونويشتوکې پرقاضي صاحب باندي ليکني په لنډه توګه کړې دی. خوزمادانده هغه يوسترانسان دتاريخ اودافغانستان دبيا ابادولواوډموکراسۍ دلاري مشردهمدغه لاری ئې په همدغه آرمان دخلکوپه خاطردافغانستان دبشپړه پرمختګ په خاطريولس(۱۱) کاله بند،دانګريزانو پرضد،داستعمارپرضددخپلوګټوڅخه تيرسوی اوپه پای کې دخپلي درنې اوپر ځای فتواپه ورکولوسره دانګريزانوداخيرني پرزې يامورې دسقاودزوی جرړي اوريښي هم وروکښلې.

په دې کی شک نسته چي هغه څه چي په خوله ويل کيږي ، هغه هغسي نه تمثليږي،لکه څنګه چي په عمل کی وي.يعني موږ که ۱۱ کاله بند يادووپه خوله څه آسانه کارڅرګنديږي، ولی په عمل کي ۱۱ کاله زندان په کوټه قلفي،سيا چال اوپه کلو،کلودلمرڅخه په محروميت کې شپې او ورځی تيرول ګران کاردی.او داچی هغه يعني خدای بخښلي بهرام خان ماته دهغه بندي خانې کيسه کوله چي په صدارت کی ئې په سيا چال کي اچولی وو.اوفقط ګناه ئې داوه چي په هيوادکې دخلکو په رايه حکومت غوښته... دازړه دردونکې کيسه وه.چي تمثيل ئې په نويشته کي نه کيږي.خو!مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی په ۱۳۳۱هـ ش کال کي دويښ زلميانو په نامه اودحکومت دتورپه سزا بندي کابل ته بوتلل سو.اوتر ۱۳۴۲هـ ش کال پوري په سخته سزااو بندي خانې کې شپې اوورځي تيرولې.پسله هغه چي دبندی خانې څخه پسله يولسوکالوشاکه بند څخه را خوشي سوونودغه وخت خدای بخښلی قاضي بهرام خان هم دسخت حالت اونارغۍ سره لاس اوګريوان ؤ.دده په شان دويښ زلميانونورکسان هم هغه وخت دبندي خانې څخه را خوشی سوه چي يا ئې دژوند اخيرنی ورځي اوشپې وې اويا هم په بندي خانه کي شهيدان سوه. او يا هم دزکندن په حالت کي دبنده خوشي کړل سوه،چي په دغه کسانوکي دی اوحاجي محمدانورخان اڅکزی هغه کسان وه،چي دبنده څخه وروسته ورځي ئې دبنديخانې هغه ناروغيوکي تيرولې؛کوم

چې دبندی خانې په دوران کي ورته پيښي سوي وې.ويل کيږي چې حاجی محمدانورخان دنري رنځ په نارغی اخته سوی ؤ.اومرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی بيا دپښوپه درداخته سوی ؤ.يعنی په دې وخت کي لکه څنکه چي مخکي مي هم يادونه وکړه،خدای بخښلی بهرام خان اڅکزی په تاريکو کوټوکي بندي وو،چی دلمرشعاوي به ئې يانه ليدې اويابه هم لږلمرووررسيده.نو ځکه دهډوکوپه درد(روماټيزم)اودځنګنوپه خوږ اخته سوی وو.دوی که څه هم دخپلو ځانوسره درد اوخوږ درلودخودهغوی همت دومره ګړندی ؤ.چی ددغه کيسواو نقلواوستنزوداستانوڅخه ئې هم خونداخيسته، داسی معلوميده چی مخکی هم دوی دغه حالتونه پيش بيني کړي وه.نوځکه وايو:د کيسو دويلوڅخه ئې خوند اخيسته.

دغه وخت چی مرحوم قاضي بهرام خان زندان ته ليږدول کيږي، داوخت دهغه زوی عبدالکريم خان اڅکزی دحربي ليسې په يولسم صنف کی ؤ.اود عبدالکريم خان استول وعسکري مسلک يا دندي ته هم د مر حوم بهرام خان اڅکزي په خوښه ترسره سوي وه.چی ممکن عبدالکريم خان اڅکزی دمرحوم بهرام خان مشرزوی په دغه وخت د۱۶يا ۱۷کالوپه عمروو،چی قاضي بهرام خان اڅکزی زندان ته ټيل وهل سوؤ.نوددې څخه معلوميږي چي کورنۍ ستونزي به ئې هم ډيري وې. محترم ډګروال عبدالکريم خان اڅکزی چی دغه وخت په ډنمارک کي ژوند کوي ماته ديوې لنډي مرکې په ترځ کی وويل : چی مرحوم پلارمي دصدارت په سيا چال کی بندي ؤ.اوپسله شپږومياشتوڅخه ده صدارت په زندان کي دفلج ناروغی ورته پيدا سوه.اوهغه بيا هم وويل : برسيره پردغه ټولوزحمتونوپه وارو،واروحکومتي چارواکو په زندان کی دده څخه وغوښتل چی ته ووايه : چی زه نورويښ زلمی نه يم ،هو! دې سترانسان بيا هم دخپل شريفانه هوډه څخه پښيمانی ونه ښودل ترڅو دحکومت دخښم په وجه ئې دبنديازندان موده نوره هم ډيره سوه.وه حکومت ته دهغه استعداداوټينګ عزم دپخوا څخه ورمعلوم ؤ.اودهغه دپوهي څخه په ډارکي وه، چي په ريښتياهم هغه په قانون اوفيقه باندي ترهرچاه ښه پوهيده.همت ئې هم ورسره درلودی.دوخت طبقاتی حکومت دغسي کسان دځان دوستان نه!بلکي؛دښمنان ئې ګڼل.اودشهرت

څخه ئې ډاردرلود.خو په دغه وخت کی چي هغه ته سخته ناروغي ور پيښه سوه. نوحکومت په دې ډارکي سو،چی دهغه دناروغی څخه يوبل تحريک را منځته نه سي نومرحوم قاضی صاحب ئې يوځل دبندي خانې دبندپه موده کي علي ابادروغتون ته راوستی اوتر سخت مراقبت لاندی ئې ونيوه.عسکرئې پر ودرول چي دهغه عسکرڅخه ديوه نوم خيرمحمداود کرزاوسيدونکی ؤ.داوخت عبدالکريم خان چی په حربي ليسه کی زده کړه کول يوځل روغتون ته دپلاردليدودپاره هم ورغلی دی. او پسله لنډ وخته څخه بيرته ئې خدای بخښلی قاضي بهرام خان اڅکزی صدارت ته ور انتقال کی اوزنداني سو.


مرحوم قاضي صاحب دوې ميرمني درلودلې چي دواده ثمره ئې پنځه زامن وه.لکه:ډګروال عبدالکريم خان اوعصمت الله خان ئې ديوې موراودرې زامن ئې لکه: ډګروال نجيب الله خان ، اسدالله خان او نصرالله خان ئې دبلي ميرمني زامن وه.دوی په خپل کوراوکهول کي خوراډيرسره ګران وه.اوڅوک داسي فکر نه کوی چی ددوی په منځ کي دي دسکه اوناسکه خبره شتون ولري.دوی خور هم نه درلودله،يوازي دغه پنځه ورونه وه.اودپلاردوفات ورسته هم دوی سره په يوه اتحادوه،ددوی په منځ کی غټ جايدادپروت وو،خو! هغه ددوی په منځ کی ددوی ګډه شتمني وه.اودهغه په تقسيم کې هم کومه ستونزه پيدانه کړه،ددوی په منځ کي ډګروال صاحب کريم خان ترټولومشرؤ،خو! نوروبيا دده خبروته غوړنيوه اود کريم خان اڅکزي خبري ئې په ورين تندي سره منلې.لکه څنګه چي معلوميږي مرحوم قاضي صاحب دحکومت څخه جايدادترلاسه نه کی، خو هغه نومړی جايداددعبدالکريم خان دمورچي ديوه مالداري اوشتمنی کورنۍ څخه وه، دهغه په تحريک او پيسو په مرغان اوتيموريانوکې باغونه اوجايدادرا نيول.او په کندهارکې ژوند ځانته غوره کړ،مرحوم قاضي بهرام خان دکندهار دلرګوپه ګنج کي دبي،بي هوا په کوڅه کي د مرحوم محمدانورخان دکور څنګ ته کوردرلود.اوهم دلته ئې دخپل عبادت دپاره مسجد هم درلود.او دښاراوکوڅې خلکوديوه لوړسياسی اومذهبي مشرپه توګه درناوی ورته کاوه.اوداخبره هم ديادولووړبولم،چي مؤلوي صاحب يونورمال عنعنوي يادوديزمسلمان ؤ.څه وخت چې لومړی قدرت په کندهارکي دسقاودزوی، حبيب

الله څخه ترلاسه کی، نوهغه دطالبانوپه هديره کي په نامتو مسجد کي ميشت سؤ.اوهم دلته به ئې دخلکوعريضو او د ناخوالو دهوارولو دپاره حکمونه صادرول،مرحوم قاضي صاحب د کندهارخلک وغيري قانوني کړنوته نه پريښودل.او په همدغه نظم سره ئې کندهاراو دکندهارشاه وخواوساتل،ترڅو چي مرکزي حکومت سره ځای پرځای سؤ.اوقاضي صاحب په رسمي توګه دسيمي اوزون په کچه د فراه څخه ترمقره چي دلوی کندهار يوه برخه وه.دقاضي القضات په دنده مسؤليت وروسپارل سؤ.محترم ډګروال صاحب کريم خان د قاضي بهرام خان په باب داسي نظرلري...چی!هغه د قاضي صاحب ژوندپه خپله ليدلی ؤ،هغه وائي: قاضي صاحب دپيښوپه هوارولواوددعوپه عدالت کي دچاه واسيطه نه قبلول، دخپلو دوستانو،خپلوانواوملګروڅخه ئې هم دغه هيله درلودله چي دعدالت دسم تأمين په خاطردته واسيطه ونه کي... نوپه همدغه خاطربه هغه رسمي کارونه په داسي وخت کی کول،چی خپل ځان به ئې په کوراو يارسمي ځايونوکی داسي بندي کړی وو،چی څوک په دغه وخت کی چي قاضي صاحب اجرأت کوی ورنه سي. اودی خپله پريکړه په داسي حالت کي وکړی چی حق وحقدارته ور ورسيږي.نوپه همدغه دليل خلک دده څخه ډيرراضي وه،حکومت هم دده وصداقت ته خورا ډيردرناوی درلود.دقاضي صاحب لومړنی دنده په کابل کي داوقافودريس په توګه وه.اودادخپل وخت ډيرلوړاعتبارو،، دحکومت اودولت پر بهرام خان اځکزي باندي ډيرباورؤ.چي بيا ورسته په خپلورسمی دندوکی دومره بريالی سو، چی خلکو به دبيلګې په توګه دغه متل يادوه : ( چي ته خو قاضي بهرام خان نه ئې چي دصداقت لافي شافي وهې) معنا داچی هرڅوک مؤلوی بهرام خان غوندي پاک اوهيوادته ژمنداودخلکو په منځ کی داعتباروړهم کيدای نه سي.دمرحوم بهرام خان ترټولو نژدې دوست حاجی محمد انورخان اځکزی وو.چی دوي به هميشه په مشوروکي يواوبل ته غوږنيوه،دوی داسی وه لکه ورونه اويادوې ګراني خوندي،چی هميشه يودبله سره ګرانی وي.تګ او را تګ ئې درلود.نوپه کندهارکي هم دغه يادونه کيدل:چي محمدانورخان او بهرام خان لکه دوې خوندي ټول عمريوځای سره ګرځي.زه فکرکوم چی دلرګوپه ګنج کي چي

ددوی دواړوکورونه سره څنګ پر څنګ وه اوجایداد دواړوپه تیموریان کی درلود،علت به ئې همدغه ددوي ګرانښت اودوستي وي.

**دکریم خان ډګروال صاحب په کورکې دمرحوم قاضي صاحب ورستۍ شیبې :**

زما دخاله لورچي په ګلی،خانم جاني سره خلکونومولې وه اصلي نوم ئې (بي ، بي زهرا) ؤ.چي دډګروال صاحب عبدالکریم خان میرمن کیده، داوخت ددوی کورپه خوجیک بابا دپاتاویامانده پرغاړه ؤ،په دې وخت کي ډګروال کریم خان په کندهارکي په عسکري ساحه کي دنده درلودله.او په دې وخت کي چي دمر حوم سردارمحمد داوددجمهوریت لومړي کلونه وه، په سیاسي لحاظ یوځانګړی حالت شمیرل کیده،چی دسیاسیونومجلسونه پرتازه وه.نوی جمهوریت په افغانستان کی یوه نوې پدیده وه.چي خلکوډیرخوشبیني ورته درلودله، ځکه چي زوړشاهي نظام ړنګ سو.اوهغه فولادی کلاچی افغانانوئې دړنګیدوتصورهم نه سوای کولای،خو په سترګوټولوولیدل چی دغه نوې پدیده هیوادته راداخله سوه. دغه وخت ۱۳۵۲هـ ش تر ۱۳۵۴هـ ش کلونه وه، چی قاضی صاحب که څه هم ډیرناروغه ؤ.خودمجلس سره ئې مینه درلودله.هغه دجمهوریت په باب ډیرپراخ فکردرلود،حتاکه څه هم دجمهوریت لومړی کلونه وه.خو!قاضي صاحب دجمهوري نظام څخه دخلکوګډون په دولت اوسیاست کی غوښته.او عمل ئې دتیوری ملاک ګڼه.



**ښاغلی ډګروال محمد کریم خان اڅکزی دخپلي میرمنی بي،بی زهرا(خانم جاني)سره**

لکه څنګه چي پورته هم ذکرسوه.مرحوم قاضي صاحب بهرام خان چي دغه وخت ډيرناجوړه هم ؤ،نوخد مت ئې دډګروال صاحب ميرمني اودهغه اړونده کورنۍ ترسره کاوه.په دې وخت کي قاضي صاحب وخد مت ته ډيرضرورت درلودی اوترهغه چي په حجانی ياخانم جانی پوري ئې اړه درلودله دقاضي صاحب خد مت ئې په ډيره ميړانه سره کاوه.که به ميلمانه ورته راتلل، نو دميلمنواوپوښتني کونکو دپاره به دميلمنوپه خونه کي چای اوکه به دليري ځايونوڅخه ځيني کسان راتلل،نوډوډۍ ئې پرهمدغه ځای دزوی پرکوروه. داځکه چي قاضي صاحب خورا ډيرمجلسيان درلودله.اوټوله هم دهيواد هغه ډير درانه کسان وه، چی نوم او نښان ئې درلودی.نو بايد چي ددغه درند شخصيت خدمت سوی وای.اوهمدغسي وه هم سو.اوقاضي صاحب بهرام خان هم دخپلي ناوي يا مړووراو خپل زوی څخه راضی ؤ.همدغسي لباس اونورضرورتونه ئې په ډيره صادقانه اود محبته د که روحيه سره کوله،چی البته علت ئې هم دخانم جاني منورفکراودقاضی صاحب ولوړهمت ته درناوی ګڼلای سم.اوداهم دیادولووړګڼم چی خانم جانه دخپلي مورپه شان مهربانه اودښه نيت خاونده وه.يعني دخانم جاني مورچي په بي،بي خاله ئې پيژندلګلوي کيده هغه هم ډيره مهربانه وه.هغه متل دی چی وائي:( مړونه مري ،خو! نومونه ئې پاته کيږي) که څه هم نن ورځ مرحومه خانم جانه اومرحوم قاضي صاحب زموږپه منځ کي نسته،خو!ژوندی خاطرې ئې زموږسره سته.نوزه چي به کله قاضي صاحب ته ورغلم،مرحوم قاضي بهرام خان به هم ډيرخوشحاله سو، ځکه مابه سياسي خبري ورسره کولې،يوه ورځ مادخپلولږمعلوماتوپربنسټ ځيني وپوښتل: چي تاسوخوهيوادته ډموکراسی راوستل اوستاسودډموکراسۍ ثمره داده اوس نوي ګوندونه رامنځته سوي دي. چی ديوڅوګوندونونومونه ئې زما څخه وپوښتل : ماپه ځواب کی ديوڅوګوندنونومونه هم ورته واخيستل،چي دهغې جملې څخه دخلک ډموکراتيک ګوندڅخه مي يادونه ورته وکړه، نومرحوم قاضي صاحب دګونددراهبرسره پخوالاشناخت درلود،خو!زما څخه ئې وپوښتل:دوی څه غواړي؟زه لاپه دې وخت کي فکرکوم په ګوندکی نه وم،خويوه اندازه خوشبيني می ځکه ورته درلودله،چی زموږدکورنۍ يوتعدادکسان هم په همدغه ګوندکی شامل وه،چي ددوی په راس کي محترم ظاهرافق ؤ.ما دخپلي خوشبينۍ پربنسټ

قاضي صاحب ته وويل:چي دوی ډيرښه مرام لري اوپه ټولنه کي يوه بې طبقي ټولنه غواړي،چی ديوفرداستثمارپربل فردنه وي.اوداسي يوه اقتصادي ټولنه غواړي چي پرکاراوتوليد تکيه ولري.قاضی صاحب سرراته وښوری اويوه مسکائې هم په ډيره مهرباني باندي راته وکړه،خوزمادخبروپه بدل کې سمدلاسه په نرموجملواونرموخبروسره راته وويل:دغه هدف زموږدټولني داوسنيو شرايطو سره برابرنه دی.تاسوبايد په اوسني وخت کي ددولت سره داسي هدفونه وټاکی،چي دخلکودعقيدواوراتلونکوپرمختګونوسبب سي.بيله دې چي زه بياهم پوښتنه ځينی وکړم، چي څنګه ؟ هغه خپلو خبروته دوام ورکی... اووې ويل: تاسوبايدپه لومړی سرکي دټولني وټيزاقتصادي حالت ته پاملرنه وکی اوددولت سره په همدغه لاره کي مرسته وکی.څوددولت ناتونی دمنځه ولاړي سي. اودهلکانواونجونوښوونځی جوړه کړل سي.،ښځوته دکارحق اوپه ولسواليو اوکليواوباندوکي دښووني اوروزني بهيرپياوړی کی، په دې باب با يدتاسوخپل هدفونه يوه اندازه راکښته اودجامعې دشرايطوسره برابرکی اودهمدغه شرايطوسره ګامونه واخلی.ترجامعې مخکي قدمونه ستاسواعتباردخلکوپه مقابل کي درلږوي.اوهمدغسي ئې دنورمحمد ترکي په باب څوخبري وکړې،چي نورمحمدترکی زموږ سره په ويښ زلميانوکي ؤ.ښه به داوای چي هغه دخپلوملګروسره صلاح اومشوره کولای دټولنی دمشرانوپه توګه خو! زه دهغه دغه حرکتونه دوخت ترمخه ګنم.خوپه هرصورت؛مرحوم قاضي صاحب غوښتل چي هيوادپه اقتصادی لحاظ پرخپلو پښوودريږي،دکليواوښارونوترمنځ تضادونه حل سي، ولسوالی اوکلي هم ټوله دښوونځی،برق،ترانسپورټ روغتون اونوروسهولتونوڅخه ګټه پورته کړي،نودهيوادکړاونه به هم حل کړل سي.دښاغلي بهرام خان اڅکزی فکرپه سياست اوټولنيزژوند کي ډيرلوړؤ.که چيري دده دفکر،خيال ته لږاوډيره پاملرنه سوې وای.نونن به په هيوادکي دغه شته ستونزي هم نه وای. مرحوم بهرام خان اڅکزی دهرډول افراط که راست اوکه چپ ؤمخالفه وو.هغه دخپلوخبروپه جريان کي کمونيستي چپ افکارهم نه خوښول اودهغه وخت دايخوانيانواسلام ئې هم بدګڼه،مرحوم قاضي صاحب دين يامذهب اواسلام دوې بيلي پديدې ګڼلي.هغه اسلام عبادت ګڼه اوعبادت دخدای دپاره،خوسياست بياپراقتصادولاړؤ.اوپه ټولنه کي ديوه دولتي ماشين په وسيله

يومعين سياسي دولت جوړونه دسياست اوډيپلوماسۍ کارګڼلی.اومرحوم قاضي صاحب يوپاک عنعنوي مسلمان ؤ.چي هم ئې خپل عبادت په بشپړه ايمانداری سره کاوه اوهم ئې داسلام په رڼاکي دهيوادسمسورتيادډيموکراسۍ اودښونيز پرمختګ دلاری دنراوښځي دزده کړي حق ته ژمند ؤ.مرحوم قاضي صاحب بهرام خان دزده کړوسخت پلوی او زده کړی (تعليم يافته) خلک ئې خوښ وه. اودهغومجلس ډيرخوندورکاوه اود کورنۍ دزده کړونجونواوهلکانوسره ئې مجلسونه کوله. اوپه ډير شوق سره به ئې زمااوزما دخوربريښنا سره مجلس کا وه.لکه څنګه چی ده زموږ د مجلس څخه خوند اخيسته، موږبيا دده مجلس څخه ډيرڅه زده کوله،پوښتنی به موځينی کولې اوقاضي صاحب هم زموږدپوښتنو ځواب را کول.او په مجلس کي نه ستړی کيده.

## حاجي محمد انورخان اڅکزی



## «دسقاوی ددورې څخه وروسته دولتي امتیازات»

دمرحوم محمد علم بڅرکي دحاجي محمد انور خان اڅکزی دخاطراتو په کتاب کې دسقاوۍ دسقوط څخه وروسته دامتیازتوڅخه یادونه سوی ده.

مرحوم محمدعلم بڅرکی لیکي : په کابل کی د مکافاتوغونډه هغه وخت جوړه سوه چي سردارمحمدهاشم خان داڅکزواودکندهاردخانانوپه مرسته اوبدرګه دکندهارڅخه ترکابله راورسیدی.دادقوس میاشت وه،یعني ۱۹۲۹م نومبراو ډسمبراوله میاشت وه.چی دغه میاشتي همیشه هرځای یخ وي،خو! په کابل کی په بشپړه توګه یخ وو.د کندهارملي مبارزین دلته دوې میاشتي پاته سوه.

چي په دې وخت کی په هیوادکي په دولتي مقامونوکي تغیرات راغلل او سردارمحمدهاشم خان دهیواددصدراعظم په توګه اعلان سؤ. څوورځي وروسته دهیوادصدراعظم د مکافاتودورکولویومجلس اعلان کی،چي دکندهاردقومونو څخه ئې هریوقوم په جلا،جلا توګه وروغوښتل سؤ.

کله چي داڅکزوواری سؤ،نوئې وهغه اڅکزوته چي په کندهارکی ځایي وه، هغوی ته ئې وویل: چي تاسوته مکافات نه درکول کیږي،ځکه چي تاسوخپلو ځانونواوخپل هیوادته خدمت کړی دی.کورمووداں نورحق نه لری.خو!هغه کسان چي دسرحداڅکزي دي،یادخارج څخه راغلي دي.هغه د مکافاتواو امتیازاتومستحق یاوړګڼل کیږي.ترټولولومړی نوم چي دمکافاتودورکولودپاره واخیستل سؤ،هغه زکوم خان اڅکزی ؤ،دته ئې ملکي فرقه مشري اودرې زره کابلۍ سالانه تنخواه ورمقرره کړه .

۲ – دوهم سړی حاجي محمد انورخان اڅکزی وو.چي دی هم ملکي فرقه مشراودرې زره(۳۰۰۰) کابلۍ کلنی معاش یاتنخواورته مقرره سوه.او همدغسي د مکافاتو فرمان ورکړل سؤ.

۳– دریم سړی حیات خان اڅکزی وو.چي غونډمشرمقررسو.اودوه زره (۲۰۰۰) کابلۍ تنخاه کلنی ورته وټاکل سوه .البته دیادولو وړده چي په دغه مکافاتوحیات خان قناعت ونه کی.اووې ویل :چي زه تر پورته دوکسانوڅه کم

يم؟ که قوم دی او خاني ده خوزه هم قوم لرم اوهم خان يم.! پردې خبره باندي سردارمحمد هاشم خان په قهرسؤ.

وروسته ترهغه چې دمکافاتوغونډه پايته ورسيدل نو.حاجي محمدانورخان اڅکزی د محمد هاشم خان څخه مننه وکړه.اووې ويل : چې فتحه يوازي موږ دغه څوحاضروکسانونه ده کړې؛بلکي نورکسان هم سته چې دکندهار او سيدونکی دي،محمدهاشم خان دحاجي محمد انور خان اڅکزي څخه مننه وکړه. خو؛حيات خان اوزکوم خان دليست مخالفت وکی. موضوع دلته يوه اندازه په تاوتريخوالي بدله سوه.ځکه چې ملک شهنوازخان ادوزي،پرحاجي محمد انور خان باندی لفظي تعرض وکی،خو! دهغه دخبرودفعه لومړی ملک نظرمحمد خان اوابراهيم خان مليزورد کړه اووې ويل: ( چي دغه اوسنۍ نيک نامي يا ښه نوم ، موږ ته د محمد انورخان دبرکته را په برخه سوی دی.)

وريسې سردارمحمدهاشم خان ، وشهنوازادوزي ته مخ ورواړاوه.اوې ويل : ( زه محمدانورخان دپلاراونيکه دوختونوپيژنم ، دی ستاسو په ملکۍ او خانۍ اړه نه لري. همدغسي ئې حاجي محمد انورخان ته وويل : که ته غواړې چي بيرته ګليستان ته ولاړسې،تاته هم هلته هم دغه تنخاه دررسيدلای سي). خو! حاجی محمدانورخان اڅکزي افغانستان ته ترجيح ورکړه.

کله چی د مکافاتومجلس په کابل کی پايته ورسيدی،نودکندهارمخورخلک بيرته کندهارته راستانه سوه.

همدغسي هغه کسان چې دپښتونو مشران وه او دافغانستان په آزدۍ کی بشپړه برخه اخيستې وه هغوی ته هم دخپل استعداد سره سم ، دولتی امتيازات ور کړل سوه.چې دهمدغه جملې څخه مؤلوی بهرام خان اڅکزی،چی هم ئې په سيمه ئيزلحاظ په پښتنوپه ځانګړې توګه بيا په خپلوسيمواواڅکزوکی بشپړه محبوبيت اونوم اونښان درلود،هم هلته ئې په کابل کی داوقافو په څانګه کی ريس مقرره کی اوترهغه راوروسته دکندهاردزون قاضي القضات مقرره سو.اودولتي جايداد او امتيازي معاش ځکه ورته حواله نه سو،چې ښاغلی قاضي بهرام خان اڅکزی هم دلته په افغانستان کی ژونددرلود.اودهغه مبارزه يوه ملي مبارزه او

ديوه ملت داستوګند وی په توګه ئې ترسره کړې وه، ددولتي قانون پربنسټ دملت هروګړی حق لري چي دخپلې خاورې اوټولنيزوارزښتنو څخه ددفاع په خاطردخپل سراوماله څخه تيرسي.په دې ويش اوحالت ترهغه ځايه چی ما دمرحوم سره اړيکي درلودلې خپله هم په دغه ملي مبارزه اودوخت دارتجاع پرضدددافغانستان دخلکودعمومي سهولت اوډموکراسۍ اوملی حکومت درا منځته کيدوپربنسټ هم دخپلو مبارزواوقربانيواوهغه ستونزی چی دمرګ تر سرحده تهديدونه ورته متوجه وه دټولو ناخوالو څخه دآزادۍ په خاطرخوښوو.

مرحوم قاضي صاحب دخپلو ناخوالوپه څرګندولوکې که څه هم دجنګ ډيري ستونزي پرتيري سوي وې،محاصرې ئې ماتي ګړی وې، پردښمن ئې دتخت پول په سيمه کي شپول اجرا کړی وو.هغه دتخته پول دشپول په باب داسي څرګندونه وکړه.:( څه وخت چی دسقاولښکرپه دې وپوهيدل چي اڅکزي دبولد که څخه راتيرسوی دي اومخ دکندهارپرلورروان دي. نوهمدغسي يوډيرتعداد عسکرئې دجنګ دپاره دډيرودرنوسلاحوسره دبولدک پرلورتخت پول سيمي ته نژدې ورواستول ،څومخه ئې وربنده کي اواڅکزي وکندهارته راونه رسيږي. سقاوي دولت فکرکاوه چي هرومرو به ئې مخه همدغه لښکرونيسي،خو! د مر حوم قاضي بهرام خان دخولې کيسه ده ، چي په ريښتيا هم دسقاو دزوی دحبيب الله لښکرهم دکميت له مخي ډيروه.اوهم په درنوسلاحوباروه.دلته موږيعني اڅکزودولسي جنګی ميتوديعني شپول څخه کارواخيسته.شپول ددښمن پر عسکروشاه وخواراګرځيدل وه.نومرحوم بهرام خان وويل : څه وخت چی موږ پردښمن باندي شاه وخواراوګرځيدونومودټيمانوپه وسيله دډولونوپه وسيله يوه هنګامه ددښمن پرقوتونوورډيره کړه اوناري سورې موپرووهلې.دشاه وخواڅخه موټکان پروکړه،دښمن فکروکی چي موږدهری خواڅخه لکه چی محاصره يو.نوددډيروتلفاتوڅخه هم ډه ډه وسوه اودښمن هم مفت تسليم سو.چی داڅکزو څخه هم محد ود کسان شهيدان اوددښمن محد ود کسان شهيدان اوزخميان سوه). پسله همدغه محاصرې اوجنګ څخه دقاضي صاحب له نظره نورهم داڅکزوروحيه غښتلې سوه.اود کندهارپرلورئې په لږوخت کې پرمخ تګ وکی.ترڅو کندهار فتحه کړل سؤ.

که څه هم په لومړي سرکی دکندهارڅلوردروازې بندي وې اودسقاودزوی حبیب الله پلویانودروازې تړلي اوښارد محاصرې په حالت کي وو.خو! دکندهار دښاردباندي شاه وخوا لکه ذاکر،کرزاو بالاکرزدقومونواوولسونودخواڅخه او هم دننه دښارڅخه دخلکودمقاومت په زوردروازې خلاصي سوې اوملی مبارزین وکندهارته را ننوتل،دا ځکه چی پخواکندهارڅلوردروازې او څلوربازاره درلودله. لکه چی وائي:

ښاد سي کندهاره ــ څلور دی دروازې څلور بازاره

نومورې لنډۍ ممکن په همدغه وخت کی ویل سوې وي .چی خلک په دننه کي دسقاودظلمه څخه په تنګ راغلی وه،خو!بازاراودروازې هم بندی وې.نوځکه خلکودغه ناره ترخولې راایستله، ترهغوچی دغه محاصره ماته کړل سوه.او خلک آزاد کړل سوه. دکندهاردخلکو دسقاوۍ دحکومت څخه ډیر نفرت کیده، نو څه وخت چی ملی مبارزینودکندهار بندی دروازې خلاصي کړې نودخلکو په ملګرتیادولت دکندهارمشرانوته تسلیم کړل سو.چی په دې وخت کي ښاغلی مؤلوي قاضي بهرام خان اڅکزی دطالبانو په هدیره کی کښیناست.اود قضا چاري ئې دهمدغه ځایه څخه دخلکواوخپلو ملګرو په مرسته ترسره کولې، بیله محکمې څخه اوبیله دقاضي صاحب دحکم څخه څوک نه محکمه کیده، نه وژل کیده اونه زورول کیده.چي په همدغه حساب قاضي بهرام خان ډیرخلک دمرګ اوشکنجو څخه وژغورل،هغه برسیره پردې چی د کندهارولسي خلک ،هغه کسان چي دسقاو دحکومت سره ملګری وه.اوهغه کسان چی د کندهارنه وه او دنوروولایتوڅخه دسقاودحکومت په طرفداري راغلی وه.یا حکومتي چارواکي وه، په ځانګړې توګه دافغانستان دشمالي ولایتو خلک همدغسي ټوله دقاضي بهرام خان په امرسره وساتل سوه.اوپه غزني کې دغزني دحاکم په وسیله تر خپلو ځایونواو کورونو پوري ولاړه،دلته دیادولوخبره داده چي دهمدغه مشرانو په وسیله لکه قاضي بهرام خان اڅکزی، حاجی محمد انورخان اڅکزی،معین خیروجان کرزی،مهردل خان بارکزی زکوم خان اڅکزی اونورمشران چي تعدادئې ډیردی.دهغوی پوهه په همدغه ځای کی وه؛چي دستي ئې قانون په لاس کی واخیستی اوقانون ئې ترهربل حکم اودستورمعتبره اوبرلاسی وګڼی،

غيري قانوني پريکړوجوازنه درلود.اوسرکښنوته جزاورکول کيده. محترم قاضي صاحب په لږ وخت کي شريعت اوقانوني کړني جاری وساتلې اودڅارنوالی، محکمې تشکيلات ئې په خپل لاس کی واخيستل.اودهمدغه طالبانودحضريه (هديره)څخه ئې قضاوت کاوه اوداترهغه وخته چي مرکزی حکومت خپل يوګډ حکومت دافغانستان په ټولوولاياتواوولسواليوکي حکومتونه جوړسول.

اودهمدغه وخته څخه بياوروسته په رسمي توګه محترم قاضي صاحب بهرام خان دسترقاضي يا قاضي والقضات په نوم په رسمي توګه دنده را پيل کړه او دمرکزي حکومت په امررسمی وګمارل سو. اودنوموړی ګمارل هم ديوه شاهی فرمان په وسيله چی دشهيد نادرخان ؒه مهراوامضاء سره ؤ. مقرره کړل سؤ.

په دې باب د محترم ليکوال پو هنيارسيد مسعود دکتاب په ۲۰۰ مخ کی داسي يادونه سوې ده: (دافغانستان په ډيره بيا دکندهارپه سياسي تاريخ کي ښاغلی مؤلوي بهرام خان اڅکزی اوحاجي محمدانورخان اڅکزی دشلم قرن په لومړی پنځوس کلن تاريخ کي دقدروړخدمتونه ياونده اخيستې ده.په ځانګړې توګه دسقاوی په کورني جنګونوکښي.په سقاوی کی مولوي بهرام خان اونورافغانان دغازي امان الله خان په طرفداري راپورته سوه،خو!دډيروستونزو وروسته په دې بريالی سوه،چي دکندهارترښاره ځانونه راورسوي.کله چي دوی کندهارفتح کی نودکندهاري نوروقومونوهم ددوي ملاتړوکی).لکه څنګه چي مخکی هم وويل سوه دکندهار دروازې خلاصي سوې.اونوبيامولوی صاحب بهرام خان په دوځايوکې ځانته دکندهاردخلکو په مرسته ټاټوبی وټاکه چي يوخرقه شريفه اوبل دطالبانوحضيره(هديره) وه.چی هم دلته ئې هم رسمي عدالتي چاري پرمخ بيولې اوهم ئې نوروزده کونکوته ديني اوعلمي درسونه ويل.محترم مسعودبيا هم ليکي : ( څرنګه چي دغه وخت دګډوډۍ وخت ؤ، نو يوازنی سړی مؤلوي صاحب وو، چي په سلهاومات سوسقاويانوته ئې نجات ورکی.اوسقاويانو هم ودته فناه را وړې وه،ده سقاويان دباوري اڅکزو پرلاس دقلات پرلوري ليږل او هلته ئې په غرواورغوکی ايله کول،چي په همدغه توګه به سند بيرته اڅکزووقاضي صاحب ته راوړی).همدغسی څه وخت چي نادرخان پرتخت کښيناسته نودکندهاريولږمشران په دې باورنه وه چي بيعت دي وجنرال محمد نادر خان

ته ورکړي، خو! قاضي صاحب اونورواڅکزودکورني جنګ دمخ نيولو په خاطرد نادرخان حکومت د منلو وړوګانه.

هغه څه چي ما دسترګو ليدلی حال دی او دقاضي صاحب سره می زما دخاله دلورپه کورکي چي دکريم خان اڅکزي ميرمن وه.اودقاضی صاحب دکور ناوې يامړ.ورکيده،دقاضي صاحب ځانګړني مي په ډيره دقيقه توګه وليدلې، چی هغه دخپلوځانګړنوڅخه يوه هم داوه چي دنرم طبعت خاونداوپرخپلو خبرو باندې بشپړه حاکميت درلوداوهغه څه ئې ويل چي نوموړي په هغه برخه کي بشپړه معلومات درلودله. مرحوم قاضي صاحب خبري په احساساتو نه کولې او په خبروکې قسمونه نه اخيستل،په ژورفکراوژورتحليل ئې موضوعات څيړل او خبري ئې پرکولې.مرحوم بهرام خان په نړيواله کچه دخپل وخت تحليل په ډيرو ښوالفاظواود فهم وړجملوسره کاوه،ډيرمعلومات ئې دهغه وخت په سياست اوټولنيزوپيښوکي درلودله. په داسي حال کی چی مرحوم بهرام خان په دغه وخت کي ناروغه هم ؤ، خو! بيا ئې هم خبرونه اوريدل او دورځنيو پيښو څخه خبرؤ.برسيره پرنړيوالوپيښودافغانستان پرداخلي موضوعاتوئې هم د معاصر وخت دشرايطوسره سم فکرکاوه،هغه په فکرکی ځوان يومنورسپين ږيری ؤ.

لکه چی شاعر وائي :

دځوانۍ فکر په عمر نه بد ليږي

چي خصلت ئې وی دځوان ځوان پاته کيږي

که ئې خيال او فکر دواړه دزاړه وي

په ځوانۍ او په زوړوالي زوړياديږي

**«ننګيالی بڅرکی»**

په همدغه وخت کي مرحوم قاضي صاحب دځوان فکر،خصلت خوی اودوخت سره ځوان خيالات درلودله. ډموکراسۍ ته عقيده مند،دښځوآزادۍ اودښوونې اوروزنې دغورځنګ پلوی اودځوان نظرخاوند ؤ.چي په همدغه دليل زما هم د مجلس ملګری اوده هم زما په نوؤ خبروخوند اخيسته، دی دهغو سپين ږيرو

دجملې څخه هم نه ؤ،چې دځوانانواودعمردکوچنيانوسره ئې دخپلوخودخواهانه مريضيوپه خاطرمجلس نه کاوه.اودکوچنيانوسره مجلس به عيب ورته معلوميده او ځان به کښته ورته معلوميده،خودبرعکس داسی فکرکاوه چې زما تجربې او خيالات بايدزه وخپلو کشرانو ته ووايم، څوهغه زما دتجربو څخه هم ګټه واخلی اوهم دځوان پرفکر باندي دهيوادپالې اغيزي وسي، نوئې په بشپړه اخلاص زما سره خپلی لرغونی تجربې اوزده کړی شريکولې.

مرحوم قاضی صاحب مينه درلودله چي دهيوادسمسورتياپه خپل ژوند کې ووينې،نوبه ئې هميشه،هم پوښتنه کوله اوهم به ئې تو ضيحات ورکوله. يعنی هم به ئې غوږنيوی اوهم به ئې اورول کول.ځکه نوزه اوس دلته دنده لرم چی دنوموړي دنيکونظرياتوڅخه هم ګټه واخلواودرتلونکی نسلونودپاره دقاضي بهرام خان اڅکزي خاطرات ژوندی پاته سي.دغه دروند انسان په دغه ناروغه حالت کي خپل تاريخي مسؤليت دخلکواوافغانستان دراتلونکي نسل دپاره مسؤل ګڼله،چې اوس هم دې بيا دښاروالی پرستيجودچارسوپه منځ کي اودخلکو په منځ کی ودريږي اودافغانستان خلک دزړواړيکوپرضددنوښت ګری پرلورروان کي. اودارتجاع څخه ئې راجلاکي اودتکامل مسيرورته په ګوته کي.نوبه ئې هميشه همدغه خبره کول:چې تاسويوه لويه غونډه جوړه کی چې زه وخپل ولس ته دخپلوتجربوپربنسټ دهغوی دوست اودښمن وروپيژنم.هغه په دغه وخت کی دهرډول راست افراطيت اوچپ افراطيت ضد وو، خو! دهرڅه دپاره ئې دټولنې داقتصادي اوفرهنګي اړيکوپه رڼاکی دخپل وخت اوزمانه سره دعينې شرايطو په ليدوسره تحليل اوڅيړنه درلوده.مرحوم قاضي صاحب ته دافغانستان عنعنوی ټولنه ترهرچاه ښه معلومه وه.نوځکه ئې دايخوان المسلمين ګروپونه هم دخپلو احساساتي اومذهبي تحريکاتومخالفت کاوه.اودغه ډول سياسی اسلام ئې په ټولنه کی دخلکوپه تاوان ګڼله هغه په اسلام کی دنوښت طرفداره اوداسلام اواسلامی فکردنوي زمانې سره دبرابولوپلوي کول.دمرحوم قاضي صاحب په عقيده هغه مسلمان دقدروړګڼه کيده چې هم به مسلمان او هم به دټولنې دعينې شرايطوسره ښوونيزؤ.هغه به ويل:ښځه بايد ديوه مسلمان په کورکي هم ډاکټره سي اوهم انجنيره اوهم استاد.اوهمدغسي اسلا م بايدديوه سياسي تجارت دپاره،دسياسي

قدرت دلاسته راوړلو دپاره دپردیوپه خدمت کی ورنه کړل سي.اونه باید دهمدغه لاري څخه مسلمان دتظاهردپاره ګټه ترینه پورته کی اونه هم دخپلووټیزوګټودپاره ګټه داسلام دنوم څخه ترلاسه سي. مرحوم قاضي بهرام خان به ټول عمردحاجی محمدانورخان دخیالاتوملاتړکاوه اوویل به ئې:حاجي محمدانورخان اڅکزی زموږ.په قوم کی یوتغیراودقدروړ خدمت وکی،ځکه دهغه دکورټوله ښځي اونارینه زده کړی سوه، چی همدغه جرئت ئې زموږ.نورو اڅکزواوپښتنوقومونوته ورکی.اوهمدغسي هغه اڅکزو چی خپلي ښځي ئې دتعلیم اوتربیې یا ښوونی اوروزني څخه محرومی کړي دي ، هغوی اشتباه یا غلتی کړیده، ځکه راتلونکی نسل دښځواو نارینوولوړي علمی سوې ته احتیاج لري،نوموږ.به په علمی برخه کی ځوترڅو ودې ته اړیوچي دخارجه یوڅوک زموږ.هیوادراجوړاوآباد کړي. داوبوبندونه موراوټړي،معدنونه موراوباسي اویاهم موږ.ته نوې تکنالوژي رازده کړي.یاپه کارواچوي.مرحوم قاضي صاحب دځینوملایانودغه خبره رده وله چی دغه دنیازموږ.نه ده اوزموږ.دنیاالخیرت یاهغه بله دنیا ده؛مرحوم قاضی بهرام خان اڅکزی په دې اندؤ،چي هغه دنیا هم ستة اودغه دنیا هم خدای (ج) دانسان دپاره پیدا کړې ده اوانسان بایدکوښښ وکړي چي دغه دنیا ښکلې وساتي اودانساني ژونددپاره ئې داسي استعمال کي چي هم خپله ګټه ځینی واخلي اوهم ئې دیوه میراث په توګه دراتلونکونسلونودپاره د ګټي وړوګرځوي.نوځکه ئې دوخت دمولوی صاحبانو څخه دغه هیله درلوده چي دعمومي پرمختګ مخه ونه نیسي.اودنړۍ دسیالوهیوادونوسره په تخنیک اوپرمختګ کی اسلامی هیوادونه هم سیالي وکړي. وقاضي صاحب بهرام خان ته دکندهاردښارځیني ملایانوچي دواقعي اسلام غوښتونکی وه،ډیر قدرورکاوه اودمولوي صاحب د فلسفې پلوی به ئې کول.خو!ځینی داسی ملایان هم وه چي دسیاسي غرض په خاطربه ئې ددغسي عالمانوعقیدې به ئې دخپلو ګټوپه خاطرورتحریفولي یاغلتې ګڼلې،دځانه به ئې نومونه ایښول اوقاضي صاحب ته ئې دهغه مترقي خیالاتوپه وجه دوهابي اونورلقبونه ورکول.چي ډیرتعداد ددغو کسانوڅخه چی دحاجي محمدانورخان عقیدې اود قاضی صاحب بهرام خان عقیدې ئې تحریف ولې هغه به یا دوخت دحکومت تنخاه خوره وه اویابه ئې هم دبهرنیو هیوادوسره اړیکي درلودلې.اویابه هم هغه تعویض ور کونکی وه،چی

سمدلاسه ئې دعلمي کسانوسره ګټي په خطرکي وې، نوځکه به ئې د مدِرن اسلام یا په اسلام کي دعیني شرایطو سره سم د کړنو مخالفت کاوه.

همدغسي مرحوم قاضي بهرام خان دچپوافراطي خیالاتوهم ضدؤ.اوهغه ئې هم دټولني دعیني شرایط سره برابرنه ګڼل اوچپ افراطیت ئې هم په خپلو منطقو سره رداوه.هغه په ټولنه کي دچپو کمونستي شعارونومخالف اودغه تفکر ئې دټولني دعیني اوذهني شرایطوڅخه لیري اوزموږپه افغاني کلتوري اوعقیدوي ټولنه کي دتطبق وړنه ګڼه، دمرحوم قاضي بهرام خان اڅکزي له انده هرټولنیز،سیاسي فکردخپل وخت اودټولنیزواقتصادی شرایطوسره سم باید وڅیړل سي.اوترهرڅه دمخه بایددخلکو ذهنونه وکتل سي چي هغه څه غواړي، زموږ ټولنه چي وروسته پاته ټولنه وه،دتولیدی قواو پرمختګ دومر ه نه ؤ په ټولنه کي چي خلک اوعام ولس دي ودې ته اماده وي ، چي زموږ دټولني دغه کمونستي شعارونه دی ومني.نوځکه دچپوافراطیانوڅخه ئې هم دټولني دهمدغه قوانینوپه رڼاه کي تعادل غوښتی.اوچپ افکارئې هم نه خوښول. چي په ټولیز لحاظ ئې راست اوچپ افراطیت رد کړی ؤ.

مرحوم دغه خیالات اوعمومي فکر،سیاسي اوټولیزي کړني دهند په مدرنه ټولنه کي دخپل ځوانی په وخت کي زده کړي وې. او په افغانستان کې دیوه نوی فکر بنسټ تقویه کی، ملي فکر ئې درلودی،خیالات ئې دټولنیزو شرایط سره برابروه اودناستي اوولاړي کسان ئې هم دوخت هغه مترقي خلک وه،چی دټولني دعمومي قوانینو سره ئې سم پرمختګ غوښته،دهغه ترټولولوی ملګری حاجی محمدانورخان اڅکزی،محمدرسول خان پښتون،عبدالهادی خان بحر(توخی)، جیلانی خان مدیرصاحب(الکوزی)فیض محمدانګار،محمدعلم بڅرکی،ګل پاچاالفت،دکتورمحمودي،غلام محمدغبارصاحب صدیق الله ریښتین صاحب، خادم صاحب،رشادصاحب اوداسي نورچي په وروسته کي به ئې دوینې ځلمیانو په برخه کی په تفصیل خبري پروکړو.داهم هغه کسان وه چي ټولني په ډیرښه نامه سره پیژندل،احترام ئې ورته درلودی.دوی ټوله یوه ډیره لوړه مترقي ډله وه.چي دخلکوپه زړونوکې ځای درلودی.دهرډول افراط ضد او ټولنی ته ئې په

خپلوقربانيو سره د موکراسي راوستل،چي دهمدغه قربانيوپه سبب ټولني ته نوي فکرونه، دآزاد فکرانسانان ورزل سوه.اوګوندونه په پرله پسې ډول جوړسوه.

محترم صالح محمدزيرى چي دخلق دموکراټيک ګونددمرکزي کميټې غړى اودهغه دموکراسۍ چي په ۱۳۴۲هـ ش کې ګوندونوته اجازه ورکړه.دويښ زلميانودقربانيوپه نتيجه کي رامنځته سوه.اوپه ۱۳۴۳هـ ش کې دخلق دموکرا ټيک ګونددنورمحمدترکی په مشرتابه جوړسو،صالح زيرى ئې د مرکزي کميټې اصلي غړى ؤ،دى دخپل کتاب (دنيمي پيړۍ خاطرات) په ۵۱مخ کي دمرحوم بهرام خان اڅکزى په باب دخپلوسترګوليدلی حال داسي بيانوي:«قاضي بهرام خان اڅکزى زموږدکوڅې پراړخ په يوه بله کوڅه کي اوسيده.خوزموږ په کوڅه کې دخپلوانوکورته ديوې مورۍ (دربچې) په واسيطه لاره درلودله.ددغي لاري څخه به کوچنيانو تګ اورا تګ کاوه،دقاضي صاحب ميرمن يوه عالمه او پوهه ښځه وه،موږ مورا بلل (مورا په کندهار کي دملا صاحب ميرمني ته وائي) چي ددواړوکوڅو ماشومانواونجونوته به ئې افتخاري دسپارې اوقران شريف سبقونه ويل،دهغه کوردومره صفا ؤ،چي کوچنيانواوښځوبه ويل چي دهغې په کورکي مچ هم بڼ نه سي وهلای.قاضي صاحب پرکوربانډی انضباط اوکنترول درلودی،با انضباطه انسان ؤ.محترم زيرى صاحب يادونه کوي:چي زه په ماشوم توب کي يوځل دهمدغه مورۍ دخوادموراکورته تللی وم.دکور دغولي مځکه ئې په خښتو فرش وه،کورئې ترتولونوروکوروپاک ولاړؤ.دقاضي بهرام اولادونه په ديني علوموپوهه وه.د کندهار دمنورينوسره ئې ناسته اوولاړه وه،دځينواولادونوئې سترنج لوبه هم زده وه اوشوق ئې ورسره درلود».

همدغسي ترهغه ځايه چي زما په يادراځي ،دمرحوم قاضي صاحب بهرام خان اڅکزي کورد کندهار دلرګو په ګنج کي دبي،بي هواپه کوڅه کي ؤ.چي داوخت زموږ کورهم هلته ؤ.زموږکوردوې لاري درلودلې، چي يوه ئې عمومي کوڅې ته وتلې وه اوهغه بله لاره ئې يوې بندي کوڅې ته وتلې وه.چي موږ د مسجد کوڅه هم ورته ويل،داهغه مسجدؤچي مرحوم حاجي محمد انورخان اومرحوم قاضي بهرام خان به هم دلته لمونځونه کوله.چي دغه ګډ مسجد ممکن دمرحوم محمد انورخان اوحاجي بهرام خان اڅکزى ددوستی يوه ډيره ښه نخښه وه،ځکه

دوی په هرکارکي دومره سره متحداويوفکردرلود،چی ضرورت ددې ؤ، چی دوی هميشه سره وويني، ډيرسره وويني.اودضرورت په وخت کي سره نژدې وی.

مرحوم قاضي بهرام خان دخپل آزادفکرله مخي ازاداوپه عقيد وي مسئايلوکې دخپلواولادونوسره هم د ملګروپه څيرکړنه کوله.خپله ئې هم اوږده ږيره نه درلودله اوښايسته کوچنۍ ږيره ئې درلودله،مناسب قد اواندام ئې درلود،خو! په غوښه پټ ؤ،هغه که څه هم دستيج پرسريا دمهراب پرسراويادکنفرانسونو اوعمومي غونډوپه مخ کي يوژبوراو دخلکو دتوجوراجلبولودپاره ډير ښه وياند وو،خو! په عامومجلسونو کي يو ډيرښه اوريدونکی هم ؤ.

دلته ديادولووړبولم چي وليکم مادمرحوم محمد علم بڅرکي په کتاب کي هم دمرحوم قاضي بهرام خان اڅکزي څخه په ۱۵۶مخ کي يادونه کړې ده چي يوه ورځ مي دمرحوم قاضي صاحب څخه وپوښتل: چي ځيني ملايان پر دغه ږيره باندي ډيرزور اچوي او دهر چاه دپاره ئې حتمي او ضروري ګڼي،خو! زه چی تاته ګورم اوستا وه نظرته ګورم تا هم اوږده ږيره نه ده پريښې اوستا اولادونه هم اوږده ږيره نه لري. ستا نظرداوږدې ږيري په باب څه دی؟

ځواب : قاضي صاحب په داسي حال کی چی دخپل خندان طبعت په لرلو سره ئې يوه کوچنۍ مسکا وکړه، وې ويل : په دې کي شک نسته چي ږيره سنت طريقه ده.اورسول الله (ص) پرايښې وه.اوترهغه دمخه نورونبيانوهم پرې ا يښې وه.خو! په اسلام کي پرږيره پابندي نسته اوږيره دزينت يوه مسئله ده نوکه ئې څوک پريږدي که ئې خرئي،که ئې لنډه پريږدی که ئې اوږده پريږدي. دادانسان په ذوق اړه لري.موږد مسلمانۍ پنځه بيناوی لرو.اودښواوبدودپاره قوانين لرو.نوځکه په ټوله اسلامي هيوادونوکی دږيري پابندی نسته اوپه دې باب خلک آزاددی.ماته ددې لوړدينی پوهه دمنطقوقوت مخکي هم رامعلوم ؤ، خو! بيا مي هم واوريدل.دلته ما يوه شوخي هم وکړه اوورته ومي ويل : که چيري په پخوازمانوکي خلکواوهيوادونودغه ډول لکه نن زمان چي (سيون کلاک دږيری چړې درلودلای،نوته فکرنه کوې چي هغه وخت به ډيرو کسانوږيره خريلای ؟.

ځواب :امکان لري. خو!ما په کوم کتاب کې په دغه باب څه نه دی لیدلي. نوځکه زه هم پردغه موضوع څه نه سم ویلای.همدغسی،دمرحوم قاضي صاحب سره زما مجلسونه دهغه په هغه اخیرو شپو کی وه سوه، چی دیوه پلوه زه هم ډیرکوچنی وم.اوهغه هم ترډیره ځایه دخبرو ډیرتوان نه درلود.خو زړه ئې غوښتل چي خبري وکي اومجلس وکي، خاطرات بیان کي.داڅوشیان چي مرحوم په خپل ځان کی درلودله اودی ئې دنوروزاړه فکروسپین ږیروڅخه بیلاوه هغه عبارت وه:

لومړی : قاضي صاحب په فکر ځوان وو،نو ځکه ئې دځوانانو سره هم دمجلس موضوعاتي او مسایل طرحه کولای سو.

دوهم : قاضي صاحب دخودخواهۍ نښي نښانې نه درلودلې،دکوچنیانو سره به کوچنی اودغټانو سره به غټ ؤ. دپوهانوسره پوهه اوهمدغسي دهرچاه سره ئې د مجلس او خبرو ګډ ټکي درلودلې .

دریم : څرنګه چي دځوانۍ اوهلک توب دوران ئې په هیوادپالنه اوسیاسي کړنلاروکي ترسره کړی ؤ،نوهمیشه ئې خوښیدل چي سیاست وکي اودسیاسي خبرودلاري ئې دځوانانواصلاحات غوښتل،دحکومتونوتعریف ئې دهغه وخت دخلکودژوند دسطحي پرطبقاتي غوښتنو او ناخوالوباندي کاوه. دښاغلي قاضي صاحب په اصطلاح چي ویل به ئې:هغه حکومتونه ښه،خوشبخته اوبریالي دي چي کښته طبقه یعني مسکینان په کښي لږوي.او همدغسي لوړه طبقه خانان چي حاکمه طبقه دټولنی ده دوی هم لږوي.خو! متؤسطه طبقه چي عمومی کارګران اودټولني زحمتکښان شمیرل کیږي ، نوموړې طبقه باید په اقتصادي لحاظ دښه ژوندخاوندان اوپه ټولنه کي متوسط ژوندولري.اویادژونددلومړنیوضرورتونو درلوونکي وي.هغه دیولړطبقاتي ټولنودهیوادونونومونه واخیستل:لکه:افغانستان ،پاکستان،هندوستان،تایلنډاوداسي نور...افریقائي هیوادونه چي هلته خلک یاډیرخانان دي اویاهم ډیرمسکینان دي، خو! متوسطه طبقه یا نه لري او یا که ئې لري هغه ډیره کمه ده.

ځلورم:قاضي صاحب دخبرو له مخې چې ماتريوځايه دمجلس په وسيله وپيژندی ، دميراني اوپرخپله خبره منطقي ډول ټينګ ولاړوو.هغه په ښه آسانه څه نه منل خو! کله چې به په منطقي ډول ورته ښه ثابته سول، چې دغه خبره اويا دغه حرکت دسولي،هيواداوخلکو په ګټه دی نوبيا به ئې هغه منل او قربانی ته که به ضرورت پيداسونو! قرباني ئې هم پرخپله خبره ورکول.دخپل هوډځخه نه اوښتی.چې ددې خبري ثبات ئې موږتاسو دهغه په ملي اوډموکراټيکو مبارزوکي دسربښندي پرميدان اودسياسي بنديخاني په عملي کړنوکی وليدل.يعني قاضي صاحب پرقول ولاړۀ،پرخپله خبره ولاړاودسياسي ثبات خاوند ۀ.

ډيروکسانوسياست دځاني ګټوپه خاطرکوی،ترڅوغښ نوم پيداکي اوشتمني تر لاسه کړي،خو! دنيکه مرغه قاضي صاحب چې دلوړي پوهي خاوندۀ، په سياست کي زحمتونه وګالل.اودژوندترپايه هم دوخت حکومتونو په دولتي لوړو مقامونوباندي تطمع نه کړای سو.هغه هيواددسقاوۍ اوظلم څخه وژغورۍ، اوخلاص ئې کړی،هغه په هيوادکې ډموکراسي غوښته اودمطلقه شاهی حکومت اړول ئې په مشروطه شاهي غوښتی ، قانون اساسي ئې دهيواد دخلکو اورا تلونکي افغانستان دپاره غوښته همدغه کارئې هم ترسره کی.چې دغه ټوله دده دلوړشهامت اوغيرت نماينده ګي کولای سي.

پنځم :مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی هغه دينی عالم اوپوهه وو،چی مذهب ئې دسياست سره نه ګداوه.دقاضي صاحب دنظره عقيده يوه مقدسه مينه ده،هغه به ويل چې مينه اوعقيده انسانان وه يوه داسي لوری ته بيا ئي ، چې انسانان ئې په سترګونه سي ليدلای،خو! دعقيدي پربنسټ ئې بايدومني.هغه ددې خبري داثبات دپاره قران کريم يورهنما ګڼی.چې موږ ته دښولار ښونه کوي.هغه به ويل : په عقيده کي ايمانداري، ټينګ عزم په کار دی.

خوسياست بيائدولتونواوحکومتونوکاردی،چې څه ډول دوخت اوزمان غوښتنه وي په هم هغه ډول دشرايطوسره سم قانون جوړوي.قانون دتاريخي ،اقتصادی اوسياسي شرايطو سره تغيرخوړلای سي، خو! مذهبي قوانين په ټوليزډول تغير نه منونکی دی.نوځکه بايدسياست دمذهب څخه جلاکړل سي. مولويان اوملايان دی وخلکوته ددين لاري وښيي،خو! سياست مداران دی بيا دټولني دپرمختګ

عمومي قوانين وخلکواوټولني ته ورپه ګوته کوي.او ټولنه دي په وټيزلحاظ پر مخ بوزي، دخلکو دپاره دي،دآزادفکر ښه شرايط،دکارښه شرايط اودسولي اوډموکراسۍ په رڼاکی دي ټولنه پرمخ بوزي.هروخت که مذهبي مشرانوخپله دنده وپيژندل اوددين پرلاره ولاړل، نوبه ټولنه د فساد څخه هم راوګرځي.

همدغسي سياست مداران چي ترهرڅه دمخه ئې دنده دټولني داقتصادي پرمخ تګ پياوړی کول دی.بايددهمدغه لاري څخه ټولنه په کلتوري اوفرهنګی لحاظ دبدبختۍ څخه راوګرځوي.دمرحوم قاضي بهرام خان له نظره؛اقتصاد دټولني يو ترټولومهم فکتوردی، چی فرهنګ اوروسته پاته والی اوفيوډالي ورسته پاته اړيکوته خاتمه اودپای ټکی ايښولای سي.سواداو زده کړه پرنراوښځوباندي يوحتمي اوضروري شی دی.نوځکه دمرحوم قاضی صاحب دسياست پوهانو څخه غوښتنه هم داوه،چي په افغانستان کي بايد سوادډنراوښځودپاره په يو شان ترسره سي.ځوښځي په اقتصادی ډګرکی راشاملي سي.اودخپلو حقوقوڅخه خپله دفاع وکړي.او دافغانستان دغه نيم نفوس هم دژوند په ټولو خوا وکي فعاله په کارواچوي.

## شپږم : دنړيوال سياست په با ب د قاضي صاحب نظر :

څرنګه چي قاضي بهرام خان دفکرله مخي يوآزادي غوښتونکی،هيوادپال اوپه همدغه ملي او ډموکراتيک نظرکې دځوانۍ څخه بيا ترمړيني پورې، دهيواد په چوپړکي شپې اوورځي تيري کړي وې. اودژوند کړاونه ئې په همدغه لاره کي ليدلي وه،همدغسي ديوه ځانګړي هيوادپالني دتفکر پلوی ؤ.مرحوم قاضي بهرام خان دهيواد دپاره په لومړي قد م کي سوله غوښته،بيا ئې په هيواد کي دنړيواله پرمختګ سره سم دافغانستان پرمختګ غوښتی، مرحوم بهرام خان دهيڅ يوه هيوادسره دښمني دافغانستان نه غوښته،هغه دګاونډي هيوادوسره لاهم دهمز يستۍ اوسولي په فضأکې ژونداوښه ګاونډيتوب غوښتی.خو!هغه وخت چي انګريزان په سيمه کي دپښتنو پرسيموتجاوزکړی وو،په سيمه کي،ټولوآزادي غوښتونکوقوتونودانګريزانوڅخه ددې خاوري دخوشي کولو هيله درلودله،چي په ټوليز(مجموعي) توګه دکانګريس ګوند،انجمن وطن ګوند،خداي خدمتکارن ګوند،اوداسي نورولوی اووړوګوندنودانګريزانوپرضددآزادۍ اواستقلال دلاري

مبارزه اعلان کړې وه،نو څرګنده خبره ده چي قاضی بهرام خان اڅکزی چي دکانګریس سره ئې اړیکي درلودلې، دهمدغه آزادۍ دلاري مبارزاو دانګریزانو خلاف مبارزه کړې ده.په نړیواله کچه په دې وخت کي چي دروپنځوسو ۵۳هیوادونوداستعمارضدړغ اوچت کړی وو، لکه دشمالي افریقا هیوادونه دآسیا نوي آزادسوی هیوادونه اوهمدغسي دلاتین امریکاهیوادونه یا منځنۍ امریکا نوي آزادسوي هیوادونه دآروپائي هیوادوڅخه،دهمدغه دریمي نړۍ دهیوادونوآزادۍ ته ئې احترام درلود.اوپه دغه وخت کی دنړیوال سیاست په ړڼا کي دنوي آزادي بخښونکوغورځنګونواوهیوادونوملاتړی وو.چي دقاضي بهرام خان دزوی دمحترم کریم خان ډګروال صاحب له قوله چی ویل ئې: قاضي صاحب بهرام خان په دې باب یولړنویشتې هم درلودلې چي دبده مرغه دوخت دبدوشرایطواومهاجرتونوپه سبب نوموړي نویشتې اوس دستي زموږ په لاس کي نه سته.خودومره ویلای سو،چي په نړیواله سیاست کي هغه دهیوادونوترمنځ دسولي غوښتونکی ؤ.اودهیوادونوپه منځ کې یودبل وسرحداتوته داحترام دروحیې پلوی ؤ.اودخدای بخښلی خان عبدالغفارخان ، عبدالصمدخان اڅکزی ، ګاندي او نهرودلاري مل ؤپه نړیواله سیاست کي.

## اووم : دمرحو بهرام خان اڅکزي کړنه ده کورنۍ اوملګرو سره :

لکه څنګه چي مخکی وویل سوه، قاضي صاحب ،په ژوند کي ، دژوند په کړنو کی یوروښانفکره،منورخیالات ئې درلودله.هغه دخپلواولادونواودکورنۍ دغړو دپاره ښوونه اوروزنه په علمي ډول سره ترسره کړه،ټول اولادونه ئې زده کړي وه. دهغه پنځه اولاده وه ، خو! لورئې نه درلودله، همدغه پنځه زامن ئې لکه : عبدالکریم خان، اسدالله خان ،عصمت الله خان ، نصرالله خان او نجیب الله خان وه. دوی هریوباسواده پردیني تعلیم برسیره ئې دښووني اوروزني علمي زده کړي هم تر سره کړي وې.که څه هم مرحوم قاضی صاحب دژوند په دغو کلونو کي د۱۳۳۰هـ ش څخه بیا تر ۱۳۴۳هـ ش پوري دسختو ستونزو سره مخامخ سوی دی.اودزندان په بدو شرایطو کې دکړاونو ډک ژوند تیروه، دغه وخت دمرحوم اولادونه ډیرکوچني اویاهم دمړاني ترعمره یا ځوانۍ تر عمر نه وه رسیدلي،خپله محترم ډکروال صاحب په دې باب ماته یادونه وکړه چی زه په

دغه وخت کی چي زمامرحوم پلارقاضي صاحب بهرام خان دصدارت په سیاچال یا توروکوټوکي بندي وو،عبدالکرم خان ویل:زه نوی داتلسوکالووم، چی دهمدغه سیاچال په خاطرزماپلارته د فلج ناروغي څکه ورپیداسوه چي ډیروخت ئې په توره تیاره کي ساتلی وو،اودلند ه بل په وجه دپښودحرکت څخه ولویده.چي دوخت حکومت دخپلي بیري له کبله قاضي صاحب وعلی آبد روغتون ته وسپاری.په همدغه روغتون کی هم سخته پیره پرولاړه وه.په دې وخت کی محترم ډګروال صاحب یادونه کوي چي ؛ شپږمیاشتي په روغتون کي بستروٌ.خوپسله شپږمیاتوڅخه ئې بیرته ولایت ته بندی بوتلی.ترڅو ۱۱ کاله ئې دبندموده ترسره کړه.هغه دبندیخانې په وخت او د مخه تربندیخانې اوهم وروسته تر بند یخانې دخپلی کورنۍ سره بشپړه مینه درلودله .اودهغه میرمن دهغه دکړاونو شاه ته د قاضي صاحب ملکرې وه

خو! لکه څنګه چي یوه عامه خبره ده چي دهربریالي سړي وشاته یوه بریالۍ ښځه ولاړه وی همدغسی دمرحوم قاضي صاحب میرمني (وزیره) دهغه دکورټوله ستونزي په خپله حلولې.میرمن وزیري د کورځانګړې سلیقه درلودله. اوهم ئې په مادي لحاظ ډیري مرستي دخپل خاوند مرحوم بهرام خانه سره کړي وې،همدغسي ویل کیږي چي دتیموریانواومرغانوجایدادهم وزیري په خپلوپیسو رانیولی وٌ،چی کورپه اقتصادي برخه کي نوموړي جایداد مرسته ورسره کوله.

اوهغه وخت چي مرحوم قاضي صاحب بندي وو،دهغه میرمني داولادونوپالنه په ډیره ښه توګه ترسره کړه.په کورني ژوند کي قاضي بهرام خان بریالی وو،دکورنۍ سره ئې اړیکي دیوه دوست اوملګري په توګه پاللې.

خو!دمرحوم ډیرلرغوني دوستان لکه مخکی چی وویل سوه، مخکی تر هغه چی افغانستان ته راسي اودسقاو حکومت ته دپای ټکی کښیږدي.هغه دمرحوم حاجی محمدانورخان اوهم دغسي دقاضي صاحب عبدالعلي اخوندزاده سره ډیري نژدې اوایډیالوژیکي اړیکي درلودلې.عبدالعلي اخوندزاده هم یوپوهه طبیب ،سیاستمدار،ادیب ،ټولنیزپوهه اودډیروخلکو په منځ کي پیژندلی منلی سړی وٌ.

دمرحوم عبدالعلي اخوندزاده پرهتۍ به دوخت منورين سره راټوليده اوملي او ډموکراټيکه مبارزه به ئې پرمخ بيوله.په همدغه دعطارۍ په هتۍ کی مرحوم انورخان اوقاضي صاحب يودبله سره وپيژندل اوپه وروسته کې ددووړنوپه څيرئې ژوند سره کاوه.اودبنديخانې ترسياچالونوترحده هم ديوه نظرخاوندان وه.هم دلته يا دعبدالعلي اخوند زاده په هتۍ کې دوی دسقاوي حکومت دړنګولو پلان جوړکړ.ځکه دسقاو دحکومت ړنګول اودخلکوحمايه حاصلول،ديوه عالم سړی فتواته اړتياوه. چی مرحوم بهرام خان اڅکزي فتواورکړه نوبيا زقوم خان اودقوم نورپښتانه اواڅکزي رامخ ته سوه.څودسقاوزوړرژيم ړنګ کړل سو. تردغه لوی پيښي وروسته بيا مرحوم قاضي صاحب نه يوازي په اڅکزوکی، دجنوبي پښتونخواپه سيمه کي بلکي؛دکندهارپه نوروقومونواوخانانوکې شناخت اوددوستۍ ملګري پيدا کړه.

چی هغه ديوه مشهوره سازمان دويښ زلميانو دسازمان برجسته غړي وه، په کابل کي دوطن دګوندغړی،آزادمنورين اودډموکراسۍ دلاري پلويانوسره ئې هم دزندان په دغه سترې دوران کی وپيژندل. نودقاضي صاحب دشناخت ساحه هم پراخه سوه.اودسياست تجريبې ئې هم ډيري سوې،خودغه ټولوکړاونواو ستونزو قاضی بهراخان نه يوازي داچي دخپل هيوادپالني دهوډځخه وانه ړوی.بلکي؛ نورئې هم عزم ورفولادي، ټينګ اومضبوط کی.

مرحوم بهرام خان اڅکزی دملګروسره ډيرښه دوست اومهربانه ؤ،دتکليف په وخت کي ښه دوست اودهردرد د واؤه.

مرحوم جيلانی خان الکوزي به ټول عمرد قاضي صاحب ستاينه کوله،هغه ئې دويښ زلميانواودکندهاردمنورينو،مذهبی مشرانودجملې څخه يوډيرښه مشرګاڼه. او څه وخت چی قاضی صاحب دښاروالۍ ومخ ته دخلکوپه منځ کی يوه پراخه بيانيه دېوهاندعبدالشکوررشاد دشورادکانديد په توګه دهغه په پلوی کي ورکړه، نودکندهارخلکوپه ډيرواحساساتودعبدالشکوررشاد په پلوی کي ودريدل.او حکومت هم لکه څنګه چی دويښ زلميانواومنورينوپه مقابل کی ولاړؤ.نوئې رشاد صاحب ته ډول،ډول پلمې جوړي کړې .چي تفصيل به ئې په وروسته کي دموضوع په اړونده،دويښ زلميانو په برخه کي وکړو.

نوهمدغسي په افغانستان کي دشناخت په سلسله کې دحکومتي لوړپوړو چاروا کوسره ئې پيژندلګلوی هم پيداسوه.اوخپله هم دهيواديولوی لوړپوړی چارواکی وګرځيده،هغه دخپل لوړفکراولوړوفکري ملي اوډموکراتيکو مبارزو په درشل کی دهيواددوخت پاچاسردارمحمد نادرخان،محمدهاشم خان، شامحمود خان چي د صدارت دوره ئې هم تيره کړې وه په هيوادکي اوهمدغسي نورودولتی چاروا کواوپه کورډيپلوماتيکوچارواکوسره ئې هم نا سته اولاړه وه.اوپه دې باب ئې دشاهي دولت څخه امتيازات،ستاين ليکونه اوفرمانونه هم ترلاسه کړي دي.خو! بيا هم پر دغه ټولو امتيازاتو برسيره دخپلو نيکو،ملی ډ موکراتيکو ارمانونونه دی تيرسوی.دشاهي دولت څخه ئې غوښتنه داوه چی مطلقه شاهي رژيم په مشروطه شاهي واړوي اودهيوادخلکوته په دولتی ارګانونواودهيوادپه سر نويشت جوړونکوپيښواوموضوع ګانوکي ونډه ورکړل سي.هيواد قانون ولری او قانون پر ټولو چارواکواو،دولتی ارګانونواو خلکو باندی يوډول تطبق سي.


خو! بيا هم ديادونی وړبولم چي وليکم : دوخت مغرورو شاهي کورنی داسي څوک چي هغه دی نوم او نښان ولري اودافغانستان په خلکوکي دي نفوذاو محبوبيت ولري، نه سوای منلای. نو ئې ځکه دوخت دمنورينو سره ټکرراغلی اوهغه نوی جوړسوی ګوند چی دهيوادارمانونه ئې ترسره کوله،دهغوی ددغه نيک نوم،شهرت څخه وبيريدل،نو ئې بيا سمدلاسه مرحوم قاضي بهرام خان او دهغه نورانډيوالان زنداني کړه.

چي ددوی په زنداني کولوسره دسيمي مترقي غورځنګونه په لراوبره پښتونخوا کي خوابدي سوه.دخدای بخښلي حاجي محمد انور خان  او بهرام خان اڅکزي پلويان يوازي په پښتنوقومونوکي نه بلکي،دافغانستان په مختليفو قومونو کي دهغه دايډيالوژئ ملګري وه. لکه څنګه چي مخکی وويل سوه،په سيمه کي دهيواد دننه مترقي حلقې لکه دښاغلي غلام محمدغباراودکتورمحمودي چي داعصابوپه برخه کي يووتلی دکتوراودسياست د ميدان وتلی سياست پوه ؤ، همدغسي دجلال اباد او مشرقي په سيموکي وتلي اديبان ، لکه:ګل پاچاالفت، صديق الله ريښتين او خادم صاحب اونور دده پلويان اودفکر ملګري وه.

خو! دډيورنډ دغيري رسمي کرښي پښتانه چي پخوا ئې لا شناخت او انډيوالي دمرحوم قاضي بهرام خان سره درلودله. لکه:خان عبدالغفارخان،خان عبدالصمد خان اونورمنورين چی مخکی می هم ليکلي دي.دوی ټوله دقاضي بهرام خان په زنداني کيدو خواشيني سوه. اودوخت دحکومت څخه ئې دغه توقوع هم نه درلودله. خو! دغه وخت دايوه عجبه پيښه وه، يعني نوې پيښه ګڼل کيده، چي هم دي دولتي چارواکی وي،هم دي دوخت خان وي،همدي په علمي ژوندکي نامتو کسان وي .او بيله کوم جرمه دي زندان ته ورتيل وهل سي.

**خان عبدالغفارخان اوخان عبدالصمدخان** چي دغه وخت نامتوکسان وه.او دپښتنوسترمشران هم وه، هغوی به هميشه چي افغانستان ته راغله نوبه دمرحوم قاضي بهرام خان پرکورميلمانه وه.اودوخت ستونزي به ئې سره هوارولې. ددوی په منځ کی مينه او محبت دهيواد پالني پر روحيه منځ ته را غلی ؤ.ددغه وخت مشران ديو اوبل په ايمانداریٔ باندي خوراښه پوهيده اوپه همدغه دليل ئې يوپربل باندی باورهم درلود.دوی هر يوه په عمل کی دتوری ارتجاع او خارجی استعمارپه مقابل کی لاسونه سره ورکړی وه.اوپه دې لاره کې بندونه، زحمتونه اودلوړي اعتصابونه په ميړانه سرته رسولي وه.نو په دې چی پرنوموړې موضوع رڼا واچو.اوددغه وخت دسياست،وفاداری اويوپربل باور، سياسی تقواباندی وپوهيږو نولازمه ده چي دوخت پرستونزوبرسيره دهمدغه وخت سياسی غورځنګونه اوسياسي مشران وپيژنو.اووپوهيږوچي ددوی په منځ کي ،څومره ډيرنژدې اړيکی اوګډ ټکی سته.که څه هم دغوځينورهبرانو او مشرانو به يو دبله نه وي سره ليدلي.اوپه مخامخ ډول به ئې خبري هم نه وي سره کړي، خوددوی ځانګړني، خويونه يودبله سره نژدې وه. ټولودغه سياست پوهانومبارزه دخلکوپه خاطرکول، خپل ځانته ئې دقدرت په وخت کي هيڅ اقتصادي بې عدالتي هم نه وه کړه، هر يوئې دصداقت سمبول او نښانه وه.ددغه وخت مشرانو راهبرانو دولس او تودو سره يوځای ژوند کاوه اودتودوپه ستونزوددډيرنژدې څخه خبروه.هغوی دولس زړونه ، مينه او محبت خپل کړی ؤ.دولس په زورئې خپل فکراومبارزه پرمخ بوتله،وروسته د قدرت اويا دمړيني په وخت کې، ترمړينی وروسته ئې په شخصي حسابو کي بهبودچاه نه دی

لیدلی.ولي؛ دوی خپل هرڅه دخپلي عقیدې په خاطر ترولسونواودهیواد دآزادئ اوپرمخ تګ په خاطردلاسه ورکړه.خوعقیده ئې بریالئ سوه.البته دغه روحیه په دغه ټولومشرانو کی په دې پراخه سیمه کې سره یوشانته وه.ګاندی او نهرویه هندوستان کې،جمال عبدالناصر،محمدسوکارنو،مارشال ټیټو،خان عبدالغفارخان ،خان عبدالولي خان اوعبدالصمد خان اڅکزی، ایوب خان اڅکزی قاضي عبدالعلي اخند زاده اونوردډیورنډدیولي هغه غاړه کي په پښتونستان کي او همدغسي په افغانستان کي بیا غازي امان الله خان ،محمود طرزي ، مولوي شهید عبالواسیع ، حاجي محمد انور خان اڅکزی، قاضي بهرام خان اڅکزی اونور سیاسي مشران،یه همدغه وخت کي دهیواد او خلکو رشتیني دوستان اودبریالئ مبارزی مشران وه .



**مهاتما ګاندي :** مهاتما ګاندی چی ټوله نړې ئې دنوم سره بلده ده،خپل بشپړه نوم ئې ګاندي - موهندوس کرم چند (مها تما ) دی.ده هغه مبارزې ځانګړی سبک او میتودونه درلودله. هغه لومړی دخلکودذهنو په روښانه کولو کي، خپل ځانګړی مهارت درلود. اوپه ډیرلږ وخت کې خپل آوازدنړئ ټولو خلکوته داستعمارپه مقابل کی ورساوه.ګاندي دهندوستان په غربي برخه کي دشهرپوربلدرپه سیمه کې دې دنیا ته سترګي روڼي کړې.اودلوړوزده کړو دپاره انګلیستان ته ولاړی،او بیرته دزده کړوڅخه خپل هیواد ته را ستون سو.او دسیاست وډګر ته لومړی په بمبی او بیا په جنوبي افریقا کې ورودانګل،سیاست

ئې را پيل کړ.په جنوبي افريقا کې دانګريزانو پر ظالمانه ،استعماري سياست سخت ګذارونه وکړه او انګريزان ئې اړايستله چې يولړ اصلاحات را ولي، چې دا دګاندي لومړۍ پيروزي وه. همدغه پيروزي ګاندی ته ډير شهرت ورکی.او دهمدغه پيروزۍ څخه وروسته ګاندی په ۱۹۲۱م کي بيرته هندوستان ته را وګرځيدی.اوپه هندوستان کی دده محبوبيت دومره ډيرسو،چی دکانګريس دګوند ټوله مشرتابه ئې ودته وروسپارل. ګاندی دخپل ځانګړي سياست په لرلو سره (عد م تشد د) په وسيله ئې دانګريزانواونړيوال استعمارپر ضد يوه لويه هنګامه جوړه کړه،همدغه لويه هنګامه ئې دسياست په ډګرکی برياليتوب ته ورسول.که څه هم انګريزانوخودسيمي په کچه دهندوستان آزادي نه منل اوهغوی دغه پراخه سيمه چيري دلاسه ورکوله نوئې دزوراو جبرڅخه هم کاراخيسته، په ۱۹۲۲م کال کې دشپږو کالو دپاره په دې نوم ګاندي بندی کی، چی ددولت پرضد توطعه کوي، ناآرامی منځته را ولی اونور. خو! هغه دزندان عمر تر دوکالو ډير تير نه کړی، ځکه چي په دباندي کي عام ولس دهغه دخوشي کولو غوښتنه کوله اوګاندی هم دغذانه خوړلواعتصاب ته دوام ورکړ،په شپو، شپو ئې بوک ارتال ته دوام ورکی.خو! انګريزانو دسخت مقاومت وروسته دخلکو ودغه حالت ته فکروکی اودائې دځان دبقااوپايښت دپاره بهتره وګڼل چی نورپردغه انقلاب دتسکين اوبه وښندي. نوئې دخپل يوڅه وخت دپايښت دپاره ګاندي بيرته دخلکو دخښم آرامولو په خاطر دزندانه څخه خوشي کړ.او څه وخت چی ګاندی بيرته دزندان څخه را خوشي کړل سو، نوسمدلاسه ئې تر پخوا په کلک عزم دکانګريس دګوند لارښوونه په ښه او زړه وره توګه پر مخ بوتله.خوانګريزانوپه بيا ، بيا سره هغه زندانی کاوه دلږ مودې دپاره او نړيوالو دهغه دآزادولوغوښتنه کوله،چی په همدغه توګه پرملي محبوبيت برسيره ئې نړيوال ملاتړهم ترلاسه کړی ؤ.دلته په هندوستان کي کورپه کوردګاندي او کانګريس دګوند مينه يا محبوبيت ډيريده؛ نو انګريزان په دې وپوهيدل: که چيري موږ هندوستان ته ديوه جوړسوی پلان له مخي په مسالمت اميزه توګه آزادي ورکړو،هنديان به موږ ددې سيمي داينده نفوذ څخه محرومه کړي،نو سمدلاسه دهند دآزادۍ يوپيشنهادپه ۱۹۴۶م کال کی وړاندی کړ.چي دهغه په نتيجه کی هندوستان خپله آزادي په ۱۹۴۷م کال کي اعلان کړه.اوانګريزانوهم

د خپلوشوموهد فونوپه خاطريونوى هيوادپاکستان جوړکړ،چي علي جناح ئې مشرکی اوترنن پوري هم دغربي استعمارګرانود قدم ځای دی.دپا کستان جوړيد نه دسيمی دخلکوغوښتنه نه وه.او ترنن ورځي پوري، بلوڅ، پښتون ، سيند او پنجاب سره جوړنه دي، بنګال خو خپله آزادي تر لاسه کړه.نو دغه وخت خدای بخښلی قاضي بهرام خان په هند او ځيني وختونه په کوټه کی اوسيږي. اودی خپله يادونه کوي چی موږ.اوخان عبدالصمد خان ډيرکوښښ وکی چی دهند اوپا کستان په جلاکيدوکی دي دپښتونستان موضوع هم تربحث لاندی ونيول سي. چي دغه يو ډيرښه وخت دپښتنو دهيواد دآزادئ کيدای سوای. خو ځينی په دې نظروه،چی يوځل دکافرڅخه جلاکيږ.وبيا مسلمان خودمسلمان سره جوړيږي.دغه يوه تيروتنه وه،چي دانګريزانوپه خوښه ځينوکړيوپه هوښيارانه اوغيري هوښياری سره پښتونستان دپاکستان سره يوځای کړ.اوستونزه ئې تراوسه پښتانه ګالي.




**جواهر لعل نهرو:**

پسله ګاندی جی څخه دآزادئ دلاري مبارزاوپه هندوستان کي داستعمارسره دمبارزې دلاری ټينګ سيا ست پوه ملګری د ملی اوډموکراټيکوآرمانوودترسره کولوپه خاطرد کلک عزم خاوندجواهرلعل نهروؤ.هغه هم دهندوستان د تاريخ يوه ځلانده څيره ده.

جواهرلعل نهروده ۱۸۸۹ څخه تر ۱۹۶۴م کال پوري ژونددرلود.نهروپه هندوستان اونړئ کي د ملي ډموکراټيکونظرياتودتقويې په خاطرډيري هلي ځلی کړي دی.په هند کې دانګريزی استعمارپه مقابل کي د ګاندی جی پرڅنګ دآزادئ ناره وکاميابئ ته ورسول.نهرودآزادئ په لاره کی سخت زحمتونه ګاللی

دي،هغه لس کاله دانګريزانودستم اوظلم په زندان کي، په پلاو،پلاوبندي سوی دی. خو! دخپل هوډ څخه نه دی اوښتی.نهرواودهغه کورنۍ دهند اونړۍ په کچه يوه منوره کورنۍ ګڼل کيږي.دهغه کورنۍ په هندکي دآزدۍ دلاري بنسټ ايښود ونکي دي.خپله نهرويوحقوق پوه ؤ،چی دانګريزانودزندانوپه وخت کی به ئې خپله د فاعيه په خپله جوړول.نهروپه نړيواله کچه يواديب اوښه ليکوال هم ؤ.چي نامتوکتاب ئې(نګاهي برتاريخ جهان)يانړۍ ته يوه کتنه په نوم خپورسوی دی. نهروپه زندان کي هم دخپلي کورنۍ پالنه کوله،چي هغه وخت ئې خپلي لوراندراګاندی ته دليکونوپه سلسله کي دآزادۍ دلاري تيوري،دتيری اواستعمارپرضد د مبارزې روحيه ورکول.چی نوموړي ليکونه ديوه کتاب په څيرخپارسوی هم دی.ولورته ليکونه ( نامه های پدربه دختر). نهروپسله هغه چی ګاندي جي ترورسو،دکانګريس دګوندمشري پرغاړه واخيسته.اودهندوستان دآزادۍ لومړی وزيريا صدرعظم ؤ.چي په هوښيارانه توګه ئې خپل ملت ته په بشپړه صداقت سره نوي تحولات راوستل.نهروته دخلکودخواڅخه پانديت يامعلم لقب هم ورکړل سوی دی.پسله هغه چي نهرودهند دآزادۍ څخه وروسته لو مړنی صدراعظم وټاکل سو، نو ئې دهندوستان په پراخه خاوره کي ، زاړه قوانين لغوه کړه او نوي قوانين ئې خپاره کړه. نهرو په نړيواله کچه دعدم انسلاک يا نه پيوستون دسياست پلوی ؤ.او په نړۍ کې همدغه نظريه تقويه کړه.

دنهرو سره په نړيواله کچه دعدم انسلاک پلويان خورا ډيروه، چي ډيرپيژندل سوي کسان ئې لکه : جمال عبدالناصر د مصرمشر، مارشال ټيټو ديو ګسلا ويا سو سياليست دولت مشر،غازي امان الله خان دافغانستان آزادي غوښتونکی پاچا اوداستقلال راهبر،همدغسي احمدسؤکارنودانډونيزيا دآزادۍ اواستقلال مشرؤچي د۱۹۰۱م کال څخه ئې تر ۱۹۷۰م کال پوري ژوند درلود.چي پسله هغه چی دهالينډ څخه ئې خپله آزادي ترلاسه کړه،داندونيزيالومړی وزيروټاکل سؤ.پورته کسان دزبيښاک په مقابل کي سترمشران وه.او دهمدغه مشرانو په بنسټ دعد م انسلاک يا نه پيوستون سياست په نړۍ کي پرمخ ولاړی.

عدم انسلاک يا نه پيوستون سازمان په نړيواله کچه په ۱۹۵۴م کال کي په کمبود ياکي اعلان سوه اوده دريمي نړۍ په هيوادونوکې اغيزي وښندلې.




**جمال عبدالناصر:** د مصردهیواد دآزادئ اوعد م انسلاک(نه پیوستون) دلاري مشرجمال عبدالناصرد۱۹۱۸م څخه تر ۱۹۷۰م کالونو پورې دژوند زمانه وه.


جمال عبدالناصرد مصردوهم ریس جمهوردی چي پسله محمد نجیب څخه ریس جمهور وټاکل سؤ.مخکي ترهغه دمحمد نجیب په وخت کې هم لوړپوړی چارواکی او د مصرد صدراعظم په توګه ئې دنده ترسره کوله.جمال عبدالناصر دمصر دسکندرې په ښار کي زیږیدلی دی.چي د مصردشاهي دولت دړنکولو وروسته واک ته ورسیدی،ناصربرسیره پر دې چی دعدم انسلاک دغړو یو فعاله غړی ؤ، هغه دافریقائي اتحادې مشرهم ؤ.چي دعربواوافریقائي هیواد ویووالی ئې ټینګ کړی ؤ.ناصر دخپلوعقیدوله مخي برسیره پردې چي د هرنوع زبیښاک اوښکیلاک ضد مبارزؤ؛ هغه دصهونیزم اسرائیلي اشغالګرو پرضد هم خپلی نه ستړي کیدونکي مبارزې مخته بیولې. ناصر دآزاد اونوي فکرخاوند ؤ.اوهمدغسي دلاتیني امریکا دآزادئ دلاري دنامتو مبارز چیګوارا سره ئې هم ناسته اوولاړه درلودله.اودافریقائي هغه هیوادوچي تر ښکیلاک اوزبیښاک لاندي ئې ژوند کاوه. دهغوي دآزادئ دپاره ئې په یوه سنګر کي مبارزه هم کوله. ناصر په ۱۹۵۰ – ۱۹۶۰ کلونوکي دافریقائي هیوادونوګډه ټولنه جوړه کړه. ترڅودافریقائي هیوادونواوعربي هیوادونو ترمنځ ګډی اړیکی را منځته سي.

په هدغه نیکو کارونو سره ئې په نړئ کې شهرت پیداکړ.اولوړنوم ئې ترلاسه کی. ناصر په کال ۱۹۷۰م کال کی په قاهره کي مړسو. روح دې ښادوي.

يادونه : دافريقا دآزادئ دلاري نامتو مبارز پاتريس لوممبا وو. چي دکانګو صدراعظم سو.چي وروسته بيا چومبې د(C.I.A)په مرسته او تحريک کودتا ورته وکړه.اوهغه ئې مړکی،خپله صدراعظم سو.چي چومبې ته بياموبوتوکودتا وکړه.اوهغه ئې ايسته کی،خپله صدراعظم سو.







خان عبدالغفار خان : چي دنوم سره ئې ټوله پښتانه اوافغانان پيژندلګلوي لري.



## خان عبد ا لغفار خان څوک وو؟

**خان عبدالغفارخان** *Khan Abdul Ghaffar Khan* ) چې په څوستاينونومونو لکه: *فخرې افغان* ، *باچا خان* ، *بادشاه خان* اودسرحدګاندي هم ياد شوی دی. د پيښورپه هشنغرسيمه د اتمانزوپه کلي کې ، دخان بهرام خان محمدزي په کور کې په کال( ۱۸۹۰م ـ ۲۰ جنوري کي زيږيدلی دی او په ۱۹۸۸م کي وفات


سؤ.) دی دعدم تشدد په موخه د خدايي خدمتگاریوه ټولنه جوړه کړه او د انگرېزانو په مقابل کې دوخت دنوموليي هندي سیاستوال مهاتما گاندي سره یو ځای د انگرېزانو د اشغال پروړاندې مبارزه پیل کړه.

عبدالغفار خان د ترنګزو دحاجی فضل واحد تارڼ کاکړ په ملگرتیا یې د استعمار په ضد د افغانانو دراویښولو او ملي حکومت د جوړولو له پاره تاریخي کارنامی په سررسولی دی. خان عبدالغفارخان په ( ۱۹۲۰ م = ۱۲۶۸ ش) کې د خلافت د تحریک په بهیر کې له یو زیات شمیر خلکو سره کابل ته هجرت وکړ او د بیرته تلوپه وخت کې د انجمن اصلاح الافاغنه ټولنه جوړه کړه. دغه ټولنه په ( ۱۹۲۹ م= ۱۳۰۷ ش) کې دخدایی خدمتگارانوپه ټولنه بدله شوه،خان عبدالغفارخان په ( ۱۹۳۱ م= ۱۳۰۹ هـ.ش) کال کې د کانگرس په ملگرتیا د هند د نیمی وچی د ازادولو له پاره زیاتی مبارزې وکړې و له ۱۹۳۱ را په دیخوا د استعمار سره د مخالفت په جرم په اوه کاله بند محکوم شو.

فخرافغان خان عبدالغفار خان د نړۍ په دوهم عمومي جنگ کې د انگرېزانو سره دعدم تعاون په جرم د کانگرس د نورو مشرانو سره دوه کاله په زندان کې ؤ.اود( ۱۹۴۷ م) کال راپه دیخوا دپښتنوملی خپلواکۍ دغوښتلو په جرم پاکستاني حکومتونود استعماردلاسه په وار، وار جیل ته لیږل شوی دی.
خان عبدالغفارخان د زوالفقارعلی بهټودحکومت په وخت کې دنیشنل عوامي پارټي د صوبایي حکومت په بلنه په ( ۱۹۷۰ م) کې د کابل څخه پیښو ته ولاړ اوکله چې دهغه حکومت ړنگ شو بیرته افغانستان ته راغی اوتر( ۱۹۸۰ م) کال پورې کله په کابل اوکله په ننگرهارکې اوسیده.دیادولووړبولم کله چی به خان عبدالغفارخان افغانستان ته راغلی نوبیا به که چیرې کندهارته راغلی نو دقاضي  بهرام خان اڅکزي او محمد انورخان اڅکزي سره به ئې لیدنه حتمی کول. داپه دې چې دوی مخکی هم دکانگریس دگوند دمبارزو په وخت کي یودبله سره پیژندل.نودژوندتروروستیووختونوپورې یودبله پرسیاسي اړیکوبرسیره دشناخت اوملگرتیا ویاړونه ئې هم یودبله سره درلودله ، ددې علت دا هم کیدای سي چې دوی دخپل وخت تراخیره د ملی مبارزې دلاري نامتواودعمل دمیدان سیاسی مبارزین وه.فخرافغان دافغانانو،د ملی آزادي غوښتونکواوطنپالونکولوی لاربنوداو (بابا) وو.اوحضوریې دافغانستان اوسیمې دازادیخواهانو لګیدلی مشعل وو ده د جنرال ضیاءالحق دحکومت په دوره کې سختی ورځی او شپی تیرولی څوناروغه شواودشپږومیاشتود کوما دحالتو دورپیښیدلواودمغزفلجیدولووروسته په کال( ۱۳۶۶ ش) ددلوي په اوله د چهارشنبی د سهارپه څلوروبجووپه پنځه

ځلوېښت دقيقود پېښورپه ليډی ريډنګ روغتون کې وفات شو.اوجنازه يې د وصيت سره سم دجمعی په ورځ د ( ۱۳۶۶ ش) کال ددلوي په دريمه ( ۱۹۸۹ م) د جنوری په شلمه په ډېره درناوی دننګرهارپه مرکزجلال اباد ښارکې خاورو ته وسپارله شوه.دخان عبدالغفارخان مينه دافغانستان سره ترحد ډېره وه، هغه افغانستان خپله خاوره ګڼل اوپا کستان ئې دپردويوهيوادونودسياسی مقصداو غرض يوه جوړه سوې دسيسه ګڼل.نو دهغه دغه وصيت ددې معنالري چې خان عبدالغفارخان په ريښتياهم يوافغان اوفخرافغان ګڼلای سو.جناره ئې دډاکټر نجيب دحکومت په وخت کي افغانستان ته راوړل سوه.اودخلکو په ګڼه ګوڼه اوپوره احترام سره په ننګرهارکی خاورو ته وسپارل سوه.«روح دې ښاد وي».

**خان عبدالصمد خان اڅکزی**





**په پورته عکس کي دکوټي،پيښورملي مبارزين ليدل کيږي:عبدالغفارخان عبدالصمد خان اڅکزی او جعفرخان اڅکزی.**

**دخان عبدالصمد خان اڅکزی لنډه پيژندنه:**

خان عبدالصمدخان چی دسیمي یو پیژندل سوی سیاسي او دآزادۍ دلاري وتلی مبارزۀ،یودهغو کسانودجملې څخه ۀ.چی دمرحوم قاضي بهرام خان سره ئې ډيري نژدې اړيکي درلودلې.اودسیمي په کچه به ئې یودبله صلاح،مشورې سره کولې اود ګډوهد فونوپه خاطربه ئې ګډي مبارزې،ناسته ولاړه سیاسي مجلسونه اوددوستی دوستانه اړيکي سره پاللې،خان عبدالصمدخان برسیره پردې چي دمرحوم بهرام خانه سره ئې دقوم اواتنیکي اړيکويوه اوږده تاریخي پيژندلګلوي درلودله، هغه دخیال اوفکرپه سبب هم د مرحوم بهرام خان ډیرنژدې دوست ۀ. ځکه ددوی ستونزه یوه وه.اودواړودخپل سیاسي اوټولنیزنفوذ په وسیله یود بله سره دوستي اوهمکاری درلودله.دخان صاحب دقیقه پيژندنه ضرورده، ځکه دهغه دمبارزوپه درشل کی موږ.کولای سوچي د قاضي صاحب دسیاسي ژوند جاج واخلو.نودخان عبدالصمد خان په باب دغه لیکنه دمحترم بختیاني صاحب ډیره دقیقه ده اوموږ ئې دلته دراوړلوضرورت ولیدی.په نوموړې لیکنه کي دخان صاحب پيژندنه دکرونو لوژۍ له مخی سوې ده.ما نوموړی مضمون دګندهارا (Gandhara) دويب پاڼي څخه را اخیستی دی.

**څېړنوال عبدالرحیم بختاني خد متګا ر:** د خان عبدالصمد خان اڅکزی د ژوند، ادبي او سیاسي خدمتونوکرونولوژی.

۱۹۰۷

ـ خان عبدالصمد خان اڅکزی په ۱۹۰۷ز کال د جولای پر اوومه نېټه د پښين د ګلستان په بازارپورې مربوط په عنایت الله کاریزنوې کلي کې زېږېدلې دی . دی د نورمحمد خان زوی د سلطان محمد خان لمسۍ د عنایت الله خان کړوسۍ د بوستان خان کوسۍ او په قبیلوي لحاظ اڅکزی، په اڅکزو کې ګوجن زی په ګوجن زوکې حمیدزی په حمیدزو کې جلیزی او په جلیزو کې برخورد ارخان له تاریخي کاله څخه دی . دغه دوران دستراحمد شاه بابا یعني دنوي افغانستان دخښته ایښونکي پاچاه دوران دی او داحمدشاه په در بار کي برخوردار خان لوی نوم در لود. او په ټولو جنګونو کي داحمد شاه بابا په څنګ کی ولاړ ۀ.

۱۹۱۷

ـ په ۱۹۱۷ز کال کې د خان عبدالصمد خان پلارنورمحمد خان په حق ورسید. د خان بابا روزنه خپلې مورچې (دلبره) نومیده پر خپله غاړه واخیسته . خان عبدالصمد خان په کوچنیوالي او ځوانئ کې د خپل وخت متداول علوم ولوستل او د ښوونځي تحصیلات یې هم تر اتم ټولګي پورې رسولي وو.

۱۹۱۹

ـ د پلار مړینې نه وروسته یې ماما محمد علی خان سرپرستې پیل کړه . د دیارلس کالوو، چې په ۱۹۱۹ز کال کې د ګلستان په مډل سکول کې په دریم ټولګي کې داخل کړی شو، په قومي کاردغومره پوهیده چې د خوارو خلکو خدمت به یې کاوه .

ـ په ۱۹۱۹ز کال کې خان عبدالصمد خان درسونه ویل او ماشوم و. په همدې وخت د افغانستان خپلواکۍ ترلاسه شوه او اعلیحضرت غازی امان الله خان پاچا شو . خان عبدالصمد خان په ماشومتوب کې د افغانستان د خپلواکۍ هغه جګړې په خپلو سترګو لیدلي دی ، چې د دوی په سیمو کې روانې وې او دده په ذهن او ژوند یې اثر پاتي شوی دی .

ـ په ۱۹۱۹ز کال کې غازي امان الله خان د افغانستان د آزادۍ او استقلال اعلان وکړ، او د افغان او انګلیس درېمه جګړه پیل شوه . دې جګړې د خان شهید پر ژوند ډیر نقش پریښود.

۱۹۲۰

ـ په ۱۹۲۰ز کال خان عبدالصمد خان د دیارلسو کالو ماشوم ؤ.او د ګلستان د میانځی مډل سکول د دریم تولګي زده کوونکي و .

۱۹۲۱

خان عبدالصمد خان چې په څلورم ټولګې کې وو په ټول ولایت کې لومړی شو او د میاشتې د ولس کلدارې وظیفه یې وګټله ، نو هغه یې خپل لوی استاد ته ورکوله ، چې هغه پر ناچارو زده کوونکو لګوله .

۱۹۲٤

ـ خان شهيد په ۱۹۲٤ز كال كې چې اتم ټولګي ته ورسيد نو تعليم يې بس كړ ، كه څه هم چې د كورنۍ غړواو استادانو ډير وهڅاوه چې لوړې زده كړې وكړي ، ځكه دی خورالايق زده كوونكی و، مګر ده ونه منله، لوړ تعليم د استعمار په انګريزۍ ژبه كې ورته د ښكيلاك په لمن كې پرېوتل ښكاره شول او ځان يې پر ځمكوالۍ او د ميوو په سوداګرۍ بوخت كړ .

۱۹۲٥

ـ په دې كال كې خان عبدالصمد خان د تجارت لپاره سند او پنجاب ته ډير سفرونه كول، له همدې كبله انګريزې ژبه يې ښه زده كړه ، په دې مهال ئې دوخت د پوهانو كتابونه ولوستل او وايي چې دلته ايله د لوستولواو پوهنې په خوند پوه شوم .

۱۹۲۷

ـ په ۱۹۲۷ز كال كې خان شهيد د خپلو ملګرو، عبدالسلام خان ، محمد ايوب خان او محمد عيسى خان سره له كوټې څخه ډهلي ته ولاړل او هلته خان شهيد او ملګري يې په ډيره علاقمندي سياسي جريانات تعقيبول او د كانګرس په جلسو او ميټنګونو كې يې ګډون كاوه . ده هلته د هندوستان سياست دقيقه مطالعه را پيل كړه . دا سفر د خان شهيد سياسي تفكر نويو افقونو ته رهنمايي كړ .

ـ خان عبدالصمد خان د ټولنې او كتاب د مطالعې ترڅنګ، د خپلې سياسي مبارزې تګلورى او تګلاره هغه وخت وټاكل ، كله چې ده هند ته په ۱۹۲۷ـ۱۹۳۱ كلونو كې سفرونه وكړلو له لويو مبارزينو لكه ګاندي ، جواهر لعل نهرو او باچا خان سره يې ليده كاته وشول او د كانګرس په تودوغونډو كې يې ګډون وكړ. خان شهيد په دغو سفرونو كې د مبارزې له ډېرو مهمو مسايلو سره آشنا شو او دوه مهمو ټكوته يې پام وشو ، لومړى دا چې انګريزان د پښتنو او بلوڅو له اختلاف څخه ګټه اخلي. دويم د پښتنو د ځپلو او كمزوري كولو لپاره يې هڅوى په څو برخو ويشلي دي . خان شهيد له دغو سفرونو وروسته خپله تګلاره وټاكله .

ـ خان عبدالصمد خان په ۱۹۲۷ز كال كې د هندوستان پلازمينې ډهلې ته سفر وكړ او هلته يې له نږدې د انګريزانو دسيسې وليدې او د هندوستان د حالاتو ژوره مطالعه يې وكړ .

ـ د خان عبدالصمد خان سياسي ژوند د ۱۹۲۷ز کال څخه پيل کيږي . په دې مهال په افغانستان کې داخلي اړدوړ جوړ شو ، عبدالصمد خان يو شمير رضا کاران راټول کړل او د امان الله خان سره خپل ملاتړ اعلان يې وکړ ، خو انګليسانو هغه بندي کړ .

ـ په همدغه کال په کوټه بلوچستان کې د عبدالصمد خان او محمد ايوب خان له خوا د انجمن وطن د ګوند پيلامه کښيښودل شوه او بيا د دغه ګوند رابطه ديوې خوا په هند کې له کانګرس سره د بلې خوا په پښتونخوا کې د خدايي خدمتګارانو سره وتړل شوه . د دغه انجمن غړو ډير زيار ويوست چې په افغانستان کې د امان الله خان ملاتړ وکړي، خو د دغه ملاتړ ټينګ مخنيوي وشو . په دغه مخنيوی کې د کويټی د سې ای ډی د دفتر معاون عين الدين خان پوپلزي چې د امان الله خان په ماتيدلو کې ده ته د خان بهادر لقب ورکول شوی و ، لويه برخه درلوده .

۱۹۲۸

ـ په ۱۹۲۸ز کال کې ، په هغه مهال چې د افغانستان د ترقي غوښتونکي باچا قدرت د استعمار د پټو دسيسو او ښکاره لاسوهنو تر خطر لاندې راغی، ځوان عبدالصمد خان د سياسي مبارزې ډګر ته راووت . په دې توګه دده سياسي عملي ژوند له هغه وخت نه پيل شو، چې په افغانستان کې د کورنی اغتشاش اوربل شوی وو ، ځکه نو خان عبدالصمد خان وغوښتل چې له ډيرو رضا کارانو سره د افغانستان په نجات کې عملاً برخه واخلي . کله چې انګريزان پرې خبر شول ، خان يې له ملګرو سره بندی کړ . بيا انګريزانو وغوښتل چې خان په ضمانت خوشي کړي ، خو ده له ضمانت ورکولو څخه سخت انکار وکړ او نه مياشتي يې له مشقت سره بند تير کړ .

ـ غازی امان الله خان په ۱۹۲۸ز کال کې د چمن او کوټې پرلار هند او اروپا په دوره ولاړ . خان شهيد او په زرګونه پښتانه چمن ته د هغه هر کلي ته ورغلي و ، نور پر قلعه عبدالله خان، ګلستان بوستان او کوټې پښتانه ورته ولاړ و ه. ددې ورځې او په دې ورځ له پښتنو سره د غازي امان الله خان ښې وضعې ډير زيات نقش جوړ کړ ، په دې اړه خان شهيد وايي : ((د غازي امان الله خان مينې او سرېتوب پر پښتنو ډير بريد کړی و ، په مياشتو خو به دغه خبرې کيدی تردې چې لاتر اوسه خلک ددغې ورځې خبرې ډېرې په خوند او مينه کوی)) .

خو په دې ورځ يودوه پيښنو پرخان شهيد داسې نقش جوړکړو، چې دده د ژوند دلارې په ټاکلو اورغولو کې يې ډېر لاس دی .

۱۹۲۹

ـ په ۱۹۲۹ز کال کې خان عبدالصمد خان خپل سياسي ملګري د بلوچستان د وطن ګوند د ډلې مشر خان محمد ايوب خان د خپلو څو تنو ملګرو سره سياسي مهاجرينو په حيث د مبارزې د دوام په هڅه لومړی د توبی مرکز ته راغلل ، د مرکزي تشکيل د مهاجرينو د کمپونو د جوړولو او سختو جنګونو وروسته افغانستان ته راغلل او په بلوچستان کې د وطن ګوند د ډلې په ځای د ورور پښتون ډله جوړه شوه .

ـ په ۱۹۲۹ز کال کې د غازی امان الله خان حکومت سقوط وکړ او امان الله خان کابل پرېښودلو او قندهار ته ولاړ په دې حالاتو کې محکوم افغان د غازی امان الله خان پر لور و ، او دده په لښکر کې ګډون په حق کې و . پيرانو ، ملايانو ددې مخنيوی کاوه ، ماړه خلک له انګريزانو سره تړل شوی و . په دې اړه خان شهيد وايي ((د خلکو په زياته د پوهو ځوانانو زړه د غازي امان الله خان سره و)) .

ـ په ۱۹۲۹ز کال چې خدايي خدمتګارانو او د هند ملی کانګرس ګوند د انګريزانو سره د عدم تعاون اعلان وکړ، خان عبدالصمد خان هم له خپلو ملګرو سره په هغه کې برخه واخستله . د انګريزانو استعماري حکومت هم ، لکه څنګه چې د خدايي خدمتګارانو او کانګرس مشران د هغه اعلان په اثر ونيول ، عبدالصمد خان او دده ملګري هم بنديان کړل . خان عبدلصمد خان او خان عبدالغفار خان تر دريو دريو کلونو وروسته له دې قيد څخه آزاد شول .

ـ په ۱۹۲۹ز کال کې د کانګرس کلنۍ ناسته لاهور کې وشوه، خان عبدالصمد خان په دې غونډه کې برخه واخستل او ځينو کسانو لکه صنوبر حسين کاکاجي اوډاکتر سيف الدين کچلوسره ليدنه کتنه وشوه. ددې نه علاوه (نو جوان بهارت سبها) او(کرتي کسان تحريک) ځينې کسان يې هم وليدل .

۱۹۳۰

ـ خان عبدالصمد خان او د هغه ملګري ئې په ۱۹۳۰ز کال انګريزانو د وطن د آزادئ په الزام کې زندان ته وغورځولو .

په ۱۹۳۰ز کال په پسرلي کې د خان عبدالصمد خان زوی پيدا شو ، په دې ماشوم سيف الدين نوم کيښود .

ـ خان عبدالصمد خان په ۱۹۳۰ز کال کې د وسلو استعمال بند کړ او د (عدم تشدد)) سياست په عملي ډول پيل کړ، په دې اړه دی ليکي : (( په زرګونو کارتوس او ګولۍ مې وچلولې د ټوپک ويشتل چې په پښتنو کې تل د وياړ کار بلل شوی دی ، ښه مې زده کړ . دا د خوند او ګټې ساتيرې نژدې لس کاله پس په کال ۱۹۳۰ کې هغه وخت را څخه پاتې شو چې ما قامې کار پيل کړ هغه هم د زغم او ټينګار (عدم تشدد) يا بيله زورزياتي په وسله او خپلې ټولې وسلې مې لرې کړې .

ـ د خان عبدالصمد خان په سياسي ملګرو کې ديني عالمان هم شامل وو، په دې اړه هغه داسي ليکي: ((په کال ۱۹۳۰ کې چې مونږ قومي کار پيل کاوه، ملا ايوب شاه په ګلستان کې ملا وو، او د شاوخوا ټولو کلو په ملايانو کې يوازې او تنها مولا وو ، چې زمونږ ملګري شو .

ـ په ۱۹۳۰ز کال کې د هند کانګرس ګوند د انګريزانو په وړاندې د عدم تعاون مبارزه اعلان کړه، په دې لړ کې خان عبدالصمد خان هم د خپلو ګوندي ملګرو سره دغه شعار تاييد کړ .

۱۹۳۱

ـ په ۱۹۳۱ز کال خان عبدالصمد خان د يو هيئت په مشرتابه کې د هندي آزادي غوښتونکو په ګردي ميز کانفرانس کې د ګډون لپاره بمبئ ته لاړ، نو برتانوی مقاماتو دغه تصديق وکړو چې دغه پښتون مشردراتلونکي لپاره ډيرې لوی نقشي په ذهن کې لري، نودهغه د بيرته راستنيد و په وخت کې يې هغه ونيو او زندان ته يې وغورځول .

ـ د ۱۹۳۰ او ۱۹۳۱ کلونه په شمالي پښتونخوا او جنوبې پښتونخوا کې د انګريزانود فشار ډير سخت کلونه وو، په ۱۹۳۰ز کال کې د قصه خواني دبازار فاجعه منځ ته راغله چې ډير پښتانه پکې شهيدان شول . په ۱۹۳۱ د

پښتنو او بلوڅو سياسي مبارزانو اورو شنفکرانو د کوټي په هاى سکول کې په ګډه يوه غونډه جوړه کړه او د ملکي انجمن په نامه يې تشکيل منځ ته راوړ، چې وروسته د انجمن وطن ګوند هم په همدغه بنياد منځ ته راغي ، د دغه وخت پښتنو او روشنفکرانو څخه خان عبدالصمد خان او د بلوڅو له روشنفکرانو څخه مير يوسف على مګسى مصلحتاً دې فيصلي ته ورسيدل چې سياسي ګوندونه او د سياسي اخبارونو له لارې د انګريزانو پر ضد سياسي مبارزه پيل کړي ، چې پر همدغه اساس وروسته خان شهيد استقلال اخبار او انجمن وطن ګوند تاسيس کړ، او مير يوسف على مګسى البلوچ اخبار او اتحاد بلوچان ګوند تاسيس کړ، خو په دغو دواړو تبليغاتي او ګوندي فعاليتونو کې پښتانه او بلوڅ يو ډول فعال وه .

ـ خان عبدالصمد خان د ۱۹۳۱ز کال نه وروسته ډيلي ته څو سفرونه وکړل او د منظمې سياسي مبارزې لپاره يې ځان چمتو کړ .

۱۹۳۲

ـ د ۱۹۳۲ز کال په دسمبر کې د يعقوب آباد په ښار کې د بلوچستان د مختلفو سيمو د استازو لويه جرګه جوړه شوه . جرګې په اتفاق سره د بلوچستان د پښتنو مشرخان عبدالصمد خان اڅکزى د رئيس په توګه وټاکه . . . د جرګې تعليمي او تنويري هدفونو د خان عبدالصمد خان شخصى نظريات هم منعکس کړل ، دده يوه نظريه دا وه چې د بلوچستان د پښتنو د وروسته والى او بيرته پاتې والى او بد وضعيت اساسي علت دا دى چې دلته په بلوچستان کې په ښوونځيو کې تدريس په مورنۍ ژبه نه دى. بلکې استعمار خپله ژبه په کار اچولي دى . خان عبدالصمد خان ددې کلک طرفداروچې په ښوونځيو کې دى تعليم په مورنۍ ژبه وى .

۱۹۳۳

ـ د ۱۹۳۳ز کال په دسمبر کې شهزاده احمديار خان د قلات خان شو، څرنګه چې د هغه سره د بلوڅو د سياسي مبارزانو ملګري موجوده وه ، نو په همدغه سياست د آل انډيا بلوچ کنفرانس په جاکوب آباد کې جوړ شو چې فيصلو يې انګريزانو په تشويش کې واچول اوکوښښ ئې وکړ چې په دغه وخت کې د بلوڅو او پښتنو ترمنځ اختلافات راولى ، خو د خان عبدالصمد خان په تدبير نه يوازې پښتنو د بلوڅو سره زړه بداوي ونه کړه ، بلکې د دغه کنفرانس د پريکړو ملاتړ يې اعلان کړ .

- خان عبدالصمد خان د بلوچستان د پښتنو په باره کې د ((پښتونستان او بلوچستان)) تر سرليک لاندې داسې ليکي : ((زه د بلوچستان په پښتنو کې پيدا شوی او لوی شوي يم او دا قدرتي خبره ده چې زما په سياسي ژوند او مقاصدو کې د دوی ضروريات او مسايل پيښ دي . ما په سر کې دا محسوسه کړه ، چې د هغوي د عقب مانده گی او زمونږ د بې وسۍ ترټولو لويه وجه د زده کړې ناقصه طريقه ده ، په دې چې دا د دوی په مورنۍ ژبه کې نه ورکول کيږي . ددې په نظر کې نيولو سره په ۱۹۳۳ز کال کې په جيکب آباد کې د بلوچستان کانفرانس پر موقع چې ددې سيمې په تاريخ کې لومړۍ ملی غونډه ده دا قرار داد منظور کړی شو چې ابتدايي زده کړې د زده کوونکو په مورنۍ ژبې ورکول کيږي)) .

- په همدې کال کې د استقلال اخبار د لومړی ځل لپاره د عزيز پريس په نوم مطبعه کې چاپ شو. د اخبار مديريت د کراچي د يو شخصي کالج استاد قدوس نعمانی ته وسپارل شوه . په اخبار کې په اردو او پښتو مقالې خپريدې او خان عبدالصمد خان پخپله په پښتو دغه اخبار ته مقالې ليکلې .

۱۹۳٤

- په ۱۹۳٤ز کال کې خان شهيد د بلوڅانو په طرفداري خپل آواز اوچت کړ او انگريزانو ده ته ډيرې ستونزې پيدا کړې او تر ۱۹۳٦ز کاله پورې په زندان کې وساتل شو .

- د اتحاد بلوچان د گوند سکرتر جنرال عبدالعزيز کرد، چې د لاهور په اخبارونو کې يې د بلوچستان د بد حالت په باب خپرونې کولې د ۱۹۳٤ز کال په جنوري کې د قلات د پوليټيکل اجنټ لخوا دعوه پرې دايره شوه . دغه ملي شخصيت يې په درې کاله با مشقته قيد محکوم کړ . د دغه عمل پر ضد په همدغه کال خان عبدالصمد خان په کراچۍ کې غونډې او مټينگونه جوړ کړل او دا عمل يې په شدت وغندې اوله دې سره خان عبدالصمد خان هم بندي شو .

۱۹۳٥

- د ۱۹۳٥ز کال د می پر ۳۱مه نيټه د کوټې تاريخي زلزله وشوه ، په زرگونه خلک مړه شول د مالونو تاوانونه خلکو ته ورسيدل او په دې کې د خان

شهید ملګری او دوست د بلوخ ملي تحریک مشر میر یوسف علي خان هم مړ شو ، چې پښتون او بلوخ ملي تحریکونو ته ستره ضایعه وه.

ـ په ۱۹۳۵ز کال کې د خان عبدالصمد خان په بلنه خان عبدالغفار خان بلوچستان ته سفر وکړ. پاچا خان ددې سفر په اړه داسي لیکي : ((د ډیرې مودې زمونږ د بلوچستان د رونړو دا خواهش و ، چې زه دې بلوچستان ته لاړ شم ، ما ډیر ځله کوشش وکړو خو حکومت نه پریښودم په دغه ورځو کې عبدالصمد خان آڅکزی چې د بلوچستان د پښتنو ربښتینی خدمتګار او رهنما دی په ما زور ولګوو چې زه بلوچستان ته ولاړ شم . کله چې بلوچستان ته ورسیدو، عبدالصمد خان اڅکزی سټیشن ته راغلی و، سټیشن ته نور ډیر هندوان او مسلمانان راغلي وو. ما یو څو ورځې کوټه کې تیري کړې او بیا د کوټې نه فورټ سنډ مې، قلعه عبدالله، ګلستان، چمن، لورلایې او د بلوچستان د نورو ځایونو دوره مې وکړه .

۱۹۳۶

ـ خان عبدالصمد خان کله چې په ۱۹۳۶ز کال کې د دریو کالو نه وروسته د قیدنه آزاد شو د خپل ګوند انجمن وطن د بنسټ د قوی ساتلو په منظور د آل انډیا کانګرس سره ابتدایی روابط قایم کړل . او د فعالیت د پراختیا له پاره یې یوه مطبعه تاسیس کړه چې عزیز پریس یې نوم کښیښود، او دا نوم یې هم د بلوڅانو د نهضت د یوه رهبر عبدالعزیز کرد سره وتړل او هم یې د استقلال په نامه یو اخبار راویوست .

ـ د ۱۹۳۶ز کال د مارچ په ۲۵ مه کله چې خان شهید یوې محکمې ته وړاندې شو ، ده د خپل بیان په ترڅ کې وویل چې زما د ژوند څلور موخې دي : ۱ـ د اسلامي تعلیم خپرونه . ۲ـ د معاصرو پوهنو دو دول ، ۳ـ د صداقت اظهار ، ٤ـ د خپل ملک لپاره بهترین حکومت .

ـ په ۱۹۳۶ز کال کې کله چې خان شهید له زندان څخه راووت، نو په عملي توګه د انجمن وطن ګوند فعال کیدو ته اقدام وکړ. ده خپل ملګري راټول کړل او د انجمن وطن په نامه یې سیاسي ګوند تاسیس کړ او د استقلال اخبار یې هم د هغه نشراتي اورګان وټاکل . د انجمن وطن د ګوند د موسسینو په لومړی غونډه کې خان شهید خان عبدالصمد خان د ګوند په رهبری وټاکل شو .

ـ په ۱۹۳٦ز کال کې په جنوبي پښتونخوا ((برټش بلوچستان)) کې د اخبارونو او مطبوعاتو قانون د خان عبدالصمد خان او د هغه د ملګرو د هلو ځلو په نتيجه کې جوړ شو .

ـ په ۱۹۳٦ز کال کې د انګريزانو په غوښتنه په چمن کې د افغانستان او انګريزي بلوچستان ګډه جرګه جوړه شوه . خان شهيد د دواړو خواوو د جرګو په پرتله کې کيسه کوی، چې يوه ورځ به جرګه د افغانستان په خيمو کې او يوه ورځ به د انګريزانو تر واک لاندې بلوچستان کې کيده . په يوه پيښه کې د بلوچستان لوري يو کس د کړيو او زولنو سره جرګې ته راووست، افغاني لوري وويل دی هم زمونږ پښتون دی او مونږ د پښتنو بې عزتي نه شو زغملای نو بايد کړی او زولنی تري لري شي ، که هر څومره د بلوچستان لوري ټينګار وکړ چې دا سړی خطرناک دی وبه تښتي خو افغاني لوري ونه منله او له جرګې څخه د وتو ګواښ وکړ او بالاخره انګريزان مجبور شول له هغه څخه کړی او زولنې لرې کړې.

ـ د ۱۹۳٦ز کال په مي کې د قلات د تعليمي سکرتر مير محمد فاضل په مشرۍ د انجمن اسلاميه قلات ټولنه رامنځته شوه . د دغه جمعيت صدر د بلوڅو ملی شاعر مير ګل خان نصير وټاکل شو او د ملک عبدالرحيم خواجه قتيل فعاليت هم ورسره ملګری شو . د مسلم ليګ په لاربښونه دغه جمعيت ډيرو خطرناکو لارو ته ور برابر شو . څو پښتانه او بلوڅ روشنفکران چې يو د بل په ژبه پوه وه ډير ژر سره په مصلحت کې شوه او خان عبدالصمد خان ، ميرګل خان نصير بلوڅ چې د انجمن سره يو وخت فعال ملګری وو ، دې ته متوجه کړل شو چې د دغه خطرناکې لارې څخه ځان رابيل کړي .

۱۹۳۷

ـ خان عبدالصمد خان په ۱۹۳۷ز کال کې له بلوخ مشرانو سره خپل ملګرتوب لاپياوړی کړ .

ـ انجمن وطن ګوند چې د ۱۹۳٦ز کال په پای کې نيم بنده فعاليت پيل کړی و ، په ۱۹۳۷ز کال کې هم لاپوره فعاله نه وه . خو په ۱۹۳۸ز کال کې د هندوستان سياسي ټولنې په دې قانع کړي، چې دا واقعاً يوفعال سياسي ګونددی.

۱۹۳۸

ـ په ۱۹۳۸ز کال د خان عبدالصمد خان په بلنه خان عبدالغفار خان بلوچستان ته راغی او هغه د خان شهید سره یو ځای په جنوبي پښتونخوا او بلوچستان کې د خلکو او سیاسي رهبرانو سره لیدني کتني وکړلې او د باچا خان دغه سفر د راتلونکي لپاره ډیرې لویې نتیجې درلودې .

ـ ((استقلال)) د هغه اونیزې نوم دی چې په سویلي پښتونخوا کې د انجمن وطن ارګان و . دا اونیزه د خان عبدالصمد خان لخوا په ۱۹۳۸ز کال کې په پښتو او اردو ژبو له چاپه ووت. د استقلال اونیزه له ۱۹۳۸ ز کال څخه بیا تر ۱۹٤۷ز کاله پورې خپرونې کړي دي .

ـ خان عبدالصمد خان د ۱۹۳۸ز کال د جنورئ په میاشت کې د باچا خان په بلنه د شمالي پښتونخوا دوره وکړه او ښه په تفصیل سره یې دلته سیاسي حالات وکتل ، ورپسی بل کال ۱۹۳۹کې عبدالصمد خان باچا خان ته د جنوبي پښتونخوا د دورې بلنه ورکړه او ښه په تفصیل سره یې دلته سیاسي حالات وکتل .

۱۹۳۹

ـ د ۱۹۳۹ز کال د جون د میاشتي په ۱٦ او ۱۷ مه کې د انجمن وطن د ګوند لومړی کالنې غونډه وشوه . په دې غونډه کې خان عبدالصمد خان وینا وکړه او د ګوند د هدفونو، سیاست او تنظیم پر ډیرو اړخونو رڼا واچوله .

ـ په ۱۹۳۹ز کال کې نړیواله جګړه پیل شوه . انجمن وطن پر خپل بنیاد د انګریزانو سره د عدم تعاون پالیسي جوړه کړه .

ـ په ۱۹۳۹ز کال کې چې مهاتما ګاندي شمالي پښتونخوا ته مسافرت وکړ، او باچا خان او ډاکتر خان صاحب یې میلمه پالان وو، نو خان شهید هم اراده وکړه چې هلته ور شي ، ده ته د باچا خان لیک هم رسیدلي و، خو د انګریزانو په اداره کې د دغې سفر له پاره تحمل نه و، ځکه په بیلوبیلو پلمو یې خان شهید تر هغه وخت وځنډاوه چې مهاتما ګاندي له صوبې څخه ولاړ .

ـ په ۱۹۳۹ز کال په جولای کې د انجمن اسلامیه قلات فعالیتونه په قلات کې ممنوع شو. د انجمن فعالینو ملک عبدالرحیم خواجه خیل، میر غوث بزنجو، عبدالکریم شورش او میرګل خان نصیر د ګوند د فعالیت مرکز له قلات څخه

کوټې ته رانقل کړ او په کوټه کې په مستقيمه توګه د خان عبدالصمد خان او د انجمن وطن حمايت ورسره ملګري شو .

۱۹٤۱

- په ۱۹٤۱ز کال د بلوچستان انګريز ايجنټ مټکاپ د خان عبدالصمد خان ورځپاڼه (استقلال) بند کړ په دې اړه خان عبدالصمد خان دهند د اخبارو جرګې ((آل انډيا نيوز پيپرس ايډيټرس کانفرس)) ته خپل شکايت وړاندې کړل .

۱۹٤۲

- په ۱۹٤۲ز کال کې د هند ملی کانګرس د انګريزانو د ويستلو لپاره له هندوستانه چغې پورته کړې ، نو انجمن وطن بيا پر خپل بنياد په دې تحريک کې ډيرې هلې ځلې وکړې ، نو انګريزانو خان شهيد او ملګري بنديان کړل .

۱۹٤٥

- په ۱۹٤٥ز کال کې خان عبدالصمد خان په شاهي باغ کې په آل پوليټيکل پارټيز کانفرس (د سياسي ګوندونو عمومی کنفرانس) کې ګډون وکړ .

- په ۱۹٤٥ز کال کې خان عبدالصمد خان اڅکزی او نور سياسي بنديان خوشي کړل شو ، مګر په همدغه کال بيا د پښتونستان د آزادئ د مطالبي په اثر ونيول شو، د څو مياشتو بند څخه وروسته خوشي او پخپل کورکې د بنديزونو لاندې نظر بند وساتل شو .

۱۹٤٦

- په ۱۹٤٦ز کال کې خان عبدالصمد خان کانګرس ته نږدې شو، ځکه چې په کانګرس کې د کراچی په ځانګه کې دا پريکړه وشوه ، چې دوی به هڅه کوي چې د صوبو خود مختاري به د ژبو پر بنياد وي .

۱۹٤۷

- په ۱۹٤۷ز کال کې د هند دويش مسله منځته راغله ، پدې وخت کې خان شهيد ډهلی ته ولاړ او هلته تر لږ ځنډنه وروسته کراچی ته راغی او دلته د باچاخان ، سندي رهبرانو جي ايم، سيد او عبدالمجيد سندهي سره وکتل او د

منشي احمد الدين سره يي د يوې نوي ګوند د جوړېدو په اړه مشورې وکړې ، په پای کې د دوی لخوا د پيپلز اورګانيزيشن په نامه يو سازمان منظور شو . خو کله چې خان شهيد کوټې ته ورسيد نو د پاکستان د نوي تشکيل شوي دولت لخوا د تحفظ عامه د قانون تر حکم لاندې ونيول شو او زندان ته واچول شو او د استقلال اخبار چې په نيم ژوندي توګه کله کله خپرېدې په دايمی توګه بنديز ورباندې ولګيد .

- په ۱۹٤۷ز کال کې د هند نيمه وچه وويشل شو او د هند او پاکستان حکومتونه جوړ شول . د پښتنو او بلوڅو پر حق باندې سترګې پټې شوې . د پښتونخوا په صوبه کې يو مصنوعی ريفرندم وشو. خدايي خدمتګارانو او زياترو پښتنو پکې برخه وانه خستله . نو د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان او په زرګونو خدايي خدمتګاران بنديان شول . خان عبدالصمد خان هم چې د پښتنو د مستقل سرنوشت غږ پورته کړی وجيل ته واچول شو .

دري مياشتي وروسته پاکستاني واکدارانو ته نور تحمل پاتي نشو او خان شهيد يي د مچ مرکزی زندان ته واستاوه، چې بيا نو تر ۱۹٥٤ز کاله پورې هلته بندي و، دی د مچ په زندان کې و، چې د بلوڅو د نورو سياسي رهبرانو په جمله کې شهزاده عبدالکريم او نور هم ونيول شول .

- د ۱۹٤۷ز کال د جون په مياشت کې په بنو کې يوه قامی لويه جرګه جوړه شوه ، په دې جرګه کې قاضي عطاء الله خان پيشنهاد وړاندې کړ چې د پښتنو دپاره يو آزاد حکومت جوړ شي ، چې دغه ملت په خپل ثقافتي بنياد ولاړ وی . دا پيشنهاد د رايو په اتفاق تصويب شو . نوموړی پيشنهاد د خان شهيد او د هغه د ملګرو لخوا هم تائيد شو .

۱۹٥٤

- خان عبدالصمد خان اڅکزی په ۱۹٥٤ز کال کې د کوټې په مياشتنۍ مجله (پښتو) کې د (پښتو يا پښتونولۍ) تر سرليک لاندې يو ليک چاپ ته سپارلي . دا ليک په خورا عالمانه توګه د پښتو يا پښتونولۍ په باره کې له ځينو قشري او تش احساساتي ليکنو سره توپير لري او له دې څخه ښکاري چې خان شهيد کوښښ کاوه چې قومې مسايل د علمي اصولو او موازينو پر بنسټ تحليل شي او تش د راجز خوانئ په قلمرو کې پاتې شي .

ـ خان عبدالصمد خان د میاشتنۍ ((پښتو)) او اووه ورځني ((پیغام جدید)) په باره کې وایي: ((په جولای ۱۹۵٤ کې زه په کور کې نظر بند کړی شوم ، نو پر ما د تحریر او تقریر او له کلي د باندې خلکو سره لیدلو باندې بندیز ولګیده او له دې سره د ((ورور پښتون)) دوې رسالې (میاشتنۍ پښتو)) او ((اووه ورځنۍ پیغام جدید)) باندې د یو کال لپاره بندیز ولګیده)) .

ـ په ۱۹۵٤ز کال خان عبدالصمد خان او نور سیاسي رهبران د زندان څخه راووتل. په دې وخت کې خان عبدالصمد خان د ((ورور پښتون)) په نوم نوي سیاسي سازمان د یوه ګوند په شکل کې تشکیل او د پښتو په نامه یې یوه مجله خپره کړه .

ـ د خان عبدالصمد خان اڅکزی د کیمیای سعادت پښتو ژباړې هغه برخه چې د ځان پیژندنې تر سرلیک لاندې ده ، د کوټې د میاشتنۍ مجلې د ۱۹۵٤ز کال په ۷ـ۸ ګڼه کې د فارسي متن سره یو ځای چاپ شوی ده . د دغه ژباړې یوه ځانګړنه داده چې د ژباړونکي لهجوي خصوصیات پرې لاري دی.

۱۹۵۵

ـ د ۱۹۵۵ز د ستمبر په ۱٦ مه نیټه خان عبدالغفار خان په پیښور کې اعلان وکړو، چې هغه به په بلوچستان کې د یوه یو نټ د منځ له راوستلو پر ضد د اجتماع لپاره یوه مبارزه شروع کیدونکی ده. هغه ته د ورور پښتون د باني خان عبدالصمد خان له خوا بلوچستان ته د راتګ بلنه ورکړی شوې ده.

۱۹۵٦

ـ په ۱۹۵٦ز کال کې چې پخوانۍ ګورنر جنرال سکندر میرزا د پاکستان د جمهور رئیس په توګه منځ ته راغی او د سهر وردی تر صدارت لاندې د یو یو نټ فعالیت پیل شو نو په سیاسي صحنه کې نوي عکس العملونه را اوچت شول . د خان شهید او د پاکستان د چپو رهبرانو ترمنځ یو کنونشن منځ ته راغی ، چې په لومړی سر کې د شپږو ګوندونو کنونشن منځ ته راغی چې په موسسه کانګره کې یې د ورور پښتون په مشرۍ خان شهید ، د خدایي خدمتګارانو په مشرۍ باچا خان ، د ستمان ګل په مشری شهزاده عبدالکریم بلوڅ، د سندهاری کمیټي په مشرۍ حیدر بخش جتویی ، د سند عوامې محاذ په مشرۍ جی ایم ، سید او شیخ عبدالمجید سندي ، د آزاد پاکستان د ګوند په

نمایندګۍ میا افتخار الدین برخه اخیستې وه ، دوی په ګډه دنشنل پارټۍ په نامه یو تشکیل منځ ته راوړ او فیصله یې وکړه ، چې د یو یونټ د تحریک پر ضد به فعالیت کوي . هغه مهال چې په دغه کنونشن کې د بنګال څخه مولانا بها شانی ملګری شو نو د دغه سازمان نوم پر نشنل عوامي پارټي واوښت .

ـ په ۱۹۵٦ز کال کې کله چې پاکستان په دوو شرقي او غربي یونټونو وویشل شو ، د هغه هیواد سیاسي ، ملی ګوندونو او شخصیتونو ورسره مخالفت کاوه . ددې کار لپاره ملي محاذ جوړ شو . د محاذ د نهضت په سر کې خان عبدالصمد خان واقع و . په دې لړ کې د شپږو ګوندونو په کنونشن کې خان عبدالغفار خان ، خان عبدالصمد خان ، شهزاده عبدالکریم، حیدر بخش جتویی، او جی – ایم سید او شیخ عبدالمجید په ترتیب سره د خدایي خدمتګار ، وروړ پښتون ، د بلوڅو د استان ګل ، د سندهاری کمیټی او د سند د عوامی محاذ د استازو په توګه شامل وو . ددې کنو نشن په تجویز د پاکستان نیشنل پارټۍ جوړه شوه .

ـ د خان عبدالصمد خان یوه رساله د ((پښتو ژبه او لیک دود)) ترسرلیک لاندې لومړی ځل د ۱۹۵٦ز کال په جون کې چاپ شوه . خان بابا په دې رساله کې د پښتو لپاره د خپل ځانګړي لیک دود په باره کې خپل ځانګړي نظریات په مدلل ډول وړاندې کړي دی . خان بابا ډیر آثار لری چې څه یې چاپ شوي دي او څه یې ناچاپ دي .

ـ د خان عبدالصمد خان یو اثر چې ((پښتو ژبه او لیکدود)) نومیږی په ۱۹۵٦ز کال کې چاپ او خپره شوې ده . د خان عبدالصمد خان نور تالیفات پښتو ډ کشنری ده ، په دغه قاموس کې خان شهید د محمد ګل خان مومندله ((سیند)) څخه هم استفاده کړی ده . بل کتاب یې ((زما ژوند)) نومیږی چې دده د خپل ژوند پیښې بیانوی . ((زما ژوند ته یوه کتنه)) یې د خپل ژوند په باب بل اثر دی . د خان عبداالصمد خان له دغو آثارو څخه معلومیږي چې هغه په ترجمه، ژبنې مسایلو او هم تخلیق ډوله لیکنو کې د پوره صلاحیت خاوند و .

ـ د ۱۹۵٦ز د جون په ۱٦ مه نیټه خان عبدالغفار خان ونیول شو، په همدې نیټه په بلوچستان خان عبدالصمد خان هم ونیول شو .

ـ خان شهید چې په ۱۹۵٦ز کال کې له بند نه خوشې شو نو یو خوا یې د یو یونت او استبدادي استعماري حکومت په خلاف سیاسي کار روان کړ او بل

خوا يې د پښتون ، بلوچ، سندهي او بنګالي قومونو د خپلواکۍ ولسي تحريکونو او د پنجاب د ولس واکي تحريک اتحاد هلې ځلې پيل کړې . د ١٩٥٦ز په پای کی د خان شهيد او نورو ګوندونو د مشرانو په هلو ځلو دا ګوندونه سره ګډ او مدغم کړل شول او د نيشنل ګوند يو ملي ګوند جوړ کړی شو .

ـ کله چې په ١٩٥٦ز کال کې نيشنل عوامې پارټۍ تاسيس شو ، په دې ګوند کې د خان عبدالصمد خان فعاليتونه دومره جدی و ، چې دوه کاله وروسته په ١٩٥٨ز کال کې کله چې مارشال ايوب خان په کودتا قدرت ترلاسه کړ نو په لومړی سر کې يې خان شهيد په کوټه کې ګرفتار کړ او نور نو پوره لس کاله خان شهيد د ملتان ، سکر ، مچ ، هزاره ، هری پور او لاهور په زندانونو کې تير کړل او دغه شاقه زندان يې روغتيا ته هم سخته صد مه ورسوله .

١٩٥٨

ـ د ١٩٥٨ز کال د اکتوبر په ٧ مه نيټه د پاکستان قواوې چې پخوا لا بلوچستان ته ليږل شوې وې پرقلات يې ډيره لويه حمله وکړه . د قلات د ښار ډيره برخه د توپونو په ډزو ورانه شوه او د خان قلات د اوسيدو ځای د ميری کلا ډيرې برخې ورانې او وسوځيدلي، د خان کلات ميرمن او کورنۍ زخميان شول او خان قلات احمديار خان نظامي قواوو بندي کويټي ته راووست .

په همدې ورځ خان عبدالصمد خان اڅکزی په کويټه کې ونيول شو او جيل ته وليږلي شو او د پښتنو او بلوڅو ډير سياسي کار کوونکي جيلونوته ولاړل .

ـ د ١٩٥٨ ز کال د اکتوبر په ١١مه نيټه خان عبدالغفار خان او د ختيځ پاکستان ٨ نامتو ليډران ګرفتار کړی شول . پاچا خان د چارسدی د تحصيل په يوه کلي کې د غني په هستوګنځي کې ونيول شو . په همدی نيټه خان عبدالصمد خان هم ګرفتار شو او ورته د ١٤ کالو د سخت قيد جزا ورکړی شو .

١٩٦٩

ـ خان عبدالصمد خان اڅکزی له فارسي ، او انګريزي ژبو څخه ترجمې کړې دي . د فارسي ژبې څخه د ګلستان ترجمې، له اردو څخه د مولانا

عبدالکلام آزاد ترجمان القران چې په ۱۹٦۹ز کال يې د مچ په زندان کې کړی ده .

ـ په ۱۹٦۹ز کال خان عبدالصمد خان خپلو ځينو ملګرو او د کورنۍ غړو سره کابل ته راغی ، چې د پښتنو او بلوڅو د ملي ورځې په مراسمو کې برخه واخلي ، خان محمد ايوب خان اڅکزی، محمد عثمان کاسی ، عبدالصادق ، هاشم غلزی ، محمد على کاکړ او نور ملګری له خان عبدالصمد خان سره راغلي وو . خان عبدالغفار خان هم په کابل کې و ، او له پيښور نه خان عبدالولی خان ، اجمل ختک ، ميرمهدی شاه مهدی ، قلندر مومند او نور سياسي شخصيتونه هم راغلي وو .

۱۹۷۰

ـ د ۱۹۷۰ز کال په اګست کې د جنوبې پښتونخوا ځوانانو په کوټه کې د پښتونخوا نيشنل عوامي پارټۍ په مشرتابه د ((پښتون ستوډنس ارګنايزيشن)) په نوم يو سازمان جوړ کړ او فعاليت يې پيل کړ . دغه سازمان د خان عبدالصمد خان د دريغ ملاتړ وکړ .

ـ د پاکستان په سياسي صحنه کې نويو تبديليو او د پاکستان څخه د بنګال د جلاکيدو او د بنګله ديش په نامه د نوي دولت منځ ته راتلل او د ايوب خان له منځ تلل او د جنرال يحيى خان بر سر اقتدار کيدل او بيا دده او ذوالفقار علی بوټو ترمنځ د اختلافاتو ، بحرانونو د نويو سياسي فعاليتونو له پاره لاره خلاصه کړه . خان شهيد چې د سياست په نبض پوره بلد و ، نو د خپلو سياسي ملګرو په مصلحت او همکاري يې په ۱۹۷۰ز کال کې د پښتونخوا عوامي تحريک ګوند تشکيل کړ . د همدغه کال په دسمبر کې د صوبايي اسمبلې انتخابات وشول ، خان عبدالصمد خان د نماينده په توګه وټاکل شو . خان شهيد چې د پاکستان د سياسي ګوندونو د کار کوونکو سره په تماس کې وه ، زيات کوښښ يې وکړ چې دولت د ديموکراسی تطبيق ته راوبولی ، خو ستونزې ورځ تر بلې زياتيدې .

ـ خان عبدالصمد خان د علمي او ادبي کارونو سره هم مينه درلود، ځينې ادبي مضامين کابل ته د چاپ لپاره ليږل . د خان شهيد يو ليک د زيري جريدې د ۱۹۷۱ز کال ـــ ۱۳۵۰ هـ ل کال په ۲۷ ګڼه کې نشر شوی دی .


ـ په بلوچستان کې د پښتو اکاډمۍ په افتتاح کې خان عبدالصمد خان اڅکزی ګډون کړی و، د بلوچستان پښتو اکاډمۍ په ۱۹۷۱ز کال د اکتوبر پر نولسمه نيټه د پښتون کشمنر ښاغلی نصرمن الله په لاس پرانستل شوه .

۱۹۷۳

ـ د ۱۹۷۳ز کال د دسمبر د دوهمې ورځې سهار وختی د خان شهيد کورته بمان ورګوزار شول او دغه په قهرمانيو سرلوړي او د پښتنو په غم غمجن رهبر په ډيره بی دردۍ په شهادت ورسيدې . دده جنازه په ګلستان کې په پلارنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شوه او فاتحه يې په جنوبې پښتونخوا ، شمالي پښتونخوا، بلوچستان ، افغانستان ، پاکستان ، هندوستان او بنګله ديش کې په درناوي واخيستله شوه.

دخان عبدالصمدخان اڅکزی يادونه دلته ډيره ضروري وه، ځکه دهغه د مبارزو روحيه چې په بهرام خان اڅکزي کی وه،هغه په ګډه توګه دسيمي په سياست پوهانو، ټولنيزو شخصيتو نوکي په يوه ډول سره موجوده وه.نوموړد مرحوم بهرام خان اڅکزي سياسي پوهه، تجربيه او دژوند دمبارزې ډولونه دهغه په شان دسيمي په سياست پوهانوکې ترلاسه کولای سو.که ګاندي جي خان عبدالصمد خان  ياخان عبدالغفار خان په خپلو سيموکي غورځنګونه دبرياليتوب وپولي ته ورسول؛خو!همدغسي مولوی بهرام خان اوخان محمدانورخان بيا دخپلوقربانيو اومبارزو په لړکي خپل هيواد ته هم استقلال وګاټه اوهم ئې د موکرا ټيکه مبارزه پر مخ بوتله چي په نتيجه کې (۱۱ کاله ) زندان وګاله همدغسي ګاندي هم (۱۱کاله) زندان دآزادۍ په لاره کي وګاله.چي دسيمی ددغه غاړی يا افغانستان او پا کستان پښتانه ديوه مشترک هدف په خاطر د مبارزې يوډول روحيه درلوده. او يود بله سره ئې تجربيې او علمی ميتودونه ګډ ډول درلود.

**خان محمد ايوب خان اڅکزی**



**دمحمدايوب خان اڅکزي په باب يوڅوخبري:** دپښتونخوا دسيمي وتلی سياسي اوادبي شخصيت چي دخپل ژوند يوه لويه برخه ئي په سياسي مبارزواودخلکو په خد مت کي تيره کړې ده  دحاجي محمد انور خان اڅکزي وراره اودهغه دمبارزودلاري ادامه ورکونکی سياسي شخصيت وو. خان محمد ايوب خان اڅکزی په قوم اوولس کی دبشپړه محبوبيت خاوند.او دسيمي دمحبوبواوبانفوذوکسانودجملې څخه ؤ.هغه دخپل طبعي خصلت له مخي دوخت هيڅ قدرت ته ځان نه دی تسليم کړی اوهميشه ئي ژوند په ريښتيا او حقيقت ويلو کي تير کړی دی. دحقيقت په ويلو کې دهيڅاه څخه ډار نه درلود او نه ئي هم دڅاه لحاظ کړی دی. مرحوم خان صاحب په غښتلتوب سره شهرت درلود،په منور توب اولياقت سره ئې دخلکو په منځ کی ډيرمحبوبيت ساتلی ؤ.

خان صاحب دانګريزانو پروخت که څه هم دلږعمرخاوند ؤ، خو! په سياسي او ملي مبارزه کي تر ډيرومشرانوهم په کمه نه ؤ.مرحوم خان محمد ايوب خان دپښتونستان په ګرمه جبهه کي دډيورنډ پرخط دانګريزانواوبيا دهغه دلاس پوڅي نظام پا کستان پرضد ګرمه مسلحانه مبارزه کړې ده.په همدغه لاره کي بندونه ګاللي دي،دهيواداوکورڅخه فراره سوی دی. دمهاجرت بد شرايط ئي تيرکړي دی،همدغسي دخپلواولادونواوکورنۍ څخه دځوانۍ په عمرکې محرومه سوی دی.

خان محمد ايوب خان اڅکزی دخپلو صادقانه مبارزو په لړکي،په افغانستان کي دمهاجرت په دوران کي دافغانستان ددولت له خوا ديوه درانه ميلمه په توګه ژوند کاوه.دخان صاحب دپيژندني سره دغه کيسه دلته لازمه ګنم،چې يادونه وسي،هغه

وخت چي خان محمد ايوب خان دکابل په پروان کارته کې ژوند کاوه. په ۱۳۵۲هـ ش کال کي دمحترم سردارمحمد داود په وخت کي ، وخان صاحب ته ددغه کورچي دی خپله په دغه وخت کې په کښي اوسيدی.په باب يووړانديزخپله دسرادرمحمدداودخان له خواڅخه وسو،چي دغه کوردافغانستان حکومت غواړی چي ستا په نوم ئې ونوموي.اوته دغه قباله امضأ که.... خان محمد ايوب خان دغه وړانديزپه ډيرمتانت سره رد کړاووې ويل:زه دلته ديوه سياسی مطلب دحصيلولودپاره راغلی يم، چي هغه عبارت دی : دپښتونستان دآزادئ اودپښتنو ديووالي مسئله ده.زه خپله په ګلستان کي جايدادلرم. هغه ما ددغه آرمان په خاطر نن پر ايښی دی.

سردارمحمد داود ورته وويل:خان صاحب دغه ستا خپل حق دی.ته دلته اوسيږې اوسبابه هم دلته ستاپه نوم دغه ځای ولاړوي.موږ دغسي يوکورونورو پښتونستانی ورښوته هم ورکړی دی.لکه : خان عبدالغفار خان، اجمل خان خټک، ولي خان اوهمدغسي نور...نوستا څخه موهم هيله داده چي دغه کورپه خپل نوم کړې.اودغه قباله امضأ کړې.ليکن ترپايه هم خان صاحب دغه کورپه خپل نوم سره ونه مانئ. اووې ويل :هرچاچی دلته دافغانستان څخه جايدادترلاسه کړی دی، دادهغه خپل کاردی.زه خپله هم په ګلستان کي خپل دپلاره راپاته سوی جايدادلرم.اودلته می افغانستان ته دراتګ مؤخه يوه سياسي غوښتنه ده. نوکه دافغانستان دولت زموږسره مرسته کوي،نودی ديوه آزاد اخباراوآزادوراډيوی خپرونوزمينه را ته برابره کي.هغه کورچی وخان صاحب ايوب خان ته ئې ور کاوه.زه هغه کورته وغلی وم،چي ډيرښه موقيعت ئې هم درلوداودهغه ده کور وڅنګ ته يوه لويه ليسه د نادرخان شهيد ( نادريه ليسه ) په نوم باندي وه.

## دخان محمد ايوب خان لنډه پيژندنه : -

خان محمد ايوب خان د ګليستان دخانانو څخه ؤ. په ۱۹۰۶م کال کي زيږيدلی دی.دمحمديعقوب خان زوی- دسعادت ملوک خان لمسی،دسربلندخان کړوسی – ديارمحمد خان کوسی – اودروشن دل خان کودی اودعرض محمدخان بيګي پردی کيږي. چي نوموړې سلسله د۱۸۰۰م کال څخه را پيل ده.دمحمد ايوب خان په وړکتوب کي موروفات سوه.اومحمد ايوب خان دپلاريوزوی ؤ، چی پسله دپلاردمرګه دکورټوله زمداري دده په غاړه سوه،خان صاحب تراتمی ټولګی پوري په ګلستان کي زده کړي وکړې، خو! ورسته ئې بياخپلي زده کړی

په شخصي ذوق سره ترسره کړې،په انګليسي،اردو،فارسي اوپښتوژبوئې ليکل اولوستل کولای سؤ.

خان محمد ايوب خان چي دانجمن وطن د مرکزي کميټي يا مرکزي هستې دمشرانوڅخه ؤ.دانګريزانوپرضدئې يوولسي حرکت را پيل کی. په ډير لږوخت کې په سيمه کي بشپړه نفوذ وکی.انګريزان ددې حرکت څخه سخت په ډارکی سوه.نو سمدلاسه ئې په ۱۹۲۸م کال کی پر همدغه مرکزي هستې يا مرکزي مشرانو باندي بريد وکی.او فرنګيانو خان محمد ايوب خان ، عبدالصمدخان، سلام خان او محمد عيساخان ونيول اودبلو چستان دګورنر(وډ – بليارډ Wood Bulliard ) په حکم ونيول سوه.او ددري نيمو کالو په قيد دمچ سخت زندان ته واستول سوه.دمچ په زندان کي دې سياسي مشرانو خپلي غوښتني انګريزي حکومت ته وړاندی کړې،چی ډيري ئې دپښتنودخپلواکۍ پرشاوخوارا ګرځيدې، ترډيره وخته انګريزي حکومت ددوی غو ښتنی ونه منلې. اودې ته نه حاضر کيدل،چې ددوی سره دډيپلوماسۍ په فضأ کی خبري اتري وکی،نوخان صاحب ايوب خان اوملګرې دې ته حاضرسوه چي دلوږي اعتصاب( بوک ارتال) وکي، همدغسي ئې ۲۳ورځې دډوډۍ نه خوړلواعتصاب وکی. په پای کي ولس هم ودې ته مجبورسو،چی دخپلو مشرانوڅخه بشپړه ملاتړاعلان کي، نوئې پرانګريزي دولت فشارراوست اوده محمد ايوب خان په سيمه کې دانګريزانو يوميجرفرنګی (فيرلې) اوبله فرنګۍ (ميرمن فرير)وتښتول.داوخت ډيرحساس وخت ؤ.چی دهندي برتانوي دپاره دکانګريس د ګوند په فشارسره انګريزانو پلان درلود چي يونوی حکومت دپاکستان په نوم جوړکړي،دلته دبله پلوه دوطن دګوند د مشرانو صحي وضعت هم دډوډۍ دنه خوړلو په سبب دغه حالت ته را رسيدلی ؤ، چي ددرويشتوورځوپه جريان کي د مرګ پولی ته رانژدې سوی وه.خو!دخپل هوډ څخه وانه وښتل، نوژرئې دفشارونوپه سبب دزندانه را خوشي کړه او دډاکټرانوترمعالجې لاندي ئې ونيول.ويل کيږي چی ددوی حالات دومره خراب وه،چی دغه خپلوملګرويودبله لاهم نه سره پيژندل.دهغه وروسته چی دوی راخوشي کړل سوه، دخان محمد ايوب خان تشويش دانګريزانوددغه بدتصميم څخه ؤ.چی په سيمه کي دوه هيوادونه دهندواومسلمان په نوم سره جلاکوی.اودپښتنولويه خاوره هم په دغه هيواد (پاکستان)پوري تړي.ځکه دخان محمدايوب خان داهم نه وه خوښه چي دغه لوی مستقيل قوم پښتانه چي دتاريخ په اوږدوکې آزادهيواددرلوداوهيڅ قدرت ته ئې سرنه ؤټيټ کړی.نن په يوه غلام هيوادپوري وتړل سي.اودافغانستان څخه رابيل سي.خو! داسي حالات را

غله چي پښتنونخوا دپا کستان سره وتړل سوه.نو همدغسي په ۱۹۵۰ م کال کي مرحوم محمدايوب خان دافغانستان دحکومت سره اړيکي ټينګي کړې.اودخپلو دغه ملګرو سره لکه : عبدالقادرکاسی – عبدالباقي اڅکزی – حيات الله اڅکزی اواخترمحمدکاسي سره يوځای دخپل کوراوځايه څخه بې ځايه سوه اوافغانستان ته راغله.

همدغسي ئې دپښتونستان غوښتنه په دوګرموجبهو کي راپيل کړه، چی يوه جبهه ئې په معروف کی راپيل کړه اوايوب خان په دې وخت کي دجنوبي پښتونستان دقبائيلومشرياريس وټاکل سؤ.

دوهمه جبهه ئې په وزيرستان کي پرا نيستل ، چی دهغه جبهې مشراوريس ئې فقيراايپي ؤ.چی هغه هم دوزيرستان په سيمه کي دښه شهرت څښتن ؤ.او دانګريزانو پرضد ئې ډيري مبارزې کړی وې. همدغسي ديوه ملي مبارزپه څيرئې دخلکو په منځ کي ډيرمحبوبيت درلودی.

دمحمد ايوب خان اڅکزی ستونزي خورا ډيري وې اودا دغه وخت ؤ چی هم دښمن ډيرقوي ؤ. اوهم په پښتنوکی پريوه خوله اوخبره باندي جوړجاړی نه کيده.اودافغانستان حکومت په صدا قت سره ددوي مر سته نه کوله. نو همدغسی ئې دژوند ټوله برخه په کړاونو، زندانونواودکوراواولادو څخه په جلاوالی کي دکړاونوشپې اوورځي تيري کړې.اوهمدغسي د کال ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۷۶م کال پوري د کورڅخه مسافراوپه کال۱۹۷۶م کي په کابل کي د کارته پروان په سيمه کي په خپل کورکی دتنهائي په فضأ کي وفات سو.اودشهدای صالحين په حضريه (هديره) کي دمنورينواودچارواکوپه بدرګه خاورته وسپارل سؤ.(روح دې ښادوي).ده دقاضي صاحب سره دلرغوني زمانې شناخت درلودی.

دقاضي بهرام خان دوخت ستونزي دهغه وخت دعينی شرايطو په رڼاه کي هغه عيني اوڅرګند حقيقتونه وه.کوم چی دی او دده ملګری ورسره مخاخ وه.په هغه وخت کی که خدای خد متکارانوګوندؤ،که دوطن ګوند اويا هم کانګريس دوی په خپلوکي ګډهد فونه يامؤخي اومرام نامې درلودلې. ستونزې هم يوډول،دښمن ئې هم يوډول اودوخت عيني شرايط ئې هم يوډول وه. که مهتما ګاندي دزندان اودلوړي اعتصاب کاوه، بندئې پرځان مانه همدغسي مولوی بهرام خان اڅکزي هم ديولسوکلنو دزندان توانمدي دخلکودآرمانونودپوره کولواوپه ټولنه کي دنوښت راوستلواوټولنه دبشري پرمخ تګ پرلوربيول اودارتجاعي کړيو سره

مبارزه ددوی مؤخه وه.ددوی په منځ کي دوستي ملګرتوب اودسرومال څه تيريدنه يودښوکړنواوځانګړنوڅخه حسابل کيږي.په همدغه مؤخه څه وخت چی خان عبدالغفارخان به افغانستان ته راغلی نودخپلو دوستانو قاضي صاحب او حاجي محمد انورخان اڅکزی پرکور به ئې خامخادميلمستيا ورځي تيرولې، لرغونی يادونه به ئې تازه کولې،دټولنواوقومونوستونزي به ئې هوارولې. يو دبله به ئې تجريبې سره شريکولې. دژوند ترپايه به ئې دوستي سره پا لل.تر دغه ځايه چی زماددوی په باب څيړنه وه،په واقيعت کي دغه دوره داستعماراو دموکراټيکواصلاحاتويوه ځانګړې دوره وه.نوددوی يعني دهغه وخت دمشرانو يادونه ډيره ضروري ګڼل کيده چی دخپلو ځانګړنوله مخی موږدهرمشرپه باب لازمي خبري هم وکړو.اودهغولنډه پيژندنه موهم دهغوی دخپل دغه کتاب جزکړل. څوپه اينده کي دنورمحقيقينو دپاره دښوڅيړنوښه شرايط په آسانه توګه ترسره سي.اودهمدغه کتاب څخه دوخت شرايط هرمحقق وڅيړلای سي.په همدغه برخه کي چي دسقاو دزوی حبيب الله اودهغه په تړاودانګريزانوهلي ځلي په سيمه اودبرطانوي هنداوپښتونخواکي ستونزي دمولوي بهرام خان دژوند سره تړاولری اودهمدغه وخت شرايط ،دده مبارزې او دوخت سياسي بهرانونه اوپه همدغه لوړواوژوروکي دقاضي صاحب ژوند ټوله تړلی ؤ، نو ځکه موږ ددې دپاره لازه وګڼل چی دهغه وخت پر سياسي پيښو باندی څيړنه وکړو. او همدغسي دوخت منورين چي په روحي لحاظ ديوې عقيدې اويوه هوډخاوندان وه،پرهغوموهم رڼاه واچول.اوهم داسي به دهغه وخت ستونزي زموږپه ګران هيوادافغانستان کي ترڅيړني لاندی ونيسو.دلته مرادپه لنډه توګه دسيمي د مبارزينوڅخه دا ؤچي ددغه وخت روحيه موږ دخدای بخښلي قاضي صاحب دمبارزودښه پيژندني اوشناخت يا دهغه روحيه ښه درک کړو.نومودهغه دوخت دملګروپرګډه مبارزه اوسياسي شناخت اوټولنه پيژندنه باندی يوه منا سبه وړڼا واچول. بيرته به دافغانستان پيښواوهغه پيښوته راوګرځوکوم چي خدای بخښلی قاضی بهرام خان ورسره لاس اوګريوان ؤ.

## دحبيب الله کلکهاني راتک دانقلاب انګيزه سوه

دشلم قرن په پيل کي ، په نړيواله کچه ستراقتصادي او ټولنيز تغيرات را منځته سوه، په نړۍ کي د مشروطيت،جمهوريت اود موکراسۍ دورد ملي غورځنګونو او ګوندونودخواڅخه په انقلابي روحيه په اروپا ، آسيا ، امريکا او افريقا کي يو توفان رامنځته کی اود ديکتاتورۍ پرضد دنړۍ منورين سره يو موټي سوه.او دفيوډالي ياخان خانی،مطلقه شاهي نظامونوپه مقابل کي دقربانيو ترکچي دنړۍ

منوره طبقه راغونډه سوه.اودغه د ټولنيزوفرماسيون فيوډالي،قبيلوي شرايط او ځانګړني ئې په سرمايداري ټولنواواړيکوواړول. دهر ډول آزديوناري را پورته سوي.اتحادجماهيرشوروي پرسوسياليستي هيوادونوورغول سو.په چين ،کوبا، ويټنام اوشرقی اروپاه کي هم نوي سوسياليستي دولتونه جوړسوه.

هغه توليدي اړيکي چی دخان او فيوډال،بزګردمځکي پر سرموجود وه او ډيره ورسته پاته ټولنه وه دومره زړه سوه چي نورئې په اروپاه کی خپل جوړښت دلاسه ورکی.اودهمدغه فيوډالی نظام په خيټه کي يوبل توليدي نظام دسرمايداری رامنځته سوه،چی دتوليد پراړيکوباندي دسرمايداراوکارګري طبقې ترمنځ توليدي اړيکی را پيداسوې. دسرمايداری دپرمخ تللي ټولني دجوړيدو سره نوي ټولنيز شرايط او ډولونه هم دتوليد پرسراوهم دټولنيزواړيکوپرسر(په روبنا او زيربنا) کي تغيرات راوستل. کارګرانو دځانونو دساتلو اوو‌ټيزوګټواو دتوليدپرسردتوزيع دښوشرايط دلاسته راوړلودپاره خپلي ټولني يااتحادې جوړي کړې.دښځوونډه په کاراوتحصيل کي ترنظر لاندی ونيول سوه.اوپه نړيواله کچه و ښووني اوروزني ته بشپړه پاملرنه وسوه،همدغه رازد کارشرايط اوقانون په توليدي مؤسيسواودولتی اداروکی تصويب سوه،چی هم دغه کيفي تغيرات په ټولنه اونړيواله کچه کي نوي انقلابونه راوزيږول.که څه هم بورژوازي انقلابونه داروپاپه مختلفوهيوادونوکي په مختليفووختونوکي منځ ته راغلي دي،خود۱۹پيړی په پيل اونيما ئي کی وپوخوا لي ته ورسيدل.چي دبيلګې په توګه ئې مونږ دلته ديوڅو هيوادونو بيلګي يادوو.

هاليند:په ۱۶ميلادي پيړی کي په هاليند کي بورژوازي انقلاب منځته راغلی.په دغه وخت کي هاليند په نړيواله کچه يواقتصادي هيوادؤ.اودهاليند دخلکوپه ژوندکي دغه پياوړي اقتصادي شرايطوپرفرهنګ اوټولنيزوبنسټونواغيزي وښندلې.دکليساصلاحيتونه محدود کړل سوه.اومذهبونه،کليساوي د قانون تر کنترول لاندی راغله.مخکي چي هاليند دهسپانيا د د ولت مستعمره اوتراغيزي لاندي ؤ.اودهسپانيا د۱۷ولايتو په جمله کي حسابل کيده.دهمدغه ځانګړی وټيز پرمختګ په درشل کې،يوه ۲۰۰ کسيزه ټولنه جوړه کړه.اودټولني دجوړيد و هدف اومؤخه وټيزپرمخ تګ آزادي اومذهبي اړخ درلود. نوموړي ټولني ۴۰۰ کليساوي لوټ کړې.شتمنی،دسروزروکټوري اومجسمې ئې ځينی يووړلې. دلته تضادونه سره ډيرسوه.په ۱۵۷۹م کال کي دهاليندشمالي برخي خپل ۷ولايتونه جلا کړه اودهاليند په نوم ئې مملکت جوړکی.دهسپانياڅخه بيل اوخپلواکي ئې اعلان کړه.په همدغه ډول په اروپاکې دهاليندانقلاب لومړی بورژوازي انقلاب

يادولاى سو.دلته چى دهسپانياحکومت اوامپراطوري رنګه سوه.نو هاليندیو غښتلی اوقوی هيوادجوړسو.اودسرمايدارانوواک په خپل وخت کي ډيرکړل سو. لومړي بورژوازي انقلاب دمذهب خپل سري دمنځه يووړه.اوپه چټکی سره ئې دتوليداوټولنيزوازادي ګانوپرمخ تګ ديوې نوى مرحلې ياپړاوپه څيرراپيل کړ.

همدغسی دانګليستان بورژوازي انقلاب د۱۶۴۰ – ۱۶۶۰م کال اودانقلابه څخه وروسته دعلوموااوساينس پرمختګ ددې سبب سوه،چی دغه اروپائي هيوادونه په سلا،تخنيک اودټولني په قانونی کولوکی مخ په وړاندي ولاړه.دلته لوى شى په انساني لحاظ چی داروپاه دپرمختګ سبب وګرځيدی، هغه په انګليستان کي فردي آزادي اودهمدغه فردي آزادئ له برکته دوى د کليساوو، فيوډالي کلتور څخه آزاد فکرته را خلاص سوه.

همدغه آزاد فکرچی مبتکرين ئې په آروپاه کي وه.لکه:سپنوزواپه هاليند کي دآزادفکرفيلسوف ؤچي ترده وروسته بيانورفيلسوفان لکه:جانلاک،ولتر، منتيکو اوروسومنځ ته راغله.د وى دمذهب دپولي څخه تيرسوه،اکاډمی ئي جوړي کړې، دآزادفکرمفکوره ئې دکليسا په مقابل کي وپالل،چی دغه دآزادفکرفلسفې دانګليستان اوداروپائي هيوادونوپرمستعمره هيوادونوباندي هم بشپړه اغيزي وښندلې.اوپه امريکاکي هم دآزادي فکرونه داروپا پرضد، داستعمارپرضد راپيداسوه.اود۱۴۹۲م کال دکرستف کلمب په واسيطه دامريکا د کشف څخه وروسته،دهاليند،هسپانيا،ناروې،سويډن،فرانسې اوپولينډپه مقابل کې دآزادفکر دپلار(جان لاک) څخه الهام واخيستی.اوپه ۱۷۷۶م کال کې دآزادئ اعلان وکی اوپه ۱۷۸۷م کې آزادي ترلاسه کړه. ۱۷۸۹م کال ئې خپل قانون توشيح ياخپورکی.همدغسي دغه نړيوال شرايط وه چي په افغانستان ئې هم اغيزه وکړه.د۱۹پيړۍ اوشلمي پيړي په پيل کې مشروطه خواهان اودآزادفکرڅښتنان راوزيږيده.

دغربي هيوادونوپه ډيره بيا دانګريزانودنوي استعماراوزاړه استعمارکمبله په آسيا اودهند په پراخه خاوره کی مخ پرختميدوسوه.افغانستان چي په دغه وخت کي ديوې پيړۍ نه ډير دانګريزانو سره په جنګ کي لاس،ګريوان ؤ.چی ددې خبري شاهددافغان انګليس درې جنګونه دي.پايله ئې پردې سوه چي نوردافغان ملت ټول ولس رابيداره سوی دی اودخارجي يرغلګروپه مقابل کي دخپلوګټو څخه تيردی، دخپلو داخلی تضادونوڅخه تيردی.اويوه مؤخه لري چی هغه دافغانستان هيواددآموڅخه تراټکه پوري ددې هيوادآزادي اوديوه مرکزی

حکومت جوړښت دی.دافغانانوله خوا څخه. د۱۹۱۹م کال پاڅون دامیرامان الله خان په مشرئ ،دانګریزانومخامخ یرغل ته دپای ټکی کښیښودل سو.ولي دغه وخت خپله انګریزان پر دغه هم بیریږي چی که افغانان سره یوموټي سي ، نو ددې ډیرامکان سته چی پرهندی برتانوي اډي دی،اغیزي وښندي اودغه خاوره دی هم آزاده کړي.امکان سته چي دهندپراخه خاوره دی آزاده کړي.ددې احتمال خو بیځي ډیرشتون درلود چی دډیورنډ تحمیلی کرښه دي ماته کړي.نودهمدغه وحم اوبیري په سبب،انګریزانودافغانانودژونداومداخلې څخه لاس نه اخیستی. اوخپل هررنګه امکانات ئې دافغانانودهیواددناارامه کولوپه خاطرپه کاراچول. دغه وخت ئې دغلویوه ډله د کابل په شمال کي په کهدامن کي ترنظرلاندی و نیوله، هغه نامتو ډله دحبیب الله کلکاني ترمشرئ لاندي،هغه ډله وه،چی دشپې به ئې دخلکوکورونه لوټول،لوی لاري به ئې نیولې اود کابل په شمال کې بې ناارامي رامنځته کول.څه وخت چي حبیب الله په پیښورکي دانګریزانو دامنیت په سیمه کي وانګریزانوته په لاس ورغلی نوسمدلاسه ئې دخپلولاس پوځو ملایانو په مرسته دهغه غله څخه (خادم دین رسوالله) جوړکی.دغه غل ترمخه دانګریزانوملایان ئې ترشاه ودریدل.

ولس په دسیسه پوهیده.لږوخت نه وتیرسوی چي دافغانستان خلکودسرحددهغه غاړی مشرانو،دانګریزانودغه نوې دسیسه ورشنډه کړه، قاضی بهرام خان چي دسیمي پیژندل سوی مبارزؤ،دحبیب الله پرضد د ملی مبارزې فتواوړاندی کړه، لږوخت لانه وتیرسوی چي دسقاوزوي اودهغه پلویان ئې دخپل قوم اوکندهاری ولس په مرسته دکندهارڅخه ترغزنی پوري وشړل.اودغازی محمدنادرخان سره ئې دآزادافغانستان تړون وکی.اونادرخان ئې دپاچاپه توګه پرتخت کښیناوه. پاچاه نادرخان سمدلاسه وقاضي بهرام خان اڅکزی ته دغه لیک راولیږه.چي نوموړی لیک خپله دجنرال غازي محمدنادرخان په قلم اولاس لیکل سوی دی. دلته دانګریزانو په مقابل کي دملي غورځنګونواوملی فکر دهغه نړیوال سیاست زیږنده وه ،کوم چی دسیمو مشرانو دنوي تخنیک سره سم نوی فکردانګریزانو درا تګ سره، دتولیدی اړیکو سره سم دهند دکانګریس دګوند څخه زده کړی ؤ.


## دجنرال محمد نادرخان په قلم د لیک نخښه اواړیکي:

دپاچهانودځانګړتیاووله مخي اویاهم دهغه مغروروجنرالانواونظامیانودځانګړ تیا له مخي،هغوی دهرچا سره اړیکی نه ساتي اونه هم دومره وخت لري چي ، په خپل قلم خپل ارزښتمند وخت ضایع کړي،لیک ولیکي او دهیواد ستونزي په

عيني ډول وقاضي صاحب ته بيان کړي.خوجنرال محمد نادرخان پوه، هوښيارجنرال اوپاچا ؤ. چې دقاضي صاحب په ټولنيزارزښت پوهيده.او په دې اړيکو سره ئې ګټه هم ترلاسه کړه.محمد نادر خان ته هم په ښه توګه څرګنده وه چې دکندهارخلک دافغانستان دتاريخ په جوړيدوکې بشپړه برخه لري.او دهمدغه ليک په وسيله ئې وقاضي بهرام خان ته هم توضيح کړيده چې لوی کندهاريوځل بيا دازمايښت په درشل کی دی.ځکه انګريزانوکه دافغانستان آزادی په رسميت پيژندلې ده؛خو!غواړي ديوبل چال له مخې په دې هيواد کې دقدم ځای ځانته پيدا کړي.هغه داچی:خپله په مخامخ توګه هيوادته دعسکرو سره نه راداخليږي.اودغه تجربيه ئې حاصيله کړې ده. خودخپلولاس پوڅو په وسيله هيوادتراشغال لاندی نيسي.چې هغه بيسواده اولاری وهونکی امتياز طلبه دسقاوزوی حبيب الله ئې دخپلولاس پوڅوملايانو په وسيله پرتخت اوتاج دقدرت کښيناوه.دغه موضوع ښاغلی جنرال محمد نادرخان په خپل دغه لاندي ليک کې به ډيره ښه توګه ليکلې ده.په هرصورت په دغه ټولنيزو شرايطو کې دهيوادپه لاره کې نوميالی،پوه اودخلکومشرقاضي بهرام خان هم دهيواددګټوپه خاطرديوه ملي حکومت په جوړولوکی د محمدنادرخان دغه دريځ دملت په ګټه ګڼي.او در ناوی ئې کوي، دوی په دغه ملي ګډتفاهم سره، په هم دغه حساسه موقع کې هيوادته نجات ورکی.برسيره پردې چې ستونزی وې، خو! يوه ملي وحدت ته هم ضرورت موجودوو.چی په لاندي ليک کې د ملی پيوستون ضرورتونه په ګوته سوی دي.

ماته ددغه تاريخی ياده سره دغه شعرسمدلاسه ذهن ته راغلی.

ده ګټلی نوم نښان دی،هرغازي ئې قهرمان دی
دلته پروت لوی احمد خان او ميرويس خان دی
دلته ګور داستعمار دی کندهار دی،کندهاردی
هربچی ئې قهرمان دی،که اکبر که عبدالله دی
په ميراث راپاته سوی،دغه ښه نوم اونښان دی
دامـرکزدآسيا دی، کندهار دی کندها ر دی



۱۳۴۸
۷ صفر

بعون

برادران عزیزم ریش سفیدان و خوانین و ملکان و عموم افراد (اچکزی) ولایت قندهار را

باین مکتوب صادقانه برادرانه ام اطلاع میکنم

انقلاب و حالت فلاکت و پریشانی امروزهٔ افغانستان و این لکهٔ بدنامی و ننگ و عاریکه برای ... یک

سلطنت افغانی از دست برد یکنفر دزد بیشرف و جماعهٔ فاسقان شریر او پیدا شده عموم اقوام

افغانستان را به نزد اقوام عالم بدنام و بیغیرت نشان داده که هیچ یکنفر افغان ازین بدنامی ابدی تا و دوباره

ننگ و غیرت ناموس سلطنت و مملکت خودرا بجا نکند - خلاص ندارد. مگر بالای همه ما و شما اقوام درانی که

پادشاهی افغانستان از عرصهٔ یکصد و هشتاد سال بهمت و فداکاری و اتحاد و اتفاق ابا و اجداد مان بما رسیده

و امروز از بی همتی و بی غیرتی و تنبلی از دست ما یک دزد بی سر و پا ربوده یکصد و هشتاد سال اقوام که

پادشاری کرده بودند بغلامی و مزدوری خود نامزد ساخته خیلی تاسف آور است. ایا حضرت شجیع مغفور

احمد شاه بابا ۸ سکهٔ شهنشاهی اقوام افغانی خصوصاً از اقوام درانی در ممالک هند و حکم پادشاری

و آمریت مان را در دلهای ... مرتبه قایم کرده دول ها و اقوام بزرگ دنیا را مطیع و فرمانبردار

خود ساخته بود. و نسل بالنسل تا این دم سلطنت بخانواده ... ما باقی بود. و بالعموم اقوام افغانستان

حکمرانی مینمودند. فراموش خاطر شما شده؟ یا شما چطور این بی همتی را قبول کرده میتوانید

که بعد از حکمرانی این عرصهٔ زیاد غلامی و مزدوری یک قوم بی ... را که تا شش ماه قبل

بمزدوری خود آنها را قبول نمیکردید - امروز بالای شما پادشاری میکنند. اگر بگویم که آنها

بقوهٔ جبریه مارا مغلوب ساخته. آیا قوهٔ شان چه بود و در کجا هست. نه هیچ زبان عذر

که ازین بدنامی و بیشرفی ابدی مارا خلاص کند نداریم. چراکه همه اقوام دنیا دانسته اند که ما از

تنبلی و بی اتفاقی و بی همتی دوچار این تهلکه شده ایم. پس بما و شما لازم است که غیرت

و همت را از دست نداده زحمت دوروزه را که در نتیجه آن انشاءالله راحت ابدی


و فلاح دارین ما هست قبول کرده کمر همت و غیرت را بیک اتحاد و اتفاق برادرانه

اسلامیت کارانه بسته این خائنان و غداران را سرکوبی سخت داده دامن خودرا

ازین لکهٔ بیشرفی پاک نمائیم. و ننگ دیرینه خودرا بجا کنیم. شما خود غور کنید

که امروز هند و مسلمان هندوستان بحال ما و شما غیرت خورده این لکهٔ بدنامی پادشاهی

یک دزد را قبول کرده نمی توانند. و ما و شما را نفرین و لعنت میکنند. از برای خدا ما و ا


چر شده. که با این همه زور و قوت بدو صد و صد نفر دزدان که بیک ولایت و تبع
داخلاً یک لک نفر مسلح در آن موجود هست. بسر بندگی خم کرده بخجالت و شرمساری
مطیع شویم - خود فکر کنید حساب گذشته و آینده خود را زیر نظر بگیرید - از این
تنبلی و بی غیرتی برآئید. نام آبا و اجداد خود را بدون همتی خود از زمره شجیعان
اقوام دنیا محو مکنید - دین سبب. نصیحت برادرانه صادقانه این خدمتگار شما - حالا معلومات
سمت جنوبی و مشرقی را بشما ذیلاً توضیح میکنم. که للّه الحمد سمت جنوبی و مشرقی بغیرت
و ننگ افغانیت خود ها پا بند و از هر دو طرف بیک تعداد کثیر لشکر جمع آوری شده
بعد از چند مرتبه که دزدان و فاسقان را شکست های بزرگ داده اند بطرف کابل
ایلغار کرده اند - که حالا در نزدیکی کابل از هر دو سمت رسیده اند. و اقوام هزاره و وردگ
هم از سمت میدان و هزاره جات بجمله مردانه خود سقاویان را خنکوب و مغلوب ساخته اند.
شما هم باید فوراً بیک اتحاد و اتفاق برادرانه لشکر زیادی فراهم کرده. فوراً دزدان
و اشرار سقاوی را در هر حدود و ولایت اطراف البلاد احمد شاهی که جاگیر باشند.
بجمله های مردانه خود محو نموده بمعاونت خداوندی بطرف مقر و غزنی اقدامات
شجیعانه نمائید. و همیشه از کارروائی خود با این خدمتگار ملت افغانستان اطلاع بدهید
و به نزد اقوام عالم خود را سرافراز ساخته از دست خسران ابدی خود را نجات داده فلاح دارین
در حاصل کنید. فقط

## دليک يافرمان بشپړه ژباړه ۱۳۴۸ نمبرفرمان

داڅکزود قوم محترموخلکو،د قوم مشرانو،سپين ږيرواوخانانوته په کندهار کې په صادقانه توګه دهمدغه مکتوب په وسيله خپل پيغام رسوم.


دغه انقلابي حالت،دشرم اوبيغيرتی کړنه چی ديوه نفرغله،لاری وهونکي د پر ديومزدوراوياغي بيغيرته کس لخوا،پردولت اوسلطنت باندي يوه تورلکه تحمل سوه.هيڅ يوافغان دغه بدنامه نوم اوشخصيت منلای نه سي. په ځانګړې توګه زموږ درانی قوم ته چي ۱۶۰ کاله ئي ددې هيوادخد مت اوچوپړوهلی دی، موږته دغه بدنامه شخصيت د منلووړنه دی.دغه دافسوس ځای بولم چي يو دپرديو غلام ،بې سواده اوبې نوم اونښانه څوک راولاړيږي،دپردديوپه غلامۍ اومرسته زموږ د۱۶۰ کالودزحمت لاسته را وړنه دخاوروسره برابروي.او بيا افغانستان ددنوروقدرتونوتړواک لاندي دهرډول پرمختګ څخه را ګرځوي.

تاسوپوهيږی چي لوی خدای بخښلی احمدشاه بابا پرهندوستان او دسيکهانو پر مرهټه سيموباندی،همدغسی پرنوروغټوقومونوباندی په ميرانه دافغانانوپه همت يوه لويه امپراطوری جوړه کړې وه.چی دغه ټوله زموږ دهمت اوغښتلتوب استازيتوب کولای سي.نودغه هيوادموږته نسل پرنسل په ميراث راپاته دی. اوساتنه ئي زموږ دنده ده.خو! نن يوتجريد اقليت بې هويته قوم راولاړيږي او ټوله ستاسودهيوادافتخارات درڅخه اخلي.په داسي حال کی چي شپږ مياشتي مخکي ددغه بغريتوڅخه تاسودنوکری دپاره هم نه نيول.ليکن نن پاچهی در باندي کوي.دغه مؤقت اواجيره قوه دوی له کومه کړه.ايا دا کيدای سي. نه هيڅ وخت به په هيڅ ژبه دغه تعبيراوڅرګنده نه سي چی موږ دی ودغه اجيرو کسانوته تسليم سو.خو بيا هم نړۍ په دې پوهيږي چی دغه ټوله زموږ دغفلت، بې اتفاقۍ اوبې تفاوتۍ پايله ده.نوموږته بيا هم موږ ته لازمه ده چي غيرت او همت دلاسه ورنه کړو.نو به ددوورځودهمت په نتيجه کي، فتحه اوبری زموږ په نصيب وي.او په يوه آوازاو يوه همت به ملا وتړو او دورورۍ اواسلامي وحدت په زور به دغه بې هيمته ،غداران به سرکوبه کړو.او خپله لمن به ددغه بې نګيودلکي څخه پاکه کړو.او خپل تاريخي وياړبه ترلاسه کړو.تاسي پو هيږی اوفکرکولای سی، چي نن هندواو مسلمان په هندوستان کی زموږپرحال اوغيرت وياړي.اودغه دغله پا چهي او تورلکه نه سي قبلولای.خو موږاو تاسو ته لعنت وايی. دخدای دپاره څه وسوه؟؟ چی ددغه ټوله زوراوطاقت سره چي موږئې لرو،ديوې سيمي،ددودروسوغلوڅخه،موږوبيريږوپه داسي حال کي چي

يولک نفره مسلح په داخل کی موجودسته موږدغلامۍ سردوی ته تیټ کړو؟.او په دغه شرم سره قناعت وکړو؟.خپله فکروکی،خپل تیرتاریخ اووسني شرایط په نظرکی ونیسی او نتیجه لاسته راوړی.اوددې ټنبلۍ اوبې غیرتۍ څخه ځانونه را وباسی. دخپل پلاراونیکه ګټلی نوم دنړۍ ولسونواومشرانوته دبیا دپاره څرګنده کړی.دغه دی!ستاسودیوه خدمتګارصادقانه اودوستانه نصیحت یادونه.اوس نو تاسوته دختیځ اوجنوبي افغانستان دبرخواحوال درته توضیح کوم.دخدای په فضل دجنوبي اومشرقي باغیرتواوبا ننګو مبارزینویوډیرتعدادلښکرسره راغونډ کړې اوټول کړې دي.پسله څوځلوچي غلواوهیواد پلورنکو تیښته وکړه.سخته ماته ئې وخوړل،نودکابل پرلوري ئې ورودانګل اوپه لږوخت کې د کابل شاه وخواهم ترخپل کنترول لاندی راوستل.اوددولاروڅخه کابل ته را ورسیدل. همدغسي هزرګانواوورد ګو هم په خپلوسیموکې دسقاویانومشران اوسرداران سرکوبه او مات کړی دي.اوهم همدغسي تا سوهم په یوه وحدت اوملي یووا لي سره غټه قوه برابره کړیده.نوسمدلاسه د دغه غله اودهیواددښمنان سقاوي اشرارداحمدشاهي لوی کندهارڅخه ترغزني پوري دابدله پاره وشړی اوپه خپله میړانه ئې ریښې دغزني ترشاه وخواسیمو پوري دخدای په مرسته ورویاسی.او ترغزني پوري سیمه ددغوغلواوهیوادپلورنکوڅخه خلاصه کړی.اودبریا لیتوبو نوهرپړاوموزموږسره شریک اوهم غاړی کړی،ترڅویودبله سره خبریو. د همدغه مبارې په نتیجه کي به دخلکوپه منځ کي تاسومشران باعیزته اودلوړهمت خاوندان وشمیرل سی.دهمدغه تل پاتي بدنامۍ ،خرابیو څخه به هیواد وژغورل سي. نورنودغه فتحه اوبریالیتوب ستاسوپه برخه دی. دغه بریالیتوب ځانته دغه بریالیتوب به ځان اوهیواد ته حا صیل کړی.همدغه ...

**محمد نا د رخان**

**لاس لیک خپله دشهید پاچاجنرال محمد نادرخان په خپل قلم**



# دوهمه برخه یا دوهم څپرکی

## په افغانستان کي د مشروطیت غورځنګ اوپه هغه کي دمرحوم بهرام خان اڅکزي دافکاروونډه

دامیرشیرعلي خان په دوران کي په افغانستان کي نوي قوانین،دټولني دپر مختګ په مختلیفوساحوکي رامنخته سوه،دچاپ ماشینونه یامطبعه جوړه سوه، حربي ښوونځی،عسکري نومونه اودقانون ترادارې لاندی حکومت دامیر شیرعلي خان دوخت ښه کارونه و سوه.

امیرشیرعلي خان چي دپلارامیردوست محمد خان د مرګه څخه وروسته دوصیت سره سم پا چهۍ ته ورسیدی.په دې وخت کي دامیرشیرعلي خان په ذهن کي دغه دوه عامیله وه چي ستر تاثیر ئې وکړ.

لومړی:داچي امیرشیرعلي خان دپلارسره دانګلیستان په سفرتللی ؤ،چي داروپا دنوي اومډرن قوانینوتراغیزی لاندي راغلی ؤ.اوپه دې هاندسوچي ټولنه باید مډرنه سي اوپه اقتصادي لحاظ پیاوړې سي.اوهمدغسی آزادی یوازنۍ لاره ده چی دټولنی وخلکوته دپرمختګ ښه زمینه برابرولای سي.نوپه همدغه ډول د۱۸۷۲م کال څخه وروسته چی واک ته ورسیدی اوپه اصلاحاتوئې لاس پوري کی،غوښتل ئې چي فابریکې اوماشینونه هیواد ته راوغواړي .لکه پورته چي اشاره ورته وسوه.

دوهم: په روبنائې لحاظ یولړپرمختګونه دامیرشیرعلي خان په وخت کي را څرګند سوه چي محرک ئې په دغه وخت کي دافغانستان سترشخصیت جمالدین افغان ؤ.سیدجمالالدین افغان چي دامیردوست محمد خان په دوران کي هم دبشپړه عتباروړؤ،اودنړې یولړهیوادونه ئې لیدلي وه لکه:هند،عراق ،سوریې اوحجازته ئې سفرونه کړي وه.چي دنړۍ دهمدغه هیوادوتجریبې ئې هم دځانه سره را وړې.اودټولني دپرمختګ دپاره ئې داساسي قانون مسؤده جوړه کړه،خو! دوخت د بد و شرایطو پربنسټ د هیو اد نه د باندي وتلوته مجبورسو.لیکن:اصلاحي پرو ګرامونه ئې پریښودل.

په ۱۸۷۴م کال کي امیرشیرعلي خان پرعصري پرنسپونوباندي دولتي تشکیلات جوړکړه.دا دافغانستان په تاریخ کي لومړی ځل ؤ،چي په عصري ډول یوه کابینه جوړه سوه.په کابینه کي صدراعظم اووزیران پیژندلي خلک،یوه

اودسوادلرونکي زده کړي خلک وه.چي په کارهم پوهیدل.دامیرپه همدغه کابینه کي دشاهی کورنۍ څخه ئې یوه نفرهم مقرره نه کی چي دخلکو دباوروړ وګرځیده اودروبنائي رفورم جوهرهم په دغه ځای کي ؤ.دښه اداري اوښه تنظیم دپاره امیرشیرعلي خان یودولس کسیزه مشوراتي کمیټه جوړه کړه .اوبیائې اوه کسه وزیران وټاکل چي دوزیرانو مشر سید نور محمد شاه دده خپل باوري شخصیت ؤ.

پردغوکارونوبرسیره امیرشیرعلي خان دهند برتانوي دسفرڅخه وروسته دنوی اوعصري مطبعاتو بنسټ هم کښیښود.لکه څنګه چي مخکی هم اشاره ورته وسوه، دخپرونو ماشینونه راغله اوپه ۱۸۷۳م کال کي لومړۍ جریده دمیرزا عبدالعلي په مدیریت( شمس النهار) خپره کړه.چي دشکل اومحتواله مخي ئې دعصري جریدې نماینده ګي کوله.محترم کاندیداکاډمیسن محمدابراهیم عطائي صاحب په خپل کتاب(دافغانستان معاصرتاریخ ته یوه لنډه کتنه) کي په ۱۰۱مخ کی داسي لیکي:«دشمس النهارجریده په ۱۶مخونوکی خپریده،چي ژبه ئې ډیر برخه فارسي اوسخته فارسي وه،خوپښتوهم لړپه کښي خپریده،چی همدغه جریدې دمعاصرافغانستان په تاریخ کي دخلکوپرذهنونوباندي ډیري ژوري اغیزي وکړې»تجریبې ډیري سوې اونورهم ټولنه دمشروطیت اوډ موکراسۍ خواته په نوي فکرکي سوله.دغه وخت یولړکتابونه،رسالې هم خپرې سوې. لکه:قواعدورساله چي دامیرپه امراودمحمدابراهیم خان په وسیله وژباړل سوه. چي دعصري مطبوعاتودلومړیوښوکارونوڅخه شمیرل کیږي.اودخلکوپه تنویر کې لویه برخه درلوده.ددغه لنډپیراوڅخه خلکوبشپړه ګټه واخیسته.دلته دیادولو وړخبره داده.چی ددغه وخت لوی فیلسوف او پوهه سید جمالدین افغان دخپل اصلاحي پروګرام په وسیله امیرشیرعلي خان ځینوشیانوته متوجه کی.خو! خپله امیرهم یومنورپاچاه ؤ.اودافغانستان راتلونکي ته اندیښمنداویوپوهه انسان ؤ.څه وخت چي دغه چټک پرمختګ اودانګریزانواستعماري کارونه دعصري مطبعاتودخواڅخه وغندل سوه،اودخلکوذهنونه ورځ تربلي روښانه سوه.نو انګریزانودخپلولاس پوڅو په وسیله دامیرپرضد دسیسي راپیل کړې.اوپه دوهم افغان انګلیس جنګ کي ئې چي په ۱۸۷۸م کال دنوامبرپر۲۱راپیل سؤ.پر افغانانوجنګ وترپل سو.نودغه اصلاحي پروګرامونه ئې ګډوډکړه.اودافغانانو ارمانونه هم ورسره،ګډو،وډکړل سوه.دامیرشیرعلي خان لومړی پیراودوران ؤ. چي تردې وروسته بیا د مشروطیت لومړی پړاوراپیل کیږي.خوزما دانده دغه دوره که څه هم داستعماري دولت انګلیستان اغیزي پر سیمي دومره ډیري وې

چي په بشپړه توګه ئې ونظام اوحکومتونوته تغيرورکولاى سو.خو! بيا هم دغه دوره دافغانستان په تاريخ کي يوه روښانه اودډيرارزښت وړدوره ګڼلاى سو.داځکه چى په نړيواله کچه دآزدى،مشروطيت اوآزاد فکر،خيالات په غرب اوبيا په شرق اوآسيا کي را څرګنده سوي وه.نودلته منورين لکه په راتلونکي او تردغه دمخه دوروکي دډموکراټيکوآرمانونو په خاطر دزړوارتجاعي فکرونو اواړيکوسره سخت لاس په ګريوان وه،همدغسي دملى مبارزي دپاره يا توره په لاس اوياهم دقلم په وسيله بوخت وه.ددغه وخت منورين په لاندى ډول وه.چى تاريخ به هميشه ددوى منورخيالونه په يادولري.

برسيره پرسيد جمالدين افغان ، خپله امير شيرعلي خان يو منورپاچاه ؤ.چى دافغانستان دنوي کولو،دتمدن دراوستلواوعلم اوپوهي ته دکارکولوپربنسټ ئې دانګريزانوسره اړيکي خرابي سوې.اوسختي ورځي ئې په خپل هيوادکي دپرديواستعمارګرانو دلاسه وليدلې.اوډده سره دهغه کابينه لکه : سيد نور محمد شاه کندهارى ټول مختاريا صدراعظم – حبيب الله خان ورد ګ لوى ملک يا وزيري ماليه – ارسلاجبارخيل لوى مين دباندي يا وزيري خارجه – عصمت الله خان غلجى لوى مين دغرويا وزيري داخله – ميرزا محمد حسن خان لوى کښل يا دحضور سر منشي – حسين علي خان پنجشيرى ټول مشر يا سپه سالار يا وزيري جنګ – احمد علي خان چغتايى لوى ټولول يا دخزانې وزير.

دغه اوه کسه مخورچارواکي دخپل وخت ډيرستر پوهان وه چي په چټکۍ سره ئې دافغانستان مډرن کول غوښتل اوښوونى اوروزني ته ئې مخه وکړه.او خپله هم دغه ټوله ښوونيزانسانان وه.

که څه دغه عصردوېښ زلمواومشروطيت عصرنه دى خودمشروطيت او ويښ زلميانودپاره ئې خښته کښيښوده.اوراتلونکې زمانه ئې د منورينودپاره دآزاد فکرروحيه راژوندۍ کړه.چي تردغه دورې ورسته بيا افغانان سره يو موټي کيږي.اوملى ډموکراټيکه مبارزه پرمخ بيا ئي.په دغه وخت کي نړۍ ټوله دستونزوسره مخامخ وه.همدغه علت ؤ،چى لومړى نړيوال جنګ پراستعماري ګټوباندي راپيل سو.دغه وخت اميرحبيب الله خان داميرعبدالرحمان خان زوى پرسلطنت قبضه کړې وه.اواميريوعياش اوخود سره خودخواه انسان ؤ،په درباراوشاه وخوا کې باوري کسان نه درلودله،حتاپه خپله کورنۍ کې هم تضادونه ورته پيداوه.دشهزاده امان الله خان مورچي دشاغاسي شيردل خان لور وه.اودبارکزوپه لوى بهيرپوري تړلې وه.وروروئې لويناب خوشدل خان اودهغه

زوی والي علی احمد خان چي د ملکې زوم هم ؤ.دوی په دربار کي هم ځای درلود.اود قوم په کچه د کندهار خانان هم وه.امير ددوی سره دمخالفت په اساس دامان الله خان مورته طلاق ورکی اوشهزاده آمان الله خان ئې ددرباريا قصرڅخه هم وه شړی.خوورسته دنصر الله خان په شفاعت وبخښل سؤ.

په ۱۹۱۸م کال کي په افغانستان کي هم دنوي ځوانانو دمشروطيت غور ځنګ را څرګند سوه.داځکه چي ديوه طرفه امير حبيب الله خان په عياشيو بوخت ؤ، خودبله پلوه دځوانانوغوښتنه داوه،چی په هيوادکې قانون دديکتاتورۍ ځای خپل کړي نودلته لومړني مشروطه خواهان را څرګنديږي .

ددغوڅيړنوڅخه مراد دادی چی ځنګ بيا دويښ زلميانو ګوند په خپل وخت کې راپيداسو،نودلته موږبايد دهغه پرلومړي قد مونواوبنسټونوباندي رڼاواچوو.ځکه دويښ زلميانو ګوند تصادفي شکل نه لري،ولی مخکی هم کارورته سوی ؤ. تر څوپه خپل وخت کې ديوه نوي غورځنګ په توګه دويښزلميانوګوندخپل فعاليت را پيل اودپيروزۍ ترسرحده ئې ملی د موکرا ټيک ار مانونه تر سره کړه.

## «لومړني مشروطه خواهان داميرحبيب الله خان په دوران کې»

داميرحبيب الله خان دبې پروائي په سبب په ملک کې رشوت اوفسادورځ تربلي ډيريده،اميرهم ددربار دخلکواومنورينوپه مقابل کي دزوراوستم څخه کاراخيسته. خوهرڅومره چي داميرستم اوظلم ډيريده په هم هغه اندازه،دخلکونفرت هم ډيريده اوپه هيوادکي دثبات ځای بې ثباتۍ ونيوه.اميرپه دې وخت کي ، دمنورينواومشروطه خواهانوپه مقابل کي سخت قوانين وضع کړه.اوديولړ منورينومشروطه خواهانو په اعدام ئې لاس پوري کړ.دخلکو نفرت دامير حبيب الله په مقابل کي ددې سبب سو، چي چپ قوتونه نورهم سره منظم سي،داميرپه مقابل کي يولړانګريزانوهم دسيسې کولې،ځکه چی په دغه وخت کی امير انګريزانوته داستقلال پيشنهادهم کړی ؤ،مرحوم تاريخ پوهه کانديد اکاډ ميسن محمدابراهيم عطائي دخپل کتاب (دافغانستان معاصرتاريخ ته يوه لنډه کتنه) کي ليکي:په ۱۹۱۸م کال کي چي اميردخپل زيږيدني کليزه نمانځل دشوربازارڅخه په موټرکي تيريدی.اوديوه دکان دسره څخه ئې پرموټرفيرونه وسوه.خواميرته څه تاوان ونه رسيدی،خوپه سبائې بيانيول، نيول را پيل سوه،داميرجاسوسانو د کاکا سيداحمدخان لودي کندهاري زوی ورته په ګوته کی، اميردهغه ځوان زوی اوخپله لودي صاحب زندانيان کړه.داميرپه باب ليکني سته چي هغه دخپل قدرت

دساتلوپه خاطرلومړني مشروطه خواهان دومره ډيرمړه اوبنديخاني ئې په ډکي کړې،چی چپ قوتونه هم په مقابل کی دومره قوي سوه،دمشروطه خواهانو ګوندونه هم دومره قوی سوه،چي په خپله په شاهي ارګ اودرباركې نفوذكی،په دغه چپ اوانقلابي مشروطه خواهانوکي دامان الله خان مور، نصرالله خان ، عنايت الله خان جنرال محمدنادرخان اودمحمودطرزي كورنۍ اوداسي نور...وه. دوی دغه وخت دغه ګوندته (حزب سری)ياپټ ګونديلی.دلته دمشروطه خواهانواواميرحبيب الله خان ترمنځ تضاددومره ډيرسو،چي اميرهم دغه احساسولای سؤ،نوځکه هم دسري ګوند ځوانان په دې وبيريدل چي نه بايدچي اميرحبيب الله خان دخپل پلارپه څيردقدرت پرسرمرګونه ونه کی.نوئې دهغه دمرګ پلان جوړکی.لومړی داميردمرګ په پلان کي نصرالله خان داميرورور هم ورسره موافق ؤ،خو!څه وخت وروسته ئې نظروګرځيده يوازي ئې دامير ياخپل دوروروپه بندي کولو سره موافقه درلودله.

څه وخت چي اميرحبيب الله خان په ۱۹۱۸م کال په اخير کي يعني ژمي کي اميرجلاباد ته دژمی دشپودتيرولو په خاطرولاړی.شهزاده امان الله خان ئې په کابل کی پريښوداودکابل حکومت ئې وروسپاره؛تاريخ پوهان وائي:چی ممکن داختلاف په وجه ئې دځانه سره نه وي بيولی،چي نه بايده کومه دسيسه ونه کړي.خودا په هرصورت؛خودهمدغه ژمي په يخوورځوکي په دغه بل کال يعني ۱۹۱۹م کال کي دجنورۍ پر لومړی نيټه اميرحبيب الله خان په جلال اباد کي دڅه وخت تيرولووروسته دماهيانو دښکاردپاره لغمان ته ولاړی.خو نصرالله خان ورسره نه ولاړی.اوپه کورکي پاته سؤ.اوهلته دفبرورۍ په شلمه نيټه په خپله خيمه کي ديوې بې ږغي توفنګچې په وسيله پرسرووېشل سو. داميرقيصه نوره پايته ورسيده،دلومړي مشروطه خواهانوډله بريالۍ سوه.که څه هم په لومړي سرکي نصرالله خان ځان دپاچهی مستحق ګاڼه خوڅنګه چي داميرامان الله خان وشاه ته هم دويښوځلميانوپامشروطه غوښتونکوغورځنګ ولاړؤ،هم دغسي خزانه هم دده په واک کي وه،دبله پلوه دکابل نظامي قوه هم ورسره ولاړه وه، نوئې دپاچهي چانس ډيرسو.اوعنايت الله خان اونصرالله خان دبيعت غوښتنه وکړه اميرامان الله خان په رسمي توګه پاچا سؤ.څه وخت چي دغه ځوان پاچا دخپل مترقي افکاروسره په شلمه پيړۍ کي قدرت ته ورسيدی،نوئې دټولني عيني شرايط تحليل کړه،ستونزي ئې دبدبختی دهمدغه وروسته پاته فيوډلي نظام په بطن کي را وسپړلې ،سمدلاسه ئې دنوی افغانستان دجوړښت په فکرکی سو،ترهرڅه ئې لومړی دبې سوادۍ د مخه نيولوپه خاطرښوونځيوته

مخه کړه.اودعلم پيروزي پرجهل په نوم ئې په ۱۹۲۵م کال کې دکابل په نوآباددهمزنګ کي يومنارپرانيستی .دې منارسيمي اوخلکوته وښودل چي افغانستان نوردهغه حالت څخه دراوتلوپه حال کي دی،چي دفيوډالانواومذهبی مرتجيعينوپه ولکه کي بندپاته ؤ.اوپه واقيعت کې هم په دغه دوبرخوکي ډيرد قدرکارونه ئې سرته ورسول.لکه:ښوونه اوروزنه،ياهم دخپرونواومطبعاتوپه برخه کي.نوموړی منارتراوسه هم ديادګارپه توګه پاته دی.



همدغسي دښووني اوروزني په برخه کي کارپه چټکۍ سره مخ په وړاندي ولاړی،دهيوادننه استادان اودبهرڅخه راغوښتل سوه.استادانودښوونی اوروزي پروسه ډيره چټکه کړه،په هيوادکي(۵۱۰۰۰)يوپنځوس زره شاګردان ښوونځيوته داخل سوه.۳۲۲ابتدائيه ښوونځی دهيوادپه ولاياتوکي جوړي سوې،همدغسي ليسې اومسلکي ښوونځۍ هم جوړي سوې.دبهر څخه په ډيره بيا داروپاه څخه تکړه ښوونکي په کارولويده.همدغسي دمطبعاتوپه برخه کي هم په همدغه چټکتيا سره ګامونه واخيستل سوه.چي دهيواد دتنويرپه برخه کې لوی رول ولوبوی،دولتي جريدې رامنځته سوې،۴څلوردولتي ورځپاڼي، دوې دولتي مجلې اودرې آزادي ملي جريدې نشرات راپيل کړه سوه.همدغسي ملي کتابخانه يا کتابتون پرانيستل سوه.دلومړي ځل دپاره په پغمان کي يوه دتماشې تياتراوپه کابل کي يوه ملي سينما په کارپيل وکړ.چی په همدغه سره په هيوادکي يوداسي لوی تحول په ذهني لحاظ راغلی چي ديوه قرن په اندازه ئې دهيواد فرهنګي سطحه دنهو(۹) مياشتوپه جريان کی لوړه کړه.هيوادته ئې د قانون لاره پرانيستله اودقانون نظام نامه يا اساسي قانون برسيره ئې ۷۷ نوري نظام نامي تصويب کړې.دقانون په تطبيق کي خپله هم ولاياتوته تلی اوهلته ئې دولتي مامورين ترخپل نظارت لاندي نيول،همدغسي د کابل په مرکزکې هم په دولتي د فتروکې دکارکتنه کول اونواقص ئې کتل، ځانته ئې معلومول.دافغانستان دغه مترقي پاچاچي دخلکواومنورينوسره ئې لاراوليکه درلودله،دخلکوپه ستونزه خبرؤ.دټولني طبقاتي تضادونه ئې درک کړي وه.اود محکومواومظلموطبقو پلوی ؤ.نوځکه خلکوهم ډيره مينه ورسره درلودله.اوترنن ورځي ئې ياد ژوندی

دی.دامیر امان الله خان څخه وروسته دهغه پرملګروبده ورځ راغله.چي بیلګي به ئې په لاندی ډول وګورو.

## دهیواد سرتیری مبارزعلي احمد خان

والي علي احمد خان دخوشدل خان بارکزی زوی،چې په لوی ناب ( لوی نا ئب) سره یې هم شهرت درلود،دکابل والي په ۱۹۲۵م کې ؤ.اوداعلیحضرت غازي امیرامان الله خان په کابینه کې دکورنیوچارویا (داخلي) وزیروو.او دانګریزانو سره دسولې په خبروکې مهم شخص ؤ.دسقا و دزوی حبیب الله له خوا دکابل په بالاحصارکې دتوپ په خوله کې وتړل شواووالوزول شو.مخکې تردې چې دی دتوپ پرخولې پورې وتړي نو!دسقاوزوی ته یې وویل:چې ماپه میړانې اوغیرت سره ژوندکړي دی،بیغیرتي اونامردي مې نه خوښیږي.نوکه ما وژني نومخامخ مې ټټرتوپ ته وتړه؛نه داچې دشاه له خوامې دتوپ خولې ته وتړې.سقاوي غلودی په دې توګه شهید کړ. (انځور دخوشال ځدراڼ د پاڼې نه)



والي علي احمد خان

غښتلی اوایمانداره علي احمد خان چي دخپلو عقیدو دپاره ئې دسرورکولو ته هم تیاري نیولې وه،خودانګریزانووجاسوس دسقاوزوی حبیب الله کلهکانی ته تسلیم نه سو.لاندی عکس دهغه دغښتلی توب او هیوادودستی استازیتوب کوي.




دسقاويانوظلمونه دپرديوپه قومنده اودستوردمنورينو سره په همدغه ډول ؤ.کوم چی په پورته ډول په تصوير کي وينی .

موږ دلته دغه فارسی متن ديوه ويب پاڼي څخه ترلاسه کی .دغه متن دسقاو دبې سوادئ يوه ډيره ښه نمونه کيدای سي.

## ذهنيت بچه سقا و

وقتی بچه سقاورابه ارگ آوردند فورآدستورداد‌که تمام گلهای ارگ راازبين ببريدوبه جای آن ترکاری بکريد،هربارکه بچه سقاوحرکات دورازانسانيت انجام ميدادفورأملالنگ اعلان ميکرد که بچه سقاوولی است ومستقيمآازخداوند دستورميگيردومردم مترددميشدند،بچه سقاوسه ماه بعدازشاهی خودسه بارتوسط سربازان سواروپياده خودبه ولسوالی تگاب که همه مردم آن ولسوالی پشتون هستند حمله کردوهرسه بارشکست دندان شکست خورد،بچه سقاودستورحمله چهارم رادادوگفت اگربازهم مردم تگاب مقاومت کردنداطفال شانرابکشيد وگاوبزوگوسفندشانراباخودبياوريد،وقتی لشکرسقاوی سمت تگاب حرکت کردند ديگرحوصله شکست درتگاب رانداشتند قريه بنام افغانيه که مربوط ولسوالی نجراب ميشوديک قريه کوچک ومردم آن پشتون هستند موردحمله قرارگرفت .سرانجام لشکريان بچه سقاوتمام مواشی مردم قريه افغانيه راباخودآورد،بچه سقاوخرداشت که نام اورا(واوو) مانده بودتقريبا ۱۷ ساعت درارگ باخود

نگهداری کردوبعداز ۱۷ ساعت خر ناپدید شد.بعضی مورخین مینویسند که خر بچه سقاو توسط دوست محمد یکی از نزدیکان بچه سقاو بسیار مخفیانه از ارگ به بیرون رانده شد. بچه سقاو در مدت حکمرانی خود تمام مکاتب دخترانه را منع اعلان کردودستورداد دختران مکتبی که درسنین بالا از ۱۴سال باشند باید به سربازان بچه سقاو نکاح کنند.همچنان تمام کورس های زبانهای خارجی را منع اعلان کردودستورداد که منبعد غیر ازسبق دینی دیگر مضامین درمکاتب تدریس نشود.بچه سقاودستورداد‌منبعد چیزی رابه نام مالیه جمع نمیکنیم مردم باید مالیه خودراهرساله خیرات کنند وبه ملاها بدهند. درحکمرانی ماه هفتم بچه سقاوجوان انگلیس بنام oliur jarry به عنوان ماهنامه نویس ازبچه سقاو پرسید:اولیور : بنده کی هستی ؟ بچه سقاو:من بنده امت هستم !اولیور: به امت کی هستی ؟بچه سقاو: به امت خدا!اولیوربازپرسیدآخرین نبی ازجانب خداوندکی است ؟بچه سقاو:حضرت آدم !- - - (( گرفته شده ازصفحه دوست محترم .....دوستان عزیزمن درجستجوی مواردیگرازبچه سقاوهستم درکتاب the king of miracleکه سه جلد میباشد بیش از 153 مورد درباره جهالت بچه سقاوذ کر شده .

دغه ټوله علتونه اودانګریزانو شومي دسیسې وې ،چې افغانان اودسیمي مترقي غورځنګونه په دې وپوهیدل،چې انګریزان غواړي چي په دغسي ملایانو اوارتجاعي کسانو باندي ددې هیواد څخه دښوونې اوروزني پروګرامونه ایسته کي ، همدغسي دافغانستان خلک دعمومي پرمختګ څخه دارتجاعي مذهبي خلکواوچاروا‌کوپه وسیله لیري وساتي.تر څودغه ملک بیسواده او تر ابده پوري وغلامۍ اودانګریزانوداستعماري ګټوښکارسي.دهیوادهغه منوروچي دانګریزانو غیري انساني اوغیري علمي لاري ئې مطالعه کړې وه.او دهغه په هر فورمول اودسیسه باندي ښه پوهیده لکه تفرقه وا چوه حکومت وکړه ـ یوتعدادخائینان رانیسه اوقدرت په لاس ورکړه،ملي غورځنګونه په وټکوه.همدغسي نورشوم پروګرامونه.دلته دیادولووړده چي قاضي بهرام خان اوملګرودپاره ئې هم دغه انګیزه ددې سبب سوه، چې مبارزې ته ورودانګي.

نوقاضي بهرام خان یودهغه قهرمانانو مبارزینواوویښومترقي کسانوڅخه ؤ،چې خپل ځان ئې سپړکی اودغه ملت ئې ددغه غلامۍ څخه راوایستی اودافغانستان استقلال ئې دخپلوسرتیروملګروپه مرسته دبیادپاره وګاټه.خو! دوی هم دپیروزۍ څخه وروسته دهیوادلوړپوړي چاروا کی سوه.لیکن د مبارزې او دهیواد دمظلوموخلکودملاتړ څخه ئې لاس وانه خیستی.اودډموکراسۍ بیرغ ئې لړوخت وروسته په ښوررا وست .

که څه هم لکه مخکي چي په اسنادوکې راغلي دي،دغه وخت خپله قاضي بهرام خان اودهغه ملګري ددولت لوړپوړي چارواکي وه.اودولت ته ډیرنژدې منورکسان وه.خپله ئې هم په ټولنه اوخلکو کي ډیرمینوال اومحبوبیت درلود. سیاست ئې وګاټه،ارتجاعي دسیسې ئې دهیواده څخه محوه اونابودي کړې.اوپه همدغه پړاوکې،ډیرسترکاردملي مبارزینوپه توګه سرته ورسوه.هم ئې په پراخه پیمانه پراخ بنسټه حکومت جوړکی.خو!دا دیوې مرحلې یا پړاوپه حیث قاضي بهرام خان اودهغه ملګرووګڼی،دوهم ګام ددوی په هیوادکي قانونیت،ډموکراسي،آزادي دبیان ،آزادي دمطبعاتو اودګوندنو دجوړولو آزادي، چي دیوه آزادهیواد دځانګړنوڅخه ده، ددې دپاره ئې ددولت اوحکومتي چارواکوسره مخالفت اواپوزیسون جوړکړ.دقاضي صاحب دوینااله مخي،دوی دحکومت څخه داساسي قانون غوښتنه وکړه،دحکومت څخه ئې وغوښتل چي په دولتي چاروکي دملت اراده اوتصمیم هم شریک کړل سي.چي دغه کاردشاهي حکومت په ګټه هم دی،په هیوادکي باید ملت اوخلکوته دګوندونودجوړولوحق ورکړل سي.که څه هم په ښکاره خوحکومتي چارواکوداومنل خوپه وروسته کې دشاهي حکومت له خوادتوطیولاره خپله کړه سوه.په همدغه دلیل څه وخت چي دغه ویښ ځوانان په دې وپوهیدل چي دحق اخیستل مفت اوپه زاریونه کیږي.بلکي؛حق باید د قربانیوپه نتیجه کي ترلاسه سي.نو همدلته هغه حلقه چي دویښ زلمیانو جوړه سوې وه. د مرحوم قاضي بهرام خان او محمدانور خان اڅکزی په شمولیت په یوه ګوند واوښته. او دهغه وروسته ئې مرام نامه او بنسټیزاصول ځانته غوره کړه.اودیوه منظم ګونداوتشکیلاتوسره سم ئې دحکومت اوحکومتي چارواکو څخه دخلکودارادي اواساسي قانون غوښتنه

وکړه.اودویښ زلمیانوګوندبیله بیري څخه په میړانه خپل کارراپیل کی.اودهیوادپه ګوټ،ګوټ کې پلویان اومنورین ځانته جذ ب کړه.

## دویښ زلمیانو ګوند او دقاضي صاحب شمولیت

دویښ زلمیانوګوندپه ۱۹۴۶م کال کي دیوې مترقې حلقې په وسیله په داسي حال کي پټ اوښکاره فعالیت راپیل کی، چي د محمد هاشم خان ددیکتاتورۍ دوره پا یته ورسیدل اوښاغلی شامحمودخان دهغه پرځای صدراعظم وټاکل سؤ. دافغانستان دوخت منورین اوعام خلک په دې تغیرسره خوشحاله وه.په هر خوا کي دهیواددډ موکراسۍ ډولونه ږغیدل.نشرات اوخپروني هم دادبیاتوپه څنګ کي هغه سیاسي خپروني کولې چي ددولت اواسلامی مقدساتو سره ئې ټکر نه کاوه.دغه منوره انقلابي حلقه لومړی په کابل کي ددغه ادیبانواو قلم دخاوندانو په وسیله پرحرکت راغله .اوپه خپلو کورنوکی به ئې شخصي لیدني کتني، سیاسي بحثونه او دهیوادپرچاروبه سره ږغیدل.دکابل مجله چي ددغه وخت یوه نامتومجله وه اومسؤل مدیرئې محترم عبدالروف بینواؤ،په همدغه وخت کي دادبیاتواونوښتګرۍ په برخه کي دپام وړخدمتونه تر سره کړه، چي ددې حلقې نامتوادیبانواولیکوالانودخوا څخه مضمونونه ورکول کیده .دغه منوره حلقه که څه هم دهیوادپه ګوټ،ګوټ کې نوم او نښان درلودعبارت وه له:عبدالروف بینوا – ښاغلی ارسلان سلیمي ـ محترم قیام الدین خادم ـ ښاغلی نورمحمد ترکی ـ ښاغلی فیض محمد انګار ـ ښاغلی غلام حسن خان صافی ـ ښاغلی ریښتین صاحب او محترم ګل پاچاالفت داهغه کسان وه چي دلومړي ځل دپاره ئې دغه ډله یا حلقه جوړه کړه.اوپه ډیرلږوخت کې شهرت دهیوادپه ګوټ، ګوټ کی دځوانانواومنورینوپاملرنه ځانته راواړوله.

وروسته په دې غورځنګ کي د ګډ وهیواد پالوهد فونوپه خاطردهیوادهرډول منورین لکه:ملایان،صوفیان،نوښتګرمنورین چپ ځوانان اونوروبرخه په کښي واخیستل.ددې حلقې دفعالیت شعاوي کندهارته راورسیدلې،همدغسی په کندهارکي هم دهغه وخت د منورینو بحثونه دډ موکراسۍ اودهیواداقتصادي پر مختګ دپاره روان وه.اوپه کورونواورسمي ځایونوکي ناستي اوولاړي سره کیده او په دې وخت کي دګوند بنسټ هم د کندهارپه ښارکي کښیښودل سؤ.

چي دکندهارمنوره حلقه بيا دهمدغه وخت عبارت وه له:محمد رسول خان پښتون چي دغه وخت دبغلان ولايت دويښ زلميانو په حلقه کي وو.ـ حاجي محمدانورخان اڅکزی ـ قاضي بهرام خان اڅکزی ـ مدير صاحب غلام جيلاني خان الکوزی ـ قاضي عبدالصمدخان ـ عبدالهادي خان هادي مشهورپه (بحراوتوخی) اوحضرت محمد يوسف آغا ؤ.

**محترم محمد يوسف ختيځ يار په يوه يادونه کي ليکي:په ۱۹۴۵م کال په بغلان کي هم فعاله وه،چي مشران ئي محمد رسول خان پښتونه ،محمد سرور ايوبي، غلام حيدر خان ،آغامحمد خان «نوري» ، محمد عثمان خان «پوپل»، محمد سرور خان غور بندی ، غلام علي خان کابلی اوداسي نوروه. محمد رسول خان پښتون چي دقندودشرکت ريس وو،ونيول سو او ۱۲کاله ئې زندان تير کی.**

همدغسي ځيني ځوانان هم دګوند پلويان وه، چي دګوند حرکت ته ئې ځانګړې ځوانه انرژي وروبخښل.د مشرانوپه څنګ کې دويښ زلميانوړ.غ يوپه ځوچنده کی.دغوځوانانوهم په خپل وخت کي سترنوم اونښان درلود.اوداستادانوپه توګه په کندهاراوشاه وخواکي پيژندل سوي وه. دوی ته ئې ددوهم پړاواو يا ترپورته مشرانو کښته پوړځلميان ويل چي عبارت وه له : ښاغلی عبدالشکوررشاد ـ آغا محمد خان کرزی ـ محمد ابراهيم خان خواخوږی ـ حاجي محمد حسين خان ـ محمدحسين خان ريدی ـ صوفي ولي محمد خان ـ محمدعلم خان بځرکی ـ نوراحمد شاکرـ شيراحمد جان ـ محمد علي خان ـ حاجي لعل محمد خان ـ محمد اصف خان اومسلم صاحب .دوی ته ئې ځکه دوهم پوړملګری ويل چي عمرونه ئې ترلومړيوګوندی مشرانولږ وه.اودخپل وخت ځوانان وه.ليکن دفعاليت په ميدان کي ډيرکارينده اودسياست نه ماتيدونکي ځوانان وه.

څه وخت چي دکابل ګوندي حلقې اومنورينوپروګرام د کندهاردويښ زلميانو دپروګرام سره شريک سؤ.نودکندهارويښ زلميانودهغوی سره بنسټيزاوصول مرام نامه شريکه کړه،اودکندهارمنورينوهغه حلقوی اړيکي په منظم سياسي اوسازماني اړيکوبدل کړه،نودهمدغه ځايه څخه دويښ زلميانوګوندجوړاو دافغانستان په ګوټ،ګوټ کې پلويان وموندل اودافغانستان خلکوهم وپيژندل، خو!لږوخت لانه ؤتيرسوی چي نړيوال شهرت ئې هم پيداکی.او دوخت حکومت دهمدغه ستروسياسي مبارزينو څخه په لړزه اوبيره کي سو.دسيا سی مبارزينو يا ويښوزلميانوفعاليتونه ئې څارل. که څه هم ډير دغسي کسان په ويښ زلميانو

کی وه چي دحکومت په حمايه خو! دقانوني نظام پلويان وه.او دنادرخان ددولت په جوړيدوکې ستربرخه درلودله، همدغسي شاهي دولت اوکورنۍ ته هم نژدې وه.لکه:مرحوم قاضي بهرام خان اوحاجي محمدانورخان اڅکزی.چي دسقاو دزوی حبيب الله په چپه کيد وکې لويه برخه درلودله.اوشاهي کورنۍ هم دوی ترهغه وخته نازول اوسترامتيازات ئې ورکول،چي دوی ددولت اوشاهی کورنۍ ټوله امرونه بيله کوم دليله په پټوسترکومنلي وای.خوداچي قاضي صاحب بهرام خان اوحاجي محمدانورخان ويښ زلميان سوه.نوديوه پلوه دخلکوباورپرګوند اودويښ زلميانوپرلارښونوباندي نورهم ډيرسو.شاهی دولت ته دايوه لويه ستونزه سوه.داڅکه چی دوخت قاضي والقضات دشاهي مشروطه،قانوني اساسي،دښځودآزادۍ اوښووني اوروزني ته دپاملرني په خاطرړ.غ پورته کی. دانويوه معمولی خبره نه وه،شاهي دولت که څه هم دغه وخت دډموکراسۍ ايکټ کاوه.اودسردارشاه محمودخان دوران ؤ.چي نړۍ هم دافغانستان حالاتوته په څير،څيرکتل.تريوه وخته ئې دغه دويښ زلميانوعلني فعاليتونه تحمل کول، خو! وروسته ئې فکروکی چي دغه فعاليتونه اودخلکومينه اومحبت دهمدغه ځوان ګوندويښوزلميانوسره دشاهي حکومت په ګټه نه دي، څکه دغه خلک دهيواد پالني په ميدان کي ددوی حرکت ، فعاليت ده شاهي نظام ترکنترول بهر دي.اومغروره،پوهه اودټولني هغه معتبره قشر،سياست پوهان اودوخت پيسه داره خلک هم شموليت په کښي لري.نوئې څکه وجودپه لړزه کي سو.خو! ويښ زلميان بياشاهي حکومت تسليت ورکاوه،چي مورټوله فعاليتونه علني، اسلامي اودشاهي مشروطه حکومت،دټينګښت دپاره کوو.ليکن حکومت په دغه وخت کي دخپل نارضايت په خاطردغه کسان چي دويښ زلميانو ګوند ته وفادراره وه،هغه ئې دحکومتي صلاحيتونوڅخه ګوښه کړل.اوپه عوض کې دسازش کونکوعناصرواوماموريونوڅخه ګټه اخيسته،چي دحکومت اوويښ زلميانوترمنځ په کرار،کراراختلافات ودې سطحي ته ورسيدل،چی په علني توګه بيا حکومت دويښ زلميانوسره مخالفت کاوه.دا وخت په ويښو زلميانو کی ددولت لوړ پوړي ايمانداره چاروای وه، چی حکومت دګواښ سره مخامخ کړی ؤ.داڅکه چي هغه ايمانداره کسان ،په کارپوه،علمي شخصيتونه وه، چي حکومت هم دوی ته ضرورت درلوداوهم ئې د ګواښ څخه بيريدل.ترډيره ځايه ددولت دغه

چاروواکي چی بیا په وروسته کی په ویښ زلمیانو کي د د موکراسۍ اوټولني ته دقانونیت په راوستلو کي ږغ پورته کی.که چیري دولتي چارواکوبیله قید اوشرطه په آسانه سره ددوی غوښتني منلي وای، نوپه دې کي شک نسته چي دغو کسانوبه دخلکواوحکومت په منځ کي پوره محبوبیت اوواک ترلاسه کړی وای.خو!حکومت هم ددغه ځایه څخه په بیره کي ؤ.چي دوی باید مخ ته پرې نه ښودل سي. که څه هم دټولني اودولت په نظرډیرلوړکسان هم وه.

مرحوم محمدعلم بڅرکی دویښ زلمیانو په خپل لیکل سوی کتاب کی کښلي دي.

دغه کسانوپه کندهارکي دویښ زلمیانو ګوندجوړکی اوپرپیښوئې ودروی.لکه : ښاغلی محمد رسول خان پښتون – غلام جیلاني خان مدیرصاحب – قاضي عبدالصمد خان – حاجي محمد انورخان اڅکزی – مولوي محمد بهرام خان اڅکزی – عبدالهادي خان هادي – حضرت محمد یوسف آغا .

داهغه کسان دی چی نومونه به ئې همیشه په تاریخ کي نویشته وي.اودخپل وخت دتاریخ هغه مهم منورین وه.چي په تیرتاریخ کې هم د ملي دولت په جوړيد وکي غزاوي کړی وي.خو! نن ئې دهغه دولت سره چي دوی منځ ته را وړی ؤ، دهغه سره پرډموکراسۍ اودښووني اوروزني په برخه کي اختلافات دبندي خانې ترحده ورسیدل، دلته داپوښتنه را منځته کیږي چي ایا دولت نه غو ښته چي دشلم قرن په دغو وختونو کی دي قانون اوډموکراسي راولي؟. زه فکر کوم چي دغه وخت حکومت هرڅه ترخپل نوم لاندی راوستل.اوښه نوم ئې یوازي دشاهی خاندان د کورنۍ دپاره خوښ ؤ، ملت ته ئې دارزښت په سترګه نه کتل.او نه ئې غوښتل چي په ملت کي دي یوه ډله دخلکو په منځ کي دسیاسي نوم اونښان خاونده سي.نوپه همدغه دلیل ئې هغه کسان چي قومي اوملي، سیاسي محبوبیت ئې دخلکو په منځ کی پیداکړی ؤ،هغه ئې دسیاسي صحنې څخه لیري کول.اوپرځای ئې هغه کسان پرکاربandي ګمارل،چي دانتقادکولو روحیه دحکومت پرضد باندی ونه لري.نوپه همدې دلیل ئې دیوځل اخطارسره سم دوی ددندی څخه لیري کړل ، چي په دې ترڅ کی ځینوویښوزلمیانوخپله استفاء خپله وروسپارل،خوځینی لیري کړل سوه،خویولړویښ زلمیانوبیاپه دولت کي هم ځانونه وساتل اودویښ زلمیانوملګري ئې هم په پټه سره کوله. نودولت

هغه کسانوته چي پرخپل هوډ ټینګ ولاړوه، هغوی ته ئې دبند سزاوي ،ترهغه حده واورولې چي کوټه قولفي،سیاچالونه اودتاریکوکوټوبندیخانې ئې په ولیدې،سخت تکلیفونه ئې پرراوستل،خو!دهغوی هوډئې دخپلي قانوني او انساني ،سیاسي مبارزې څخه وروانه ړولی.چی دهمدغه جملې څخه موږبیاهم دقاضي بهرام خان اڅکزي نوم یادولای سو.چي په صدارت کې په یوه سیا چال کی یولس کاله (۱۱) بندي کړی ؤ، څه وخت چي دزندانه څخه خوشي کړل سو نو سمدلاسه دډاکټرانوترتداوی لاندي سواودپښوفلج ورته پیداسؤ.چي ترپایه ئې زنګونونه په درداخته وه.اودپښودرداوشکایت ئې دژوند ملګری سو.

## د قاضي بهرام خان له نظره دویښ زلمیانو اوحکومت ترمنځ ټکر

مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی، چی دویښ زلمیانو دهغه مشرانودجملې څخه دی هغه په دغه وخت کي دقاضي القضات چوکۍ هم درلودله او خپله هم ددغه دولت یولوړرتبه باوری مامورؤ،خودملت دګټودپاره بیا ددغه ټولوامتیازاتوڅخه تیراودخپل وخت نوښت ګراوروښان فکره ویښ زلمی وو.چي دحکومت سره ئې دملي او ډ موکراټیکو ګټوپربسټ تضادونه را منځته سوه.

هغه ماته په یوه ځانګړي مجلس کی دغه موضوع ډیره ښه وڅیړل اووې ویل : دغه وخت زموږ ټولنه دنړیوالوشرایطوسره سم ویوه پراخ نوښت اوتغیرته ضرورت درلودی،نودانوښت دسیمي په کچه هم روان ؤ.دافغانستان ویښوخلکو خپل فعالیتونه دویښ زلمیانو د ګوند ترمخه اوبیا ورسته چي دویښ زلمیانو ګوند جوړسو.په پټه اوښکاره ډول ترسره کاوه،په مجلسوکي بحثونه کیدل،په خپرونوکي منورینودډموکراسۍ دپاره تبلیغ کاوه،په بهرکی په پټه دافغانستان دحکومت پردغه چپ اودیکتاورانه سیاست،ددرواغوپرډموکراسي، دمحمدهاشم خان اوشامحمودخان پرحکومت باندی نیوکي اوکتابونه خپریدل.اوبیا دافغانستان خلکوته په پټه راوړل کیده اوتوزیع کیدل به،ترڅوددې خلکوذهنوته دډموکراسۍ نومونه اودټولني درونې اندۍ یاروشنفکرۍ خیالونه وروړسیږي. تردې وروسته دویښ زلمیانوکړنوپه ټوله افغانستان کي ریښې وځغلولې.اودوخت دحکومت چال اوچالبازۍ ئې رسوا کړې.دولت که څه هم دغه وخت دیوه پلوه دپارلمان او ډموکراسۍ ډول واهه،خو! دبله پلوبیا دپاکستان سره ستونزه روانه وه او

دپښتونستان مسئله په منځ کی پرته وه؛ که څه هم دغه وخت دپښتو نستان مسئله یوه بهانه اودپاکستان دبوخت ساتلواوضعیفی په خاطرئې خلک په بوخت کړی وه.خو!داسی معلومیده چی خلکوهم دحکومت دغه چالبازۍ تریوه ځایه پیژندلې وه.نوداوخت چي حکومت اوددولت سردارانو افغانستان دځان شخصي مالکیت ګڼه اوحکومتي مداخلې دخلکودژوندپه هره ساحه کی رواني وې.نتیجه یا پایله ئې داسوه چي، په۱۹۵۰م کال څخه وروسته دولت دخلکوغاړي ته لاس ور واچاوه. دټولنی پرمنورینو،سیاسي اوټولنیزوخلکوئې په مختلیفوولایتونوکې دهیوادفشارونه راوسته اوډیرمهم کسان ئې ونیول.په انتخاباتوکې دحکومتي مرتجعینوپه ګټه مداخلې راپیل کړې،دحکومت اوخلکوترمنځ بې باوري نوره هم ډیره سوه.حتا تردغه اندازې چي خپل هیوادوال ئې دافغانستان په دښمنانوبد نامول اوخپل اصیل افغانانوته ئې دپاکستان ددولت دجاسوسۍ اسناد جوړوله.چی په دې باب دویښ زلمیانو یوتکړه لیکوال مرحوم محمد علم بڅرکی دخپل کتاب (ویښ زلمیان دافغانستان یو سیاسي تحریک ) په کتاب کي په ۶۴مخ کي داسي لیکي :( کله چي حکومت تصمیم ونیوه چي په هیوادکي سیاسي غورځنګونه او سیاسي شخصیتونه له منځه یوسي،نوئې په داسي دسیسولاس پوري کړه.چي هغه په تاریخ کي خپل سارۍ نه لري.په دې وخت کي دسلطنتي کورنۍ ترټولو لوی کاسه څټی،عبدالغني خان قلعه بیګي ؤ.

چي دغه وخت دکندهارنائب الحکومه ؤ.داسړی هر چیري چي مقرره سوی دی، ددغه سلطنتي کورنۍ دپاره ئې دولس په وینولاسونه رنګ کړي دي. او دسیسې ئې جوړي کړي دي.چي دغه دسیسه ئې دبیلګي په توګه راوړم.

لومړی:یوه ورځ فضل محمدخان اڅکزی چي په هغه وخت کي دقبائلومدیرؤ، دآغا محمد خان کرزي سره په مجلس کي داسي اعتراف وکی:

آغا محمد خان کرزی وائي ؛یوه ورځ فضل محمد خان خوراخوابدی ناست ؤ.ماورته وویل : مدیرصاحب نن یوڅه خوابدی ښکاریږي ،خیریت خودی؟؟

فضل محمد خان وویل :هو! خیریت دی.خوکیسه داسي ده.چي برای شپه زه او اکبرپرواني نائب الحکومه غني خان وروغوښتلواوهدایت ئې راکړ،چی تاسویو

داسي رپوټ جوړکی، چي برای شپه موږ (فضل محمد خان او پرواني) يو چيري ميلمانه ؤ،تقريبأدشپې پردويا دروبجوکله چي په کندهارکي دپاکستان دکونسل ګری ځخه راتيريدلو،ددې کونسل ګری څخه حاجي محمدانورخان اڅکزی اومولوي قاضي بهرام خان اڅکزی راووتل.دوی موږ.په خپلوسترګو وليدل. فضل محمد خان اضافه کړه،چي موږهم دنائب الحکومه صاحب په هدايت همداسي وکړه،بيامود موضوع رپوټ مرکزکابل ته مخابره کی،حاجی فضل محمدخان وويل: زه اوس په دې سره ډيرسخت خواشنی يم،وجدان ته ډيرسخت خجالت يم .

دغه موضوع خپلودوستانوته آغامحمد کرزي وروړرسول اوهغوی ئې دحکومت دجاسوسانواودغني خان ددسيسوپه مقابل کی خبرکړه.محترم قاضي صاحب دغه کيسه ماته کړې وه.خومادغه کيسه دمرحوم محمدعلم بځرکي دکتاب په سند سره دلته وليکه.محترم قاضي صاحب به ټول عمرويل:چی حکومت ددرواغواو دسيسو څخه کاراخيستی اوهميشه به ئې دويښ ځلميانودبد نامولودپاره دغسي دسيسې جوړولې.اوپه دې باب به ئې دخپلودولتي مامورينواودخپلوپټوجاسوسانو په خوله درواغ جوړوله،ترڅوخلک اومترقی غورځنګونه سره بيل او ددوي په منځ کي فاصيله پيداکړي.که څه هم خلک په دې پوهيدل چی حکومت درواغ وائي،خوځينودګټوپه خاطرږغ نه سوای پورته کولای،ځينوبيادبيري په خاطرخاموشي اختيارکړې وه.اودريمه ډله خلک بيا په دغه خاطرچي موږ يوآزاد دولت لرونه داچی دغه آزادي موتهد يد سي نو به چپ پاته کيده.

مولوي صاحب بهرام خان په دې دروسرونظرياتوکی بيا دغه خپل څلورم نظر درلود.دغه نظرئې تائيداوه،چي ملی حکومت هيڅ وخت په درواغونه سي جوړيدای،که چيري جوړهم سي پايښت به ونه لري.هغه به ويل:چي دافغانستان شاهي حکومت تيروتنه کوي،چي دهيوادهوښيارخلک،سياست پوهان اودعملي تجربې لرونکي کسان ياپه پاکستان پوري تړي اوياهم دخپلوجاسوسانوپه درواغوئې بندی کوي.دغه ډول سياست خپله دحکومت،خلکواودانينده راتلونکو په تاوان دی.نوخلک بايد سره يو موټی سي اودحق آوازپورته کړي.

قاضي صاحب به ويل:حکومت چي به هروخت زموږ (حاجی محمد انور خان او قاضي بهرام خان) په مقابل کي شوم تحريکات کوله نوموږ به ئې په پاکستان پوري تړلواودادشرم خبره وه چي يوحکومت خپل خلک په پرديوهيوادوپوري تړي اوبد نامه وې ئې،په داسي حال کی چي دپاکستان چارواکواودافغانستان چارواکودواړولاسونه سره يوکړی اودخلکوپرضد ئې د سيسې کولې.

ددې خبري معناداده چي مرحوم قاضي صاحب به ويل: دپا کستان اوافغانستان دچارواکولاس وملت ته يودی.دلته بياهم د مرحوم محمد علم بڅرکی صاحب د کتاب دغه يادونه ډيرښه دليل کيدای سي.

مرحوم محمدعلم بڅرکی دخپل کتاب ويښ ځلميان دافغانستان يوسياسي تحريک په ۶۵مخ کي داسي ليکلي دي: دوخت دچارواکواودپا کستان ددولت دسياسی ډيپلوماټانو څخه پرده پورته کوي.

هغه ليکي:بله دسيسه چي نائب الحکومه عبدالغني خان دپا کستان په مرسته جوړه کړې وه،هغه په خپله زما (محمد علم بڅرکي) په حق کی وه.

هغه دسيسه داسي وه:مرحوم بڅرکي ليکلي دي،چي په هغوشپوکي زه اوملګری بنديان کيږو، زه د کندهاردښارجنوب خواته په يوه کلي کی چي تيموريان نو ميده او سيد م.يوه ورځ زه د کلی څخه دښار وخواته را روان وم،چي دپا کستان دکونسل خانې يو  نفرچي عبدالعزيزنوميده.او ما داسړی دپخوا څخه چي دی په چمن کي ؤ،پيژنده په لاره کي زماپه انتظارولاړؤ.نوزه چي ئې وليدلم نوخورا خوشحاله سو.اوزماپرخوارارروان سؤ.

راته وې ويل: دپا کستان کونسل خورا ډير سلامونه درته ويل.او ماته ئې دغه پيغام راکړی دی.

چي دپاکستان حکومت ستا ورا تګ ته ښه راغلی وائي،هلته په کوټه کښي ستا دپاره انتظام سوی دی.بنګله ( کوټۍ) اونورلوازمات ټوله درته برابرسوی دي.کافي معاش درته په نظرکي دی.اوهم دپاکستان حکومت تاته وعده در کوي،چي دافغانستان دحکومت پرخلاف چي هرډول تحريک چلول غواړې

دچلولودرته اجازه ده.اوهم قونسل صاحب وفرمايل؛چي ترپاکستانه درسيد و انتظام دي هم موږ کوو.او هم ئې دغه خبره را ته وکړه: چی ! که ته داسي ونه کړې،نودمعلوماتو سره سم ته د لته بندي کيږې.

خو! په هرصورت خبري ئې ډيري راته وکړې.مګرماکورټ ځواب ورکړ. همدغسي دعبدالعزيزدوينا سره سم يوه هفته لا نه وه تيره سوې ،چي پوليس را ته ودريدل .اوزندان ته ئې ورکش کړم.مرحوم محمد علم بڅرکی زياتوي : اوس نوکه دغه پورته دسيسې سره پرتله اومقايسه سي، نوڅرګنديږي،چی دعبدلغنی خان قلعه بيګي اودپا کستان دکونسل ګری چي په کندهار کښي وه، لاس سره يوؤ.اوياپه بله توګه دافغانستان حکومت اودپا کستان حکومت دافغاني ولس په مقابل کی په پټه لاس سره يوکړی ؤ.اودا يوازنی حکومت ؤ چي دخپل ولس په مقابل کې دخپل دښمن پا کستان سره لاس يوکړی ؤ.

دوی دپښتانه بهيرهغه تاج داران وه،چي يونيم سل کاله ئې دغه رنګه پا چهي را باندی کړې ده.

مرحوم بڅرکی صاحب دارواح ښاد د کتورمحمودی صاحب دغه جمله دلته را وړي چی ويلي ئې وه:په نړۍ کي ځيني کسان کرک بازان وي،ځينی بيا سګ بازان وي، ځينی بياکوتربازان وي.خود کابل سرداران بندي بازان دي.خو دمرحوم محمدعلم بڅرکی دنظره پردغه ټولوبازانوبرسيره دغه جمله هم ور ډيره سوې ده.د کابل سرداران دسيسه بازان هم دي.

دحکومت غلط سياست ددې سبب سو،چی هغه دکندهارآرام خلک دعلم اوادب پتنګان،دسولي اوآزادۍ دلاري قهرمانان دهيواد په لاره کی دخد مت اولاسته را وړنوڅخه په يوه مصيبت ګرفتاره کړه.هري لوری ته تشويش،نااميدۍ اوددولت په وړاندي تاوتريخوالۍ او ددولت او حکومت څخه دخلکو د فاصيلې ډيريدل ورځ تربلی په ښه توګه احساسيدل،حکومتی چارواکو په ډيره بيا دکندهاروالی عبدالغني خان قلعه بيګي دسلطنت ته دچاپلوسۍ په خاطرد ملی خلکوځورونه ډيره کړه.اوهغه کسان چي په خلکو کي منل سوی کسان وه، دهغوی دځورولو په خاطرئې ډيري ځورونی اودسيسې وکړې.دکندهارګل بڼ ئې په تورتم سره

تبدیل کړ.اودوخت طبقاتي حکومت غوښته چي دزوراوجبردلاري خپل شوم اعمال پرخلکوباندی وترپلي.داوخت زموږ دهیوادخلک تربل هرراتلونکي وختونو جاهل اوبې سواده وه.خلکوته دحکومت دلوري اوهغه ملایانواوملنګانو ،پیرانودلوری داسي تبلغ کیده چي پاچا دخدای (ج) سایه ده.خدای قدرت ورکړی دی.اوخدای ئې ساتي.دغه هغه خبري وې چي دحکومتی چارواکو کار ئې دحده ډیروراسانه کړی ؤ.نوکه منورینو قانوني غوښتني درلودلې، یا به ئې په دولت کي عدالت غوښته یا به ئې دقانون غوښتنه کوله.نوسمدلاسه به د ملایانو اومذهبي ټیکدارانو دسخت مقاومت سره به مخامخ کیده.اودیاغي، کافراوملحد حکم به دحکومت د تالی څټو دخوا څخه پرکیده. خلکوهم دمذهبي پیرانو خبرو ته بیله دلیله غوږ نیوه.چي دغه دشلم قرن ډیره غټه ستونزه وه.زموږپه دغه غریب افغانستان کي ، چي تراوسه هم دولتونه اودافغانستان حاکمه طبقات دهمدغه تشي یادرزڅخه ګټه اخلي.خوددې په مقابل کي بیادیولړسیاسي مخورو مبارزه چي برحقه مبارزه وه،په شدت ،هوښیارۍ او د قربانیو څخه ډکه مبارزه وه. چی دحکومت دغه ټول مقاومت ئې په خپلوقربانیواواصولی منطقوسره ورمات کړ.اوبلاخیره ئې دهمدغه ویښوزلمیانوپه روښانه فکرونوسره په افغانستان کی دسولي اوقانونیت دګوندونوقوانین په دولت باندی ومنل.دویښ زلمیانو قرباني اوسرسختی مبارزې په دغه ډول دهیوادپه دننه کي راپیل سوې،که څه یوه برخه ئې موږ په پورته بیانونوکي هم واضیح کړه، خودلته ئې بیا هم دمرحوم قضي بهرام خان د مستند سند اودهغه د مبارزودتایخ سره یادونه اودهغه دخبرو یاداښتونه را وړل لازم ګڼم.

**بهرام خان اڅکزی دویښ زلمیانو دبندي ګری کیسه داسي کوي :**

زموږ اوددولت ترمنځ باورهغه وخت دمنځه ولاړی کوم چي موږ ددولت څخه داصلاحاتوغوښتنه وکړه،موږهم ددولت لوړپوړی چارواکی ؤ، خو! دولت بیا په دې خوښ نه ؤ، چی یوه ټولنه اویایوسیاسی ګونددي محبوبیت پیداکړي.او دهغه غوښتنی دي په دسته جمعي اوسیاسي ډول ومني،که څه هم دنیکواصلاحاتومنل دقانون منځ ته را تګ او قانوني دولت خپله دهرنظام په ګټه ؤ.خودولت دزور

او بې باورۍ څخه کاراخيسته.اوپسله هغه چي پرمنورينو ئې دجاسوسانوتور ولګاوه،دحکومتی دندوڅخه ئې ليري کړل، دټولنيزژوند په ساحه کې بنديزونه پرولګول اوداسي نوروبې واکۍ سره ئې مخامخ کړه،په پاى كې دبندي كولو او ترفشارلاندي دراوستلوهڅي هم راپيل کړې.په لومړي سرکې دلومړي ځل دپاره محترم خواخوږى ونيوه اوزنداني ئې كړ.چي دنيكه مرغه هغه بيرته ددومياشتو زندان څخه وروسته راخوشي کړل سو.دغه وخت دويښ زلميانو تحريک دهيوادپه ګوټ،ګوټ کي پياوړى سوى ؤ.اومحترم خواخوږى صاحب په دې وخت کي چي داحمدشاه بابا دښوونځى ښوونکى اودځوانانوپه منځ کي دتنوير اودويښ زلميانود ګو ند د فعاليت پربنسټ په ۱۹۵۰م کال کي دوالي صاحب محمد يونس خان په امرونيول سو،په ۱۳۳۱هـ ش دحمل پريولسمه نيټه د كندهاردويښ زلميانومشران لکه : زه (قاضي بهرام اڅکزى)حاجي محمدانور خان اڅکزى،عبدالهادي خان توخى (بحر) غلام جيلاني خان الكوزى (مديرصاحب) حضرت صاحب (محمد يوسف آغا)، قاضي عبدالصمدخان ټوله په ټوله ايزډول دوالي صاحب عبدالغني خان دغوښتني سره سم ولايت ته وروغوښتل سوه.اوهلته ئې دتيزواوتاوتريخوالي د د کو خبرووروسته ،چی يوه بهانه ئې هم دغه وه چي دپاكستان دخوا تاسو ته پيسې راځي،تاسو دلته مكتبونه او ښوونځى په جوړوى.

په دې باب مرحوم حاجي محمد انورخان داسي ځواب وركى:لومړى خوموږته پا كستان پيسې نه را كوي اونه موږدپاكستان څخه پيسې اخيستي دي... دوهم: خبره داده كه چيري ستا ددغه غلط نظر سره سم موږ پيسې اخيستي وي.او هغه پيسې بياموږپه ښوونه اوروزنه مصرف کړي وي.نوداخوموږبياهم يونيک کار دښووني په باب ترسره کړى دى.خوافسوس پردغه باندي چي تاسو دافغانانو په نامه دخارجه پيسې اخلى اوهغه بيا په خارجى بانكونوكي ذخيره كوى.دغه يو ملي خيانت دى.پردې خبره والي صاحب سور،شين اوزرغون سؤ.خوسمدلا سه ئې ددوى اوزما بهرام خان په شمول دګرفتارى امروكړ.اوموږئې كابل ته بند يان بوتلو.

مرحوم محمد علم بڅرکی دخپل کتاب دویښ زلمیانودلومړیومشرانودبندیخانې اودهغوی دانتقال په باب داسي لیکي:کله چي دویښ زلمیانولومړی ګروپ دبهاوالدین پولیس په وسیله دعبدالغني خان نائب الحکومه سراچې ته وروستل سوه،تردغه وخته لادغه دویښ زلمیانودمرکزي کمیټې غړی په دغه نه وه خبر،چي دوی دبندي کیدو دپاره راوستل سوی دي.څکه نوموړی بهاوالدین دوی ته ویلي وه، چي نائب الحکمه صاحب یوه مشوره درسره کوي.نوکله چي دوی هلته ورغله نوبیا دتوقع خلاف حالات اواوضاع بل ډول ښکاره کیده.یو ګړی وروسته نائب الحکومه دکوره څخه راووتی،په مجرددې چي راووتی عسکرهم پرزلمیانوراوګرځیده اوپه ګیره کښې راوستل.

خو همدغسي بیا هم دپا کستان تورونه اوناحقه تورونه پرولګیده اودهمدغه ټولو ځواب ټولوویښ زلمیانو ردکی،نوسمدلاسه نائب الحکومه امروکی چي په موټر کې واچوی،او کابل ته ئې بوزی.ښاغلی قاضي بهرام خان زیا توی چي داسی معلومیده چي دغه دسیسه دکابل دخواڅخه وه.اوپه مرکزکې ددې پریکړه سوې وه،چي دویښ زلمیانوپرګوندباندي فشارونه راوړي.اومرکزی هسته ئې ور بندیان کړي.څوپه دغه ډول دغه نوی ځوان غورځنګ د منځه یوسي.دنائب الحکومه دامرسره سم یوه زړه لاری موټرودریدی اودهیواد دغه نازولي مخور مشران ئې دکابل پرلورروان کړه.مرحوم محمدعلم بڅرکي هم دغه صحنه په خپل کتاب کي په ډیرمستند ډول لیکلې ده.خوما خپله هم دخدای بخښلي قاضي صاحب څخه هم دلاری د کړاونوپه باب اوریدلي وه.اوهم مي د مرحوم محمد انورخان دخولې څخه دغه کیسه اوریدلې وه.چی په ریښتیا هم دغه داستان یولوی سیاسي داستان دی،اودوخت دحکومت دظلم اوبې پروائي دبشري حقونو اود سیاسي بندیانو دحق خوړلو یوه ډیره ښه نمونه کیدای سي.

څه وخت چي دویښ زلمیانومشران د صلااومشورې په نوم دوالي صاحب حضورته ورځي، په دې کی شک نسته چي دوی په یوه جوړه کالیواوساده لباس هغه هم د کندهاردآب وهواسره برابرلباس کې دوی والي صاحب ته ورغله. خوداچي دیوې زړې لاری موټرپه وسیله دهغه وخت دکنډاوکپرسړکانوپر لارودوی کابل ته راوستول کیږي، نوپه دې کې شک نسته چي ستونزي به ئې

هم ډیري لیدلي وي.دوی ترښارصفاپوري چی راورسیدل،نو!هلته ئې موټر خراب سو،دوی مجبورسوه چي هم هلته شپه وکي.دښاري صفاپه بازارکي شپه سوه.اوهلته په یوه کنډواله کې بیله تیل تکه اونالیچې څخه شپه سبایا سهار کړه.په سبا بیا یوبل موټراوموټروان راغلی،چي موټروان ئې سید محمدعمر نومیده.هغه هم دویښ زلمیانودټولني یا ګوندغړی ؤ.موټروان دمرحوم قاضي بهرام خان دخواڅخه په اشاره پوهه کړل سو،چی ځان ناګمانه واچوي(ځان ښکاره نه کړي).عسکروبند یان دسید محمدعمرموټرته ورواچول،دویښ زلمیانو دبندیانو لومړۍ شپه په ښاري صفأ اودوهمه شپه ئې وه مقرته راورسول. خو په دریمه شپه دکابل په چوکي ارغندی کښي وه.چي همدغسي ئې څلورمه شپه هم په کابل کی اوپه پنځمه شپه ئې دکابل د صدارت وه ماڼي ته وروړسوله. حکومتي چارواکوکوښښ کاوه، چي ولس ددغو درنومخوروپه بندی کیدوخبرنه سي.اوهم دوی ئې دولس داړیکوڅخه لیري ساتل،نوپه همدغه دلیل دوی لومړی په کابل کی په یوه نا کاره سرای کی پټ ساتل سوی وه.او سیدعمر موټروان او دهغه کنینرهم ددوی سره وه، خوددوی موټروان اوکنینردپروګرام له مخي دهغه سرای ترموړۍ ووتل؛اود محترم قاضي صاحب اودهمدغه بندیانودوستان ئې خبرکړه.داکاریومعمولي کارنه ؤ،ځکه دولت په خپل ټوله توان ددې کوښښ کاوه چي خلک اودویښ زلمیانونوردوستان په دوی خبرنه سي.خو!دابیا دویښ زلمیانو محبوبیت ښوي چي دحکومت دغه پلان ئې ورشنډ کی.

خدای بخښلی محمد علم بڅرکی په خپل کتاب دویښ زلمیانو سیاسي تحریک په ۷۰ مخ کی یادونه کړیده چي : سهاروختي ترټولولومړی سړی صوفي ولي محمد خان چي په زړه ډک ملګری ؤ،بندیانوته ئې ځان وروړساوه.اوددوی داړتیاوړشیان ئې وربرابرکړه.اودوهم څوک ښاغلی محمدنورخان چي هم دسرسختوملګرو دجملې څخه ؤ،هغه هم ځان وروړساوه او د مرستي اطمنان ئې ورکی.

دغه وخت چي په ټولنه کی سیاسي فعالیت بندؤ.اوپه سیاست کي داخلیدل دحکومت سره دلاس اوګریوان په معنا وه،نودایوه عادي خبره نه وه چي په دغه حساس وخت کي دي څوک ځان ته داسی غم اومصیبت جوړکي چی هغه دي

دده را تلونکي دي په خطرکې واچوي.خو!برسيره پردغه ټولوستونزوچې هرڅوک په دې پوهيدل چې دويښ زلميانوسره تماس درلودل اويادهغوی مرسته کول يو خطرناکه عمل دی.خو!بياهم ډيرکلک خلک وه،چې پردغه ټولو خبرو برسيره ئې هم خپل ملګري تنها پرې نه ښودل.چي په زندان کې دي خپل دوستان تنهاپه غم اوتشويش کی تيرکړی،هرملګری دنوروملګرود کور خبراخيسته.اوخپلوملګروته به ئې با وريا اتمنان ورکاوه.اووبند يانو ته به ئې په بنديخانه کی رسيد ګي کوله،چی ددغه خطر ناکه عمل په نتيجه کې بيلګه لکه چی محمد نورخان ددندی څخه دويښ زلميانوپراړيکوباندي ايسته کړل سؤ. همدغسي چي دايوه لويه غميزه ورته پيښه سوه.رسمي حقوق ئې ځيني واخيستل، کورنی ئې داقتصادي کړاونوسره مخامخ سوه.نوپه همدغه سبب ډيرو ګوندي ملګروبياځانونه ياپټ ساتل. اوزندانوته به نه ورتلل .دوی هم زندانو ته نه ورتيل وهل کيده،خوهغه مشران چي زندانوته ولاړل،لکه: چي محترم عبدالهادی خان،مديرصاحب جيلانی خان،حضرت صاحب محمد يوسف خان او قاضي عبدالصمدخان ئې ددې جملې څخه لومړی توقيف خانې ته يووړل. اوحاجی محمد انورخان،قاضي بهرام خان ئې دشاولی خان زاړه کورته بوتلل او بنديان ئې کړل،ده هغه کوريوه زړه کنډواله وه.

څه وخت چې عبدالهادی خان اودهغه پورته ملګري توقيف خانې ته بوتلل سوه. نوبيا ئې دهغه ځايه څخه دکابل محبس ته بوتلل،چی د محبس دامريامشربنديوان نوم نثاراحمدخان ؤ.دشپې پريولسوبجوئې ونثاراحمد خان ته په داسي حال کي وروسپارل چي دشپې تاريکه وه.اوګروپان يابرق ئې قطعه کړی ؤ.البته داپه دې خاطرچي ددباندی خلک په خبرنه سي، خو! برسيره پردې هم دکابل ډيرخلک په خبرسوه.چي جوپې،جوپې ئې پوښتني ته راغلل.ديادولووړده چی يادونه وسي کله چي دوی محبس ته ورتسليمول،نوترقران شريف ئې وايستل؛ داځکه چي يوه روحی شکنجه ورکړي،هغه کسان چي به اعدام کيده يا به د مرګ سزاور ته ورکول کيده،هغوی به ئې ترقران ايستل، نوځکه ئې داتشويش دوی ته هم ور واچاوه.همدغسي پرفزيکي فشارونوبرسيره ئې دغسي نورروحي فشارونه هم ورکول.ددوستانوليدنه مشکيله وه، ليکونه نه ورپريښوول کيده، په دباندی کې

هم اوازه داعدام اوحبس ابدخپرې کړي وې.دوی په لومړي سرکي کوښښ کاوه چي په سياسي بنديانو څوک خبر نه کړي، خو! خپله دعسکرو په وسيله ددباندي خلک اودبنديانوملګري،دوستان خبرکړل سوه اودزندانيانوځای ئې وروښوده. کرار،کراردبنديانوشرا يط ترپخواهم ښه سوه.دامنې قومندان او خپله والی صاحب ئې هم وروسته دليدودپاره راتلل، خوويل کيږي؛ چي دبنديانوبرخورد دچارواکو په مقابل کی ډيرسخت اونه تسليم کيدونکي وه، په دغه محبس کي دکابل ځينی سياسي بنديان هم وه،همدغسی دهغه وخت دنامتو ګوندونونماينده ګان لکه: ندای خلق،دوطن ګوندغړي هم بنديان وه،چی دزندان په بد و شرايطوکې شپې اوورځي سباکولې،حتاهغوی ته د کوردخواڅخه خواړه اوډوډۍ راتلل،خوحکومت وروسته بنده کړه،چی په نتيجه کې اعتصاب اعلان کی، خو پسله دوورځواوشپوڅخه ئې د کورډوډۍ بيرته ورايله کړه.ويل کيږي په دغه اعتصاب کی ويښ زلميانودکابل دبنديانوسره دنه خوړولوداعتصاب ګډون ونه کړی.اوعلت ئې جيلانی خان داسي ويلی دی ، چی موږ د کندهارۀ،نوځکه مواعتصاب ونه کی موږته دحکومت دخواڅخه ډوډۍ راکوله کيده.کورونه موهم په کابل کی نه وه.بيله هغه مو هم دغه سرکاري ډوډۍ خوړل.

په لومړي سرکی خو د کابل بنديان ددوی سره يوځای نه وه اوپه جلا،جلا ډول دغه دوخت سياسي بنديان ساتل کيده،خو! وروسته بيا دوی سره يو ځای سول ، دلته دوطن د ګوند،ويښ زلميانوګوند،ندای خلق اوجميعت په نوم ګوندونه او دګوندنونما ينده ګان وه.هغه وخت چي دغه ټوله سياسي بنديان سره يوځای سوه نوخوراډيرئې سات تيرۀ.دوی به په خپلو منځوکي کنفرانسونه اوپرموضوعو ګانو باندی تبصيرې اودتولني تحليل همدغسي نړيوالي موضوعو ګانی به ئې مجلس ته رااچولې.او تبصيرې به ئې پرکولې،دوی به د فرانسې دانقلاب انقلابي سندري هم زمزمه کولې،چي دغه حالات پردولتی چارواکو باندي بد ولګيده اوپرسياسي بنديانوئې نورهم فشارونه اوکړاونه ورډيرکړه لکه: پرپايوازانوباندي سخت شرايط،د کتابونو،قلمانواوکاغذونوبندول اوتراووکالو غبږ به ئې نه ورپريښول.دبلی خوابه ئې دځينوخلکو په وسيله پيغامونه ور ته رااليږل؛چي سياسي خلک اوبنديان بايدتوبه وباسي،څودبنديخاني څخه دحکومت

د مرحمت په وسيله معاف اودندي بيرته ورکړل سي.خو! داکار سياسينونه کاوه ، دډموکراسۍ هوډئې کړی ؤ.اودحکومت څخه ئې غوښتنه هم داوه چي، حکومت بايد خبروته حاضرسي.اودټولني ستونزي بايددهمدغه سياسينوسره خلاصي کړي.چی په دې باب،مرحوم محمد علم بڅرکی ليکي:(يوه ورځ عبدل حسين خان(عزيز) چي دسلطنتي کورنۍ باوري څوک ؤ،هغه دخپل زوی (عبدالحی عزيز)دليدودپاره محبس ته ورغلی ؤ. دبنديانو سره ئې ليدنه وکړه.او خپل زوی ډاکټرقيوم رسول ته ئې داسي وويل : ننی حکومت يوبې پروا حکومت دی.غواړي چی تاسوتوبه وکاږۍ ،خوشي به موکړي؛کنه نوممکن اته کاله به مونورهم په بنديخانه کې وساتي.محترم ډاکټرقيوم رسول اوعبدالحي عزيزته لومړی دغه موضوع دخپلوملګرودوطن ګوندسره شريکه کړه،خو! وروسته ئې بيا دويښ زلميانوسره هم داموضوع شريکه کړه). چي دويښ زلميانوغبرګون په دې باب ډول،ډول ؤ.




دعبدالهادي خان هادي (بحر)يا توخی انځور

دبيلګی په توګه عبدالهادی خان هادي داسي نظردرلود.هرهغه څوک چی ګناه وکړي اوپرخپله ګناه باندی اعتراف نه کوي؛ترهغه بې همته سړی نه سته.اوکه چاګناه نه وي کړې،اوپه ګناه اقرارکوي؛ترهغه پست سړی نه سته.حکومت دي تاسوته ستاسوګناه دروښئ؟،که موپه ريښتيا ګناه کړې وه،نوبه عفوه وغواړی،نو

ښه به هم په وايسی.حکومت به تاسووبخښي دابه ددوی لوړهمت ښکاره کي.او که هيڅ هم نه وي سوي،نوعفوه غوښتل بې معنا ښکاري.

دلته هرسياسي مشربيل،بيل نظرونه درلودله ،چي موږ دلته دمرحوم قاضي صاحب نظرداسي ليکو:مرحوم قاضي صاحب بهرام خان اڅکزی چي دکلک مقاومت پلوی ؤ، هميشه ئې ترڅان دهيواد ګټو ته باوري ؤ.اودهيوادپه خاطرئې خپل ژوندپه خطرکي اچولی ؤ.هغه خپل نظرداسی وړاندي کی:دهرسياسي بندي نظرخپل نظردی،دهرچانظردهغه شخصي موضوع ده.چي داترډيره ځايه دسياسيونوپه تقوااوتينګښت اړه لري.ددوی خپله خوښه ده چي سياسي مرام ته ارزښت ورکوي. اوکه خپلوګټوته،څوک دهيواددګټو دپاره مبارزه کوي او څوک بيا دخپلو ګټودپاره مبارزه کوي،هغه کسان چي هوډ مند دي نوپرخپل هوډ داسي ولاړوي چي ترهغوئې دهيوادپالني هوډنه وي ترسره سوی، دوی خپله توره پر مځکه نه ايږدي.سيا ست اومبارزه پررښتيا ولاړه وي.نوځکه يوه اندازه قرباني غواړي.نوهيوادپال بايد دغه قربانيوته ځانونه ټينګ کړي.اوامتيازته ، سازش ته اوبې همتۍ ته تسليم نه سي،دمرحوم قاضي بهرام خان اڅکزي دغه ويناا‌و نظر دمرحوم حاجي محمدانورخان اڅکزی هم خوښ سو.ځکه دوی دواړوټوله عمريونظردرلود.مرحوم جيلاني خان الکوزی چي دسنګر ټينګ انډيوال ؤ، او همدغسي ډيرکلونه ئې سخت بند هم تيرکړی ؤ،هغه هم دتسليم طلبۍ نظرنه ؤ خوښ.غلام جيلا ني خان الکوزي هم په زغرده دټينګ مقاومت نظرتائيد کی.

**د جيلا ني خان الکوزي انځور په کال ۱۹۹۵م کې په کوټه کي ننګيالي بڅرکي اخيستی دی**



اود محترم جيلاني خان الكوزي نظرهم دقاضی بهرام خان او حاجي محمد انور خان نظرته ورته نظرؤ.محترم قاضي صاحب به هميشه ويل چي په سياست کی درواغ،محافظه کاري،خطاايستل اوپه بهانوباندي دځان ساتنه اودسياست دلاری ځانته مؤقف ګټل په حقيقت کې دسياست مدارانوکارنه دی.اونه هم دغه ډول سياستونه بريالي وي.هغه به ويل چی دويښ زلميانو سياست پرسياسي تقوأ او دخلکوپر باوراودخلکوپرګټوته دوفاداری پربنسټ ولاړوي.نوموړبايدهم دغسي موقف يا دريځ دحکومت په اړونده نيولی وای. موړ سوله دحکومت اوسياسی مخالفينوترمنځ غوښته،موږپه هيواد کی دموکراسي،دفکرآزادي اودقانون دلاري دهيوادپه آبادولوکی دخلکوونډه اودښوونی اوروزنی په پروسه کي دهيواد دچارواکوپاملرنه غوښتل اواوس ئې هم غواړودايوروااومشروع حق دی.موږ دهمدغه حق په خاطر مبارزه کوو،موږدخپلومبارزواوقربانيوڅخه پښيمانه نه يو،موږدهمدغه وا قيعت پربنسټ ولاړيو.زندان اوهرڅه موقبول دي.زموږغو ښتني پرځای دي اوزموږدغوښتنو سره دخلکواوافغانانوبشپړه ملاترسته.پاته سودحکومت ددرواغو د موکراسي دادچارواکوکاردی،چی په همدغه زمانی مقطع اووخت کي چی دحکومت په رأس کی هرڅوک ولاړوی که ئي دهيوادپه ابادولوکي برخه واخيسته اوددرواغوسياست ئې ونه کړی، نوپه راتلونکي کی به دهيوادخلک اوتاريخ پرهغوی باندی پريکړه وکړي.نواوسنی حکومت که دخلکووارادوته نيک نظرولري نو بايدزموږ دحق دلاري مبارزه هم زموږ سره ومني.دلته که ديوه پلودبنديانوترمنځ نظرونه غوښتل کيده اوپه بنديانو کی درجه بندی کيده،چي څوک څومره مقاومت کوي،نرم اوکلک سياسي مبارزين په کښي په نښه کيده. هم دغسي دغه مبارزه د محبس په دننه اودباندی نورومبارزينواو حکومت ترمنځ روانه سياسي اوټولنيزه مبارزه وه.چی په دغه جريان کي بيا ځينی سياسي بنديان دندای خلق ، ويښ زلميانوهم راخوشي سوه.خو!دلته يوه بله پيښه چی ديادولووړده هغه ددسردارشا محمودخان صدراعظم دخپلي ناروغی له کبله استعفا وکړه.اوپرځای ئي ځوان ديکتاتورخودخواه سردارمحمد داودخان صدراعظم سؤ.په دې وخت کي دندای خلق دسياسي ګوند دغه کسان پسله يوه کال بنده را خوشی کړل سوه.لکه : عبدالرحيم – محمد عظم – امان الله - دکتور يوسفی اوداسي نور.دهمدغه بنديانو په خوشي کيدوسره نوروسياسي بنديانو ته

يوه اندازه اميدواري ورپيداسوه.خو!خبره دنرميش پرځای وسخت ګيری اوديکتاتوری ته رسيږي.ځکه سردارمحمدداودخان دخپل طبعت سره سم دهيواد ټولومنورينوته معلوم ؤ.چی دی ظالم اوبې عاطفې دی.دفيوډالي فکرخاونداو خود خواه سردارؤ.څه وخت چي سردارمحمد داودخان صدراعظم سو،نودخپلو مخالفينوسره ئې ديکتاتورانه چلند کاوه.په بنديخانوکي په تيره بيا دسياسي بنديانو سره چلند سخت سو،په دباندي کی هم خلک دبيری سره مخامخ وه، سياسي ګوندونه اومنظم اوغيري منظمي حلقې دسخت خطرسره مخامخ سوې.او په هيواد کي سياست نورهم ترفشارلاندي راغلی.اوخلکو به يا مخفي سياست کاوه اويابه ئې په سياسي فکرسره ځان اوکورنۍ دخطروکندی ته ورغورځوله. پربنديانوباندي کنترول،ډيرسو.دبنديانوپه منځ کی تفرقه اچول اودسيسې دحکومت دپاليسۍ يوه برخه وګرځيدل،مځکي چي بنديانوته ډوډۍ اوخواړه ورکول کيده ،ورسته تردې دولت دوی ته دنغدوپيسوورکولو پريکړه وکړه.خو! يولړبنديانودغه پريکړه رد کړه،يولړبنديانوبيادنغدو پيسوغوښتنه درلودله.چی دا خپله يوډول اختلاف ؤ.هغه کسانوچي پيسې په نغده کښي نه غوښتي دليل ئې دا ؤچي حکومت موږ په دې باندي خوشحاله کوي،خوموږ دحکومت دپيسومهرباني نه غواړو،بلکي دحکومت سره دسياسي مسئلوپرحل باندی دخبرولاره پرانيستل غواړو.اوهمدغسي دنغدوپيسواخيستل ئې پرسياسي مبارزويوه توره لکه ګڼل.اودنغدوپيسو اخيستل ئې دسياسيونو دپاره يوه تاريخی بد نامي ګڼل، نوځکه ئې په ډيرجرئت سره نغدي پيسې وررد کړې.

محتر م مرحوم بهرام خان اڅکزی ويل: هغه کسانوچي دنغدوپيسوغوښتنه ئې نه درلودله اونغدي پيسې ئې نه اخيستلې عبارت وه:حاجي محمد انورخان اڅکزی،زه(بهرام خان اڅکزی)،جيلاني خان الکوزی،غبارصاحب،د کتور محمود دي صاحب،فتح محمد خان،عاطفی صاحب ،شايان صاحب اوعبدالهادی خان هادي صاحب.اوهغه کسانوچي پيسې قبلولي کړې د مرحوم محمد علم بڅرکی په ويناهغوی ته دورځي (۱۵)افغانی خرڅ ورکول کيده.چی په همدغه ډول دبنديانو ژوند دوام درلود.خو! دويښ زلميانو لومړۍ ډله د مارچ پرشپږمه په کال ۱۹۵۵ کي راخوشي کړل سوه.چي دهمدغه لومړي راخوشي سوی ډلي

کسان عبارت وه:مدیرصاحب غلام جیلاني خان – قاضي عبدالصمد خان اوحضرت محمد یوسف آغا. مرحوم محمدعلم بڅرکی لیکي:څه وخت چی دوی دکابل څه وکندهارته راورسیدل،نوپه کندهارکې دخپلوانو،ملګرواودکندهاردښار دخلکودخواڅخه خوراتودهرکلی ئې وسو.

چي وروسته ترهغه بیا دکابل دبندیانو څخه په ۱۹۵۶م کال دمی دمیاشتی پر ۱۵ دکابل څخه بیاحاجي محمدانورخان اڅکزی دبنده راخوشی کړل سو. اود کندهارپرهوای ډګرئې سخت هرکلی وسو.خلک په ډلو،ډلوورته راوتلی وه. خو داد ده مینه او ګرا نښت ؤ دخلکو سره.دی برسیره پردې چی دهغه وخت دسخت زندانه څخه تازه راوتلی سپن ږیری مشرؤ.بیا ئې هم ددې توان مندی دلودله چی په همدغه هواي ډګرکې،خپل دهوډدپاره،دخپل هیواددپرمختګ، قانون او ډموکراسۍ دپاره خپل دریځ وخلکواودوستانوته په متانت څرګند کړي. اوپه هم هغه لحظه کې چی الوتکي څخه راکښته کیږي.وخلکوته باورمندی ورکوي.اودهغوی دهمدغه توداستقبال درناوی کوي.اوپه پراخ نیت،غټ جرئت سره وخلکوته اعلان کوي وائي:(زموږ.اودحکومت ترمنځ څه روغه جوړه نه ده سوې،زموږ دګونددریځ هم هغه دی؛چی ؤ.) داخبره دیوه تازه راوتلی زنداني وه، چي دسختو مشکیلاتو ،نارغیوتیرولو، لوږواو خواریوګاللوڅخه وروسته دطبقاتي ټولنی،دورسته پاته ظالمی فیوډالی ټولنی دزندانه څخه راخوشي کیږی، خودی!بیاهم ځان وزندانه ته اماده بولی اودزندان دستم څخه هیڅ پرواهم نه لري. دمرحوم حاجي محمد انورخان دغه یادونه دخلکوعقیدې نوري هم ور غښتلي کړې.اودغه ډول جرئت دسردارمحمد داودپه حکمرانۍ کې یوه معمولي خبره هم نه وه.بلکي ددې خبري معناداوه چی بیاهم زه اوزماملګري دخپلو غوښتنواودخلکو دارمانونو په خاطر بیرته زندان ته هم چمتویو.

دغه تعدادوپښ زلمیان خودبندیخانې څخه راخوشی کړل سوه،خوددوی نور ملګري لاپه زندان کي پاته دي، چي ددې مبارزینونومونه دیادولووړبولم.

محترم قاضي بهرام خان اڅکزی،چي دهیوادیوپیژندل سوی سیاسي مبارزؤ، همدغسی په خپل وخت کي ددولت جګ پوړی چارواکی ؤ،دمرحوم عبدالهادي خان بحراومرحوم د کتورمحمودی سره یوځای د کابل په محبس کی پاته سول.

لړوخت وروسته ئې يولړنوربنديان هم ددوی سره يوځای کړه.خوڅه وخت لا نه ؤ، تيرسوی چی دهغو بنديانو پرځای چې تازه خوشي سوی وه، نوربنديان ئې هم زندان ته ورداخل کړه اوسرداري دولت خپله دساديزم عقيده پرې تسکين کړه.دغه کسان عبارت وه :عبدالملک عبدالرحيم زی اودهغه سياسي ډله.اوس نوپه دهمزنګ کی دغه نامدارکسان سره يوځای سوه لکه : مرحوم قاضي بهرام خان،عبدالهادي خان بحر(توخی)،محمودی صاحب، خدايدوست،سرورخان جويا،برات على خان تاج،سيداسماعيل بلخي،سيدحسين مزاري،غلام علي خان،قانون مزاری،عزيزتوخی اوبياپه وروسته کي باشي عالم اويعقوب خان اودده زامن هم محبس ته وروستل سوه.دنورمعلوماتودپاره دمرحوم محمدعلم بڅرکي کتاب «ويښ زلميان دافغانستان يوسياسي تحريک»۷۸مخ وګوری.

خو!مرحوم قاضي بهرام خان ددې پيښويادونه داسي کوي:هغه وخت چي زموږ.هغه تعداددوستان اوملګري راسره وه اووروسته بيارخصت سوه،د ملګرو پرليري والي مويوه اندازه نااميدی دځانه سره وګالل،ځکه تردېره حده په خوی اوبوی،ځانګړنوسره بلد سوی ؤ.خو دنوی دوستانواوسياسي ملګروپه راتګ باندی موداسي فکرکاوه، چی ګواکی زموږ دخلاصيدوچانس به هم وي،خو کله چی موددولت داستازوروحيه کتله هغوی زموږ څخه دپښيمانۍ اوتوبې کولوغوښتنه درلودله.چی دازموږدسياسي،افغاني اوسيکولوژيکوخواصوسره برابره نه وه،نوموږ.هم ددولتي مقامونوسره دميراني اوسياسي تقواپرروحيه خبري کولې.خو!ديادولووړده چي دوی زموږدغه دمقاومت اوسياسي تقوا اوروحيه نه خوښوله،نوئې فشارونه راباندي نورهم ډيرکړه.

حتا تردغه حده چي په تاريکوکوټوکې واچولواوپه ورځ کي به ئې يوځل لمرراباندي ليدی.ددوستانوليدنه ډيره لږسوه،ددباندی څخه ئې دوستان نه را پريښول يابه ئې په ډيروخت کي دوستان راپريښول، که به کالی ياهم نور دضرورت وړشيان راتلل هغه به ئې بيرته ګرځول اوپيسې خو ئې همدغه ډول نه راپريښودلې،داهغه زحمتونه وه،چی پرسياسي بنديانوئې پيرزو درلودې. همدغسي دهمدغه زحمتونوپه باب د مرحوم قاضي صاحب نظرداسي ؤ... هرڅه تيردونکي دي، په لومړی سرکی لکه څنګه چی می وويل : ډيره سخته

وه چي يوه بله مرحله يا داسي پړاورا باندی راغلی چي زموږ د صلاح او مشورې دوستان راڅخه ولاړه، خودبله پلوه هرڅه تيردونكي دي، خدای تعالله په انسان كي همت اوتوانمندي ايږدي،نوځكه زموږهمت هم ورځ په ورځ ډيريدی.اودهرډول ستونزواوکړاونو په مقابل کی موډير ښه توان مندی درلودله او بيا دهمدغه حالت سره موځانونه قا نع كړه،چي پرموږ باندي دوخت حكومت بيله كومه جرمه څخه داسی حالتونه راوستل.اودائې پيرزوبلل.نو موږ هم ځانونه مودخلكوارادی اودخدای وپيرزويني ته سپارلي وه.هلته مودبدو اوښو شرايطو سره ځانونه برابركړه.چی دغه روحيه چي موږدرلودله داهم پرچاړواكو ښه نه تماميده،اميدئې درلود چی موږشكايتونه اوزاری وكړو.دوی داسي غلط فكر كاوه چي فشارونه پرسياسي بنديانودحل لاره ده.خوداسي نه وه ، مرحوم قاضي بهرام خان يادونه كوی چي فشارونه پرسياسي بنديانوباندي نو،نورهم اراده دسياسي بنديانوورډيره وي،نورهم په ټكولوباندي اوسپنه په فولادوبدليږي. همدغسي بدله هم سوه. داځكه چي مخكي دسياسي بنديانو اندازه او تعداد كم ؤ، خودويښ زلميانو دبندي كولووروسته دبنديانوتعداد موږوليده چي نورهم ډيرسو. دبندي خانې څخه بهرغښتلو افغانانو چي دغه حال وليده چي يولړپوه اوهيوادپال افغانان په زندانو كي ناست دي اودظلم اوستم ترفشارونو لاندی شپې اوورځي تيره وي،نوسمدلاسه پرچاړواكونيوكي ډيري سوې اودهيوادژغورلودپاره خلكوسياسي ډلي اونوي گوندونه جوړكړه،اوآزونه ئې اوچت كړه،څو ځانونه ئې زموږ په شان ترزندانونوراورسول.مرحوم قاضي بهرام خان دبندي خانې حال دځان اوبنديانو دپاره يوه تجربه گڼي اوهغه وائي چي موږ دافغانستان دگوټ،گوټ څخه دهيوادهغه اصيلوبچيانويودبله سره وپيژندل، چی مخكي مو يا نه سره پيژندل اويا مويوازي نومونه يودبله سره اوريدلي وه.موږ په دې خوښ وو،چي موږپه ژوندكي يوهدف لرواودهمدغه هدف په خاطرقرباني وركوو،چي په دې قرباني دافغانستان خلك خوشحاله وه.اوهم هغه تاريخی دنده چی موږ ته ديوه هيوادپال په څيررا سپارل سوې وه،هغه موپه ايمانداری سره ترسره كړه.همدغسي مرحوم قاضي په دې عقيده ؤ،چي تاريخ خلك جوړوي ،خو! مشران بيادخلكودمنځ څخه سياسي ډگرته راوزي اودخلكوباورپرځانونودهمدغسي قربانيوله مخي ترلاسه كوي. بيانو

مشران اودتجربيبولرونکی لاربښونکي په خپل نوبت سره خلک پرځان را ټولوي اودحقايقو په ښوولوکي خلک ورسره هم غاړی کيږي،ځوټولنی ته دوخت دشرايطو پربنسټ تغيرورکړي.نوزموږ بندونه بيځايه نه دی. اوولس نن دهمدغه قربانيو په سبب روښانه لاره وميندل.موږ خوښ يواودبنديخانې څخه شکايت نه لرو.پسله يولسوکالوزندان تيرولووروسته مرحوم قاضي صاحب په داسی حال کی خوښي ښول چي صحت ئې هم دلاسه ورکړی ؤ.اودپښنو يا ځنګونوپه شديددرداخته سوی ؤ.خو په اخيرکې بيا دفلج ناروغی هم ورته پيداسوه.مرحوم قاضي بهرام خان لکه څنګه چی مخکی وويل سوه په ۱۳۳۱هـ ش کال کی زندانی سواو په ۱۳۴۲هـ ش کال دبنديخانې څخه په داسي حالت کی راخوشی سو،چی دوخت حکومت چي دمحمد ظاهرشاه پاچهي مطلقه حکومت ؤ.خود موکراسئ ته ئې ناچاره غاړه کيښودل.اوقانون اساسی هم را منځته سو،ګوندونه هم جوړکړل سوه اودغه نامتوګوندونه لکه: دخلق دموکراټيک ګوند،شعله جاويد ګوند،پرچم،مساوات ،حزب الله،افغان ملت ، ملي ستم ګونددطاهربدخشي په لاربښونه اونورګوندونه وه.

په همدغه وخت کی يولړسياسي بنديان هم راخوشی کړل سوه.ځو دډموکراسئ تظاهرپروکړی،خومرحوم قاضي بهرام خان هم په ناروغه حالت دبنديخانې څخه راخوشي کړل سؤ.همدغسی دشاهي حکومت يا دظاهرخان دآل يحيا دخاندان دعاد ت سره سم بياهم ددغوراخوشي سووبنديانو پرځای ئې نوربنديان هم زندان ته وليږل لکه صالح محمدزيری،دستګيرپنجشيری اونوردا په دې خاطرچي زندان اودزندان کوټې خالي پاته نه سي.اودطبقاتي حکومت خمارمات سي نوبه ئې دعـاد ت سره سم ديوې ډلي دراخوشی کولوسره سم بله سياسی ډله زندان ته په يوه پلمه اوبله پلمه سره ليږل.دويښ زلميانو دقربانی په بدل کي چي نوی اساسی قانون او نوی حکومت جوړسو، نوسمدلاسه داخبارونو دخپرولواجازه هم ګوندونوته ورکړل سوه.خو دجريدواواخبارونو دخپريدووخت هم ډيردوام نه کاوه، کله به دګوتو په حساب يوڅوشمارې خپرې سوې اوبيا به حکومت په يوه اوبله بهانه سره نوموړې جريده اواخباربند کړه. اودخپريدو اجازه به ئې ځينی واخيستل،چی په دې لړ کی دخلق جريده پنځه شمارې خپرې

سوې او١٣۴۵هـ ش کال کي مصادره سوې.دشعله جاوید نهه شمارې خپرې سوې اوپه ١٣۴٧هـ ش کال کی بندی سوې.همدغسی کومک یوه شماره خپره سوه خو! په١٣۴٧هـ ش کي بيرته مصادره سوه.همدغسي نوري جريدې اواخبارونه هم چي دوخت دحکومت تبليغ اوګټي به په کښي نه وې نو؛به ئې سمدلاسه مصادره کولې.خودغه لنډه موده اووخت بیاهم دملي اوآزادي بخښونکوغورځنګونوډپاره غنیمت سو.په دې وخت کي دیادسوګوندونو دخوا څخه ډیرځوانان په نړیوال سیاست،دهیوادپه وتیزوعلومو، وتیزو اصطلاحاتو سیاسي فکراود مبار زې په سیستم اورازداریووپوهیدل.په همدغه دوران کي دډموکراسی په مرسته زموږ.دهیوادډیري ښځي اونارینه دښوونی اوزده کړي څخه دپوهنتونواوپه خارجي هيوادوکي دمسلکي زده کړودپاره ښه چانسونه ترلاسه کړه.په دفترنو او تولیدی مؤسیسوکې دښځووندډه هم تر یوه حده ښکاره اوڅرګنده سوه.دډموکراسی په مرسته ښځو د کورنو څخه بهرهم کولای سوو، چي په لڅ مخ را ووزي. چی دغه ټوله پرمختګونه دویښ زلمیانوپه لاسته راوړنوکی حسابل کیږي.اومرحوم قاضي صاحب بهرام خان اڅکزی هم دخپل بندپه ارزښت پوهیده.

## «خدای بخښلی قاضي بهرام خان اڅکزی دپوها نوله نظره»

**قاضي بهرام خان اڅکزی د محمد علم بڅرکي له نظره :**

مرحوم محمدعلم بڅرکي چی دمرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی سره ئې دډيري نژدې اړیکی درلودلې،دهغه دژوندپه باب ئې ډیرښکاره نظردرلود. مرحوم محمدعلم بڅرکي به ټول وخت دمرحوم قاضي صاحب دکلک مقاومت، پراندېوالی ولاړاوټینګ انسان ګاڼه.دهغه هوډدمبارزې اودخلکودسوکالی په لحاظ نه ماتیدونکي هوډ ؤ.قا ضي بهرام خان، مر حوم محمد علم بڅرکي او حاجي محمد انورخان چي درې سره ديوه سنګر ملګري وه.او په ټولوکښته اوپورته کړاونواوخوښیوکې سره یووه،همیشه به ئې دنژدوسره پالـل.اوپه ځینو ټولنیزو اوسیاسي پیښوکي به ئې ګډنظرسره وړاندی کاوه.دوی به صلاح او مشوره سره کوله اوکه به د قربانی ځای راغلی نوبه ئې په عمل کي هم یودبله سره مؤفق وه. قربانی اوزندانونوته چمتووه، هم دغسي په ښادیوکي هم یود بله

سره نژدې اوهم غاړي ياهم نظره وه.دوی دکندهاردلرګو په ګنج دبي،بي هوا په کوڅه کی درپه ديوال نژدې ګاونډيان وه.مرحوم محمد علم بڅرکي به ټول عمرد مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزي دجرئت،هوښياری،رښتين ولی اودهغه دښو خويونو ستاينه به ئې کول.ترهغه ځايه چی ماته می پلارمحمدعلم بڅرکي دزړه له کومي دوخت دغښتلواوايمانداروملي مبارزينو دستاينوکيسې اونقلونه کړی دي يوهم مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی دی.مرحوم قاضي بهرام خان اومرحوم حاجي محمد انورخان اڅکزی لکه دوه ورونه هم دغسي سره ګران وه، دوی په يوه کوڅه کي په يوه مسجد کی ليدنه کتنه اولمونځونه سره کوی.دښارخلکوهم دوی دوه ډيرنژدې دوستان ګڼل او کله ، کله به ئې ددوورنوواويا لکه دوې هم عمره خوندي يا ددوګرانوخوندونومونه اولقبونه ورکوله.اوپه وا قيعت کي هم دغسي وه.

خوا!مرحوم محمدعلم بڅرکی ترقاضي صاحب ډيرکشرؤ.خوا!دعقيدودلاری تعقيبونکی ئې هم ؤ.نواوس به راسودمرحوم محمدعلم بڅرکی دنظره به ددې لوړشخصيت په باب څه وګورو.

مرحوم محمدعلم بڅرکی دخپل کتاب( ويښ زلميان دافغانستان يوسياسی تحريک) دکتاب په په ۱۴۸مخ کي دمولوي بهرام خان اڅکزي ترعنوان لاندی دغسي تحليل دمرحوم قا ضي بهرام خا ن په باب کړيدی:دافغانستان په تيره بيا دکندهارپه سياسي تاريخ کښي ښاغلی مولوي بهرام خان اوحاجی محمد انور خان دشلم قرن په لومړۍ پنځوس کلنه موده کي،دقدروړونډه(حيصه) درلوده.په ځانګړې توګه دسقاوۍ په کورنيوجنګوکښې.اوهم دهيواد په سياسي غورځنګونو کښې.دوی دواړواوړه پراوړه دويښ زلميانوپه غورځنګ کښي کارکړی دی.که وويل سي چي بهرام خان اڅکزی اوحاجی محمد انورخان اڅکزی دوی دواړه ددې غورځنګ روح وه؛مبالغه به نه وی.مولوی صاحب بهرام خان په ۱۸۹۰ م کال کښي زيږيدلی دی.او په ۱۹۷۵م کښي په کند هار کښې وفات سوی دی.دی دسپين بولدک په ولسوالۍ مؤله ده يا (موليده) په کلي کښي ئې لومړنۍ زده کړې کړي دي.وروسته بيا دنورتحصيل دپاره ډيلي (هندوستان) ته تللی دی.او هلته ئې دفلسفې اومنطقوډګرۍ يا ډيپلوم ترلاسه کړی دی.او هم ئې په فقه کښې

ښه معلومات درلودله.مرحوم قاضي بهرام خان دزده کړي په وخت کی هم دافغانستان په سیاسي چاروکښي ځان نه دی ژغورلی.اوهروخت ئې دخپل سر په سوداګړ ون په کښي کړی دی.کله چي په هیوادکښي، دسقاوئ په نوم کورني جنګونه راپیل سوه،مرحوم قاضي صاحب خپل ځان ونه سپماوه.اوهمدغه رنګه دوبیش ځلمیانو په پا څون اوغورځنګ کښي.په سقاوئ کښي دی اونوراڅکزي مشران دسقاوئ پرضد دامیرآمان الله خان په پلوئ راپورته سول.اوهمدغه رنګه دډیرومبارزو وروسته دوی بریالي سوه،چی کندهار فتحه کړي اودکندهار تر ښاره ځانونه راورسوي.نوکله چي ئې کندهارفتحه کی،نو!نوروقومونوهم ددوی ملاتړاعلان کی.دکندهاردښاربندي دروازې خلاصي سوې،سقاویانوماته وکړه، په دې وخت کښي،مرحوم قاضي بهرام خان دکندهاراوشاه وخوادزون په کچه دعدلیې قاضي ؤ.نوڅرنګه چي داوخت دګډوډئ وخت ؤ.او په جنګ کې پرمات سوهیوادوالو(سقاویانو)با ندي هرځای ظلم کیده،نو!یوازنی کس دی یعني مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی ؤ،چي په سلهاوسقاویانوته ئې نجات ورکی.او سقاویانوهم تقریبأ دته پناه راوړې وه.ده به سقاویان دباوري اڅکزوپه لاس د کلات پرلورلیږل.اوهلته به ئې په غرواورغو کښي خوشي کول.اوهمدغسی اڅکزوبه بیرته قاضي صاحب ته سند راوړئ.

خو! کله چي غازی محمد نادرخان بیعت ترلاسه کړ،نو کندهارهم خپل مقاومت ونه کړاوبیعت ئې ورولیږه.

مولوي صاحب وخلکوته تدریس هم کاوه،لومړئ قاضي صاحب دکندهارپه خرقه شریفه کښي درس ورکاوه،یائې په خپل ابایی جومات کښي چي دکورو څنګ ته ئې واقع ؤ، دخلکودسواداودیني زده کړودپاره ئې درس ورکاوه،مر حوم قاضي صاحب په مذهبي زده کړواوسیاست کي یونامتوښوونکی یا استاد ؤ.څرنګه چي زماددوی سره ناسته ولاړه ډیره وه،نوځانته داحق ورکوم، چي د مرحوم قاضي صاحب پرځانګړنویاطبعت هم څه ولیکم.

مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی په طبعت کښي یومتین،ثابت قد مه اودیوې خولې سړی ؤ.دهیوادسره ئې ډیره مینه درلودله،دهیوادپه هره ښه خبره او ترقئ ډیرخوشحاله کیده.اوپه بد و ئې هم ډیره خوا بدېد له. مرحوم قاضي صاحب یو

ډ موکراټ سړی ؤ.اوهم دغه سبب ؤ، چې ده په عمل کې په ۱۹۴۶م کال کې، دویښ ځلمیانوپه غورځنګ کښې،فعاله برخه واخیستله،په دې وخت کښې مر حوم قاضي صاحب دکابل د مرا فعې قاضي هم ؤ.مرحوم بهرام خان په همدغه وخت کی دخپل ځان جاه وجلا(شان اوشوکت) پروا ونه ساتل.او په ملي،سیاسي چوپړکښې ئې دپټنګ په څیرپه اوروړګډسو،نوهمدغسې کله چې په ۱۹۵۲م کال کښې ویښ زلمیان اویاسیاسي بندیان جوپې،جوپې بندیان کیدل،نو دی هم زنداني اوګرفتارکړل سو.مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزي یولس کاله (۱۱) بند وګاله اوپه ۱۹۶۳م کال کښې دکابل دده مزنګ دزندانه څخه راووت،په دغه دزندان په بدوشرایطوکې صحت په کافي توګه دلاسه ورکړی ؤ.نورنو ددوی سیاسي نقش په همدغه ځای پا یته رسیږي.په درناوی. «محمد علم بڅرکی»

**یاداښت : ښاغلی محمد یوسف ختیځ یار بیا هم یادونه کوي،دسقاود زوی ترناتاروروسته،حاجي محمد انورخان اڅکزی دنادرخان له خوا داندراب حاکم مقررسو.نوموړي په اندراب کې ترهر څه مخکې لومړی ښوونځی جوړه کړه، څرنګه چې ښوونکی نه وو.نوده خپله اودده زوی محمد اکرم خان «مجبور»په وړیا توګه درس ورکاوه.او داندراب هلکان ئې دسوادډنعمت څخه بهرمندکړه.**

## قاضي بهرام خان اڅکزی دمحمد ولی (ځلمي) له نظره :

دښاغلي محمدولي زلمي دتحلیل اونویشتې له مخی چې په خپل کتاب ( داستبدااو مطلقیت په مقابل کې دځینو افغانانو**ملي مبارزې** ) په ۳۳۸مخ کې لیکلی دي : (دی په ۱۲۶۰ش کال کې دکندهار دارغستان دمولید په کلی کې زیږیدلی دی.او ابتدائي تحصیل ئې د خپلو شاه وخوا سیمودملایانو څخه په سررسولي دي.) .

دلته دښا غلي ولي ځلمی یوه غټه تیروتنه بولم ، که چیري بل څوک هم دځلمی صاحب دغه کتاب لولي نودې دغه جملې په همدغه لاندی ډول اصلاح کړي .

لومړی:مولوي قاضي محمدبهرام خان اڅکزی په ارغستان ولسوالۍ کې نه ؛بلکې : په مه لیدې یا مولیدې کلي کې چې دکندهار دسپین بولدک په ولسوالۍ پوري اړه لري زیږیدلی دی. چې اوس نوموړې کلی دتختته پول په ولسوالۍ پوري اړه لري.همدلته زیږیدلی دی.اولومړنۍ زده کړې هم دلته دخپلو مشرانو اوپوهانو څخه کړی دي.

دوهم:دښاغلي ځلمي صاحب په کتاب کښي په همدغه مخ کی د مرحوم قاضی بهرام خان دزیږیدونیټه په تیروتنه لیکل سوې ده. ښا غلي محمد ولي ځلمی دمر حوم قاضی بهرام خان اڅکزي دزیږیدونیټه ۱۲۶۰ش کال ښوولی دی، خو!! دبده مرغه دغه سنه هم صحیح نه ده.ځکه مرحوم بهرام خان اڅکزی په ۱۲۷۴ش کال زیږیدلی دی اوپه ۱۳۵۴ش کال دسردارمحمد داودخان دلومړني جمهوریت په دوهم کال د ډ ګروال محمد کریم خان اڅکزي په کورکي چي دمرحوم بهرام خان مشرزوی وو،ددوامداري ناروغۍ په سبب وفات سو.روح دې ښاد وي.زه په همدغه وخت کي دمر حوم قاضي صاحب ومجلس اولیدنی ته ډیرورتلم.اوټول عمربه مي پوښتني اومعلومات ځینی ترلاسه کوله.اودلته هم زما دیادونی څخه یوازنی مراداوغو ښتنه داده چي دغه د محترم ځلمي صاحب سهوه اصلاح سي. نومی یادونه ضروري وګڼل.

محترم محمد ولی ځلمی دقاضي بهرام خان اڅکزي په باب په خپل همدغه درند کتاب کی دمرحوم قاضي صاحب دژوند لیک په باب داسي لیکي..دوام ورکوي : ابتدائي تحصيلات ئې دخپلي شاه وخوا سیمو د ملایانوڅخه په سررسولی دي.اوبیا ئې دپخواني هند په یو شمیر ښارونو کي لکه: ډهلی،لاهوراوکوټه کې دکلام فقي اوفلسفې علوموتحصیل کې زده کړه کړې ده.اودهنددآزادی غوښتلواو سیاسي فعالیتونوهلي ځلي ئې دنژدولیدلي اوپه نتیجه کي ئې،دغیري ملي حکومتونواواستبدادی رژیمونوسره ئې سخت حساسیت پیداکړی ؤ.هغه وخت چي په ۱۳۰۸ش کال کی کندهارته راغلی،دلته ئې دملی حکومت دجوړولواوولسي اتحاد قایمولو دپاره ډیرزیارویوست.دی وروسته کابل ته وغوښتل سو.اودعلماؤ په جمیعت کی داخل سو.ده ده د۱۳۳۴ش کال دلوئي جرګي په انتقادي وينا کولو سره دبرسراقتداره رژیم خواتوره کړله.اوڅه وروسته ئې دآزاد مشربۍ یا (آزاد فکر) اوپه ټولنه کي دآزادبیان اودحکومت پرناخوالوآزاد بیانونه ورکړه.(خو له ئې نه بندیدل) په دې چي دمرحوم قاضي صاحب خوله بنده کړی نوئې تورزندان ته ولیږی.او ۱۱ کاله ئې په بند کي تیر کړه،دبنده څخه دآزادې دوه کاله وروسته یاڅه موده وروسته وفات سو.اوپه کندهارکي د صاحب آغا په هدیره کي خاوروته وسپارل سو.روح دې ښادوي.

## د ښاغلي ځلمي کرزی له نظره بهرام خان اڅکزی :

محترم ځلمی کرزی چي دآغا محمد خان کرزي زوی دی،اوپلارئې هم دویښ زلمیانو د مخوروااودرندومشرانودجملې څخه ؤ. په خپل کتاب ( په افغانستان کي دمشروطیت غورځنګ) ترنامه لاندی دافغانستان دمشروطه غوښتونکو لرغونی تاریخ ئې په ډیرښکلی ډول سره دډیروغنی موادوسره لیکلی دی.چي دافغانستان دسیاسي غورځنګونویوپه زړه پوري کتاب دی،په همدغه کتاب کې په ځانګړې توګه دویښ ځلمیانوپرغورځنګ ئې هم دپام وړرڼاچولې ده.اوپه ډیرزحمت سره ئې نوموړي مستند موادسره راټول کړی دي.چي کارئې دنورولیکوالانو دپاره ډیراسانه کړی دي.اودویښ ځلمیانو پرژوند،سیاسی مبارزواوکړاونوبر سیره ئې دهغه وخت دځوانانوټولنیزژوندهم په ډیره ښکلي بڼه ښودلی دی. محترم زلمي کرزي په خپل دغه ارزښت ناکه اثرکي دویښ ځلمیانو پرمشرانو اواعضاوباندی په جلا،جلا توګه ارزښت ناکه مستندی لیکني کړي دي.چی دنوموړی کتاب ویل دارزښت وړبولم .

همدغسي ئې په وارو وارودمرحوم قاضي بهرام خان اڅکزي دنوم یادونه کړې ده اومرحوم بهرام خان ئې دویښ زلمیانو دلومړي پوړدمشرانو په قطار کي راوستلی دی.اودهغه د۱۱کالودبندیخانې یازندان په باب ئې یادونه هم کړې ده. محترم ځلمی کرزي یادونه کړیده:اومحترم محمدرسول خان پښتون صاحب ئې دګوندمشرښودلی دی.اودګوندخښته ایښودونکی یادکړی دی..خو!محمدانورخان اڅکزی اوقاضي بهرام خان اڅکزی دویښ زلمیانو هغه ملګري وه.چی دمحمد رسول خان پښتون سره ئې دګوندپربنسټیزواصولومؤفقه وکړه.اوپه کندهار اودهیواد په کچه په افغانستان کې ددوی په شاملیدوسره ګوند روح پیدا کړه.او دخلکو دباور وړوګرځیده.په دې باب ښاغلی زلمی د مر حوم تاریخ پوهه غبار صاحب دخولې داسي نقل کوي: مایوه ورځ محترم غلا محمد غبار په ۱۳۵۵هـ ش کال کی د مکروریانوپه پارک کی ولیدی اودویښ زلمیانو په باب مې پو ښتنه ځنی کړې وه،محترم غبار صاحب و زلمي کرزي ته وویل :چی په اصل کی دویښ ځلمیانو ګوند په کندهار کی جوړسوی دی.او کندهاری منورینو دغه ګوند جوړکړی دی.نوځکه کندهاري منورینو ډیره قربانی هم په دغه ګوند کی

وليدلې.محترم زلمی کرزی صاحب دويښ زلميانو دګوند مرکزی کميټه اودګوند لومړی پوړمشران داسي ښووي.

ښاغلی محمد رسول خان پښتون ،غلام جيلاني خان الکوزی (مدير صاحب) ،قاضي عبدالصمدخان ،حاجي محمد انور خان اڅکزی،مولوی محمد بهرام خان اڅکزی ،عبدالهادی خان هادي،حضرت محمد يوسف آغا دغه دعمر په لحاظ دګوند مشران وه.

همدغسي په دغه وخت کي بيا دعمر په لحاظ يولړکشران هم وه، خو! په کاراو فعاليت کی ترمشرانوپه کمه هم نه وه.نو ځکه ئې دوهم پوړګوندی فعالين بولي. محترم ځلمی کرزی ددوهم پوړکشرانونومونه داسي ذ کر کړي دي.

ښاغلی عبدالشکوررشاد،آغامحمد کرزی،محمدابراهيم خان خواخوږی،حاجي محمدحسين خان،محمدحسين خان ريدی،صوفي ولي محمدخان،محمدعلم بڅرکی ، نوراحمد شاکر،شيرمحمد جان،محمد علي خان ،حاجی لعل محمد خان، محمد اصف خان او مسلم صاحب.

دلته زما دنظره : دګوند مشران اوکشران د فعاليت په اساس ټوله په لومړۍ درجه ګونديانوکي راځي.اود کاراوفعاليت اوستونزو،دقربانيوپرسرديوډول کړاونوسره مخامخ کيږي.کشران په فزيکی ګوندی کارونوکی ځانونه ستړي کوي اومشران لاري د مبارزې شيوې ورته تنظيموي.خوديوه تعدادمشرانو اعتبارپه دولت اوخلکوکي دتاريخی سوابقو په اساس ډيردی،نوځکه دهغوی ګډون په ويښ ځلميانوکی پردولت باندي درنده تمامه سوه.لکه مر حوم قاضی بهرام خان اڅکزي (قاضي والقضات ) دخپل وخت او دسقاويانو په جنګ کي فاتح عالم او پوهه مبارز، همدغسی محمد انور خان اڅکزی ،محمد رسول خان پښتون صاحب اونورمشران چي دوخت ددولت لوړپوړي چارواکي دي او دولت يا حکومت ئې دسياسي فعاليت څخه په بيره کی ؤ.

**مولوي بهرام خان اڅکزی دپوهنيار سيد مسعودله نظره :**

که څه هم دوېش زلميانوتاريخ په مفصل ډول نه دی ليکل سوی،خو!يوازي دمرحوم محمدعلم بڅرکي کتاب تريوې اندازې پوري دوخت دوېش ځلميانو دتاريخ يولنډبيان ئې دخپل ژوندپه ورستيووختونوکی وليکه. چی تريوې اندازې ستونزی حلولای سي،خو! لکه څنګه چي دغه غورځنګ په افغانستان کی ډيره ستره دنده ترسره کړيده.اودخپلومبارزوپه نتيجه کې په ۱۳۴۲ش کال کې هيوادته ډموکراسي راوستله داددوی دپراخومبارزويوه برخه وه،خودښځو دآزادئ اونوروډ موکراټيکوقوانينوپه برخه کې هم دپام وړکارونه ترسره کړی دي.دلته زمادليکنی مؤخه داده چي تريوه ځايه پوري ټولوليکوالانو ديوڅو محدودوماخذنو څخه ګټه اخيستي ده. چی په نتيجه کی ويلای سم چی په دې باب ډيرلږکارسوی دی.اودليکوالانوماخذونه تريوه ځايه پوري سره يوشانته دي.اوهغه تحليل چی يوه محقيق ياڅيړونکی کړی دی هغه په عينی حال کی که دبل څيړونکي په څيړنه کې هم ليدل کيږي.خو!په لږتفاوت سره. نوموړی ليکوال هم هغه تحليل کړی دی چی په دې باب زه ودې ته وهڅول سوم چی هم دنورو محقيقينو ياڅيړونکو نظرونه ترهغه ځايه چي زماپه کتابتون کی سته هغه سره راټول کړم.اوخپله زه هغه تجريبې اويادونی چي د مرحوم پلارمحمدعلم بڅرکی دخواڅخه راپياددېږي،هغه ددوستانوسره شريک کړم اوما چي خپله مرحوم قاضي بهرام خان اڅکزی د ډ کروال محمد کريم خان اڅکزي په کورکې زمادخاله دلورپه کورکي **ليدلی دی،هغه** دسترګوليدلی حالتونه اودمرحوم قاضي صاحب دخولې بيانونه مي ستاسوسره شريک کړي دي.نوکه دځينوڅيړونکو خبری يوشان اوتکرارهم وي،خوزه ئې دلته دهغه ليکني متن د کتاب دماخذ سره راوړم.

محترم پوهنيارسيد مسعودپه خپل کتاب کي ليکي:

دلته دښاغلي پوهنيارسيد مسعودپه کتاب کي(ظهورمشروطيت وقربانيان استبداد درافغانستان)په لومړی او دوهم جلد کې:تردغه عنوان لاندي مخ۲۰۰کي .

مولوی بهرام خان اڅکزی : دافغانستان په ډیره بیا د کندهار په سیاسي تاریخ کي ښاغلی بهرام خان اڅکزی اوحاجی محمدانورخان اڅکزی دشلم قرن په لومړی پنځوس کلنه موده کي دقدروړونډه (حیصه) درلوده،په ډیره بیا دسقاوئ په کورني جنګ کې.اوهم دهیوادپه سیا سي غورځنګونوکې دوی دواړواوړه پراوړه دویښځلمیانوپه تحریک کښي کارکړی دی.**اوکه وویل سی چې دوی دواړه ددې تحریک روح روان** وه،مبا لغه به نه وي.

مولوی بهرام خان په ۱۸۹۰م کال زیږیدلی اوپه ۱۹۷۵م کال کي په کندهارکی وفات شوی دی.دوی دسپین بولدک په ولسوالئ کي د(موله یده )یا مولیده په کلی کي زیږیدلی دی.اولومړنئ زده کړې کړي دي.وروسته بیا دنورتحصیل دپاره وه ډهلي هندوستان ته تللی دی.اوهلته ئې دفلسفې اومنطقو ډګرئ یادزده کړي سندترلاسه کړی دی.اوهم په فقه کښي ئې ښه معلومات درلودله.

ده دافغانستان په سیاسي مصائیبوکي ځان نه دي ژغورلی.اوهروارئي دخپل سر په سوداګډون په کښي کړی دي.کله چي په هیوادکي کورني جنګونه دسقاوئ په وخت کی جاري وه، ده ځان ونه سپموی اوهم دویښ ځلمیانوپه پاڅون کې.

په سقاوئ کي دی اوحاجی محمدانورخان دمشرانوپه څیرراپورته شول اود بشپړه مبارزې وروسته دوي بریالي یا مؤفق شول.چي دکندهارترښاره ځانونه را ورسوي.نوکله چي دوی لوی کندهارفتح کی،دکندهارنورقومونوهم ددوی ملاتړ وکی.اود کند هاردښاردروازې خلاصي شوې.سقاویانوماته وکړه،په دې وخت کي خپله بهرام خان اڅکزی د کندهار دعدلیې قاضي سو.

څرنګه چې دغه وخت دګډوډئ وخت ؤ.اومات شوي هیوادوالو (سقاویانو)باندي ظلم کیدی،نویوازنی سړی قاضي بهرام خان ؤ،چي په سلهاؤسقاویانوته ئې نجات ورکی.اوسقاویانوهم دته پناه راوړې وه.ده سقاویان دباوري اڅکزوپه لاس د قلات پرلورلیږل اوهلته ئې په غرواورغوکي ایله کول.اوسند به اڅکزو بیرته ودته راوړی.

خوکله چي غازي محمد نادرخان بیعت ترلاسه کی ،نو کندهارهم مقاومت ونه کی اوخپل بیعت ئې ورولیږی.

مولوى بهرام خان اڅكزي وخلكوته تدريس هم كاوه.لومړى دوى دكندهارپه خرقه شريفه كي درس وركاوه،بيائي په خپل ابائي مسجد كي،چي دكوروڅنګ ته واقع ؤ.دى په مذهبي اموررواوسياسي چاروكي دخپل وخت يورسا شخصيت ؤ.دى په طبعت كى متين،ثابت قدمه،اوديوې خولې سړى،(خبره ئې خبره وه) .دهيوادسره ئې ډيره مينه لرله،دهيواد په هره خبره اوترقى ډيرخوشحاليدئ.او په بدوئې هم ډيره خوابديدل،دى يوډيموكراټ سړى ؤ.اوهمدغه سبب ؤچي ده په عملي توګه ۱۹۴۶م كى دويښ ځلميانوپه تحريک ياګوندكې فعاله برخه واخيستل،په دغه وخت كي دى په كابل كى دمرافعې قاضي هم وو.ده دخپل جاه وجلال هيڅ پرواهم ونه ساتل اوپه ملي، سياسي چوپړكې دپرواني په شان ورګډشو.كله چي په ۱۹۵۲كال كى ويښ زلميان جوپي،جوپې بنديان كيده،نودى هم ګرفتاركړل شواوزنداني شو.ده۱۱ كاله بند وه ګالئ.اوپه ۱۹۶۳م كال كي دكابل د«دهمزنګ»دبنديخاني څخه راووتى،چي صحت ئې كافى دلاسه وركړى ؤ.نورنوددوى سياسي نقش په هم دغه ځاى پا يته رسيږي.

**د غلام محى الدين ايوبي له نظره دويښ ځلميانوغورځنګ:**

مرحوم الحاج غلام محى الدين ايوبي چى په كندهاركي داطلاعات اوكلتور مديروو.محافظه كاره اومذهبي فكرونه ئې پالل،ښه ژورناليست او د قلم خاوند وو.چي دژوندتراخيره ئې په ژورناليزم كي خدمت كاوه.خودده له قوله يووخت دويښ زلميانو په غورځنګ كې هم ځان ازمايلى وو.

محترم غلام محى الدين ايوبي په خپل كتاب سياسي هڅي اوتلاښونوكې ، دويښوزلميانوپه يوه كلنه غونډه كې ترعنوان لاندي داسي ليكي:په ۱۳۳۰ش كال كې زموږپه ګران هيوادكې دويښ زلميانوپه نوم يولوى اومثبت سياسي غورځنګ رامنځته سو.اوپه هغه كې دهيواددډيروسيموپه تيره بيا دلوى كندهار ،پكتيا،ننګرهاراوكابل يوډيرشميروطنپال اودبيداروافكاروخاوندان شامل سول.

ددې سياسي جريان هدف ،په هيوادكې هراړخيزه اصلاحات وو.اوويښ زلميانو دغه وخت دحكومت څخه چى دسردارمحمد هاشم خان صدراعظم د ديكتاتورئ څخه په تنګ اوعذاب سوى وه.وغوښتل چي دآزادومطبعاتودلاري خلكو ته دا

حق ورکړه سي چی دحکومت په چاروکي خپل اصلاحی نظريات وړاندي کړي.په حکومتی دستګاه کي دظلم ،رشوت ، خيانت اوحق تلفی ټغرټول کړل سي.حکومتي چاري پوهو او پا ک نفسو کسانو ته وسپارل سي.حکومت کوښښ کاوه چي په ټوله هيواد کي دبيسوادی، ناپوهی ، بيلا بيلو ناروغيو ،اقتصادي بې وسی لمن ورټوله کړي.افغان ملت دبدبختی اوکړاونوڅخه وژغوري.اوپه پای کي زمورږخلک ددموکراسی دلاري په حکومتي چاروکې په خپله برخه واخلي.

چي په همدغه وخت کي سردارمحمدهاشم خان استعفاوکړه.اوپرځای ئې دپاچا بل اکاء سپهسالارسردارشاه محمودخان غازي ته دصدارت چاری وروسپارل سوې. په دغه دوره کې دحکومت سياسي اختناق له منځه يووړل سو.اوسياسی بنديان آزادسول.دهمدغه دورې څخه مرحوم غلام محی الدين ايوبي خوښي ښکاره کوي .

خو بيا دکتاب په شپږم مخ کي دويښ زلميانو دغونډي په باب چي خپله ده هم برخه په کښي اخيستې وه داسي څرګندونه کوي.

دلته زمورږمقصددادی چي څرګنده کړوپه ۱۳۳۰ش کال دحوت په مياشت کې په کندهارکي داروا ه ښادعبدالهادي هادي په کورکښې دويښ زلميانو داجراأتو څرګندولو په باب يوه کلنۍ غونډه وسوه،چي په هغې کې دهغه وخت دکندهار دويښوزلميانوداجرائيه هيأت ديوغړي،ارواه ښادمحمدرسول خان پښتون له خوا ددغه جريان يوکلن اجراأت بيان سول.اوپه پای کي دغونډي مشرد حاضرو کسانو څخه وغوښتل چي ددغوکارونوپه باب خپل وړانديز ونه اونظريات بيان کړي.

مرحوم ايوبي صاحب يادونه کوي: ماپه دغه غونډه کي دخبرواجازه وا خيسته.اودويښوزلميانودارزښ دڅرګندولوپه ترڅ کي مې دغه وړانديزوکړ:چي وروسته له دې څخه بايد ديندار ه اووطنپاله کسان په ويښ زلميانوکښي شامل کړل سي.اودشموليت په وخت کې دي دهغوی سابقه په نظرکښي ونيول سي. اونوردي داخبره نه وي چي دهرکس او نا کس ګډون دلاري يوازي ددغه غور ځنګ دغړو شميرزيات کړي.

په غونډه کې ما په خپل دغه نظرټينګاروکړچي دويښوزلميانو مشران بايد په خلکواوټولنه کې ښه سابقه اوښه شهرت ولري.اودرسمی چاروداجراکولو پروخت ئې پاک نفسي شعارګرځولی وي.اوپه ټولنه کې درشوت خور په نوم نه وی معرفي سوی.نو به دغه غورځنګ ښه نوم وګټي.اوزموږ ټولني ته به ديندار‌ه او هيوادپاله کسان را سي.


مرحوم ايوبي بيا هم دخپل همدغه کتاب په اووم مخ کي داسي بيان کوي: په دغه وخت کې داجرا ئيه هيائت يوغړي، چې غلام جيلانی خان نوميده، پرته له اجازې څخه را وه پا څيده؛ما ته په قهرسو.اوپه ډيره سخته لحجه ئې را ته وويل:(ته خوويښ زلمی نه ئې).... تا ته چاه اجازه درکړې ده،چي زموږ ټولني ته راغلی ئې؟.اوتاخو موږ ته اعانه هم نه ده را کړې.او حق نه لرې چي زموږ پرټولنه انتقادي اواصلا حی نظروړاندی کړې.

مرحوم ايوبي ليکي:زه بياپاڅيدم اوداجرائيه هيات دنوروغړوڅخه مي وپوښتل: ايا!تاسوهم زماپه هکله دغسي يونظرلری؟.لکه چی غلام جيلانی خان ئې لري؟

هغوی وويل:نه! ته ويښ زلمی ئې.اوداخاص دنوموړی نظرۇ.ارواه ښاد پښتون داهم وويل:چی موږبه ستادوړانديزنوپه باب په نوروغونډوکي خبري وکړو.خو په راوروسته غونډوکې هم زما قناعت حاصيل نه کړای سو.

خودويښ زلميانويوبل سترغړی قاضي عبدالصمدحقاني زماخبري تائيدکړې. حقاني صاحب داهم وويل : چي ترهرڅه نه مخکي بايدډټولني دمشرانوپه ټاکلو کی دهغوی ديانت په نظرکی ونيول سي.اومحترم ايوبي صاحب ليکي : دويښ زلميانوغورځنګ يوچپي غورځنګ ۇ،زه ئې مايوسه کړم اوبيا هيڅ وخت دهيڅ ګوند سره مي اړيکی ونه ساتلې .

محترم ايوبي صاحب د کندهار دمذهبي ډوله منورينو دجملې څخه ۇ.يو هيواد پال محافظه کاره ليکوال اوژورناليست ۇ.ټول عمرئې دليبرالانو،دموکراټانو سيکولريستانومنورينو سره دمذهب پرسراختلافات درلودله.اودعمرتراخيره ئې داطلاعاتواوکلتورپه وزارت کې دنجيب دسقوط تروخته خدمت کړی دی.



**جیلاني خان الکوزی**

## د غلام جیلانی خان الکوزي له نظره دویښ زلمیانوغورځنګ اودقاضي بهرام خان ځانګړني:

خدای بخښلی غلام جیلاني خان الکوزی چی دویښ زلمیانودغورځنګ یووتلی سیاسي مبارزاود قربانۍ دمیدان بریالی سیاسي شخصیت وو.ماپه ۱۹۹۴م کال کې دکویټې په ښارکې یومرکه ورسره وکړه چې دنیکه مرغه نوموړې مرکه بیا دملی هنداري په دریمه ګڼه کی خپره سوې ده.او زه اوس خوشحاله یم چي هغه وخت ددې فرصت پیداسوچي ددې لوړباهمته انسان سره مي دهغه دخولې څخه هغه مرغلري راغو نډي کړې،چي داینده تاریخ دپاره به ارزښتناکه وي.دوخت دپیښوپربنسټ دهغه نظرداسی ؤ.

دنیکه مرغه په دغه وخت کي غلام جیلاني خان الکوزی ژوندی ؤ.او دمسافرۍ شپې اوورځي ئې دپا کستان دکوټې په ښارکي تیرولې.محترغلام جیلانی خان الکوزی چي دهیوادپه غم اوناخوالوکې ځوریدلی،کړیدلی اوستونزمندسوی دی لا ئې هم توره پرمځکه نه ده ایښې،همیشه به دوخت دناخوالوسره په مبارزه کي ؤ.کله به ئې دزندان دپنجرو شاته دهمت شپې اوورځی سبا کولې، کله به هم

دوخت دچارواکوتر نظارت لاندي نظر بنده ؤ.اوکله به هم دیوه ولایت څخه وبل ولایت ته جزائي استول کیده.خو دغه ټوله کړاونه دڅه په خاطر وه؟؟.اوولي په افغانستان کي دمنورینوڅوند دکړاونوسره مخا مخ ؤ.؟ دا ټوله هغه پوښتني دي چي مورږئې خپله دده دوینا څخه جوابولاى سو.

دمرکې په سرکې مي دښاغلي جیلاني خان الکوزي څخه وپوښتل:چي که دخپل سیاسي اوټولنیزڅوندپه باب څه راته ووایاست ،نودافغان ملت پرتاریخي پاڼوبه څه ورډیر کړل سي.اودغه به دي دنوي نسل دپاره یوسترتاریخي شؤني اویادونه پاته سي.اوهمدغه به د معاصر تاریخ سره مرسته هم وي.

جیلانی خان الکوزی چي په طبعت کي خوشحاله اوخوله ئې دخندا ډکه اودزړه دوستي اومینه ئې په څیره کي وه،په ډیره مینه ئې دخپل سیاسي اوټولنیز څوند کیسه داسي راپیل کړه.چي زه په امانت دارئ سره هم هغه کیسه تاسو ته دهمدغه کتاب په وسیله لیکم اوستاسوسره ئې شریکوم.

جیلاني خان الکوزی د کندهاردښار اوسیدونکی،لکه چي دتخلص یا لقب څخه چې څرګند یږي.په ختّه پښتون،الکوزی دی.

دامیرامان الله خان په دوران کې خپلي لومړنی زده کړي کړي دي.او دفراغت څخه وروسته په ۱۳۱۴ش کال کې دتلګراف په برخه یاریشته کې په کندهار، کابل او سپین بولدک کې لومړنی دندي را پیل کړې.په ۱۳۱۴ش کال کي دفراه په اوسني ولایت اوپخوانئ ولسوالسئ کې دتلګراف دتنظم په توګه دنده ور وسپارل سوه.چي وروسته په ۱۳۱۵ش کې بیرته کندهارته را تبدیل سو.څرنګه چي دتلګراف په برخه کي مسلکي کارمندان لږوه،نودښاغلي سردارمحمد داود په امریو ګروپ زده کونکي په رسمي توګه،ومحترم جیلاني خان ته وروپیژندل سوه.اوپسله یوه کاله مسلکي زده کړوڅخه هغه هم پرمسلکي دندووګمارل سوه.چي همدغه ئې په ټولنیز لحاظ یوسترخد مت هم ګڼلاى سو.په همدغه وخت کې سیاست اودهیواددځوانانوپه منځ کي دهیوادپالني روحیه هم خپروله نو سمدلاسه دهیواددچارواکودلاسه ئې ځورونی هم ولیدې ، چی دهمدغه ځورونو په وجه دندوڅخه سخت ستړی اوخسته سو.اوپه ۱۳۲۳ش کال کې کابل ته

دخپلي دندی څخه د ګوښه کيدوپه نيت راغلی،چی په همدغه وخت کې دځينو هيوادپالوپه منځ کې ديوې ټولني دجوړيدوفکرورپيداسو.اودمحترم الکوزي صاحب دوينا له مخي.چي ما هم دهمدغه فکراو دټولنی دجوړيدو دهمدغه فکر ملاتړوکی.اوبيا کندهارته درسمي دندی دخوشي کيدوڅخه وروسته دګونډي او ټولنيزفعاليت په خاطرراستون سوم؛بايد وويل سی: چی دښاغلي الکوزي دروحيې څخه داسي معلوميده چي دتلګراف د مسلکي دندي څخه ګوښه کيدل ورته ستونزمنده وه.اوپريښودل ئې ګرانه وه،خو!ښاغلي الکوزي صاحب دغه رسمي دنده خوشي کړه.چي بياوروسته دخدای بخښلي حبيبي صاحب په مرسته په۱۳۲۵ش کال کي ددرملتونونود مديرپه توګه پردنده وګمارل سو.چی په دغه وخت کې خدای بخښلی حبيبی صاحب د مطبعاتو مرستيال ؤ.اومحمدنعيم خان دصدارت مرستيال ؤ.همدغه وخت دوييښ زلميانوځيني دوستان لکه غلام محمدغباراومرحوم دکتورعبدالرحمان محمودي په پارلمان کي دوکيلانوپه توګه وټاکل سوه.نوپه دغه خاطرښاغلي غلام جيلانی خان هم يوه غو نډه جوړه کړه. دغونډي مؤخه داوه چی دکندهارڅخه دي هم يوڅوک پارلمان ته ونومول سي.غونډي پريکړه وکړه چي ،استاذعبدالحی حبيبي دی پارلمان ته وټاکل سي. نوموړې پريکړه دغونډي داستاذ حبيبي په غياب کې ترسره سوې وه.په دې وخت کي محترم استاذپه چمن کې دسوداګرووکيل وو.ښاغلي استاذ حبيبي صاحب نوموړې پريکړه دوټيزوستونزوپه سبب ونه منل.چي په نتيجه کې دمرحوم جيلانی خان الکوزي دوينا له مخي څومکتوبونه وحبيبي صاحب ته ولاړه اوراغله.البته نوموړی مکتوبونه هم خپله جيلانی خان الکوزي ورليږلي وه.په پای کي جيلانی خان الکوزي په ټينګه لهجه يوبل مکتوب هم ورولیږی.او ورته په ګوته ئې کړه چي ستا استازيتوب په پارلمان کي دانډيوالانودپريکړي دمخي سوی دی.اوته بايدخامخاداومني.اوستاوټيزی ستونزي هم تريوه حده پوري انډيوالان درحلوي،ددې ورستی مکتوب پربنسټ دعبدالحي حبيبي ځواب هم داستادپه امضآاورسيدی.دجيلانی خان الکوزي دوينا له مخي دخدای بخښلي استاذدپاره هم مرستی ټولي سوې.اوپه دغه وخت کي يوبل تکړه انډيوال هم نور محمد خان دپنجوائي دولسوالۍ څخه دخلکودخواانتخاب سوی ؤ.محترم غلام جيلاني خان يادونه وکړه چي دغه وخت نورمحمد خان هم زموږ په کورکې

دمرحوم استاذسره پيژندلګلوي وسوه.که څه هم دوی په غياب کی يودبله سره شناخت درلود،خومخامخ ئې دلومړي ځل دپاره زموږ په کورکې سره وپيژندل.

ښاغلی غلام جيلاني خان الکوزی وايي: چي په دې تاسووپوهيږی چی د۱۳۲۹ش کال څخه وروسته دويښ زلميانو فعالت په کندهارکې نورهم پياوړی اوفعاله سو.په دغه وخت کي مرحوم خواخوږی چي دويښ زلميانو يوتکړه غړی ؤ،دکندهاردکوکران په دارالمعالمين کي مديرؤ.دمحمديونس خان نائب الحکومه دخوا څخه زنداني سو.

خدای بخښلی خواخوږی دويښ زلميانو لومړنی زندانی ؤ.اومحترم غلام جيلاني خان يادونه کوي ،چي زه خپله دسرادرمحمد رفيق خان حکمران په امرسره ودې ته مجبورسوم چي خپله استعفا وړاندی کړم.ماهم خپله استعفا دمحمد رفيق خان په ذريعه ومحمد يونس خان نائب الحکومه ته واستوله،ترهغه وروسته دانډيوالانودپريکړي سره سم مي دمرحوم محمدابراهيم خواخوږي دخوشي کيد ودپاره يوګروپ ددغوکسانوپه وسيله جوړکی اوکابل ته ولاړو،دغه کسان دګروپ غړي وه.لکه:دويښ زلميانو دګوند مشرمحمد رسول خان پښتون – حاجي محمد انورخان اڅکزی – زه جيلانی خان الکوزی – اغامحمد خان کرزی – عبدالهادی خان توخی (بحر) چي زموږ څخه مخکي لا کابل ته تللی ؤ.محترم جيلانی خان مديرصاحب يادونه کوي چي: موږداوخت ومرحوم سردارمحمد داود خان ته ورغلوچي دغه وخت سردارمحمد داودخان ددفاع دوزارت پردندوبرسيره دکورنيوچارووزيرهم ؤ.اوکتنه موورسره وکړه، پسله ډيرواوږدوبحثونواوخبرو څخه سرادرمحمد داود خان نائب الحکومه يونالايقه او بې کفايته کس وګڼی،چي محمد يونس خان والی ئې ددغه بې کفايتی اونالايق توب په وجه کابل ته راوغوښتل سو.اوزموږانډيوال محمدابراهيم خواخوږی خوشي کړل سو.نوموږ برياليي را ستانه سو.

هم دغسی ښاغلی جيلاني خان الکوزی يادونه کوي: چي دغه وخت زموږ دوه انډيوالان دکابل څخه وکندهارته را غلل،لکه: **<u>خدای بخښلی عبدلروف بينوا اوخدای بخښلی ګل پاچاالفت چي دوی دځانه سره خدای بخښلی ډاکترعلی</u>**

**احمد او خدای بخښلی دکتور محمودي ئی هم دځانه سره یوځای را وستل.او دويښ زلميانو په غو رځنګ کي شامل سوه.**

دلته ښاغلی غلام جيلانی خان يادونه کوی چی دغه مثبت فعاليتونه اودويښ زلميانو پرله پسي لاسته راوړني دښي راهبری اولارښووني يوه برخه وه.چی دغه وخت مشران محمدرسول خان پښتون – حاجی محمد انور خان اڅکزی – قاضي بهرام خان اڅکزی زموږ درانه مشران وه.

دهمدغه ټولواوږدوبحثونواوتوضيحات البته دپوښتنوپه نتيجه کی مادجيلاني خان الکوزي څخه ترلاسه کړی دي خودلته می د موضوع دلنډوالی په سبب دښاغلی جيلانی خان الکوزي ديادونوپه ډول ترتاسوراورسول.نه دپوښتني او ځواب په ډول...

بيرته به مرکې ته ادامه ورکړم.اويوه پو ښتنه به بيا ورڅخه وکړم.

پو ښتنه : دغه وخت ستا رسمي دنده څه وه؟

ځواب : څه وخت چې ده ددرملتونونود مديريت څخه په ناځوان مردانه توګه ليري کړم نوبيائې بيرته دقندجوړولوپه عمومی مديريت کې دمرستيال په توګه دنده راکړه.پسله څه وخته دکابل دقند جوړولورياست،دانحصاراتوپه رياست واووښتی نو د کندهارد قند جوړولومديريت هم دانحصاراتو په عمومی مديريت واوښتی.نوزه ئې کابل ته دتفتيش دغړي په توګه وروغوښتلم.البته دا يوه سياسی لوبه اوتبديلي وه.ځکه ددې مؤخه داوه چي زه نورپه کندهارکي ونه اوسيږم.چي په همدغه وخت کي په ۱۳۳۰ش کال کي بيا زموږ يعنی ويښ ځلميانودوه نامتو غړي په کابل کي ونيول سوه.لکه:خدای بخښلی غلام حسن صافی اوخدای بخښلی فيض محمد انګار.په دې وخت کي غلام حسن صافی دوه کاله زندانی سواوفيض محمد انګارشپږ مياشتي زندانی کړل سو.خوما بيا په همدغه کال کی دانحصاراتوپه موافقه په ۱۳۳۰ش دجدي په مياشت کی دکابله وکندهارته ځان را تبديل کی.دغه وخت مي دتبديلۍ څخه وروسته دوې مياشتي مې په کورکی تيري کړې.چي دحمل پرلسمه نيټه (۱۳۳۱ش)کال کې ديولړنوروانډيوالانولکه : خدای بخښلی عبدالهادی خان توخی،خدای بخښلی حاجي محمدانورخان

اڅکزی،خدای بخښلی قاضي بهرام خان اڅکزی،خدای بخښلی قاضي عبدالصمد خان اوخدای بخښلی محمدیوسف خان «حضرت مجد د ي»... ښاغلی جیلانی خان الکوزی وایی: موږدغه وخت دیوه خښم جن ،ظالم اوارتجاعي حکومت ته چاپلوس ټولۍ مشرسره چی وریښمین نومیده خو! لیکن ډېرین زړه ئې درلود.او یوڅوکسه عسکراوماشینداران هم ورسره وه،موږئې په دریمه شپه وصدارت ته راورسولو.همدغه وخت وو،چی درې کسه ئې نورلکه:محمدعلم بڅرکی ، فیض محمد انګاراوحاجی محمد حسین ئې د کندهارپه فرقه کې زندانی کړه.په دغه وخت کي دویښ زلمیانولارښود مشرښاغلی محمدرسول خان پښتون چي په دغه وخت کې دبغلان په ولایت کې دانحصاراتودعمومي مدیرپه توګه دنده درلودله، په خپله دبغلان په ولایت کې زنداني سؤ.اوپه همدغه ډول وروسته یوبل نفرهم چي خدای دوست نومیده،زندانی او زموږ په څیرکوټه قفل سؤ.چی اوس نو په دې حساب دښاغلي جیلاني خان الکوزي دنظره «۱۱» یولس تنه دویښ زلمیانو دمشرانوڅخه زندانی سول.

دلته دښاغلي جیلاني خان دوینا د مخی چي وایی: دابه بیځایه نه وی چی دیوه بل غښتلی ویښ زلمي په باب یادونه وکړم....

محمد نورخان په دغه وخت کي د ملي دفاع په وزارت کی دتدریساتوپه څانګه کې د مدیرپه توګه دنده ترسره کول،محترم جیلاني خان دمحمد نورخان میړانه داسي ستائي:تراوسه لاموږدهم هغه ظالم مستبد ټولۍ مشرترسخت نظارت لاندی وو.چي هیچاه هم زموږ دلیدوجرئت هم درلود ... په همدغه وخت کې په ناڅاپي توګه خدای بخښلی محمدنورخان راڅرګندسؤ.دده راڅرګندیده موږ ته نورهم جرئت اواتمنان راکی،زموږزړه پوړه سو.اوسمدلاسه ئې زموږ ضروري توکی لکه سګریټ، صابون،چای ،بوره...اونورضروري توکې موږ ته راورسول.دکورنۍ په حال اواحوال ئې خبرکړو.داوخت هیچاه ته په هیڅ ډول اجازه نه وه،چي زموږسره دي وویني.نو ځکه ئې ژرمحمد نورخان د کوټې څخه وایستی.چي د محمد نورخان دغه میړانه دستایني وړده.داهم دیادونی وړګنم چی دغه وخت یوټولی مشرهم زموږ سره په نه شناخت کي دهیواد پالني په روحیه زموږ سره مرسته کوله اووخت ناوخت به ئې دپایوازیا دوست په

ځيرمور ته شيان راوړل اومرسته به ئې کول.نوموړی دغه وخت بلوک مشر ؤ.بلوک مشرصاحب په خپل لګښت مور.ته ضروري توکي رابرابرول.اودنورو مسؤلينوسره به ئې زمور.پرسره منطق ويل، چی دنوموړي نيکي اردې دهيرولو وړنه دي.بلوک مشرصاحب زمور په اوو۷ تنوکی هيچاه هم نه پيژنده.ليکن دومره موپيژنده چی نوموړی دکندهاردی.اويوکندهاری دی. نوموړي دکندهاري توب په روحيه اودويښ زلميانوسره دميني په مترقي روحيه زمور.سره مرسته کول،خو!وروسته چی مور.پوښتنه پسي وکړه، هغه د کندهار دکلاچې ؤ.اوامين الله خان نوميده.غلام جيلانی خان الکوزی وائي: چي په کابل کي دويښ زلميانو دملګروڅخه غلام حسن خان صافئ ډير فعاله او جدي انډيوال ؤ.صافی صاحب دهغه مقالې په خپرولوسره،(دعوت مردم به خرفات)په نوم چی په کال ۱۳۳۰ش کې د کابل په سرماموريت کې زندانی سوی وو.څه وخت چی دی زنداني سونومور.هم دده په خاطرکابل ته راغلو اودخپل دغه غښتلي ملګري پوښتنه موکوله.

مور.په دې وخت کي دبنديخانې څخه نه بيريدلو...ځکه! مور په دې پوهيدلوچي دسياست لومړی پړاوزندان دی.خومور.په دې نه پوهيدلو چی زمور پوښتنه به بياڅوک کوي.چي هم مسافريواوهم زندانيان.خو! دنيکه مرغه په دغه وخت کي دغوڅلوروکسانو زمور پالنه دزندان په وخت کي په ډيره ميړانه سره کوله.لکه : استاذ عبدالشکوررشاد ، ښاغلی غلام دستګيرخان پوپل،ښاغلی محمد ابراهيم خواخوری اواستاذ نور احمد شاکر.

پوښتنه :که ستاسوپه حافظه کی وي دويښ زلميانودزندان موده څومره وه اوڅو کسان موزندان ته وليږدول سوه؟ .

ځواب :ويښ زلميان په مختلفوولايتونوکي ، په مختليفو يا بيلا بيلو وختونو سره زندانيان سوي دي چي په لاندي ډول دي.

لومړی دويښ ځلميانومشر : محمد رسول خان پښتون « يولس کاله ۱۱»

دوهم : حاجي محمدانورخان اڅکزی :«څلور نيم کاله»

دريم : قاضي بهرام خان اڅکزی : «لس کاله ،لس مياشتي او لس ورځي ».

څلورم : خپله زه غلام جيلانی خان الکوزی «څلور نيم کاله ».

پنځم : ښاغلی فيض محمد انګار: لومړی وار «شپږمياشتي اودوهم ځل څلور نيم کاله ».

شپږم: ښاغلی عبدالهادی خان توخی: «لس کاله ،لس مياشتي او لس ورځي .

اووم : ښاغلی محمد علم بڅرکی : «څلور نيم کاله »

اتم: ښاغلی محمد ابرا هيم خوا خوږی «دوې مياشتي» .

نهم : ښاغلی غلام حسن خان صافی «دوه کاله» .

لسم : ښاغلی قاضي عبدالصمد خان،«څلورنيم کاله».

يولسم : ښاغلي محمد يوسف خان مجديدي «څلور نيم کاله».

دولسم : ښاغلی حاجي محمد حسين خان «يو نيم کال» .

ديرلسم : خدای بخښلی حاجي خدای د وست « اوه ۷ کاله » بندي او په هم هغه بنديخانه کې شهيد سؤ.چي بيا وروسته جنازه ئې انډيوالانوکندهارته راوړل.

هو!ښاغلی غلام جيلاني خان دخپلومبارزوپه لړکي ډيري ستونزي ګاللي دي. اوهمدغسی ئې دخپلوانډيوالانوپه منځ کی ډيرغښتلي کسان هم درلودله ،چی دده دويناله مخي د صفت او يادونی وړوه.خو! يولړانډيوالان ئې بيا دعمل په ميدان کي،ددوی سره ونه دريدل. محترم جيلاني خان الکوزي يادونه وکړه: څه وخت چی مورډ کابل په زندان کی زندانيان ؤ، يو لړد کابل اوسيدونکودوستانومو پو ښتنه ونه کړه.اوڅه وخت چي دزندانه راخوشي سو، بياهم دکابل دوستان موپو ښتنی ته رانه غله،ځوځيني غيري ګوندی ملګرواومنورينوترميدان هوايی پوري بيابدرګه کړو.محترم جيلاني خان الکوزی يادونه کوي چي دشاه محمود صدراعظم په وخت کي چي يوه اندازه دډمو کراسۍ ايکټ را پيل سو.زموږ با شعوره ولس سمدلاسه دډموکراسۍ څخه په ګټه اخيستلو سره يوسول اوهغه

داړیکوحلقوي اړیکي په ګوندي سیاسي اړیکوواوښتل.دلته درې ګوندونه په رسمي توګه رامنځته سوه.لکه:لومړی:دویښ زلمیانوګوند،چي دنوم اونښان په لحاظ دښه نوم خاوندؤ.اوفعالیت ئې هم تریوې اندازې سیاسي اونورمال ؤ.او دخلکودپاملرني وړهم وګرځیدی.دوهم:دوطن ګوند چي دغلام محمدغبار په لار ښونه په کابل کي جوړاورسمي سو.هم یونامداره ګوند ؤ،چي اکثریت ځوانان ئې په کابل کي وه.اوپه لږ وخت کې ښه تنظیم پیداکی. دریم : دندای خلق ګوند ؤ، چي دمرحوم محمودي په مشرتوب ئې غیري منظمي حلقې سره منظمي کړې.اوفعالیت ئې ډیرژرپه هیواد کی احساس کړل سو.

دلته ددغه دروسروګوندنوترمنځ اړیکی هم ډیري ښې اوسیاسي وې.خو!دغه غورځنګونوحکومت وارخطا کړ،داځکه چي په لږ وخت کې په خلکوکې ځای پیداکی اوپه یوه سیاسي فعاله ګوندنوبدل سوه.په لږوخت کې دولسونو شعور ورسیاسي کړ.نوسمدلاسه ئې دولت دنیولو دپاره مقد مات برابرکړه.اودنوموړو ګوندنوپرمشرتابه راهبری ئې ژربریدوکړاویولړهغه کسان چي دګوندونو فعاله سیاسي کسان وه.هغه ئې دزندان تاریکوکوټوته واستول.اویودم ئې په هیواد کي نارامي اوتشویش راپیداکی.اودهیواد آزادي ورځپاڼي اوخپروني بندي کړې.په دې لړکې دانګاردورځپاڼي ۱۶ شمارې خپرې سوې،چي په ۱۳۲۹ش کال دحوت دمیاشتي (۲۸) پیل او ۱۳۳۰ش کال کی بند سو.

همدغسي دویښ زلمیانوڅخه د محمدرسول خان پښتون په ګډون ۱۲تنه بندیان سوه.اودوطن دګوند څخه دمرحوم غبارپه ګډون ۱۱تنه زندانیان سوه.اودندای خلق دګوند څخه دمرحوم محمودی صاحب په ګډون ۶ تنه زندانیان سوه.

چي ټوله ۲۸ تنه په کابل کې په یوه زندان کي زندانیان وه.

نوڅرنګه چي عاموخلکودډمو کراسۍ څخه امیدونه درلودله،خو! دحکومت په دې کاره سره د حکومت څخه مایوسه سوه.اویولړخلک بیادویښ زلمیانومشران دحکومت سره مؤفقې ته هم ورسیدل،یعني تطمع سوه.چي دمرحوم جیلانی خان دویناله مخي دغه کسانودولتی چوکۍ ومنلې: (ښاغلی الفت دپښتوټولني دعمومی مدیرپه توګه،مرحوم قیام الدین خادم داصلاح دعمومی مدیرپه

توګه،نورمحمدترکی لومړی دآژانس دعمومي مديرپه توګه اوبياپه امريکاکي داتشه مطبعاتي مسؤل په توګه ،مرحوم عبدالروف بينوا په ډهلي کې دمطبعاتي اتشه په توګه وټاکل سو).

دغه وخت نوروملګرودعبدالشکوررشادترمشرتابه لاندې خپلو مبارزوته شد ت اودوام ورکړی.ويښ زلميانودغه وخت خپلې د موکراټيکي مبارزې نوري هم تيزي کړې.اوعبدالشکوررشادئې پارلمان ته وه نوموه.دغه وخت دکندهارنائب الحکومه اوعسکري قومندان خودويښ زلميانوسره سخت په ټکرکي ؤ.اوداستاد سره ئې هم سخت ټکردرلود.اودا ورته جوته وه چي داستاد تطمع کول ګران کاردی.نودلته ئې داستادسره دولتي خد متګارحاجي عبدالغفورخان ئې ورسره کانديد کړی.خودعبدالغفورخان شاته حکومت په ښکاره ودريدی اود فرقې څخه ئې په ملکي لباس کې، عسکرراوستل څوحاجي غفورخان حمايه کړي.

محترم جيلاني خان يادونه کوي ، چي دولت داستادرشاد په مقابل کي هرډول دسيسه وکړه.څواستاذرشادته ئې يوه نامعقوله پلمه وکړه... چي تاعسکري په معلمي کي قبوله کړې ده اونوئې استادرشاد د کندهارڅخه وکابل حربي ليسې ته دښوونکی په توګه تبديل کی.اوپه بدل کې حاجي غفورخان خروټی ئې پارلمان ته واستوی.

مرحوم مديرصاحب جيلاني خان يادونه کوي.هغه وخت چي موږپه زندان کي ؤ.نواستادرشاد،خواخوږي اوشاکرصاحب ډيرزحمتونه وليدل.چي اوس ماته د ډيرقدراويادولووړدي.هم دغسي دويښ ځلميانويوغښتلی غړی چي دوه کاله بند ئې هم په سختو شرايطوکي تيرکی؛خوڅه وخت چي دبنديخانې څخه خوشي کړل سو،نوبيائې اړيکي دويښځلميانودمشرانوسره وشکولې.اوسمدلاسه بيا په پيښورکي دجنرال کونسل په توګه پردنده وګمارل سو.

داوه هغه ستونزي اودويښ زلميانو دشناخت په باب چي دخدای بخښلي جيلاني خان الکوزي دخولې څخه ما په ملي هنداره کي ديوې مرکې په ترځ کی دده احوال اودده دوينا څخه دهغه وخت دانډيوالانواوويښوځلميانو په با ب مي ځيني معلومات ترلاسه کړه اوهمدغسي مي دهمدغه کتاب ضميمه وګرځول.او

همدغسي زما مؤخه ددې مرکې څخه داوه چې نورهم دقاضي صاحب دوخت ستونزي ، دهغه وخت دانډيوالانوارېکی،ټولنيزي اوسياسي اړيکي وڅيړل سي. خونومورړې مر که په بشپړه توګه دلته نه ده خپره سوې، ځکه هغه برخه چې دويښزلميانوپه دوران پوري اړه لري هم هغه برخه دلته ما ليکلې ده.خوهغه نوره برخه د مرکې بياهم دخدای بخښلی جيلاني خان الکوزي، دژوند نوره برخه ده. چي دخپل سياسي ژوند په با ب ئې،پسله هغه چي دډموکراسۍ دوران خلاص سواوپه ۱۳۴۲هـ ش کي دګوندنوقانون جوړسو اودوی دزندانه څخه را خلاص سوه، نوبيا دويښ زلميانويوه برخه دښاغلي محمدهاشم ميوندوال سره ديوه نوي ګوند دجوړولوهوډ وکړ.اودسوسيال د موکراټ ګوند ئې د مساوات په نوم جوړکی.... دانوهغه برخه ده چي دويښ زلميانواو قاضي صاحب دژوند سره ډيري اړيکی نه لري.خو! که ځيني دوستان بيا دبشپړه مرکې سره مينه ولري، د ملي هنداري دريمه او څلورمه ګڼه دي وګوري .

بيرته به راوګرځو د قاضي بهرام خان اخکزي دژوند نورو برخو ته .

**قاضي بهرام خان دمحمد طاهر اڅکزي له نظره«دميوند چينه»**

په دې باب دافغانستان قانون پوه اوژورناليست ليکوال محمد طاهراڅکزی داسي وائي : او خپل احساس ديوې څلوريځي په هنری فورم کي څرګنده وي.

**قاضی بهرام خان**

« بهرام خان » ؤ په وطن کي لوی قاضي
ملا يا نو کي و هم لـوی مـولـوي
مولوی قاضی بهرام « ويښ ځلمی » هم ؤ
دا تحريک يې و سا تلـی اسلا می

طاهر اڅکزی

## قاضي بهرام خان اڅکزی او د ميوند سفر

## يوه نه هيريدونکې خاطره دمحمد طاهر اڅکزي له وينا څخه

يوه ورځ مي نيکه ـ محمد انورخان اڅکزي چي مانيکه اغا باله راته وويل:« د قاضي صاحب کورته ورسه اوورته ووايه چي که کولای سې سباراسی چي سره ووينو.» دقاضي صاحب څخه دده مقصد قاضي بهرام خان اڅکزی و،چي هغه هم د کندهاردبي،بي حواپه کوڅه کي اوسيده اوزموږنژدې ګاونډی ؤ.او دوی دواړه ډيرنژدې ملګري اوښه دوستان وو .

خدای دي مي غاړي نه بندوي په هغه وخت کي به زه اووه کلن وم اودا ۱۳۳۴هجري شمسي يا ۱۹۴۵ميلادي کال و.په هغه وخت کي په کندهارکي لا د خلکوپه کوروکي تليفونونه نه وه،چي يوبل ته پيغامونه ورسوي اويودبل په حال سره خبرسي،اودداډول پيغامونودرسولودپاره زماغوندي هلکانوڅخه کار اخيستل کيده.چي زمانيکه زه ورته ټاکلی وم.دقاضي صاحب د کوردروازه به زموږدکورد دروازې په شان د ورځي له خوا تل خلاصه وه، يوازي د شپې له خوا به مودکورونودروازې تړلې .

څرنګه چي زه د مخه هم څوواره د قاضي صاحب کورته ورغلی وم اوکوريې زموږکورته ډيرنژدې ونوسمدستي ورغلم.دامايښين مهال واوسم سيده کورته ورننوتلم ګورم چي محترم قاضي صاحب بهرام خان دخپل کوردغولي په منځ کي پرکوچنۍ ناليچکي باندي نيم ناست اونيم غځيدلی،دووبالښتانوته تکيه کړې وه، پښې يې نه وې غځولي اوځنګونونه يې راټول کړي وو.اوکه ريښتيا ووايم نوپه عين هغه ډول مي وليد لکه چي په همدې شيبه کي مي نيکه دکورپه غولي کي پردوو بالښتانو باندي تکيه کړې وه. د محترم قاضي صاحب:ږيره هم داسي سپينه وه لکه زمادمحترم نيکه. دواړوبه عمومادسروېښتان د دوبي په موسم کي کله په لوی ماشين کله په کوچني ماشين خريل.چي داکاريې په دې ورځو کي کړی و.زه لا ښه نه وم ورنژدې سوی چي ځای پرځای ودريدم او داشک راته پيدا سوچي غلط کړی خو به مي نه وي، دا خو به نيکه اغا نه وي. خودا شک مي هغه وخت ليري سو چي دمحترم قاضي صاحب په لاسوکي مي يو کتاب وليدچي په لوستلويې بوخت ؤ.اود نيکه اغا په لاس کي د چايو پياله وه. کله چي د قاضي صاحب ماته پام سو چي ځای پرځای ولاړوم نو ږغ يې راباندي وکړ: «هلکه مه دريږه نژدې راسه!» زه هم په جرات نژدې ورغلم.سلام مي

ورواچاوه اوهغه وعليک کړ.اوراته ويې ويل:« خان رااستولی يې؟» هغه به زما نيکه ته « خان « ويل اونيکه به مي« قاضي صاحب» باله.ورته ومي ويل:« هو، نيکه مي ويل چي که کولای سې سبا راسه.» راته ويې ويل:

« ورته ووايه چي سبا دا مهال به سره ګورو که خدای کول.»

بيرته کورته راغلم، نيکه اغالاهغسي بالښتانوته تکيه کړې وه.ورته ومي ويل چي هغه ويل سبادا مهال به سره ګورو که خدای کول .په هغه وخت کي خوزه کوچنی هلک وم اوډيروشيانوته مي پام نه کيده خو اوس چي د وياړلي قاضي صاحب بهرام خان د ژوندهغه حال ته ګورم اوکره کتنه پرکوم اوپه دې لړکي دهغه ژونددخپل وخت داوسنيوښاغلوسره مقايسه کوم نودهغه پاک نفسۍ ته مې په اصطلاح د حيرت ګوته په غاښ کي نيولي ده .

قاضي بهرام خان اڅکزی په وطن کي ډيرکلونه د مرافعې قاضي و.چي په قضايي چاروکي دا ډيره لويه چوکۍ ده اوده کولای سول د نورو کسانوپه شان

د دې چوکۍ څخه ډيرمال اوثروت ترلاسه کړي اوبيا دنوروپه شان بنګلې ځان ته جوړي کړي اوپه سترشان اوشوکت ژوند وکړي. خو!د محترم قاضي بهرام کورهغه پخوانی زوړکورو.چې پرزړې ناليچکي باندي يې دوه زاړه بالښتان سرته ايښي وه. اوتکيه يې پرکړې وه.اوډيره لويه شتمني يې هغه کتابونه وو چي په لوستلو يې روح تازه کاوه.داسي انسانان تل ترخپلي ټولني مخکي دي او په ستروانسانانوکي شميرل کيږي.په دې معنی چي اوس زموږ په ټولنه کي ډير اشخاص دلوړوچوکيوپه نيولوکي پيسې لګوي اوچي دا چوکۍ ونيسي نوپريمانه رشوتونه اخلي.اوله دې لاري پيسې راغونډوي.اوترټولولادشرم خبره داده چي څرنګه چي دا پيسې په ملک کي دننه نوش جان کولای نه سي نودملک څخه يې باسي اوبهرنيوهيوادوته يې انتقالوي چي دا پريوه لوی جرم سربيره بل لوی جرم دی .

دوی ايستله د ډالرو شنه نوټونه

زرغونواوسروغميو صندوقونه

هم يې جوړي بنګلې اومغازې کړې

پاته سول قاضي بهرام ته کتابونه **طاهر اڅکزی**

ژونددخاطروډک دی اوپه دې ځای کي يوه نه هيريدونکې خاطره راپيادېږي او غواړم ستاسو محترمودوستانو سره يې شريکه کړم .

مخکي مي داخبره وکړه چي زمامحترم نيکه خپلودوستانواوملګروته د پيغامونو درسولودپاره زه ټاکلی وم.اوداکاريې شايد ددې دپاره کاوه چي ماترخپلي نژدې څارني اونظارت لاندي ونيسي، ځکه چي زه لا ډيرکوچنی وم، چي پلار مي محمد يوسف خان وفات سو.چي د هغه مړيني چي يوښکلی اوحليم ځوان و زما نيکه سخت غمجن کړی ؤ.اوددې غم د ليري کولودپاره به يې زه د ځان څخه نه ليري کولم.اوکه به يې کله نژدې اولږ څه ليري سفرونه کول نوزياتره وختونه به يې زه هم د ځان ملګری کړم. په دې سفرونوکي يودميوندسفرو په هغه وخت کي زمانيکه په ميوند کي نوې خبښي کړې وه اوخپله لوريې چي زما عمه کيده په ميوندکي دمحمدزوددرني کورنۍ يوه ښکلي اومنورځوان ته چي محمدعمرخان نوميده اوپه شيراغامشهورو، واده کړې وه چي اوس دواړه د ذکر سوو کسانو په شان د دې دنيا څخه تللي دي. د ټولودي خدای مل وي .

نومحترم قاضي بهرام خان به چي دپخواڅخه لادميونددليدلواودميونددشهيدانود زيارت کولو هيله من و، ددې خبښۍ څخه وروسته زياتره زما نيکه ته ويل چي «خانه ميوندته به کله ځو» !هغه وچي زما نيکه د تګ ورځ ورته وټاکله اوزه يې هم چي په دې وخت کي به شايد تراوو کالوڅومياشتي اوښتی وم ورسره ملګری کړم .

ميوندته په هغو شپوورځوکي تګ آسانه نه و،په تيره بيا سپين ږيرواوکوچنيانو ته،ځکه چي په هغه وخت کي ليري اوګوښه کليوالوسيموته دموټرولاري او سړکونه نه وه.اوداځکه چي شخصي موټرونه نه وه.اوکه به کوم شخصي موټر پيداسونو هغه به خپله د ښارپه دننه کي چليده. په دې کی شک نه سته چي ډير وطنپال افغانان دميونددليدلواو په تيره بيا دميونددشهيدانود زيارت کولو هيله من وه. خودزياتروداارمان دهمدې ترانسپورټی مشکلاتو له کبله پوره نه سو .

خو کله چي وزيرمحمد ګل خان مهمند چي يوپياوړی اوقهرمان افغان وپه ۱۳۰۹هجري شمسي يا ۱۹۳۰ميلادي کال کي دزياتواختياراتوسره دلوی کندهارد تنظيمه رئيس په توګه مقررسونودخپلوښوکارونوپه لړکي يې دميوند دشهيدانوهديرې ته هم زياته پاملرنه وکړه.دا هديره دميوندپه اصلي کلي کي چي د ميوند دچينې اوبه پرسپرې دي واقع ده، خودکليوالودکورونوڅخه يوڅه ليري

ده. محمد ګل خان مهمند چي خپله هم دهيواددنجات دجګړې يوقهرمان وکله چي يې په کندهار کي په کارشروع وکړه ويې غوښتل ميوندته ولاړسي اود شهيدانو زيارت وکړي، خودهغه زيات واک اختيارسره سره چي په ملکي اونظامي دواړوڅانګو کي ورکړه سوی و،په مشکلاتو سره يې د ميونددشهيدانوهديرې ته ځان ورساوه.او کله چي يې وليدل قبرونه نړيدلي اوهديره ګډ وډه وه نوامريې وکړچي دا هديره بايد داسي ودانه سي چي هرڅوک يې په اسانۍ پيدا کړای سي، اودنوروهديرواوقبرونوڅخه بايد ښکاره توپيرولري.د هغه داامرژراجرا سو.اودهديرې اودقبرونودودانولوکارشروع سو.د ټولوشهيدانوقبرونه په سپينو ډبروپوښل سول.اودهديرې پرشاوخوا باندي پوخ ديوال راوګرځول سو.او يو کلک اوجګ کانکريټي څلی پرجوړسو.دا څلی د ښه ليري څخه ليدل کيږي او هرڅوک چي يې ويني وايي « هغه ده د شهيدانو هديره! » او چي کله هديرې ته وروړسيږي اود قبرونوسپيني ډبري وګوري نوکه باران پرسوی وی يا د سهار پرخي پرې مينځلي وي داسي ځليږي لکه رڼا چي ځني راوځي .

وزير صاحب يا تنظيمه رئيس صاحب محمد ګل خان د دې د پاره چي دا هديره بيا ګډوډه نه سي او قبرونه يې ونه نړيږي نود هغې د حفاظت او ساتني د پاره يې يو متولي هم وټاکه. هغه دغه رازد ميوند دولسوالۍ ترمرکزکشک نخود پوري دموټرودتګ راتګ د پاره يوسړک هم جوړکړ.چې که څوک وغواړي په موټرکي دغي هديرې ته ځان ورسوي نوپه دښت اوپه شپلوکي به موټرنه چلوي.خو لکه چي مخکي مي وويل په هغه وخت کي په کندهارکي موټرونه ډيرنه وه.چي څوک ددې سړک څخه استفاده وکړي نو سړک وروسته کنډوکپر اولښتي لښتي سو، زياتره برخي يې بارانو يووړې اوچا ترميم نه کړه .

ميونددڅوکليواوکاريزونومجموعه ده. چي څو کاريزه يې وچ سوي اوکورونه يې نړيدلي دي. خوهغه کاريزونه چي لانه دي وچ سوي يودلوی کاريز په نامه ياديږي. دا يو پوخ کاريز دی اودرنواوبوواله يې تل په مستۍ بهيږي.لوی کاريز د ميونددشهيدانوکلي ته نژدې دی اودشيراغا اوزما دعمه کورهم په لوی کاريز کي و .مخکي مي وويل چي په هغه وخت کي ميونداو لوی کاريز ته تګ آسانه کار نه و.اوکه به چا غوښتل ورسي نواول به يې د ميوند مرکز کشک نخودته په هغو باروړونکولاريوکي ځان رساوه چي د کندهار څخه به ګرشک، فراه يا هرات ته رواني وې، ځکه چي بسونه نه وو چې څوک دي سفرپه کي وکړي او بيا د کشک نخودڅخه ترلوی کاريزپوري ښه زيات واټن دی چي دپښو تګ دهرچا په وس نه دی پوره .لنډه دا چي موږ درې کسه ـ نيکه اغا، محترم

قاضي بهرام خان اوزه دميوندپه سفررهي سولو. يوه لارۍ مو پيدا كړه چي هرات ته روانه وه. درې سره دموټروان څنګ ته كښيناستواوپه كشک نخودكي كښته سولو. شيراغادمخه لادوه آسونه كشک نخودته رااستولي وه.اود يوه شناخته دوكاندارد دوكان مخي ته تيارولاړوو.دوكاندار چي موږوليدو،ويې پيژندلواودروغبړڅخه وروسته يې راته وويل: « دغه دوه آسه ستاسي د پاره دي، شيراغا را استولي دي. » او بيا يې يو چاته چي هلته ولاړواشاره وكړه اوويې ويل: « دى يې هم رااستولى دى چي لاردروښيي اوتركورپوري مووړسوي. « په دغودووآسونو كي يوځين كړى ؤ.اوپربل باندي پالانه تړل سوې وه.اودا ځكه چي د پالاني آس چي هرچا اخيست نوزه به يې شاته كښيناستم. موافقه پردې وسوه.چي ځين كړى آس به نيكه اغا واخلي اوپردا بل آس باندي به موږ دوه تنه سپاره سو. حركت مووكړ، اوزموږ د آس جلو به كله لاربلد په لاس كي نيولى و او كله به قاضي صاحب ځني واخيست.ددوبي اوږده اوتوده ورځ وه، ماځيګرمهال چي لمرلانه ولويدلى صحي اوسلامت كورته ورسيد و .دا چي په ميوند كي موټولي څوورځي تيري كړې، زما پوره نه دي پياد. خو د هغه ميلمه دپاره چي نوى ميوندته ورغلى وي ترټولومهم دوه ځايه د دلچسپۍ او ليدلووړدي.يودشهيدانوهديره ده چي مخكي خبري پروسوې اوبله د ميوند چينه ده چي په ليري اوګوښه دښت كي ديوه غره دزړه څخه په ثابت اونه بدليدونكي اندازې غوړشكي اوبه راغورځوي او خداى خبرچي څوزره كاله به پرتير سوي وي.چي دااوبه په همدې ثابته اندازه اومقداراوپه ثابت فشارددغه غره څخه راوځي.وايي چي قهرماني ملالۍ به ددغي چينې څخه دميوند دجګړې غازيانو ته اوبه رسولې .

ليري دښت كي د ميوند يوه چينه ده

پر ګودر يې ملالۍ مينه پرته ده

وچكاليوكي سوې ډيري چينې وچي

د ميوند چينه لا هغسي پخه ده

**«طاهر اڅكزى»**

زه په دې باورلرم چي محترم قاضي صاحب اوزما محترم نيكه به دلومړۍ شپې دتيريدوڅخه وروسته په دا بله ورځ د شهيدانوزيارت ته ورغلي وي.زما د

دغوورڅوډيرحالات ښه نه راپياديږي خودومره مي پياددي چي دوی د شيراغا په ملګرتيا دې هديرې ته ورغلل اوزه دخپلي مهرباني عمه سره په کورکي پاته سوم. مګرکله چي په ورروستيوکلونوکي به هروخت ميوند ته ورغلم نوزه به هم خامخا ددغوقبرونوليدلواودهغوزيارت کولو ته ورتلم :

هير مي نه سي د ميوند ها تير کلونه

هغه زما د ماشومتوب خواږه وختونه

آسمان، مځکه ټول ووښکلي خوترټولو

ښکلي وو د شهيدانو سپين قبرونه

**طاهر اڅکزی**

د دې قبرونوزيارت زماپرنيکه دومره زيات تاثيرکړی.ؤچي ډيرکلونه ورروسته يې موږ کشرانوته وصيت وکړچي مابه دميونددشهيدانوپه هديره کي ښخوئ. کله چي وفات سو نوموږ يې هم وصيت پرځای کړاوجنازه مويې دکندهارد ښار څخه ميوندته ورسوله.ډيروخلکوچي دميونددشهيدانودزيارت کولو هيله درلوده، کله چي خبرسول چي دمحمدانورخان اڅکزي جنازه ميوند ته وړل کيږي او د شهيدانوپه هديره کي خاوروته سپارل کيږي نودې جنازې ته يې ځانونه راورسول اوحتی ځيني ښاغلي دکابل څخه راغلل چی په هغو کي يو پخوانی صدراعظم محمدهاشم خان ميوندوال ؤ.چي سياسي ملګری يې واوبل د پښتونستان يومشرخان محمد ايوب خان اڅګزی چي ورارہ يې و، هم شامل وو .

اودميونددچينې په اړه بايد ووايم چي په هغه سفر کي مي دغي چينې ته تګ تر يوې اندازې راپياديږي. داچينه په ميوند کي د شيراغا د کورڅخه يوڅه ليري په يوه دره کي ده اوموږ دکورنۍ غړي په ګډه په مېله ورغلو.هغوی چي د پښو تګ کولای سوپه پښوروان سول اوچي په پښونه سوای تللای نوشيراغا آسونه اودسپرلۍ نورڅاروي ورته ودرول. خوڅرنګه چي چينه ډيره ليري نه وه ټول پرښه وخت وررورسيدو.شيراغاخپل دښکارتوپک چي جاغوری يې باله د نښان ويشتلو د پاره ورسره رااخيستی واو دغرمې دډوډۍ انتظام يې هم کړی و.دا اول واروچي زه په کوچنيوالي کي دميوندچينې ته ورغلی وم.او تردې ورروسته

به کله چي په ځوانۍ کي میوند ته ورغلم نوددغي چینې لیدلوته به مي خامخا ځان رساوه .

څه ووایم! د میونددچینې په توضیح کولوکي ژبه اوقلم عاجزسي.اوزه هم چي دا اوس غواړم ددې چینې په اړه څه ووایم یا څه ولیکم دداسي حالت سره مخامخ یم.خوبیاهم جرات کوم اودومره وایم چي که څوک دمیوندچینې ته ځان ورسوي اودزرغونوونولاندي داوبو پرغاړه ورته کښیني ځان به په بله دنیا کي ووینې ـ داسي دنیا چي وخت مثبت او منفي نه پیژني او په صفر درجه کي ثابت پاته کیږي. شپه اوورځ ورکیږي، ځکه چي زرغونوونو یې سرونه راټیټ کړي او آسمان یې پوښلي وي، داوبوشرکی یې چي په څومره زوراو فشاردچاک سوي غره څخه راوځي هم تل پرخپل حال ثابت پاته وي اوچي داوبوتوبش یې د ونو جګو سروته وررسیږي نودشنوپاڼو دعطروووږمه یې په شاوخوا فضا کي خپره سي چي د انسان روح تازه کوي.اونه پریږدي چي دلمرتودوخي دازرغونې پاڼي وچي اوژیړي کړي.اوکه څوک په دغه چینه کي هرڅومره وخت پاته سي، په دې به پوه نه سي چي څومره وخت یې تیر کړی دی. دا ده بله دنیا اودادنیا د میوندچینه ده. زما دا خبره به هغه وخت څوک ومني چي یو واردغي چینې ته ورسي اویوه اوږده شیبه داوبوپرغاړه اودزرغونوونولاندي ورته کښیني او ځکه نووایم چي که څوک غواړي بلي دنیاته ولاړسي نودمیوندچینې ته دي ولاړ سي .

دا چي محترم قاضي بهرام خان اومحترم نیکه اغا په دې وخت کي څنګه احساس درلود، څه نه سم ویلای اوزه هم کوچنی وم چي د دې چینې په باره کي هغسي احساس ولرم چي داوس یې لرم. خود شیراغانښان ویشتلواود جاغوري توپک دروند او ناڅاپي ټک دټولوتوجه ورواړوله. شیراغا یوچاته د کاغذیوه پاڼه ورکړې وه چي څوسوه متره لیري کوم ځای یې ونښلوي اودی یې د نښان په توګه وولي. کله چي یې پردې نښان باندي ټک وکړنودغه سړي نښان وکوت چي ویشتل سوی دی که نه؟. کله چي دا سړی بیرته راستون سو ویې ویل: چي مردک د نښان څخه یوه لویشت لیري لګیدلی دی. اودامي هم ښه پیاددي چي په دې وخت کي نیکه اغا او محترم قاضي صاحب دواړو وویل: چي که هوسۍ واي نوویشتل سوې به وه، ځکه چي هوسۍ خوددې کاغذ تر پاڼي ډیره غټه ده .

شير اغا ډير ښه ښکاري و او کله چي به په ښکار ووت نو زياتره وختونه به يې يوه يا دوې ښکار کړي هوسۍ د ځان سره را اخيستي وې، او غوښي به يې يو څه کورته راوګرځولې او نوري به يې پر کليوالو او بزګرو باندي وويشلې چي د هغه د ښکار دې غوښو ته به ډيرو کليوالو د اميد سترګي نيولي وې .

زه په دې اړه چي د ميوند چيني ته موږ د دې سفر په څوومه ورځ ورغلو څه نه سم ويلای او دا مي هم نه پيادېږي چي موږ په ميوند کي ټولي څو ورځي تيري کړې، خو دا سفر مو په ډيري خوشحالۍ تير سو او د بيرته تګ په وخت کي شير اغا بيا هغسي ترتيبات ونيول. هغه دوه آسونه يې چي پر راغلي وو بيا چمتو کړل. پر ځين کړي آس نيکه اغا او د پالاني پر آس زه اومحترم قاضي صاحب سپاره سولو چي زه يې شاته کښيناستم. نيکه اغا وويل چي لار راته معلومه ده او بل چاته ضرورت نه سته چي لار راوښيي. خدای په اماني مو وکړه او رارهي سولو. نيکه اغا مخکي او موږ په پسې وو. کله چي د لوی کاريز د احاطې څخه راووتلو نيکه اغا ډير مخکي سوی و او کله کله به مو نه سو ليدلای. قاضي صاحب چي زما د نيکه سره به يې يوه يوه ټوکه هم کوله ماته وويل: «هلکه دا نيکه خودي د زوم پلوونه وهلي دي په موږ کي هيڅ ری نه وهي.» بيا يې راته وويل:« ځان دي په ما پوري ټينګ ونيسه چي ونه لويږې.» او آس ته يې يوه زورزوره لښته ورکړه. آس په ډوبلو شروع وکړه او نيکه اغا ته چی په دې وخت کي موږته په انتظار ولاړ و ورسيدو. نيکه اغا وغوښتل تګ ته دوام ورکړي، خو قاضي صاحب چي يو څه ستړی سوی و ورته وويل: « صبر وکه، دلته به يو ګړی ودريږو. آسونه مو پر هغه ځای ودرول خو را کښته نه سولو ځکه چي د بل چا د مرستي پرته د پالاني پر آس باندي زه او قاضي صاحب په اسانۍ بيا سپريدلای نه سولو. نيکه اغا د اوبو پتک را وايست او درو سرو يو څه اوبه وچيښلې او په اصطلاح حلقونه مو لانده کړل. په دې وخت کي محترم قاضي صاحب خپله هغه ټوکه بيا تکرا کړه او نيکه اغا ته يې وويل »:خانه، يو څه کرار ځه او شاته دي هم ګوره. خپله خو پر ځين کړي آس سپور يې او شاته دي پام نه سته. داسي زوم هم ښه خوند کوي، که ما درلودای، اوس به زه هم پر ځين کړي آس سپور وای. » او نيکه اغا هم د ټوکي په توګه په فارسي جواب ورکړ او ورته ويې ويل :

«با خدا داد ګان ستيزه مکن که خدا دادګان را خدا داده است»

زما نيکه به کله کله په فارسي يو نيم شعر وايه او متلونه به يې هم راوړل. تاسي به وااياست چي په هغه وخت کي چي ته اووه کلن هلک وې نو د نيکه اغا دا فارسي متل دي تر اوسه څنګه پياد دی. خو د کوچنيوالي خبري په تيره بيا چي کومه ښه او نوې خبره وي او کوم کوچنی يې په خاص وخت او موقع کي واوري تر زړښت پوري يې په دماغ کي پاتيږي. ماته « خدا دادگان » چي هغه سر پر سر دوه واره تکرار کړه نوې او دلچسپه خبره وه. په هر حال د دوی دا خبري شيراغا ته متوجه وې :

په ميوند کي شيراغا محمد عمر و

په ښه خوی او ښو اخلاقو منور و

هم ښه مشر او هم ډير مهربان ځوان و

زما هم مهربان مشر او رهبر و

د يوې لنډي وقفې څخه وروسته نيکه اغا آس په غمچينه او قاضي صاحب په لښته وواهه او دواړو آسونو په ډوبلو شروع وکړه تر څو چي په خيرو خيريت او خوشحالي کشک نخود ته راغلو او دواړه آسونه مو هغه دوکاندارته تسليم کړل .چي ځيني اخيستي مو وه. هلته مو يوه لاری چي کندهار ته روانه وه پيدا کړه او پر ښه وخت خپلو کورونو ته ورسيدو .

زما د نيکه محترم محمد انور خان اڅکزي او محترم قاضي بهرام خان اڅکزي په عمرکي ډيرزيات فرق نه و.او دواړه لکه همزولي ښکاريدل. دواړه پخواني نژدې ملګري او ياران وو. د دوی د دې ملګرتيا په اړه محترم محمد علم بڅرکی د ويښ ځلميانو په عنوان په خپل مهم کتاب کي ليکي :

«د افغانستان په تيره بيا د کندهار په سياسي تاريخ کي ښاغلي مولوي بهرام خان او حاجي محمد انور خان اڅکزي د شلم قرن په لومړۍ پنځوس کلنه موده کي د قدر وړ ونډه درلودلې ده خصوصا د سقاوي په خانه جنګي کي او هم د هيواد په سياسي نهضتونو لکه د ويښ ځلميانو په تحريک کي دوي دواړو اوږه پر اوږه کار کړی دی. که وويل سي چي دوی دواړه د دې تحريک روح روان وو، مبالغه به نه وي ...»

محترم بڅرکي په خپل دغه کتاب کي د دوي دواړو په اړه ځيني مهم ټکي روښانه کړي دي او که څوک غواړي هغه وګوري نو دغه تاريخي او د قدر وړ اثر ته دي مراجعه وکړي .

څو زه وايم :

بهرام خان و په وطن کي لوی قاضي

ملايانو کي هم و لوی مولوي

مولوي قاضي بهرام ويښ ځلمی هم و

دا تحريک يې و ساتلی اسلامي

او دا چي :

په ټبر د اڅکزو کي انور خان و

په نامه يې مشهور سوی خاندان و

د اتيا کالو سپين ږيری ويښ ځلمی و

د ځلميانو مجلسونه په ده ځوان وو

**«طاهر اڅکزی»**

## دعطا ئی صاحب له نظره دهمدغه وخت ټولنيز تضادونه :

په همدغه وخت کی چي په ۱۹۳۰م کال کی دسقاوی **دو**ره ختم.او يو نوی پړاو دقانون او سرتاسری حکومت يعني د مرکزي ټينګ حکومت د محمد ناد شاه په موجوديت کی را منځته سو.علت اوانګيزه ئې دسقاوي دورې زاړه پاله ملايان او پرهيوادباندي داقليت قومونوبرلاسي اوحاکميت ددې سبب سو،چي دهيواد دپرمختګ په خاطر لومړی دخارجی يرغلګروڅخه وساتل سي،دبله پلوه دهيواد دپرمختګ په خاطر يوقانونمندهيوادجوړسي.نوپه همدغه دليل دشمالی تلوالو اواقليت قومونوحکومت چاه ونه منلای سو.ځکه داوخت فيوډلي قومي جوړ ښتونه په افغانستان کی وه.انګريزانوخومذهبي وروسته پاته افغانستان ځکه

غوښتی چي خلک ئې ترمذهبي عقيدو لاندی يوبيسواده حکومت ولري، خو! دبله پلوه ئې بياواقليت قومونوته ځکه برتري يادلومړی توب حق ورکاوه،چي اقليتونه ډيرمقاومت نه سي کولای اودخپل قدرت دساتلوپه خاطربه ټول وخت دانګريزانوڅخه مرسته غواړي.اوځانونه به ساتي.همدغسي هم وسوه، دانګر يزانودپاره هم حبيب الله (دسقاوزوی) يوه ښه پرزه وه.اوپه ټولنه کې د خادم دين رسولوالله لقب ئې هم ورپه برخه کړ.اودسقاوزوی حبيب الله هم په نو(۹) مياشتو کی د امان الله خان دوخت دتمدن هغه لاسته راوړني دخاوروسره برابري کړې.دهمدغه انګيزې پراساس دهيوادمنورين سره را غونډسوه او دنادرخان حکومت ته ئې بيعت ورکړ.جنرال محمد نادر خان هم دقومي تحريک څخه په بشپړه توګه ګټه واخيسته.اود کند هار،پکتيا، ننګرهاراو پښتني سيمو څخه ئې کلک اردوجوړ کړ.اوپه نظامي،د فاعي برخوکې دپښتنولښکروڅخه ګټه اخيسته، خو په دولتي اوحکومتی چاروکې دپښتنو ونډه نسبت وه،دري ژبو ته کم رنګه غوندی وه.لکه څنګه چی موږپه تيربحث کی دمرحوم جنرال نادرخان په يوه ليک کې ولوستل کوم،چی وخدای بخښلي قاضي صاحب ته ئې را ليږلی ؤ.

دلته ومرحوم جنرال محمدنادرخان ته پسله هغه چي بيعت ورکړل سو،دا مطرحه نه وه چي حق دي وحقدارته ورسيږي.بلکي؛ داوخت هغه ته نور دخپلي کورنۍ اوځان دپاره د قدرت ساتل ډيرارزښت درلودی.داځکه چی هغه دوستانوچی دمرحوم جنرال صاحب سره ئې سر په لاس کی واخيست او دهيواد دبيا آزادۍ دپاره وجنګيدل، دهغوی سره ئې دقدرت پرويش سم چلند ونه کی.په کابينه اودولتی پوستونوکې هغه کسان وګمارل کوم چي دده په کورنۍ او شاهي حکومت پوري ئې اړه درلود.ياهغه کسان چي ده به خطرنه ځني احساساوه. اوداقليت خلکونماينده ګي ئې کوله.يابه ئې هم په بشپړه توګه چاپلوسي اوغوړمالي کوله.

نوي پاچاه جنرال نادرخان په لو مړی سرکي سخت ظالمانه برخورد دپيښنو سره کاوه اوداميرامان الله خان دوختوډيرکسان ئې اعدام کړه، چی دغه کاردخپل وخت سره دټولنی دپاره وړنه ؤ، ځکه کيدای سوای چي دهغوپه رضا کولواويا باورکولوسره ئې دهغوی زړونه ځانته را نژدې کړی هم وای.دبيلګې په توګه دغلا م نبي خان چرخي وژنه په داسي حال کی چي هغه په باورباندي کابل ته راوغوښتل سو، خوپه ناڅاپي توګه د۱۹۳۲م کال دنومبرپه مياشت کی هغه کابل ته را غلی خو پر اتمه (۸)دنومبر ئې دعدام خبرخپورسو.

په دغه حساس وخت کې دکابل امنيت هم مخ پرخرابيدوروان سو.په کابل کې په همدغه کال کې دانګليستان پرسفارت حمله وسوه.اودرې کسان ئې ووژل سوه. که څه هم د قضې په تورئې خلک ونيول سوه اواعدام ئې کړه.او دهمدغه پيښې په تعقيب بياغلام جيلاني خان،شيرمحمد خان،محمد مهدی جان ( دکابل دچندولو يوقزلباش چې دامان الله خان دسرمنشي د مرستيال دنده ئې په اماني دوره کې درلوده.اعدام کړل سو. فقيراحمد خان هم اعدام سو).داوخت اوضاع د مرحوم عطائي صاحب دوينا له مخې دومره خرابه وه چې د محمد هاشم خان په زندان کې ديولړبنديانوپه دوسيه کي ليکلي وه چې په ډليزه توګه ئې تګ اورا تګ کاوه. داکار دهغه وخت دپوليسي فشارد کار څخه ليري هم نه ؤ.

که څه هم محمد نادرشاه په ښکاره خوډيرارام اوخاموشه ښوک ؤ،خو په زړه کې سخت دردمنداوکينه درلودله،ده خپله کينه اودردکنترولولای نه سو.دبيلګې په توګه: دعبدالرحمان خان لودي سره پرډوډۍ ناست ؤ.خبره ئې سره تاواو بالا سوه نادرخان هغه ته غداروواپه؛چي دامان الله خان سره دي غداري کړې ده. خو!عبدالرحمان خان هم عصبي ښوک ؤ،سمدلاسه ئې دته هم غاصب وويلی، نادرخان دومره عصبی سوچی نارې ئې کړې چی دغه سړی لاندی تيرباران کړی.همدغسي خدای بخښلی عطائي صاحب ليکي:چی دڅرخی غلام نبي خان وژنه هم يوانتقام جويانه عمل ګڼل سوی دی.

نودهمدغه وضعي په عکس العمل کي،دنادرخان اودهغه دورنيوونډه شتون درلود. په دې وخت کي په ټولنيزډول دپيښووسياسي اواقتصادي جوړښتونوته پا ملرنه نه کيده،دقوم مشران چي دهمدغه دوران دفيوډالی ټولنی ترټولومنظم سيستم جوړوی.دپامه غورځول سوی ؤ.ډموکراتيک بنسټونه په هسته کی دمنځه تللي اوپرضد ئې ددولت په کچه په شعوري توګه مبارزه موجوده وه.ټولني ته په اقتصادی لحاظ پاملرنه نه کيده، د کاراوتوليد دپاره وسايل اودتوليدلازم ماشينونه رانه وړل سوه.دغه فرصت دنادرخان اودهغه د کورنۍ دپاره ډيروړ فرصت ؤ.چی دهمدغه وخته څخه کيدای سوای چی هم مخالفتونه دسيمو اوقومونوترمنځ د منځه يوسي اوهم په شعوری توګه دافغانانوپه منځ کی دنوي اقتصادی اړيکوپربنسټ مډرن افغانستان جوړکړي.همدغسي قاضي بهرام خان هم نظرپه ورته توګه درلودی.د قاضي بهرام خان اڅکزي دخبري له مخي چي پسله هغه چی نادرخان واک ته ورسيدی داسي غوښتنه په بيا،بيا دنادرخان څخه وسوه،چی پرښوونه اوروزنه باندی زورواچول سي،ترڅودهيوادعام ولس ښوو نيزسي.اوپه هيوادکی دتمدن بنسټ پرهمدغه ښوونه اوروزنه باندي کښيښودل

سي.ترڅودتولیدپرمختګ اوښونیزپرمختګ په نتیجه کی افغانستان دزړووروسته پاته فیوډالي اوماقبل فیوډالي اړیکودبدو شرایطو څخه،ویوه متمدین افغانستان ته راوګرځول سي،البته دغه ډیره ښه موقع وه، چی؛دیوه پلوه مذهبی ګروپونه په ټولنه کی دحبیب الله دسقاودزوی دبدوعملونوپه نتیجه کی سخت بدنامه سوی وه اودبله پلوپه هیوادکی دانګریزانوپه مقابل کی دعاموخلکونفرت دغه اندازې ته رسیدلی ؤ،چي پرسفارت ئې خود جوشه یادنفرت له مخي حمله وکړه.اودرې کسه ئې په کښي ووژل.برسیره پردې هم دخلکوملاتړدخپل نوي حکومت سره موجود ؤ.لیکن دسردارهاشم خان حکومت دشاهي کورنۍ عامه پالیسي بیا داسي وه چی دهیوادهغه سنمبولیک کسان ئې دځانه سره یوځای کول اوغټوقومی مشرانواودنوم اونښان خلک،دقلم اوتحلیل څیرونکی منورینوڅخه ئې ددولت اداره لیري ساتل.اووخت ئې نه ورکاوه چی دهیوادپه چاروکې دي، دخلکودارمانونو سره برابرنوی فکرخپورکړي.دغه عینی شرایطوپه هیوادکي داسي ذهنیتونه راژوندي اوپیاوړی کړه،چی هیوادئې دیوه بل مصیبت اودیکتاتورۍ سره یوځای کړ.اوپه هیواد کې دبندیخانواوقصادکښلوروحیه غښتلې کړه.دسقاوي دورې دوخت طرفدارانووخت غنیمت وګاڼه اوپه شمال کې دکابل دحکومت په مقابل کې قیامونه راپیل کړه.خدای بخښلی عطائي صاحب په دې باب په خپل کتاب (دافغانستان پرمعاصرتاریخ یوه لنډه کتنه) کې دموضوع په اړونده داسي لیکي : د۱۹۳۰ کال په جون کې،دشمالي هغه قومونه چي دحبیب الله کلکاني په پا چهي کې لوی ګټي تأمین وې په غټ قوت قیام ته راوپاڅیدل.دنادرخان له خواهغوته توصیه وشوه،چی دغه کار ونه کړي.خو!هغوی خبروته غوږونه نیوی،نوهمدغسي نادرشاه یوځل بیاهغو قبایلوته چي دسقاوڅخه ئې د کابل د نجات په لاره کې دده سره مرسته کړې وه مخ ورواړاوه.اوله هغي خوا ۲۵۰۰۰کسوپه شمیرقبایل پرراخوشي شول اوډیرژرئې امنیت ټینګ کی. خومالي اوځانی تلفات ئې ډیروه. همدغسی دیادولووړده چی په ۱۹۳۲م کال کې په خوست کی د ملالیوني په نامه یوبل قیام وسو،چی بیاهم دخلکوپه ملا تړئې دجرګو دلاری دهغه مخه ونیول.

دغه وخت ډیروړوخت ؤ. چی شاهي کورنۍ افغانستان په تولیدي کچه او ښونیزه کچه دنړۍ د پر مختللو هیوادو په قطار کی در ولی وای.

یوه لویه اشتباه چي نادر خان په دغه وخت کی وکړه هغه داوه چي ده فکر کاوه چی په وینوتویولواودیکتاتورۍ به دغه ملک آرام سي.خودائې غټه خطا وه.

چې په نتيجه کې ډيرتاونونه هم وکړه.دبيلګي په توګه: دڅرخي راغو ښتل کابل ته اوبيا هغه اعدامول. چی په نتيجه کې خپله هم دهمدغه بدعمل نتيجه وليدل. په ۱۹۳۳م کال په جون کې په برلين کې افغان وزيرمختارمحمد عزيز خان دپا چاه ورورديوه افغان محصيل سيد کمال په توفنګچه ترورشو.

دهمدغه حالاتو په بدل کی بيا په ۱۹۳۳م کال دنومبر پر۸ نيټه اعليحضرت محمدنادرخان ددلکشادماني په چمن کې،چی شاګردانوته ئې مډالونه پرځيګر ورمښلول،دعبدالخالق نومی يوه محصيل دتوفنګچې په وسيله تروراووژل سو.

داعليحضرت محمد نادرخان دغه قتلونوډيربدعواقب درلودله.اوپه هيوادکې دغچ اخيستلولړۍ راپيل کړه.په دې باب غلام صديق خان چرخي دغلانبی خان وراره دسراج الاخبار په ۲۲۱مخ کي په کال ۱۳۷۴ هـ ش کي داسي ليکي : ( عبدالخالق دنجات دليسې د۱۱ ټولګی زده کونکی دخپل بادارغلام نبي خان په غچ اخيستلو کی محمدنادرخان ووژی.).دډيرومعلوماتودپاره(۲۲۲مخ دافغانستان پرمعاصرتاريخ يوه کتنه) وګوری دخدای بخښلي عطائي صاحب کتاب.دلته ديادونی وړليکنه ده.چی محمد نادرخان دنومبرپراتمه نيټه غلام نبي خان کابل ته راوغوښتی اويوکال وروسته ئې ددلکشاپه ماني کی اعدام کړ.همدغسي دهمدغه دلکشاپه ماني کې پرهغه اتمه دنومبرمحمد نادرخان دمډال ورکولو په وخت کې دعبدالخالق نومي کس له خوا څخه چی دغلانبي خان په کورکې لوی سوی ؤ.دغچ اخيستلوپه لړۍ کی ووژل سو.خوپه هرصورت دنادرخان تر وژلو وروسته د محمد ظاهرخان په پيرکي دوژلواواعدامونولړۍ بنده سوه.

**نادرخان،قا ضي صاحب اود کندهار مشرانوته د سولی لاس ورکوي:**

جنرال محمدنادرخان په دې پوهيدی چي يودولت قانوني پايه ونه لري او د خلکوملاترترلاسه نه کړي، نودولت ياحکومت پايه نسی پيداکولای اوپاينبت هم نه لري.نودقانوني دولت پايښت پرډموکراسي اودخلکوپه مخامخ ملاتړ پوري تړلی ده.اوهمدغسي بايد په هيواد کې دخلکودسوکالۍ دپاره لازم شرايط دکار، زده کړواوغذائي موادو ته لاس رسی په اسانه توګه موجود سي. دغه کارونه که ديوه پلوه ډير ضروري وه، خو دبله پلوه په هغه شرايطوکي بيا څه اسانه کارهم نه ؤ.ځکه دغه وخت دخلکوعام ذهنيتونه دسلفي مذهبی فکرونو تراغيزي لاندی راغلي وه.نودغه وخت هغه متل دی.چی وايي:(که کښته ګورم پاڼ دی او که پورته ګورم پړانګ دی).په دغه وخت کی چي محمد نادرخان ليدل چی

امیرامان الله خان دځینوناپوهوملایانوپه فتوادستونزوسره مخامخ سو. اودغه وروسته پاته والی ؤ.چې؛انګریزي استعمارګټه ترې واخیسته او دافغانستان منورپاچائې دداسي ستونزوسره مخامخ کی،چې په پای کې هیواد پرې ښود.نوځکه محمد نادرخان ډیرفکرکاوه چې مذهبي خلک را ټول کړي او حتادوستي ورسره وکړی.اوپه خپل شاه وخوا کې دتبلغ اونظام دساتلوپه پروسه کې ګټه ترې واخلي،چې یوهم دهغه وخت دمذهبي مشرانودجملې څخه دینی پوه چې دروحانیت نوم اونښان ئې درلودی،حضرت فضل عمرمجددي مشهور په ( حضرت شوربازار) ؤ.نادرخان دته دعدلې دوزارت چوکۍ ورکړه.او درې کاله وروسته ئې خپل زوم حضرت فضل احمد مجددی پرخپل ځای معرفي کی.هغه ته دخلکوعقیده اودرناوی هم موجودؤ.پردغه ټولوخبروبرسیره محمد نادرخان یوه اصول نامه چې دامیرامان الله خان په وخت کې هم د قوانینود موراززښت درلودی.تصویب اودعمل میدان ته راوایستل. خو فقط په اصولنامه کې دامان الله خان پر ځای د محمد نادر خان نوم راغلی. چې داهم یو قد م ؤ.


همدغسی لویه جر ګه جوړه سوه چې، دانتخاباتو اصولنامه په کال ۱۳۰۹هـ ش کې دسنبلې پر۲۸ مه تصویب سوه.او د ملي شوراغونډه دسلام خاني په ماڼۍ کې په ۱۳۱۰هـ ش کې جوړه سوه.دغه وخت دنادرخان په دوران کی هیوادپه یوه نسبي توګه یوقانوني هیوادجوړسو.اونوموړي قوانین بیاد محمد ظاهرخان تروخته پوري تر ۱۳۴۳هـ ش دچلند وړ وه.

دغه وخت دقوانینو تطبق دصدراعظم په خوښه کیده،همدغسي دغه وخت چي محمدهاشم خان ۱۸کاله صدراعظم ؤ،شورابه ئې هم په خپله خوښه برابروله. که څه هم دغه وخت شورا ته هغه کسان لکه مخکي چی وویل سوه،دهاشم خان په فرمایش را تلل، خوبیا هم دقانون بنسټ ئې بللای سو.ځکه دمشرانودجرګې اوملي شورانماینده ګان بیاهم دنظروړمشران وه،ترشخصي پریکړودټولنیزو پریکړوارزښت ډیروي.په دې وخت کی دشوراریس عبدالاحد مایاروردګ ؤ. چي د۱۹۳۲م کال څخه ئې تر۱۹۴۶م کال په پرله پسې توګه دشوراریاست پرغاړه درلود.اودهاشم خان ددورې ترپایه ئې شوراپه ډیره ښه توګه کنترولوله.خدای بخښلی محمد ابراهیم عطائي صاحب دخپل کتاب (دافغانستان پر معاصرتاریخ با ندي یوه لنډه کتنه په ۲۲۴مخ ) کی لیکي: په دغه دوره کي دشورااوحکومت ترمنځ پرهیڅ پیښه هم مخالفت ونه سو،خو! یوازي ده شورا په لومړۍ غونډه کې،یوازی د کندهاروکیل ښاغلی عبدالعزیز خان اومحمدنادرخان

ترمنځ يوڅودمخالفت خبري سره تيري اوبيري سوې.چي تردغه وروسته بياچاه دمخالفت ږغ پورته نه کړ.ترڅوچی هاشم خان صدراعظم ؤ.

دلته دخبری مؤخه داده چی خدای بخښلی قاضی بهرام خان اڅکزي به ويل : (چي برسيره پردې چي د کندهارخلکودتاريخ په اوږدوکې دحکومتونوسره د مرستي اودانګريزانوسره دجنګ په ډګرکی سخته ميرانه کړې وه.اوټول عمر ئې دحکومتونوپه جوړولوکی رول درلود،همدغسي کندهارمتحد قومونه درلودله اونوځکه ئې دتاريخ په اوږدوکي ارزښت هم دحکومتونوپه ځای پرځای کولو او دحکومتونوپه چپه کولوکې تعين کونکی رول درلودی،همدغسي محمدنادر خان هم ولیدل چي د کند هاره څخه بيا ترغزني پوري دسقاوی جرړي دکندهار متحدوقومونوورواپستلې.اودنادرخان په کښينولوکې اغيزي جوتي وې.دغه څه جنرال محمد نادرخان درک کړي وه.اوپه پوهيده نوئې ځکه دکندهارخلکو ته ډيره مخه هم نه ورکوله.اوپه لوړودولتی مقاماتوکې نه مقرره وله.ولي تش په نوم به ئې د قومی نژدې اړيکوپه تړاو ګټه دکندهاري توب څخه اخيسته).مخکي ترهغه چي نادرخان په خپلومخوکی بريالی سي،نوئې د کندهار دخلکو اومشرانو سره ډيرښې اړيکي درلودلې.اوديوه ليک په ترځ کې خدای بخښلي قاضی بهرام خان ته داسي ليکي: تاسي بايد په چټکۍ سره په يوه اتحاد دورورولئ په فضأ کې يوډيرتعدادلښکراماده کی.اودستي په دستي سقاوي غله اوشراچونکي داحمد شاهي کندهاردښاراوشاه وخوا څخه چي ځای پرځای سوی دي،په خپله ميړانه دمنځه يوسی.اودخدای په توکل دغزني اومقرپرلوري په خپل غيرت ورودانګۍ .اودخپلوکړنوڅخه ستاسوخپل خدمتګارخبرکړی.اودخلکوپه نظرکي ځانونه محبوب کړی،همدغسي ددغه ابدي تاوانونوڅخه ځانونه وژغورۍ ،پيروزي ترلاسه کړی. فقط

دغه څوخبري بيادلاندي قلمي نخسې ژباړه ده،چي محمد نادرخان په دې پوهيده چي بيله کندهاردخلکوڅخه دپاچهي پرتخت کښيناستل امکان نه لري.او په دغه وخت کي د حکومت تصميمونه هم دسترقاضي القضات خدای بخښلي بهرام خان په تصميم اوهوښيارنه کړنوسره ترسره کيده.نوئې برسيره پردې چي پر کندهاريانوئې باوردرلوداويولړليکونه ئې هم دکندهار مشرانوته رااستول،چی ددغه ليکونوڅخه يولړقلمي نخسې ماته په لاس راغلی دي.اوددې خبری ثبوت په کيدای سي،چي دافغانستان په داخلي پيښوکې دقاضي بهرام خان ونډه د تاريخ په جوړولوکي يوروښانه حقيقت دی.په تيره بيا په هغه تاريخي شرايطو کې.



شما هم باید فوراً بیک اتحاد و اتفاق برادرانه لشکر زیادی فراهم کرده. فوراً دزدان
و اشرار سقاوی را در هر حدود و ولایت برطرف البلاد احمدشاهی که جاگیر باشند
بجمله مردانه خود محو نموده بمعاونت خداوندی بطرف مقر و غزنی اقدامات
شجیعانه نمائید. و همیشه از کارروائی خود باین خدمتگار ملت افغانستان اطلاع بدهید
و به نزد اقوام عالم خود را سرافراز ساخته از دست اشرار ابدی خود را نجات داده فلاح دارین
را حاصل کنید. فقط

M. N.

ښاغلی قاضي بهرام خان هم دغسي وکړه،لکه څنګه چی مخکي هم بحث پرسوی دی. دغه وخت کندهارداڅکزوقوم فتحه کی.اوبشپړه امنيت ئې په سيمه کي تامين کی.دغه وخت حاجي محمد انورخان اڅکزي اوقاضي بهرام خان اڅکزي دنوروااڅکزوسره يوځای حاجی داروخان اوحاجی زقوم خان او همدغسي حيات خان اودبولدک نظامي مشرمهردل خان اونورود کندهارمشرانو په ګډه سره يو ملي قيام په ډيره ميړانه سره دبريا ليتوب وپولی ته ورساوه.

ديادولووړده چی ووايم:دغه وخت دپيښومشران اودکندهارپه نيولوکي هوښيارانه کړنلاره دمرحوم حاجی محمدانورخان اوقاضي صاحب په لاس کي وه.دا ځکه چی مهردل خان اوداڅکزونورومشرانوپه کافي اندازه دسوادزده کړه نه درلودله .اوسياسی پوهه اودسياست تجربيه ئې هم لږ وه.نوځکه دوی د محمد انورخان اودخپل وخت ددغه لوړشخصيت قاضي بهرام خان ودستورته ئې غوږ نيوه، ليکن؛نظامی قوه دخدای بخښلي داروخان اومهردل خان سره وه.قاضي بهرام خان اوخدای بخښلی حاجي محمدانورخان اڅکزی مخکي لاد کانګريس په ګوند کي ډيري تجربيي ترلاسه کړی وې.اوپرپښتواوفارسي برسيره ئې دسيمي نوري ژبي لکه اردواوانګليسي هم زده کړه کړې وه.اوپه همدغه وخت کی محمد انورخان اڅکزی چی دګليستان دخانانو څخه ؤ.په ولس کې يو ځانګړی ځای هم درلود.او ټولو هغه کسانوچي دکورنۍ په لحاظ ئې پيژنده نودهغوی تاريخي پيژند لګلوی ته ئې درناوی درلود.اوجنرال محمد نادرخان هم دحاجی محمد انورخان

اوقاضي بهرام خان وځانګړنوته د قدر په سترګه کتل.خو بيا هم لکه څنګه چي مي مخکې هم يادونه وکړه،دکندهارپرخلکوئې ډيرباورنه کاوه، ممکن ددغه نه باوردرلودلوعلت د کندهاردخلکوټولنيزمؤقف اوپه سياسي تاريخ کي دهغوی تجربې وي،چي دنادرخان کورنۍ ئې ودغه سياسي دريځ ته اړايستلې وي. دمرحوم قاضي صاحب خبره ده چي نادرخان خپلي کورنۍ ته دغه نصيحت کړی هم ؤ.چي دکندهارمشران بايد هم دغسي په کښته مؤقف کي ددولت په چاروکي وساتل سي.نوپه همدغه علت ئې هم دکندهارچارواکوته ډيرکښته مؤقفو نه ورکړه،په داسي حال کي دتاريخ په اوږدوکي دکندهارمخوروخلکواو مشرانو ډيرښه رول لوبولی دی.اودغه دريځ دال يحياکورنۍ ته هم ښه معلوم ؤ.

**<u>دولت د کندهارمخوروته دسقاوۍ وروسته څه امتيازات ورکړه؟:</u>**

مرحوم محمد علم بڅرکی په خپل کتاب (دحاجی محمدانورخان خاطرات) کتاب کی ليکي:(څه وخت چي د کندهارداڅکزواونورقومونوخوانينومحمدهاشم خان سردارترکابله بدرګه کی.دادقوس مياشت وه.) دغه وخت دقدرت پرسرځينو کسانوومحمد هاشم خان ته هم دسيسه جوړوله.اوددوی حکومت ئې په رسميت نه پيژنده،خو!دايوازی دحاجی محمدانورخان اوقاضی بهرام خان دقيقه مشرتابه وه،چی هغه وخت محمد هاشم خان کندهارته دکوټی اوچمن ياسپن بولدک دلاري راغلی ؤ. او په بدرګه کې خلک ورته راووتل اوهمدغسي په عيد ګاه کی چي کومه بيانيه ورکوله دامنيت چاری ئې خپله اڅکزو پرغاړه واخيستې.او بيا کابل ته دکندهارمشران هم ورسره ولاړه.خو څه وخت چي محمد نادرخان ته ئې بيعت ورکی، نووروسته بيامحمد علم بڅرکی دخپل همدغه کتاب په همدغه مخ کی ليکي:هغه کسان چي دکندهاراوسيدونکی وه،هغوی ته کوم مادی امتياز ورنه کړل سو.ځکه دهيوادڅخه دفاع خپله دهرافغان دنده ده. خوهغه کسان چی داڅکزوپه مکافاتو کې ترټولولومړی دزقوم خان نوم واخيسته، زقوم خان ته تشريفاتي د فرقه مشرملکي لقب اودرې زره کابلۍ تنخواه کښيښوده.او دمکافاتو فرمان ورکړل سو.


دوهم سړی چي نوم ئې واخيسته سوهغه حاجی محمد انورخان ؤ.چي دی هم ملکي فرقه مشراودرې زره کابلۍ سالانه ورته وټاکل سوې.اوهم د مکا فاتو فرمان ور کړل سو.

دريم سړی حيات خان ؤ.چي غونډمشرمقرراوکلنی دوه زره کابلۍ ورته مقرره سوې.حيات خان په دې قناعت ونه کړ؛ اووې ويل : زه په څه تردغه دوکسانو کم سوم،که قوم دی اوخاني ده خوزه هم قوم اوخانی لرم.دحيات خان پردې خبره باندی محمد هاشم خان په قهرسو.خوحيات خان دمحمد هاشم دخښم په بدل کي خاموشه سو. په دې باب قاضي بهرام خان داسی هم وويل : چی دغه وخت محمد هاشم خان حيات خان ته وويل :( حاجی محمد انورخان زه داوس څخه نه پيژنم بلکي؛زه هغه دډيره پخواڅخه پيژنم.چی هغه دګليستان دخانانوڅخه دی اوپه ولس کی محبوبيت لري اوستاسواڅکزوهوښيارمشر دی.)

دغه فرمان ئې حاجی محمدانورخان ته سوغات کی:(فرمان نمبر۲۵۹۴فرمان شاهي برج قوس ۱۳۰۸).همدغسي دوزارت دفاع دخوا څخه هم بل فرمان دفرقه مشري ملکي ترعنوان لاندی ورکړل سو.چي لاندي ئې مهرمحمد نادر ليکلی ؤ.

همدغسي څنګه چي مرحوم بهرام خان اڅکزی ديوه ديني پوه په څيرفتواخپرول اودسقاودزوی حبيب الله درژيم نامشروعيت ئې جوت کړی ؤ .دسقاوي رژيم په مقابل کي په ډيره جوته توګه مبارزه ترسره کړی ؤ،نو خدای بخښلي بهرام خان ته ئې نغدي امتيازځکه ورنه کړ،چي هغه خپله دبولدک دمولدې دکلي او سيدونکی ؤ.اوهغه ته ئې دټوله جنوب غرب دحوزې قاضي القضات فرمان ورکړ،همدغسي په دولتي چاروکی دحساب وړپوهه،مبارزاوهيوادپال اود تجريبې لرونکي په څيريوه مطرحه څيره ګڼل کيده.

او لکه څنګه چي په دغه لاندی تاريخي سند کې په ښکاره توګه جوته سوې ده، چي ددولت اوحکومت دمخوروپه قطارکي دمهمو پريکړودپاره هميشه ګټه ځيني اخيستل کيده.لکه څنګه چي د محمد نادرخان دوخت په دغه نامتوجر ګه کي چي د سنمبلې پر۱۴د۱۳۰۹هـ ش کال دتاريخي لوئي جرګي دعوت ور کړل سوی دی او همدغه وخت خدای بخښلی قاضي بهرام خان پر نورو دندو بر سيره دعلما ودشورادعضويت دنده هم پرغاړه درلودله.


تاريخ ( ۱۴ ) برج شنبه ۱۳۰۹
( ۱۲ ) ماه ربیع الثانی ۱۳۴۹

ف ملا محمد بهرام ... قندهاری عضو ... جمعیت العلما

صاحب این ورقه به اوقات معینه الی اختتام لوی جرگه شامل مجلس عالی لوی جرگه میتواند شود.

دلته نه يوازى خداى بخښلي بهرام خان ته بلکي؛د کندهارټولومنوروااوپيژندل سوتاريخي،قومي اوسياسي شخصيتونوته په دولتى لوړوپوستونوکي توجونه کيدل،ولى اعزازى القاب خوراډيرورکول کيده،چي دبيلګې په توګه موږبيا هم پسله هغه چى محمدهاشم خان صدراعظم سو،نوئې وهغه کسانوته چى د حکومت په ملاتړکې ځانونه قربانيوته چمتوکړى وه.دکندهارولس ته په ډيرلږ پيمانه امتيازورکړل سو.په دغه وخت کي د کندهاردخلکو څخه دوزارت په کچه نه سوه مقرر.اوکه په وروسته کې سوي هم وي ډيربه لږوه.چى همدغه پروسه د محمدظاهرخان ترپايه پوري تعقيب کيده.هم دغسى هغه کس چي دلومړى ځل دپاره ئې هم دانګريزانواوهم دانګريزانودوروستۍ مورې،يعني سقاوي دورې دسقوط دپاره لاس په کارسو،حاجى محمدانورخان ؤ.چي ديولړستونزودلرلو برسيره ئې وکولاى سو،چي دانګريزانودامنيت د سيمي يعني کوټي اوګليستان کاريزه څخه دافغانستان پرلورئې راودانګل اوداڅکزو قومي مشران ئې سره راغونډکړه،همدغه مشران ئې د کندهاردنوروقومونولکه بارکزي چي استازى ئې مهردل خان ؤ،دپوپل زومشرچى استازى ئې معين صاحب خيرو جان ؤ.او همدغسي دذاکرشريف سيدان اونورمخورقومي مشران ئې سره راغونډکړه. او

دخدای بخښلي بهرام خان په فتوائې دخدای په رضأ اومرسته ئې کندهارد کلابندۍ څخه خلاص کړ.

خو! دولت دته څه ورکړه؟؟په داسی حال کی چي حاجی محمدانورخان اڅکزی، دخپل وخت سياسی کارپوهه،دولتي کارپوهه، دعمل دميدان مبارزاو په مروجه علوموا وژبوډيربنه پوهيده،خودهاشم خان حکومت برسيره پردې چی ډيري ښې اړيکي ئې دخدای بخښلي محمد انورخان اڅکزی سره هم درلودلې، خو! بيا ئې هم په دولت کی دباورځای نه درلود.اوخدای بخښلي محمدانورخان اڅکزي خپل ټول جايدادپه ګليستان کاريزکې پريښود،ليکن دلته چی يوه اندازه مځکه يا امتيازورکړل سو،هغه ئې هم په ډيرجنجال دوخت دحکومت دکندهاردوالي غني خان سره دستونزووروسته چي هغه هم په بيا،بيا دهاشم خان په ليدنه اوکتنه فرمان سره ئې نوموړی جايداد ترلاسه کړ.خو دغه وخت بيا هم په اندراب کې حالات خراب اوجنجالي وه، ځينوکوهدامنيانودنادرخان حکومت ته ستونزي را منځته کولې نودهمدغه ستونزو دهوارولوپه خاطرئې يوځل بيا دخدای بخښلی محمدانورخان څخه هيله وکړه چي داندراب ولسوالي دشاهي امتيازاتو سره قبوله کړي.البته دا خواهيش دسردارمحمد هاشم خان ؤ. خو! محمد انورخان اڅکزي هم دقوم اوافغانستان ته دامن اوخدمت په مؤخه همدغه ستونزمنده دنده قبوله کړه. اوداندراب خلک ئې دحکومت وحمايې ته چمتوکړه،همدغسی ئې هلته تر ټولولوی خد مت چی وکړ،هغه په اندراب کی دخلکوستونزی وې چي دپلونونه درلودل اووښوونی اوروزني ته دولسونو تشويقول اوامادہ کول وه،دهمدغه مؤخي له مخي ئې په انداراب کي ښوونځی جوړه کړه،چي ترډيره وخته دمحمدانورخان په نوم وه.اوديادولووړده چي دغه وخت ښوونکي ډيرلږوه، نوځکه ئې خپل زوي محمد اکرم خان دښوونکی په توګه وګماری اوخپله ئې هم دزده کونکوسره مرسته کوله.چي داندراب سپين ږي ئې اوس هم خدمتونه يادوي.

دلته ددې ټولوبيانوڅخه مقصد اومؤخه داده چي دوخت حکومت دکندهار خلکوته په دې ځای نه ورکاوه؛چي دکندهارخلک متحد خلک وه، په علم اوپوهه سياست کې نوم درلود،ترخپلوګټوئې دخلکوګټوته ارزښت ورکاوه.اوهمدغسي

تللی پاچهان هم دهمدغه کندهاره څخه راپیدا کیده.دغه وخت دولت ته هغه کسان ډیرښه اودپام وړوه،چي په قومي لحاظ،په سیمه ایزلحاظ اودشخصي اړیکوپه خاطروشاهي کورنۍ ته دمنلووړوه.خو! دکندهارخلکوډیرلږوخت وروسته په کندهارکي دډیموکراسۍ اوشاهي مشروطه یا قانونی حکومت غوښتنه وکړه. دويښ زلمیانو تر نامه لاندي سره متحد سوه.

اوداهم لومړی ږغ ؤچي دويښ زلمیانوپه نوم په افغانستان کي د کندهار څخه را پورته سو.نوموړی ږغ دعیني شرایطوپر بنسټ د کندهاره څخه را پورته سوی ؤ، نو ئې په ډیرلږ وخت کې په ټوله افغانستان کې پلویان وموندل.ددې ږغ قوت دومره درنداوتاثیرناکه وو،چي دوخت حکومت ئې ډیرژردبیري پربستر وغزاوه.اوسمدلاسه ئې دخپل طبقاتي خصلت له مخي نظام په دیکتاتوري، چم اوخطاایستلو،تطمع کولواوپه رنګارنګ درواغواوخطاایستلوسره پیل وکړ،که ځینووګړودغه حالت یا په شعوری توګه اویا هم په غیري شعوري توګه ددولت سره ومنل، خو دولت هغه اعتبار چي مخکې درلود په بشپړه توګه دلاسه ورکړ.

دولت دخپلودسیسوپه لړکي دويښ زلمیانو هغه ډموکراتیکه ډله اویاګوند دزندان وتوروتیاروته ولیږه،کوم چي وحکومت ته ډیرګران اومحبوب وه.او په تاریخي پیښوکې دحکومت سره ډیري مرستي کړي وې.خو!حکومت بیا هغه چاه ته چي په ټولنه کي دخلکوپه منځ کې محبوبیت درلود هغه ئې دخپل دیکتاتوري رژیم په بدل کي یو ګواښ حسابول. که څه هم په دغه وخت کي دخدای بخښلي قاضي بهرام خان دوینااله مخي چي ویل ئې: موږ دحکومت ړنګول نه غوښتل،موږ دحکومت په حمایه کی دډموکراتیک رژیم پلویان ؤ،چی په همدغه کې خپله دحکومت هم ګټه وه.اودشاهي رژیم بقأهم په قانون اوددندوپه تقسیم کی وه. دغه علت ددې سبب سو.چي دنادرخان حکومت په دوران کې دنادرخان د کورنۍ په شمول تروراوتروریسم په لویه پیمانه رامنځته سو.اودغه حالت خپله شاهی رژیم هم درکولای سو، نوځکه ئې کله نا کله دډموکراسۍ ږغ هم پورته کاوه.چي دشا محمود خان د صدارت په دوران کی د موکراسي یوه اندازه رواج پیداکړ،خو!کله چي بیادډموکراسۍ پلویانوسراوچت کړ،نوحکومت به بیرته

دخپلي ډموکراسۍ څخه پښیمانه سو.اودغه بل مخ به ئې پرکښیښوده. تر څو دلومړي ځل دپاره ئې دکندهارد ملي غورځنګ (ویښ زلمیانومشران بندیان کړه).

دغه وخت چي ولسونه دهمدغه ډول دبند یانوپیښه عجبه ورته معلومیده.نوعامو خلکوته به دغه سوال ؤ،چي دهیوادښوونیزخلک،خانان اوسیاسي کارپوهان ولی باید زندانونوته ولاړسي؟.ځکه زندان خوتل دهغوخلکو ځای وي چی یا پرغلا نیول سوی وي اویا هم دټولنیزوبدیوپه ډولونوکی را ښکیل وي.. نه! داسی خلک لکه محمدرسول خان پښتون چی دبشپړه عزت خاوند ؤ.اویاهم انګار ،بڅرکی خواخوږی عبدالهادی خان توخی ، غلام جیلانی خان الکوزی او داسي نوردعزت خلک چی موږئې دخپل وخت دهغه غښتلومنورینودجملې څخه وه.په دې کي شک هم نسته چي دحکومت بې باوري ئې هم په ټولنه کي ورکمزوری کړی وه.دخدای بخښلي محمدعلم بڅرکی ویناده چي ویل به ئې:نادري کورنۍ یا داهل یحیا کورنۍ ته منسوبینود کندهاردخلکو څخه په ویره کی وه اود کندهار پر خلکوئې باورنه درلود.خوهغه اعزازي نومونه چی ئې ور کړه هغه هم دیوه مجبوریت د مخي وه.ځکه د کندهاریولړخانانو دنادرخان دحکومت سره مؤفقه نه درلودله.اودامیرامان الله خان دپاره ئې دسقاو دزوی په مقابل کي ودریدل او سقاوي حکومت ئې دامیرامان الله خان دبیرته راتګ په مؤخه مات کړ. خوداچی نادرخان دکابل تخت ونیوه اوهغه ئې دځان کړ،نودلته د کندهارخلکو فکروکی،چی نه باید کورني جنګونه رامنځته سي،یاهم بیرته حکومت دپښتنو دلاسه ووزي.اوانګریزانوته داموقع بیابرابره سي چي دپښتنودبې اتفاقۍ څخه ګټه واخلي.اوبیا ښکاره اویا پټه مداخله راپیل کړي اوداقلیت قومونوڅخه ناوړه ګټه واخلي اوافغانستان بیادداخلي جنګونومیدان وګرځوي اویاهم نورئې ټوټه ، ټوټه کړي.

دیادولووړده چي بیاهم ولیکم: مادغه پوښتنه دخدای بخښلي محمدعلم بڅرکی او قا ضي صاحب بهرام خان اوهمدغسی دخدای بخښلی حاج محمد انورخان څخه په بیلابیلووختو کی کړې وه.(چی ولی دافغانستان په دغه حساس وخت کې نادرخان ددې وړوګرځیدی چي دهغه مترقي پاچا ځای دي ونیسي؟).پوښتنه په

يوه ډول ددغه دروسرو دنظركسانوڅخه سوې وه.اوپه ټولو برخوكې ځواب هم ترېوې اندازې پورې يوډول ؤ.خوهغه لږ تفاوت چې مي دخداى بخښلى حا جي محمد انورخان اڅکزي په خبروكي مي وليد.هغه داؤ، چې اميرامان الله خان په خپل لاس يو مكتوب وخداى بخښلى محمد نادر خان ته را استولى ؤ. په مكتوب كې ديوه سند په ډول ليكل سوي وه.چې زه نورافغانستان ته نه درځم اوتاسو محمدنادرخان ته بيعت دركوم. دغه ليک خپله محمد نادر خان وخداى بخښلي حاجى محمد انورخان ته وربښكاره كړى ؤ.

دحاجى محمد انورخان هم دغه نظرؤ.چي پردې خبري ټينګاروكى چي امان الله خان چي يومنوراودتجريبې لرونكى پاچادى،هغه بايد بيرته راسي اودچارو واک په لاس كى واخلي.خو! لكه چي كارتركارتيرؤ،امان الله خان دخپلو تجريبوله مخي داسي احساسول چې زما په راتګ ممكن بيرته كورنى جنګونه دسره راپيل سي، نوئې ځكه دراتګ څخه پښيمانى وښودل.اودخپلي مرستي ټيرئې وټكاوه.دغه خطردحاجي محمدانورخان دنظره هم داحتمال څخه ليري نه ؤ.هغه په دې دليل هم كيداى سواى،چي داميرامان الله خان دوختو پلويان دنادرخان سره په ټكر كي وه.نوځكه ؛امان الله خان رانه غلى ... دغه ليک خپله حاجي محمد انور خان ليدلى ؤ. اودخپلو يارانوسره په مشوره پريكړه پر دې وسوه چي بايدنورداخلي جنګونه خلاص او دپاى ټكى ورته كښيښودل سي. اودافغانستان دبياآبادولو،په هيوادكي ديوه قانوني حكومت دمنځته راتلو په مؤخه په ګډوهلوځلوسره هيواديوځل بيادډموكراسۍ پرلورروان كړي.دغه د ډيموكراسۍ مفهوم هم يوازى ديوڅوسياست پوهان سره ؤ.چې په دې باب دنادر خان اوملي غورځنګونوترمنځ ستونزه نه معلوميده ونادرخان هم په خپله پردغه خبره ولاړؤ،چې مورږ به داميرامان الله خان كړنلاره تعقيبوو.خو داچي وروسته ولي دخپلي خبري څخه پرشاه سو.په دې با ب بياهم د قاضي بهرام خان نظرروښانه ؤ،هغه نادرخان يوعسكري جنرال اودتوري خاوندپاچاه ګڼله هغه سياسي لاري ته دومره عقيده نه درلودله لكه دزورراودجنګ دتاكتيكونولاره چې ئې زده وه.هغه يوځل سياسي قدرت ته ورسيدى اوبيا ئې داميرامان الله خان سره د قدرت پرسرمعامله ګرى وكړه.اوبيا ئې خپل د قدرت اندازه محاسبه كړه

، نو په دغه شرايطوکي هغه بل کوم داسي قدرت ونه ليده چي په نظامی برخه کی دي ترده پیا وړی وي.اودقدرت دپاره دي یوګواښ وګرځي.خوبرسیره پر دې ئې هم دافغانستان دغښتلو قومونواوهغه کسانو سره چي دنادرخان یاددہ دپاچهۍ په نیولوکې قاطع رول لوبولی ؤ.دهغوخوشحاله کول ئې یوازي په اعزازي اوتشریفاتی نومونوسره کوله،دا نوکه دکندهارملی مبارزین وه او که دننګرهارپښتانه وه اویاهم دپکتیا هغه غښتلي قومونه چي دنادرخان په راوستلو اودکابل په نیولوکې ترټول لومړی قدم اوچت کړی ؤ،دهغوی سره ئې هم دهمدغه چال اوچالبازۍ په کولوسره معامله ترسره کړه.اوهغوی هم په عیني ډول ستونزه درلودله چي دنادرخان سره بیعت اوسازش وکي،ترڅو بیرته مخالفین سررا پور ته نه کړي.

دلته دموضوع دښه روښانه کولوپه خاطراودلوی پکتیادغښتلوقومونوکیسه هم دکندهارترمبارزو په کمه نه ده. خودلته یوتوپیرسته چي لویه پکتیااولوګروکابل ته ډیرورنژدې دی.نسبت وکندهارته نوځکه هم دپکتیادخلکومبارزه نسبت نوروسیموته جدی اوسخته وه.ځکه دحبیب الله لښکروهم په دغه پراخه سیمه کې نفوذکړی ؤ.لکه چي دافغانستان دخپلواکۍ اونجات تاریخ د کتاب په ۳۳۱مخ کي دښاغلي غازي اونامتو مبارزجرنیل یارمحمد خان وزیري په خاطراتوکښې لیکي : دمیزان درو یشتمه نیټه وه چی موږقومي مشرانو،دکابل فا تح لښکرواو سپاه سالارصاحب دښارپه لورحرکت وکړ،زموږجنګیالیوډولونه وهل:ملي سندری اوغاړي ئې ويلې .دخوشحالۍ اتڼونه وه.اوهمدغسي دغازی امان الله خان ناري په ټوله لاره کښي پورته وې.اوهغه قصرته ننوتلوچي دهغه قصر سپین دیوالونه زما جنګیالیوددښمن په سرووینورنګولی وه.اومادهغه قصر دسفر دپاره اوه میاشتی سفر کړی ؤ.اوخپله خیل خانې مي دحبیب الله دپلویانوپه واک کی پریښودلې،محمد نادرخان اوموږ قومی مشران هغه محل ته ولاړوچي په ارګ کښي دوی ورته سلام خانه نوم ایښی ؤ.دلته دکابل ښارمخوراوفاتح سردارانو دسپاسالارهر کلی ته را غلي وه.په دې وخت کي دسفارتونویوشمیر غړي هم ترسترګو کیده.خلکودمحمد نادرخان ښه تودهرکلی وکړ،موږقومی مشران پرهغه ځایونوباندي کښیناستو،چی مخکي زموږ له پاره غوره سوی وو.

محمد نادر خان دمجلس دصدرمحل ته ولاړی،نوکله چی دحاضرینودزنده باداوښور،ږواک نارې خاموشه سوې، په دې وخت کې محمد نادرخان یوه لنډه وینا وکړه اوخپل زحمتونه اوتلاښونه ئې بیان کړه.دهیواد نجات ټولی کارنامې ئې په خپل ځان اوورنوپوری وتړلې.موږټول دقومونومشران دده ترسترګو لاندی ناست وو،ولی زموږدخد متونواوهڅوئې لږشانته یادونه هم ونه کړه.دخپل ربړونواوکړاونودیادولوڅخه ئې وروسته دسلطنت په باب څه یادونه هم وکړه.او داعیلحضرت غازی امان الله خان دبیاراوستلوتش وړاندیزئې وکړ.اوددې وړاندیزسره جوخت د کابل مخوروواوسردارانوپه لوړونارواوولولوسره دسلطنت کولواوپرتخت کښینستلوتقاضاد محمدنادرخان څخه وکړه.اوددې سره جوخت د مال اومقام وږواوتږو،چاپلوسوافرادوومحمد نادرخان ته دبیعت لاسونه اوږده کړه.په دې افرادوکې دقومونواوقبیلومشرانوبرسیره دامان الله خان ورورهم ناست وو. لیکوال یادونه کوي:چی موږ دوزیرواومسودومشران په هم هغه خپلو ځایونو باندي ناست وو،که څه هم زمالګروددې انتظارایسته چی زه به یو حرکت وکړم.خوماچی دځینومشرانودامید واری اولیوال تیااوچوکی،نائب سالاری ته دغه لوږه ولیدل.نومی دغه غوره اوښه تره ولیدل چی چپ کښینم.او موږمسودو ،وزیرواوتنیومشران چپ کښینو.اومحمد نادرخان په خپل نه بیعت کولوسره په دې وپوهووچي موږناراضه اوخوابدي یو.اوده د قراني عهداوپیمان څخه خلاف کارکړی دی.لیکوال لیکي: که څه هم موږکولای سو.چی خپل مخالفت څرګند کړواوددې توان موهم درلودی، خو! تراوسه لا په بشپړه توګه دحبیب الله قوتونه په ځینو سیمو کې فعاله وه او ممکن دجنګونو په وجه کابل په وینورنګ سوی وای.داوخت حبیب الله دسقاوزوی هم په کوهدامن کی ژوندی وو.داملازمه وګڼل چي موږاومحمدنادرخان سره تنها سو، نو به بیا هغه دسلام خانی عهداوپیمان به بیا ومحمد نادر خان ته وریاداوورپه زړه کړو.

**دامیر امان الله خان په نوم دهیواد قومونه تیر ایستل سوه:**

ترهغه وروسته چي ارګ او دسلام خاني مانۍ دمحمد نادرخان په لاس ورغله اوپه کابل کې بشپړه امنیت تامین سو،نودسلام خانی مجلس ئې ددې دپار جوړکړ،چی دځینوقومونودمشرانوسره معامله ګری وکړي اوهغه دخپل قدرت

دپاره استعمال کی.اودا کارهم وسو.د مسودومشران اودوزيرومشران دارګ څخه راووتل.داهغه وخت دی چی د کندهارخلک لا تراوسه کابل ته نه دي را رسيدلي خودجنګ په حالت کي پرلاري دي.دولتي ځايونه اود کابل شاه وخواهم دپکتيا د قومونواونورودخوا څخه ساتل کيږي.په ولايتونوکي هم دسقاو دزوی کمبله مخ پرټوليدوده.دلته اميد واری دنوي حکومت څخه چي په کابل کي واک ته رسيدلی ؤ، داوه چي؛ ګواکي دقدرت واک به بيرته وغازي امان الله خان ته سپارل کيږي.خو دنادرخان فکردځان دپاره دقدرت پرواک ټيراچول وه. په دغه وخت کي،مخکی لاپه ګل غونډۍ کې دغه پريکړه دقومونومشرانوسره کړې وه ، چی محمد نادر خان بايد موږ تيرنه باسي اوقدرت زموږ دپريکړی سره بايد امان الله خان ته وسپاري.اودغه پريکړه خپله نادرخان دجبهې په جريان کي يعني دپکتياپه ځاځيو کی دقراني عهداوپيمان په ډول دقومونودمشرانو سره کړې وه.چي قدرت به دامان الله خان ته ورنيسواودهغه دپا چهی امانت به بيرته ور سپارو.پردغه خبره محمد نادرخان بيا هم ترهغه وختة چي دسلام خاني په مجلس کې دځان اودخپلوورنيوستاينه وکړه اومجلس خلاص سو، بيا ئې هم دغه وخت دمشرانودراضي ساتلو دپاره په يوځانګړی مجلس کي وويل:چي زه پرهغه قول ولاړيم،خودغه دقدرت انتقال به په مناسب وخت کي کوو،دحوصلې څخه به کاراخلو.خوبيا ئې هم هغه مشران چي ناراضه وه دمحمد نادرخان تر جدي تعقيب لاندی هم وه.ځکه په دې دی پوهيده،که چيري دمسودواودوزيرو مشران چي په کابل کې نظامي قوه هم موجوده وه.اودکابل هغه حساس ځايونه هم ددوی ترکنترول لاندی وه.نوئې دنرمۍ څخه ، دهوښيارۍ څخه کاراخيسته . چی يوه بيلګه ئې داده څه وخت چي دنادرخان خلکوومحمدنادرخان ته دمسودو اووزيرودمشرانودخپګان احوال وروړی،نوسمدلاسه ئې ودغومشرانوته وزير محمد ګل خان اوخپل ورورشامحمودخائې وروليږل اوهغوی ئې د مجلس او ډوډۍ دپاره دعوت کړه. پسله هغه چي مجلس خلاص سونوئې بيا هم داطمنان دپاره خپل قول ورته تازه کی، خو په ډيره هوښياري يعني وې ويل : موږ به يو ځل بيا هم دسقاويانودځينوبرخوتهديدونه ليري کړواوبيا به داميرامان الله خان سره په کراره اړيکی ټينګی کړو.دلته دسپاسالارمحمدنادرخان هو ښياري دخپلو سياسي ګټودپاره دقومونودمشرانوپه طبعت اومزاج پيژندلوکي وه.ديادولووړده .

ځکه د ه دمسودواووزيرواونوروقومی مشرانوسره په ډيره نرمه لحجه، پستو خوږو خبروسره مشران داسي قانع کړی وه،چی هرڅه به هغوی غوښتنه کول خوده سم دلاسه منل.په دې باب دافغانستان دخپلواکۍ اونجات تاريخ ليکوال يادونه کوی:چي سپاسالارپه خپلوخبروکي قومی مشرانوته په يوه بيا نيه کې داسي وويل:عزيزانو!ستاسوخدمتونه په د ين اودنيا کې نه ضايع کيدونکي دي. ستاسودخد متونواحسان پرموږ.باندي لازم دی.داهم تاسو دقوم مشران واست،چی ديوڅورهزنانوڅخه موهيوادته نجات ورکړ.خدای (ج) داعظيم دينوي اواخروي افتخارستاسوپه نصيب کړ.نن زه دعلی خيلوپرهغه عهداوپيمان ولاړيم، خوتاسو دغيري مسؤلوافرادوخبروته غوږ.مه نيسی.اومه دهغوی احساساتی حرکاتوته سترګي اړوی. په هيواد کي دارامۍ دراوستلووروسته ستا سوهره پريکړه زما اودورنوپريکړه ده.خوبيائې هم دغازی يارمحمد خان وزيری دخو شحاله ساتلو په خاطر په کندهارکی سل جريبه دابومځکه اويوکوردحکومتی کورونو څخه ورپه قباله کی. البته دهمدغه شاهی فرمان په وسيله ... فرمان نمبر ۵۹۱۹ نيټه ۱۳۰۸هـ ش کال.ماخذ:دنورومعلوماتودپاره دافغانستان دخپلواکۍ اونجات کتاب ۳۳۶مخ وګورۍ. چی البته نوموړی فرمان دکتاب ليکوال دکتاب پرشاه پوښ باندی خپورکړی دی.بيا هم ديادولو وړده چی همدغه وخت چي دنادرخان لويه جرګه لا هم نه ده جوړه سوې وټولوقومی مشرانو ته داميرامان الله خان را تګ نه رده وی او پرهمدغه خبره باندي ملی مبارزين که دکندهارمبارزين دي او که هم دپکتيا ملی مبارزين دي، هغوی داميرامان الله خان په تمه باندی په ډيره ميړانه دسپاسالاسره ولاړدي اوجنګيږي، جګړه هم مخ په وړاندی دپيروزۍ پر لورروانه ده.په کرارکرار دشمالي لوري ته دحبيب الله دورستي سنګرپرلورمخ پر وړاندی ځي.دلته دجنرال غازی يارمحمد خان دخاطراتو څخه داسی معلو ميږي چي دوی دځائيوپه علي خيلو کي دامير امان الله خان دپاره دمبارزې هوډکړی ؤ.اوپرهغه خبره باندي نادرخان سپاسالارودی ته دبيا دپاره اطمنان ورکوي. اودوی ئې هم خبره ديوه پښتانه په ځيرسره مني.خودغه وخت دکندهارملي مبارزين هم خپل ټول سيکولوجيک اوجنګي فعاليتونه داميرامان الله خا ن دپاره کوي،اميرامان الله خان لاتراوسه هم په دغه خيال کي وو.چي بيرته افغانستان ته راسي.ولي بيا هم دخدای بخښلي بهرام خان دنظره او دهغه اړيکو

له نظره چي نوموړي دخداى بخښلي محمد هاشم خان او خداى بخښلي سپاسلار محمد نادر خان سره ئې درلوده، حالات په دغه کلونوکی بهراني وه.او خداى بخښلى ملي مباريزبهرام خان يادونه کوي : چی دلته داسي حالاته وه که لږ او ډيربې باکی وسي نوامکان ددې ؤ،چی سقاويان دي بيرته هم په کندهاراو کابل کي دبې اتفاقۍ څخه ګټه ترلاسه کړي اودواک چاري دي په خپل لاس کی وساتي ، ځکه يولړقومونه دغه وخت هم دسقاودپاره هلی ځلي کولې.اومحمد هاشم خان اوپه کندهارکې ملي مبارزينولکه:خداى بخښلى داروخان نيکه ، خداى بخښلى زقوم خان نيکه ،خداى بخښلى حاجى محمدانورخان اڅکزى ، خداى بخښلى بهرام خان اڅکزى،خداى بخښلى مهردل خان بارکزى، خداى بخښلى حيات خان اڅکزى اوهم دغسي نورملي مبارزين هم په دغه طمعه دسنګرپرګرم ميدان دمبارزې په روحيه،دهيواددنجات په لاره کی داميرامان الله خان راتګ ضروری ګاڼه.

خو څه وخت چی په کال ۱۹۳۹م کال کې د افغانستان په کچه لويه جرګه جوړه سوه.کابل اوکندهارسره دافغانستان دلويوولايتونودمحمدنادرخان سپاسالارپه واک کي ورغلی.اوپه همدغه لويه جرګه کي خداى بخښلى بهرام خان اڅکزى سره دنورويارانوحاضرؤ.دلته دجرګې وروسته دمحمدنادرخان سره دبيعت تعهد ځکه وسو.چي ديوه پلوه،ځينوچوکۍ غوښتونکوکسانوځانونه ونادرخان اودهغه وورنوته وفاه داره وښودل.اودغه وخت محمد نادر خان هم ودغسي کسانو ته سخته اړتيا هم درلودله.برسيره پردې ددې ويره هم موجوده وه چی دامير امان الله خان دپلويانواودمحمد نادرخان دپلويانوترمنځ خپل منځي جنګونه ددې سبب سي، چي په کابل اودهيوادپه نوروسيمو کی دي،دافغانانو په ځانګړې توګه بيا دپښتنوپه منځ کی دي ډيری وينی وبهيږي اودافغانستان خپلواکی دي بيا دسوال سره مخامخ کړي.نودغه خبره ماپه واروواروپه خپل دغه کتاب کي زموږ دمشرانوپه قول سره ليکلې ده،چي پريکړه پردغه وسوه،چی بايدسپاسالار محمدنادرخان پرتخت اوتاج وياړترلاسه کړي.البته داپه همدغه وخت کی يوه مناسبه لاره هم وه.اوکه اوس دغه خبره چي نادرخان په لومړي سرکي دامير امان الله خان دنوم څخه ګټه واخيسته اودآزادۍ غورځنګ پلويان ئې د ځان په

ګټه دسقاوی حکومت دسرکوبه کولوپه خاطراستعمال کړه.په هرصورت ډیرښه کاروسؤ.ځکه هیوادنوردغلواودانګریزانوداستعماري منګلوڅخه ووت.

## دقاضي بهرام خان اڅکزی غورځنګ یو سیا سي غور ځنګ وو:

دافغان-انګلیس په دروجګړوکې رزمي ادبیات ددې ملي،روشنفکري اوسیاسی غورځنګ په باب په ۲۰۳مخ کې لیکوال داسي لیکي: د۱۹۲۹م کال دجولای په میاشت کې،دحبیب الله کلکانی په مقابل کي حاجي محمد انورخان اڅکزي یو منورغورځنګ راپیل کړ.اوهغه ئې دخپلو قومی مشرانوپه حمایه چي عبارت وه:له حاجي زقوم کان نیکه ، حاجی داروخان دزقوم خان زوی ، مولوي قاضي بهرام خان،مهردل خان بارکزی دوخت دسپین بولدک قومندان،حیات خان ، عبدالغفورجان ،عبدالشکورجان محمد افضل خان اوداسی نوروه.چی په لومړئ جرګه کې برخه واخیسته.دلته په لومړی سرکې ددوی۵۰۰ کیسزه لښکرؤ. خوڅه وخت چی دقاضي بهرام خان په دعا سره جرګه پیل سوه، نوبیا چي دکند هارپرلورروان سوه،بوازی دکندهار پرلوری دښاغلی مد د خان اڅکزي مرسته ورسره نه وه.نوروټولوقومی مشرانومرسته ورسره وکړه،خوپه هرصورت ددې فوځ ملاترکونکی ترډیره ځایه دهغه وخت منورین وه.خوڅه وخت چی کندهارته راورسیدل نوبیا دوی یوه غټه دکندهار په سطحه چی دمنورینوښارؤ. یوه بله غټه لویه جرګه په خرقې مبارکه کی جوړه کړه.چی هم دکندهار ستر مشران،دنوم اونښان خلک اود ملی غورځنک،روشنفکری غورځنګ پلویان وه.هغوی د کلابندئ څخه وروسته دکندهار قومي مشران وه چي د خرقي شریفي په شاه وخوا کې په منظم ډول دوهمه لویه جرګه جوړه کړه..نومورړی مشران عبارت وه :له حاجي محمد انورخان اڅکزي دسعاد ت خان ملوک زوی دګلیستان اوسیدونکی ، قاضي مولوی بهرام خان اڅکزی د محمد صدیق خان زوی،حاجی زقوم خان اڅکزی دسپن بولدک اوسیدونکی ،داروخان اڅکزی دسپن بولدک اوسیدونکی،معصوم خان رودي علیزی، حاجی محمداسحاق خان داحمدجان خان زوی دخاکریزاوسیدونکی،خیروجان دعبدالحکیم خان زوی پوپلزی دکرزاوسیدونکی،مهردل خان دوخت دسپن بولدک قومندان بارکزی دکندهاردښاراوسیدونکی،سید منګل اغا دشاه قبر اوسیدونکی ، سید احسام الدین

دارغنداب دتا بين اوسيدونکی،عبدالرشيد خان دارغنداب د کوهک محمدزی، بر ګيټ عبدالقادرخان دميراحمدخان زوی اڅکزی دسپين بولدک اوسيدونکی،مد دخان د ميربلند خان زوی اڅکزی دسپين بولد ک او سيدونکی،غلام فاروق خان با بی دکند هاردښاراوسيدونکی،حيات خان ديا قوت خان زوی اڅکزی محمد شريف خان مشهورپه کا کوبارکزی«مشهورپه قاب باشي»دکندهاردشاهي تبيلې اوسيدونکی،قومندان محمداکبرخان الکوزی د کندهاردلرګود ګنج اوسيدونکی، حاجی سردارخان دحاجي سلطان محمدخان زوی دښکاپوربازاراو سيدونکی، غلام نبی خان بارکزی دکندهاردمحله جات اوسيدونکی،عبدالعلی خان بارکزی د محله جات اوسيدونکی،عبدالرحمان خان بارکزی دکندهاردګرګانودکلی اوسيد ونکی،سعد جان محمدزی دميراخورکلااوسيدونکی،حاجی نيک محمدخان بارکزی دزنګاوت اوسيدونکی ، خيرو جان اڅکزی دسالو کاريز ، محبوب خان بيانزی د کندهار د ګنج دبی، بی هواد کوڅې اوسيدونکی، عبدالعزيزخان الکوزی د موسا کلا اوسيدونکی، شهنوازخان ملک شير،حاجي محمد حسن خان ، حاجي نظرجان دپاينده خان زوی، د کندهاردښار اوسيدونکی .

نومورې لويه جرګه د کندهار په تاريخ کي يوه مهمه لويه جرګه وه، چی يوه غټه ستونزه ئې حل کړه.اودکندهارنامتومنورين ئې په ملي،سياسي اودتمدن دحمائې دپاره سره راغونډکړه اودسقاودزوی حکومت ئې ړنګ کی اوکندهارئې په امن کی وساته .

نومورې جرګه دسهاردلمانځه څخه وروسته دلوی قاضي محمد بهرام خان اڅکزي په وينا اودعا سره پيل سوه.دلته ګډون والوهريوه په خپل نوبت سره خبری وکړې اوسمد دلاسه دښارامنيت وقومندا صاحب مهردل خان بارکزی ته وروسپارل سو.پريکړه وسوه چي بې مسؤليته کسان دښار،کوڅواوبازارپه شاه وخوا کي دوسلوسره نه سي ګرځيدلای.اودبشپړه امنيت تروختهٔ ئې دشپې پر ګرځيدوراګرځيد و بند يزهم ولګا وه.دلته د کندهاريولړخلکوبياهم داميرامان الله خان په پلوی د محمد نادرخان حکومت نه غوښته،دا وخت ډيرحساس وخت ؤ، ځکه ديوه پلوه دکابل حکومت نامعلوم ؤ،دبله پلوه دسقاوپه طرفداری دافغانستان په ځينوبرخوکې لاعسکراودوسلوخلک جنګيدل،په همدغه وخت کی دکابل څخه

دوه ډيرمهم کسان لکه:سردارمحمد هاشم خان اوبل دکندهاروالي عبدالغني خان د کوټي دلارى څخه وکندهارته راورسيدل،چي د کندهاردامنيت ساتونکى مهردل خان قومندان بارکزى دهغوى سره موافق نه ؤ،ځکه هغوى محمد نادرخان دکابل پرتخت کښينولى ؤ.اودکندهارخلکوبيادااميرامان الله خان سره موافقه درلودل،چى دغه وخت يولوى جينجال رامنځته کيدونکى ؤ،پکتيا خلکوهم دغه ستونزه درلودله.قاضي صاحب چى دلوړفکرخاوندؤ،نوئې سمدلاسه دخطر احساس وکى اوسمدلاسه ئې دخپل دوست حاجى محمد انورخان اڅکزي سره مشوره وکړه،خو!هغه هم دغه تشويش درلود،چي نبايده چي مهردل خان داسى يو کاروکى چي دسولى بهيرته تاوان ورواړي.ځکه مهردل خان هم دسولى مسؤليت درلود.اونظامي قدرت ورسپارل سوى ؤ.نوئې سمدلاسه مهردل خان بارکزى چى ديولړنوروسره ئې دغني خان اومحمد هاشم خان دترورخيال درلودى.ځکه محمدهاشم خان دپروګرام له مخي په عيد ګاه کې دخبرواوبيان مؤخهدرلودله. دغه وخت محمد انور خان اوقاضي بهرام خان دمهردل خان سره په جلاکوټه کي وليدل اوتر ډيرو خبروورو سته ئې دې نتيجې ته ورسيدل چي امنيت به خپله اڅکزي پرغاړه اخلي.اوعسکربه د فرقې څخه نه راوزي.په دې خبره باندى خپله محمد هاشم خان هم خبرسو. خو! دمحمد هاشم خان بيا نيه هم په بريا ليتوب سره پا يته ورسيدل اود قاضي صاحب اوخداى بخښلي محمدانورخان اڅکزي دهمدغه نيک کاره څخه محمدهاشم خان ډيرخوشحاله سو.نو څه وخت چې د کابل په نيت بيرته کابل ته تللى نو يو تعداد خانان اومخورکسان ئې هم دځانه سره بوتله . چى دغه خد مت محمد هاشم خان په کابل کى هم ياد کړ.

**محمد نادرخان او د سياسى واک سا تنه:**

خداى بخښلي بهرام خان به ويل:ترهغه وروسته چي شيخانو،ملايانوانګريزانو اميرامان الله خان دومره تنګ کى چي دهيوادپريښودلوته ئې مجبورکړ.داوخت موسم هم ډيريخ دجدي مياشت وه په کال ۱۳۰۷هـ ش کې دکابل اوکندهارلويه لارهم په واوروپوښلې وه،لاس ديخه څخه دبغله نه راوتى،چى اميرامان الله خان

کندهارته راورسيدی،دسياسيونودپاره دادحيرانتيا وړخبره وه ، چی دهيوادپه باب نوی فکروکي، پخوانی منورپاچاه خوئې دلاسه ورکړه.

نودافغانستان په اړونده سياسيون که په بهرکي وه اوکه هم دهيوادپه دننه کی لاس په کارسوه.ليد نی کتنی ډيري سوې سياسي مشورې دسياسيونوپه منځ کی ددې سبب سوې چي منظم تشکيلات،حلقوي ليدني کتني اودخپرونودلاری خپلو تبليغاتوته سمت ورکړي.ځينوپه ګرموجبهوکی ځانونوته ځای وموندااوځينوبيا د سياسي لاري دحل دپاره هلي ځلي را پيل کړې.

په کال ۱۳۴۸هـ ق اويا ۱۳۰۸هـ ش کې يوه لو يه جرګه دارګ دسلام خانی په مانۍ کې دحضرت صاحب نورالمشايخ په رياست کي جوړه سوه،چي په جرګه کې لاندي مشرانو هم ګډون درلود. لکه :حضرت صاحب نورالمشايخ ، محمد نادرخا ن،محمد هاشم خان او شاه محمود خان.چی دوی دجرګې مشري کوله او ۹۷ تنو دوزيرودقوم ښخه په جرګه کی فعاله ونډه درلودله.چي يا فرقه مشران وه اويا هم غونډ مشران وه اوياهم د حساب وړقومی مشران وه.ماخذ(دنور معلوماتو دپاره – دافغانستان دخپلواکۍ اونجات تاريخ ۳۴۰مخ وګوری، چي دقومونو د مشرانو نومونه هم په همدغه صفحه کی خپاره سوي دي).

خودسولی په جرګه کی بيا د مقابل لوری ښخه دخانانواوملکانونومونه هم يادسوی دي، چي ددوی په خپل منځ کی قومي شخړي دهمدغه هيواد دسولي په خاطر،تربورګلوی پريښودل اويوازي دهيواد د نجات د پاره لاسونه سره ورکړي.اوپه جنوبي سيموکی دنوي حکومت سره مرسته وکړای سي. چي ددې ملکانواوخانانوتعدادهم ۳۳ کسانوته رسيده.دجرګې په پای کښي پريکړه وسوه. چی يوه وثيقه جوړه کړل سی او پرهمدغه وثيقه دقومونومشران لاس ليکونه وکړي.ويل کيږي چی دوثيقې متن هم نورالمشايخ مجددي جوړ کړی ؤ.

دلته بياهم ديادولووړګنم چي څه وخت اميرامان الله خان هيوادپريښوداودکندهار دلاری ووت،نودغه وخت محمد نادرخان داميرامان الله خان دلاس ليک او نخښنه دځانه سره درلودله،چی هغه نوردملک پا چهی نه غواړی اوخپله دامان الله خان وروره‌م سردارامين جان په دغه وخت کي د دنادرخان سره بيعت

وکړ.حاجي محمد انورخان اڅکزی وایي: زمورږ هیلی دلته دنا امیدئ سره مخامخ سوې چی خپله امان الله خان دافغانستان څخه ووت اودبیا راتګ او تنظیم دپاره ئې هیڅ پلان هم نه درلود.نو که ده په خپله ژبه دسلطنت دعوه کړې وای ، په دې کي شک نسته چی دهیواد منظم قومونه به هم ددوی سره دریدلي وای. او یوپوخ تنظیم به ئې را منځته کړی وای. ممکن دنادر خان دپاره به هم دا سخته وای چی دولت دځان په نوم کي.نو لکه چی مخکی هم پردغه بحث وسو، بیا هم دجرنیل یارمحمد خان دوزیرودلوی قوم داستازي په حواله اودخدای بخښلي قاضي القضات بهرام خان اڅکزی اوحاجي محمدانورخان اڅکزي دوینااله مخي په همدغه وخت کی سپاسالا محمد نادر خان دسولي دبهیردپاره په افغانستان کې په همدغه شرایطوکي ترټولو وړکس بللی دی.

نوځکه ئې ملاتړهم ضروري وو.په دغه وخت کی پرحبیب الله کوهدامني برسیره نوروکسانوهم دسلطنت دپاره تلاښونه کول،چی یوهم ددغه جملې څخه حضرت صاحب نورالمشایخ وو،چی ځانته ئې دسلطنت اوپاچهي غوښتنه درلودله اویولړپښتني غلجي قومونه ئې پرځان راټول کړی وه.خوپه دغه ټولوخبروبرسیره دغه چانس بیا هم دافغانستان په ګټه تمام سو،چي نادرخان ددولت واک په لاس کی واخیسته ، تیر به ددې خبري څخه سو،چي نادر خان دوزیرواومسعودوسره پرقران قسم کړی ؤ، چی پا چهي به امان الله خان ته ګټم. خوداسی ونه سوه.نوڅه وخت چی بیا سیاسی قدرت دسپاسالارولاس ته ورغی ، نوسمدلاسه په سیاسي چال اوچالبازۍ ئې خپل واک په بشپړه توګه کنترول کی ، داځکه خپله محمد نادرخان دبشپړه انضباط ، ډسپلین خاونداویوهوښیارمدبر انسان ؤ.همدغسي ئې پرځان یولړاهل کسان هم راټول کړه،لکه : سردارصاحب فیض محمد خان که څه هم دحبیب الله په مخالفت ئې جنګ هم نه وکړی.ولی دوزارت مقام ورکړل سو.حضرت صاحب فضل عمرمجددي هم وزیرسو. جناب محمد ګل خان مومندته هم دوزارت مقام ،مولوی صاحب علي نوازخان ملتاني هم وزیر.اوهمدغسي نورچارواکی هغه کسان وه چي په ګرموجبهوکې کوم رول نه درلود خو په دولتی چاروکې بریا لیتوبونه درلودله.

دلته مراد ددغه مقرريو څخه دا ؤ،چي دقومي او جنګی مشرانورول ئې دځينو سوغاتواولقبونوپه ورکولواونازولوسره ختم کړ.چاه ته ئې مځکې،چاه ته باغونه ، کاريزونه اعزازي لقبونه ورسوغات کړه.اونوی کسان ئې ددولت دحما ئې اودولتي سکټوردپاره انتخاب کړه.خوپردغه ټولوخبروبرسيره د محمد نادر خان اودهغه څخه راوروسته دولت بياهم هغه کسانوچې دتغيراوتحول فکرونه ئې درلودله اوهيوادئې دنړيوالوقوانينوسره سم په د موکراټيکواوملي معيارونوغو ښته اوپه دې د موکرا ټيکو تيوريوډيرښه پوهيده. مشروطه شاهی ئې دټولنی په ګټه بلل اوقانون ئې دهيوادکړنلاره ګڼل . نو دغه کسانوبيا دزاړه مطلقه شاهی په مقابل کی يوخنډاوچاليش ګڼل کيده،نوځکه ئې بيا ددغوکسانودسرکوبه کولوپه خاطربې رحمانه مبارزه وکړه.اوهغوی ئې دژوندترپايه په زندانوکي وساتل.چی ددغه غورځنګونولويه برخه په کندهاراوکابل کې شتون درلود.اوسياسي بنديان د ملي اوډموکراټيکوغورځنګونودارمانوپه خاطردنوروولايتونوپه ګډون دکندهار اوکابل بنديان ډيروه.اولکه څنګه چی مخکی هم يادونه وسوه،چی دنادرخان وصيت وخپلوکشرانوته دغه ؤ.چی دکندهارخلک بايدديوه سياسی قوت په حيث راڅرګنده نه سي.ځکه هغوی دسياست تجريبې لري.چي عمومي کړنلاره هم دغسي هم وسوه.قاضي بهرام خان بندی کړل سو، حاجی محمدانورخان اڅکزی بيله کوم جرمه زندان ته وليږول سو.عبدالرسول خان پښتون دويښ زلميانو دمشرپه نوم زندانی کړل سو.اوهمدغسی نوربې حسابه مشران په داسی حال کی چي هيڅ ډول جرم ئې هم نه درلودبنديا ن کړل سوه. چي ددغه ډول بې عدالتئ پايله بيا وروسته څرګنده سوه،نظام فاسد سوانقلابونه اونوی تحولات داسي را څرګنده سوه چي دهيواد اينده ئې ورګډه وډه او خرابه کړه .

## انګارجريده دويښ زلميانو نشراتي ارګان

څه وخت چی دشاه محمود خان دوره يا حکومت را منځته سوه،نو دغه وخت دډموکراسئ يوه نا بلده ډنډوره هم ور سره خپره سوه.ددې دليل هم دا کيدای سي چی دغه وخت شاه محمود خان چی يوجنګی جنرال وو،ډيرددموکراسئ په خوند او معنا نه پوهيده.خو! څه وخت چی امريکا ته د۹ مياشتو دپاره ولاړی، نو ئې دډموکراسئ خوند اوچم تر يوې اندازې پوري زده کړ.خو! څه وخت چی

هيواد ته بيرته راستون سو، نوئي دډموکراسۍ ږغ هم وچت کړ. چي ددغه ږغ سره سم خدای بخښلي فيض محمدانګاردخپلوملګروپه مصلحت دانګارپه نوم ديوې جريدې غوښتنه وکړه.اونوموړی جريدې دخدای بخښلي فيض محمد انګار په مديريت اوخپل لګښت يا مصرف سره کاررا پيل کړ.دالومړنۍ جريده وه چي د ډ موکراسۍ په وخت کي رامنځته سوه.اودخپل وخت ليکوالان اودقلم خاوندان ئې سره يوموټي کړل.ددې وخت نامتوليکوالان لکه نورمحمد ترکی،چي دنوموړی جريدې دکنټرول چارې هم په غاړه وې،عبدالروف بينوا،محمد بشيرکبيرسراج په پټ نوم (مستعار)د حلاج اوشوخک په نومونوئې مقالې يا مضمونونه خپريدل.ځينی تحليل ونکي داسي نظرلری چی نوموړې جريده دويښ زلميانودفکرونو هنداره وه. داخبرتر ډيره ځايه سمه ده.ځکه هغه وخت دغه ويښ زلميان تر ټولونوروحلقو اوګوندونوفعاله وه.اودغسی دافکارودخپرولويوې هنداري ته ئې ضرورت درلودی.اوددې جريدې ډيرليکوالان که څه هم دافغانستان دګوټ، ګوټ څخه وه.خو! دکندهاراوننګرهارليکوالانو په کښي غټه برخه درلودل.دهم دې جريدې مؤخه داهم وه چي نورمنورين هم دسياست ولوری ته را کش کړی، چی دهغې جملې څخه د کتورمحمودي ،غلام محمد غباراونورمخورهم دځانه سره ملګری کړي . چی هغوی هم دغه وخت په ځانګړي توګه سياست کاوه.نو په همدغه مؤخه ئې دبابر په نامتو باغ کی يوه پرا خه غونډه جوړه کړه، څودغه سترخلک هم دويښ زلميانو په مؤخه کې شا مل کړي.خو! دعبدالحميد مبارز دوينا له مخې خدای بخښلی دکتورمحمودي داځکه ورسره ونه منل چي نوموړی ګوند ئې په نوي ځوانانو پوري اړوند باله.اولازمه ئې وګڼل چي جلا فعاليت او سياست وکړي. (دډيرومعلومات دپاره تحليل واقيعات سياسي افغانستان ۱۳۰مخ وګوری).د خدای بخښلي قاضي صاحب اوخدای بخښلي محمد علم بڅرکی دوينا له مخي چی زما سره ئې په کورني مجلسو کی يادونه کړې ده يادول ئې غواړم چي هغوی د د کتورمحمودي را تګ ويښ زلميانو ته تائيدوي.اووائي: ( څه وخت چي خدای بخښلی د کتورمحمودی ديوڅو ورځودپاره کندهار ته راغلی ؤ، هغه دقاضي بهرام خان اومحمد انور خان اڅکزي،عبدالرسول خان پښتون اونورو مشرانوپه تشويق دويښ زلميانود ګوند سره يوځای سو.اوپه ګوندکې

شامل سو). دکتورمحمودي په قوم مومند ؤ، په فکرکي دپراخ نظرخاوند وو.په همدغه خاطرئي دجریدې نوم ندای خلق په نامه وو.چی دخلکوسره ئې مینه وه.هغه دویښ زلمیانوسره په دې اند وو،چی دولت اوحکومت بایدسره بیل سي.اومشروطه حکومتونه دډموکراسۍ اوپارلمان دلاری باید رامنځته سی،چی همدغه ګډه یا مشترکه پوله وه د ده اودویښ زلمیانو په منځ کې.اوس به راسو دانګاروتاریخی جریدې ته چي دافغانستان دډموکراسۍ په کلونو کې یادشاه محمود خان په دوران کي لومړی جریده وه.اوډیر تاثیرات ئې دخپل وخت په شرایطو کی وښندل.او ددغه وخت د لیکوال غلام حسن صافی د مقالې په خپریدو(موی مبارک)په نوم چی دوخت دحکومت په پلمه دمذهب سره دتېکرانګیزه ئې ګڼل.دجریدې دبندولودپاره یوه پلمه سوه.اوجریده نوره بنده کړل سوه.غلام حسن صافی زندانی سو.اودانګاره جریده هم دابددپاره بنده کړل سوه. دجریدې دبندید وڅخه وروسته دافغانستان منورین خاموشه کښې نه نستل. اوپه اعتراضاتواوشکایتونوئې لاس پوري کړ،مبارزې نورهم رنګ واخیست. چی یوڅوورځي وروسته دویښ زلمیانوا ودافغانستان دمنورینو یوتعدادخلک داستقلال دلیسي دفوټبال په میدان کی سره راټول سوه.اویوه پراخه غونډه یا مظاهره ئې دصافي صاحب دبندي کیدو او داخبارد‌بندېدوپه خاطروکړه.خو دوخت حکومت هم ډیربدچارچلند دنوموړی مظاهرې سره وکړ.اوپولیسو دقمربندوپه وهلوسره نوموړې مظاهره تیته اومنحل کړه.چی دهمدغه جریدې په بندولو سره،دشاه محمودخان دوخت دډموکراسۍ ځرغ هم مخ پرخاموشه کیدو سو.دهیواد سیاسي جنجالونه اوتاو تریخوالی،بندي ګرۍ پرله پسې ډیري سوې.

## پا يله

که موږدبشري، ټولني وتاريخ ته په ښه غورسره وګورو،دابه را ته څرګنده سي چې تاريخ نه يوازې پرمادي اودټولني پرزيربنائي پايوولاړدی.اونه يوازي د مادي اووتيزپرمخ تګ په سبب مخ پروړاندي روان دی.بلکي؛دتاريخ دغه څپې چي هميشه دنوي اوپرمخ تللي ټولني درامنځته کيدوسبب ګرځي،دغه حرکت او دپرمخ تګ څپې روبنائي بنسټونو ته هم ضرورت لري.

دتاريخ په جوړولوکي ولسونه اودولسونواستازي،لاربنوونکي هم په خپل وار سره سترروول لري.اودهغوی طرحي ددې سبب کيږي چي په ټولنه کي نوي حرکتونه اوټولنه ديوه ځانګړی وتيزاوټولنيزسيسټم يانوی پړاووخواته ورکش کړي.په دې کي شک نشته چي دبشري ټولني تاريخ هغه ډيالکتيکي پرمخ تګ د انسانانودپيداښت څخه بياترنن ورځي پوري،پرپنځودورويا پړاونوويشل سوی دی.هرپړاوچي يوځل رامنځته سوی دی،بيا هغه خپل ځای وبل نوي پړاوته پرايښی دی.هغه زوړدوران بيا نه تکراريږي.

کله نا کله دا پيچلی حرکت داسي معلوميږي چي ډيا ليکټيکي حرکت ديوې کړۍ څخه وبلی کړۍ ته پرشا تګ ته ځان جوړوي... خو! هغه داسي نه ده. دغه پر شا تګ بيرته ددې سبب ګرځي چي ټولنيزپرمخ تګ ځان ديوه نوی پړاودپاره اماده کړي.دبيګې په توګه اميرامان الله خان چی يومترقي پاچاوو.هغه يولړ روبنائي ګامونه اوچت کړه.اودخلکو په فکرونوکې روبنائي تغيرات را منځته کړه،دغه روبنائي حرکت په ځانګړې توګه کافي نه وو.بلکی؛ دغه ډيموکراټيک حرکت دټولنی اقتصادي يازيربنائي شرايط هم غوښتل.خو هغه په افغانستان کی نه وه برابر،خلک دډموکراسی په خوندنه پوهيده اوپه افغانستان کی فيوډالي ټولنيزشرايط حاکم وه.افغانستان داوخت خان،خانی اوملک سالاري يوه عنعنوی اوکلتوری ټولنه وه،چي هلته خان ،ملک اوملا دټولنی عنعنوي مشران دي.په دغسي ټولنه کي ،دښځوحقوق ته احترام،دآزاد فکردرلودل،په دولتی چارو کي دلايقوکسانو ګمارل اوداسي نور...يوجرم ګڼل کيږي،هغه چاچی پيسې درلودلې هغه اصل اوغريبان ،بزګران،کسب کاران اومنورين دټولنی ترټلې طبقه ده.خو! اميرامان الله خان په دغسي اقتصادي شرايطوکي يولوړروبنائي ګام واخيستی.

چي ديوه لړومنورينودملاتړسبب سو.اودلړوخت دپاره دغه ملي اوډموکراټيک حکومت دوام وکړ،خوبيا ئې هم په لړوخت کي ټولنی ته فکری تغيرات راوستل،اودټولنی وګړی ئې په ملی ډموکراټيکوافکاروتريوې اندازې پوري سنمبال کړه.خو!دبلي لوری څخه ددغه وتيزوياقتصادی شرايطو پربنسټ، نړيوالواميرياليسي قوتونوياستعماری هيوادونوچي په رأس کې دغه وخت برتانيا (انګليستان) مشري درلودله،دخپل امپرياليستي اواستعماري سياست پر بنست، زاړه پالي روحاني، مذهبي جاسوسان اود ملک غله اولاری وهونکي ، ګروپونه اوزاړه پالی فيوډالان ئې د ملي اوډموکراټيک غورځنګ «اماني غورځنګ» په مقابل کي سره يوموټي کړه.اوداميرامان الله خان حکومت ئې راوغورځاوه.دسقاوحکومت ئې دهغه پر ځای په رسميت وپيژنده.نوطبعي خبره ده چي نوردښځو نسبي غورځنګ چی په نطفه کي راپورته سوی وو،هغه ئې خاموشه کی ښوونيزبهيردناکامی خواته مخه کړه،په هيواد کي تورتياره خپره سوه.دانګريزانودنوی استعمار(ښکيلاک) دوره بيا دحبيب الله په پاچهی سره را پيل سوه. دلته ددغه بيلګې څخه مؤخه داده چي تاريخ پر شا نه ځي که څه هم ديوڅه وخت دپاره شاته ولاړسي، خو! بيرته دغه پر شاتګ دنوي پر مخ تګ سبب ګرځي.

لړوخت لانه ؤ تيرسوی چي دهيواد د ملي او نړيوال غورځنګ په مرسته دامير امان الله خان د ملي اود مو کرا ټيکوارمانونوپه خاطردهيواد په دننه او دډيورنډ دکرښي دهغه خواپښتانه اوافغانان سره يوموټي سوه.اودانګريزانوددغه شيطاني سياست په مقابل کي را پورته سوه.او ډيورنډ د کرښي هغه خوا چي دانګريزانو ترکنترول لاندی سيمه وه،يولړمشران لکه:قاضي محمدبهرام خان اڅکزی،محمد انورخان اڅکزی،عبدالعلي اخوندزاده،داروخان نيکه،قومندان مهردل خان بار کزي په مشری نورمنورخلک دهيوادنجات په خاطردجنرال محمدنادرخان ترمشرۍ لاندی دهيواد د ګوټ، ګوټ منورينوددغه لاس پوڅي رژيم په مقابل کی قربانۍ ته چمتو سوه.اوپه لړوخت کې سقاوي دوران ته دپای ټکی کښيښنودی.

په دغه کتاب کي چي پردو(۲) څپرکوويشل سوی دی،د قاضي بهرام خان اڅکزي مبارزې دتاريخ په جوړولوکي ډيرواضيح دي.مالازمه وګڼل چي پر دغه سترانسان باندي يوڅه وليکم .کوم چي دافغانستان د ملي اوډموکراټيکو مبارزوپه خاطرئې خپل ارام ژوند نارامه کړی وو، دژوند يوه لويه برخه ئې په ستونزواوکړاونوکی تيره کړې وه.اودرا تونکي نسل دپاره ئې لاره د ملی ډموکراټيکوارمانونوپه خاطر خلاصه کړه.او پسله يولسو (۱۱)کالو زندان څخه لومړی دولت دې ته چمتوسو چی ددغه سترسياست پوه سره دهغه دارمانونوپه خاطرددموکراسۍ اووښځوته دحقوقو په خاطر،دافغانستان خلکوته دآزاد فکر لاره خلاصه کړي. دولت يا دوخت حکومت لو مړی په ۱۳۴۲هـ ش کال کی اساسي قانون رامنځته کی، پارلمان جوړسو، حکومت دخلکوپه رايه په نسبي توګه جوړسو.اوبياوروسته خدای بخښلی بهرام خان اڅکزی دزندان څخه خوشي کړل سو. چی دغه نو بيا دده دژوند وروستي وختونه وه. ما دخدای بخښلي سره په څومجلسونوکی چی دغه وخت زماعمرهم لږ.وو.ليدنه کړې ده.اوقاضي صاحب هم په دغوورځوکي ناروغه ؤ. لکه څنګه چي په کتاب کی مي هم توضيح ورکړې ده،چي سخت سياچالونه ئې ګاللي وه.خو! خپل انقلابي او دهيواد پالني روحيه ئې نه وه ضعيفه سوې بلکي؛ نوره هم غښتلې سوې وه.او دځوانانواوپيغلانوسره ئې دهيوادپالني په روحيه ډيرښه مجلسونه کول.او په دې به ډيرخوشحاله کيده چي يوڅوک دهيوادپه با ب پوښتني ځينی وکړي،نوپه ورين تندي به ئې ځوابونه ورکول.دغه ټوله خاطرات زما سره په مغز او ذهن کی موجود وه.اوهميشه به مي دغه فکر کاوه، چی ددغه لوی انسان په باب يو څه وليکم ، څودخلکود ملي او ډموکرا ټيکوارمانونودپاره يوه روښانه لاره دقاضی صاحب دنظرپربنسټ روښانه سي.اود بله پلوه مي ديوه هيواد پال او ليکوال په څير خپله دنده ترسره کړې وي. نودغه وړوخت يافرصت مي دښاغلي محمد کريم خان اڅکزي په تشويق او يادونه سره تر لاسه کړ.او دغه کتاب يااثرمي وليکه، اميد لرم چي درا تلونکی نسل دپاره د ګټي وړ وګرځي.او دځوانانو دپاره لاربنود سي.او زما هم هغه دنده چی مي دځان په هکله درلودله او دغه فکري بوج هميشه را سره ملګری وو، چی دخدای بخښلي خاطرات بايد دافغانستان خلکواوولسونوته تريوې اندازې ياتوانه

پوری وروروسوم.داځکه چی دغه وخت زه خپله هم دهیوادڅخه لیری دهالیند په هیوادکی دمسافرئ شپې ځکه تیروم چی هیواد مو دغه وخت ناارامه اودداخلی جنګونو ښکارسوی دی.نو که په دغه کتاب یااثرکي څه ستونزی یاکمبودئ شتون ولری زه بخښنه غواړم. او امید لرم چی زما وروسته به بیا هم پردغه کتاب نورهیوادوال اولیکوالان هم کاروکړی اونوی څیزونه یا مواد به پرورزیات کړي. په درناوي

ننګیالی بڅرکی

لاندی شعرچي شاعرئې زه خپله یم، دویښ زلمیانو ټولوپلویانوته ډالئ کوم.

**د قاضي صاحب یادونه**

دبولدک په مؤله یده کې یو نوی ځوان ښکاره سو
درڼا څــراغ ئې خپور کړداڅــک نوم په تا زه سؤ
بیا ئــې وځــلول پا ني دا هیواد تــا زه ، تا زه سؤ
نه دځان پرسوځید و ؤ ، بس وشمع ته پروانه سؤ

د کابل تر څنډوراغلی، دخپل قوم نوم په ښه سؤ
په زړه ډک یوارمانجن ؤدخپل وخت یوافسانه سؤ
دانګریزملأخاموش سو،چي قاضي ددین ښکاره سؤ
دتاریخ پاڼي سوې نوري ،دزلمو شعار ښایسته سؤ

یوداستان او خاطره سو چي میدان ته را ښکاره سؤ
سورغمی ووده یا قوتوچي ښکاره سونور هم ښه سؤ
په مجلس چې مې لیدلی پردا ذهن مي خاطره سؤ
دغه وخت توره تیاره وه،پرهیواد مشعل ښکاره سؤ

درنا سوړي سوې خلاصي د قانون لمررا ښکاره سؤ

خلک ټول سول پر ګوندونودعرفان څراغ ښکاره سؤ

ښځـــونرلاره کړه خپله پــر تعلیم باندی ئې زړه سؤ

بس دا هرڅه ټوله سم سوه،دهیواد رنګ هم ښکاره سؤ

دغه دنده دبهرام وه، چي هیواد مو قانونـــی سؤ

نورنوهرڅه سوه روښانه قانـوني چلند چی وسؤ

دتاریخ یو مرحـــله وه هر ستم پر ځنګـا نه سؤ

زما بځرکي دنده داوه چی قاضي درمعارفي سؤ

## ماخذ ونه ( اخځلیک )

**۱ - بځرکی محمد علم : ویښ زلمیان دافغانستان یو سیاسي تحریک.**

**خپروکې : افغان کلتوری ټولنه نیدرلنډ.کال۱۳۷۹هـ ش یا ۲۰۰ع.**

**۲ – عطایی محمد ابراهیم :دافغانستان معاصرتاریخ .**

**۳ – غبارمیرغلا محمد:افغانستان درمسیرتاریخ.کال : د۱۹۶ع دکابل دولتي مطبعه.**

**۴ – زیری صالح محمد : دنیمي پیړی خاطراې. کال ۲۰۰۵ع**

**۵ – پنجشیری دستګیر : ظهوروزوال حزب ډموکراتیک خلق افغانستان.**

**۶ – فراهي عبدالغفا ر : افغانستان دډموکراسی او جمهوریت په کلونو کې.**

**۷ - بځرکی ننګیالی : دمحمد علم بځرکي دژوند ځیني برخي .**

**خپرونکې : داحمدشاه بابا علمي ادبي ټولنه کال:۱۵ قوس ۱۳۹۲لمریز**

**۸ – ځلمی محمد ولي:داستبداداومطلقیت په مقابل کې د ځینوافغانانوملي مبارزې.**

**۹ – نومیرفدامحمد (ترتیبوونکی) : دافغانستان دخپلواکی اونجات تاریخ.**

**خپروونکې:دافغانستان د کلتوری خدمتونواداره.کال: ۱۳۷۹هـ ش ۲۰۰۰ع.**

۱۰ – پوهنيارسيد مسعود:ظهورمشروطيت وقربانيان استبداددرافغانستان.

خپرونکې : سبا کتابخانه قصه خوانی بازارپاکستان.کال:۱۳۷۶هـ ش.

۱۱ - بڅرکی ننګيالی : دافغان انګليس په درو جنګو کي رزمي ادبيات .

خپرونکي: داحمد شاه بابا علمي ادبي ټولنه کال :۱۳۸۵لمريز کال داسد ۲۳

۱۲ – کرزی ځلمی: په افغانستان کي دمشروطيت غورځنګ .

خپرونکې : دساحل صنعتی مطبعه ميونشن. کال ۱۳۹۳هـ ش ۲۰۱۳ع

۱۳ - ايوبي غلام محی الدين: سياسي هڅي او تلاښونه.

خپرونکې : ډيسينټ پرينټينګ پريس کال: ۱۹۹۲ع کرا چي .

۱۴- اڅکزی محمد ايوب خان:خورجين . خپرونکې: جعفرپبلشنګ هاؤس کويټه. کال ۲۰۰۶ع د فبرورۍ مياشت .

۱۵ – مبارز عبدالحميد : تحليل واقيعات افغانستا ن سياسي .

خپرونکی مرکز نشراتي ميوند سبا کتابخانه کال : ۱۳۷۷ حوت ۳ پيښور.

**يوه لنډه يادونه :**
دخدای بخښلي قاضي بهرام خان يادونه زماسره ډيره پخواهم په ذهن کي وه.خولازم وخت می نه ؤپيداکړی چي نومورې خاطرات منظم کړم.اوديوه کتاب په څيرئې دراتلونکي نسل دګټي د پاره خپورکړم.خو!اوس مي د ځينودوستانو او دهغه د کورنۍ په هڅونه ددې توان پيداکی،چي داکتاب خپور کړم.نوکه په کتاب کي ځيني سهوې موجودې وي.ما وبخښی،ځکه دهيواد څخه ليري دهاليندپه هيوادکي دغه کتاب ليکل سوی دي.اود کتاب په ليکلو کي مي لاس لنډوو،چي يا کتابخانو ته مراجعه وکړم او يا هم دقاضي صاحب دوخت دوستان پيدا کړم، چی ددغه لوړ شخصيت خاطرات را سره شريک کړي. په در ناوي